!!

!!

**لومړی فصل:**

# د ولس منفي ليدلوری

که څه هم زمونږ بادرکه او هوښيار ولس په لويه پيمانه له رسمي تعليم څخه بې برخې دی او ټول وګړي يې تعليم يافته نه دي، خو سياسي شعور لري. د بن تر پرېکړې وروسته په ټول هېواد کې ازادې راډيوګانې فعاليت کوي، چې دا د سياسي شعور په وده کې خپل رول لري. له پېړيو راهيسې جوماتونه زمونږ د ټولنيز قضاوت رښتيني مراکز دي او د ولس تر منځ په غم-ښادۍ کې هم خلک د ټولنيزو قضاياوو په اړه بحثونه کوي. که دغو بحثونو ته په ځير وکتل شي، نو څرګنديږي چې عام قضاوت داسې دی، چې اوسنی دولت تګلاره نه لري، په زعامت او مشرۍ نه پوهېږي او د مؤثريت خاوند نه دی. له همدې کبله په ټول هېواد کې د خلکو تر منځ يو منفي ليدلوری موجود دی.

خلک پوهېږي چې دولت بې اغېزې شوی، اقتصادي نظام نه لرو، د ملت حيثيت او ملي هويت مو تر بل هر وخت ضعيف او د کمزورۍ پړاو ته د رسېدلو په حال کې دی.

له نړيوالې ټولنې سره مو اړيکې په خطرناک حالت کې دي او په هېواد کې [illegible] افغانستان [illegible] اتلونکي په اړه د [illegible] زياتې شوې دي

Ketabton.com





[illegible]نه بې امنه او بې ډيسپلينه

[illegible]دروازو ته رالنډ شوي او که
[illegible]يوالې ټلوالې د ځواکونو پر

[illegible]و وسله والو مخه د دولت
[illegible]ی خپل هدف ته رسېدلي او
[illegible] مفکوره پياوړې کړې، چې
[illegible]بريته او په اداري فساد کې

[illegible]ې کوم ټاکلی هدف نه لري
[illegible]ف پر لور پر مخ ولاړ شي او د

[illegible]ې د مهمو مسايلو په اړه په
[illegible]و يا هم داسې پېښې شوي،
[illegible]سألې په باب د دولت موقف
[illegible]وه هېواد مشر چې څرګنده
[illegible] يا دا چې په دوامداره توګه
[illegible]ه دولت جوړولای شي او نه

[illegible]ن پرېکړه وشوه هغه وخت په
[illegible]ه مندي موجوده وه.
[illegible]يل د مخه په ناڅاپي ډول يو
[illegible]ر دي، چې بحث پيل شي د
[illegible]ا نظر کتل، ځکه د خلکو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځ دا يقين ډېر کمزوری و، چې بويه تر دومره اوږدې کورنۍ جګړې وروسته به هم دوی وکولی شي، چې د خپل راتلونکي په اړه په ازادانه توګه بحث وکړي، خو د وکيلانو باور هغه وخت په ټينګېدو شو، چې ويې ليدل د جرګې خېمې ته څوک له وسلو سره د راتګ اجازه نه لري. په همدې وخت کې د ملي اردو لومړنی غونډ، چې پلی راغلی و، په ډېر متانت او کلکې ارادې وکولی شول، چې د کابل پوليتخنيک له دروازې څخه نيولې د جرګې تر خېمې پورې بې له وسلې ودرېږي، مګر دا ټوله فضا هغه وخت بدله شوه، چې د بدخشان ولايت يو وکيل صاحب د خلکو تر منځ ودرېد او په ډېره حوصله يې د جرګې غړيو او ګډونوالو ته وينا وکړه. د دې وينا لومړۍ جمله به مې هېڅ وخت هم له ياده ونه وځي چې په لوړ غږ يې وويل: "زه نن د بدخشان وکيل نه يم، زه د پکتيا وکيل يم، د باميان وکيل يم، د ننګرهار وکيل يم، د کندهار وکيل يم او...... " په همدې ترتيب دغه وکيل صاحب د ډېرو ولايتونو نومونه ياد کړل او جمله يې په دې پای ته ورسوله، چې دا ټول راغلي وکيلان د سرلوړي افغانستان وکيلان دي. د جرګې په خيمه کې ناستو ټولو وکيلانو ددغه وکيل صاحب وينا په کلکه تاييد کړه او ويې ويل، چې موږ يو موټی ملت يوو، چې د يو موټي او سرلوړي افغانستان د راتلونکي لپاره ګډې هيلې لرو.

د دې هدف دا نه و، چې ګواکې زموږ په بېلابېلو سيمو کې مختلفې ستونزې نه وې بلکې هدف دا و، چې په ملي کچه زموږ برخليک يو دی او موږ اړ يو، چې د خپلو راتلونکو نسلونو ژوند ته مثبت او بنسټيز تغير ورکړو.

د ببړنۍ لويې جرګې پر مهال چې ما له څو مره استازو سره





خبرې وکړې، نو د ټولو له خبرو څخه د يوې مثبتې ملي اجماع په حواله يوه روښانه غوښتنه دا وه، چې افغانستان بايد يو داسې قوي دولت ولري، چې وکولی شي د يو موټي ملت هيلې تر سره کړي. په افغان ولس کې د مثبتې ملي اجماع حس له دې څخه هم څرګندېده، چې د بن پروسه يې بريالۍ او شوې پرېکړې يې ترسره کړې.

که څه هم ويل کېږي، چې د بن پروسې ګډونوال زياتره د ملت واقعي استازي نه وو، خو د دې پرېکړې تاريخي اهميت دا و، چې د يوې داسې پروسې بنسټ کېږدي، چې وکولی شي په راتلونکي کې يو افغانستان شموله مشروع دولت جوړ کړي، چې د افغانانو د ارادې محصول وي.

د دې اهدافو د لاسته راوړلو لپاره د بن پروسه په لاندينيو مشخصو مراحلو طبقه بندي شوه:

۱. د قدرت انتقال او د لنډمهالې ادارې تشکيل.
۲. د بيړنۍ لويې جرګې جوړول او د انتقالي ادارې ټاکل.
۳. د نورو کميسيونونو په ګډون د اساسي قانون د کميسيون جوړول.
۴. د اساسي قانون د جرګې دايرول، په اساسي قانون بحث او تصويبول.
۵. د ولسمشرۍ ټاکنې کول.
۶. د ولسي او مشرانو جرګو ټاکنې کول.

د لنډمهالې ادارې اصطلاح د دې لپاره استعمال شوه، چې څرګنده کړي، چې دا يوه انتقالي مرحله ده، چې د ملت د رايې استازيتوب نه شي کولی.

ښاغلی حامد کرزی د لنډمهالې او انتقالي دورې مشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وټاکـل شـو او ورپسـې د انتخـابي دورې د مشـرۍ لپـاره هـم غـوره کـړی شـو. مـوږ منـو ، چـې همـدا يـو شـخص دی، چـې د بېلابېلـو دورو مشـري يـې وکـړه، امـا د ده مشـروعيت پـه هـرې مرحلـې کـې د قـانون او خلکـو د قبوليـت پـر بنيـاد تـوپير لـري. د ده د مـؤقتې اداري مشـرۍ د يـوه ډېـر کـوچني اقليـت او د نړيـوالې ټـولنې د مجبوريـت لـه کبلـه ومنـل شـوه، ځکـه چـې پـه افغانسـتان کـې بايـد پـه عاجلـه توگـه د طالبـانو د واکمنـۍ تـر ړنګېـدلو وروسـته يـوه اداره رامنځتـه شـوې وای. د انتقـالي دورې د رييـس پـه توگـه د کـرزي د ټـاکنې مرجـع د لـويې جرگـې پرېکـړه وه، چـې پـه سـري ډول د جرگـې د وکيلانـو لـه خـوا ده تـه رايـه ورکـړل شـوه، خـو دا هـم د يـادولو وړ ده، چـې هغـه وکـيلان د ملـت پـه خوښـه د ملگـرو ملتونـو د استازو تر څارنې لاندې په غير مستقيمه توگه ټاکل شوي وو.

د منتخـب جمهـور رييـس پـه توگـه د ښـاغلي کـرزي ټـاکنې بـل ډول مشـروعيت درلـود ، ځکـه د لـومړي ځـل لپـاره د افغانسـتان خلکـو پـه مسـتقيمه توگـه د ازادو او سـري رايـو لـه لارې ولسمشـر تعـين کـړ. د تغيـر لـه هـرې مرحلـې سـره د مسـؤوليت معنـا هـم تغيـر شـوه او د هـرې مرحلـې پـه راتـگ سـره يـې لمـن پراخـه شـوه، پـه لنډمهالـه اداره کـې ښـاغلي کـرزي د هغـو وزيرانـو د تغيـر او تبديل حق نه درلود چې په بن کې د نړيوالې ټولنې له خوا ټاکل شـوي وو ، مگـر پـه هغـه ورځ چـې دی د انتقـالي دورې مشـر وټاکـل شـو پـه هماغـه ورځ ټـول وزيـران او نـور چـارواکي د ده پـر وړانـدې مسؤول او دی ملت ته د حکومت د مسؤول په توگه وړاندې شو.

د ۱۳۴۳هــ ش کـال اساسـي قـانون د اساسـي قـانون پـه توگـه پلـی شـو ، خـو دا چـې هغـه اساسـي قـانون د شـاهي نظـام لپـاره جـوړ شـوی و د دولـت د رييـس صـلاحيتونه پـه کـې لـه يـوې خـوا پـراخ او





لـه بلـه پلـوه مـبهم وو. پـراخ ځکـه وو چـې د دولـت دريـم رکـن، يعنـې ولسـي جرگـه، منځتـه نـه وه راغلـې او د دې برخـې واک هـم د ولسمشـر پـه لاس کـې و. مـبهم ځکـه و ، چـې انتقـالي اداري د بـن د پرېکـړې پـر اسـاس هـم تقنينـي او هـم اداري صـلاحيتونه درلـودل، خو دغو صلاحيتونو قانوني وضاحت نه درلود او هېڅکله هم داسـې ونـه شـول، چـې سـتره محکمـه دې د اساسـي قـانون پـه تعبيرولو سره دغه صلاحيتونه په ډاگه کړي.

د اوسـني ولسمشـر ټاکنـه د اساسـي قـانون پـه چوکـاټ کـې وشـوه او اساسـي قـانون د ولسمشـر صـلاحيتونه او مسـؤوليتونه څرگنـد کـړي دي، ولسمشـر د اساسـي قـانون د مـتن پـر بنيـاد د خپلـو صـلاحيتونو د کـاروني قـانوني مسـؤوليت لـري. د پاچـا او ولسمشـر تـر مـنځ توپيرونـه پـه اسـانۍ د اوسـني اساسـي قـانون او د ۱۳۴۳ کـال د اساسـي قـانون پـه پرتلـه کولـو پيـدا کېـدای شـي. پاچـا مسـؤول نـه گڼـل کېـده او مشـروعيت يـې پـه ميراثـي نظـام پـورې تړلـی و ، خـو ولسمشـر بـرعکس مسـؤول شـخص دی او د قانوني وجوهاتو پر بنسټ له خپل مقام څخه لرې کېدای شي.

لـه مشـروعيت څخـه زمـوږ د ولـس تعبيـر ډېـر ژور دی، ځکـه د اسـلام پـه مبـين ديـن کـې، چـې زمـوږ د سياسـي کلتـور بنيـاد جـوړوي عـدالت او مشـروعيت د نظـام سـتر اساسـات گڼـل کېـږي او زمـوږ پـه ادب او فرهنـگ کـې هـم دې اصـل تـه ډېـر ارزښـت ورکـول کېـږي؛ لکـه حضـرت علـي (کرمـه الله وجهـه) چـې فرمـايي: عدالت د يوه ملت د غښتلتيا او پخېدا بنسټ دی.

پـه پخوانيـو وختونـو کـې کـه څـه هـم د پاچـاهۍ کولـو اسـاس تـوره او ميـراث و ، خـو عـدالت، دينـي دنـده او د علمـاوو لـه خـوا پاچـا تـه نصـيحت د پاچـا لپـاره لـوی شـان و او پاچـا بـه د خـدای (ج)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر وړاندې داسې مسؤول ګڼل کېده، چې د حساب ورکونې لپاره ورته يوازې د اخرت ورځ ټاکل شوې وه، مګر په دې دنيا کې به د ديني عالمانو او صوفيای کرامو له خوا پاچا د شريعت لارې ته هدايت کېده او بس. خو په يوه جمهوري نظام کې جمهور رييس د يوه پاچا په څېر اختيار نه لري، ځکه جمهور رييس د ولس په اراده را منځته کېږي، د ولس پر وړاندې مسؤول او د کړو وړو قضاوت يې هم په ولس پورې تړلی وي.

د دولت د برياليتوب او ناکامۍ معيارونه څرګند دي او د دولت رهبر د ولسمشر په توګه د دولت د ټولو تګلارو او کړو وړو مسوول ګڼل کېږي.

په هغو هېوادونو کې، چې نظام مضبوط وي هلته ولس د نظام او ولسمشر د مشروعيت تر منځ فرق کولی شي.

د مثال په ډول، د امريکا په متحدو ايالاتو کې ډېر خلک د ولسمشر بوش له پاليسيو سره جوړ نه وو او د محبوبيت سلنه يې ډېره ټيټه شوې وه، مګر د امريکا د نظام قوت په وروستيو ټاکنو کې څرګند شو او امريکايانو په غوڅ اکثريت داسې يو څوک د ولسمشر په توګه وټاکه، چې دوه کاله وړاندې يې د خلکو لپاره تصور هم ناممکن و. په يوه جګړه ځپلي هېواد کې د ولسمشر مسؤوليت تر هغه هېواده، چې جګړه په کې نه وي ډېر دروند دی، ځکه چې ولسمشر بايد له يوې خوا په خپل هېواد کې د مشروع او منل شوي نظام پايې ټينګې کړي او له بله پلوه بايد خپل مشروعيت هم تثبيت کړي.

او سمهال زموږ په ټولنه کې د خلکو تر منځ منفي ليدلوري، ځکه منځته راغلی، چې پورتنيو دواړو معيارونو يعنې عدالت او مشروعيت ته پاملرنه نه ده شوې.





د خلکو يوه نيوکه داده، چې اجرايي قوه په عمل کې د مقننې او عدلي قوې استقلال او صلاحيتونه نه مني. خلک دا ګڼي، چې اجرائيه قوه يواځينی ځواک دی، چې واګې يې د ولسمشر په لاس کې دي او هره پاليسي، مصلحت او خپلو شخصي ګټو ته په پام سره په هېواد کې عملي کوي. که منتخبې ولسي جرګې ته د کرزي صاحب لومړنۍ وينا وڅېړو عجيبه خلاوې ترې په ډاګه کېږي، ځکه د نوموړي په ټوله وينا کې د اجرائيه قوې د قانون جوړونې لومړيتوب ناڅرګند دی.

د اساسي قانون پر بنسټ دولت اړ دی چې د ټولو قوانينو مسودې ولسي جرګې ته وړاندې کړي چې تر بحث وروسته يا د تقنيني قوې له خوا ومنل شي او ولسمشر ته د توشيح لپاره ولېږل شي او يا هم رد شي.

د يوويشتمې پېړۍ په يوه معاصر دولت کې د افرادو مؤسسو، شرکتونو او نورو عناصرو فعاليتونه د قانون په چوکاټ کې معلوم او مشخص وي. که چېرې د يادو شويو عناصرو لپاره قانون نه وي، يا ابهام ولري، يا د زمان له شرايطو سره برابر نه وي او د يوه زاړه فکر زېږنده وي، نو په داسې حال کې د قانون نشتوالی يا د نامناسب قانون تنفيذ د معقول تشبث مخه نيسي او ستونزې زېږوي. د مثال په ډول، د ځينو سوداګرو ادعا ده چې افغانستان ته په وار وار بې کيفيته تېل وارد شوي دي، چې د استعمال له کبله يې په پايله کې ماشومان په مغزي ناروغيو مبتلا کړي دي. په همدې ترتيب د بې کيفيته تېلو د استعمال له کبله د پلازمېنې کابل په ګډون د هېواد د ټولو ښارونو هوا خورا ککړه او په تېلو د چلېدونکو ټولو انجنونو عمر يې له نيمايي څخه هم زيات راټيټ کړی دی. د ګوتو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمېر د څو تنو د ناروا ګټې لپاره زموږ ولس اړ دی چې په میلیاردونو افغانۍ تاوان وکړي او په راتلونکو کلونو کې به هم د دې تاوان له ډول ډول بدو اغېزو سره مخ کېدل وي.

په اوسني وخت کې دولت د اقتصاد په برخه کې ستر رول لوبوي. یو مثال یې زموږ په هېواد کې د ټلیفون د کمپنیو را منځته کول دي. په (۱۳۸۲ هـ ش) کال کې په ټول افغانستان کې یوازې ۱۰۰ موبایل ټلیفونونه وو، چې د یوه نړیوال شرکت له خوا ملګرو ملتونو ته ورکول شوي وو او په وېش باندې یې لانجې روانې وې.

د دولت هر ستر سلاکار، سفیر او بهرنیو ارګانونو به ټلیفون غوښته، ځکه هغه مهال که به چا غوښتل چې د کابل ښار له یوه ګوټه له بل ګوټ سره اړیکې ونیسي، نو اړ به و چې سړی ور ولېږي، مګر نن ورځ له نېکه مرغه په افغانستان کې او ونیم میلیونه ټلیفونونه فعال دي او نږدې ۷۵٪ افغانانو ته د موبایل د استعمال زمینه برابره شوې ده. همدارنګه تر یوه میلیارد ډالرو ډېره خصوصي پانګه د ټلیفون د شرکتونو له خوا په افغانستان کې اچول شوې ده. د ټلیفون هغه دوه شرکتونه چې په لومړي ځل یې په کار پیل وکړ، د هر یوه شرکت بیه تر ۲۰۰ میلیونو ډالرو لوړه ده او هر کال د افغانستان د مخابراتو وزارت د دې شرکتونو د مالیې له لارې ۱۰۰ میلیونه ډالر عاید لاس ته راوړي.

د افغانستان په نامناسبو شرایطو کې ډېرو خلکو داسې فکر کاوه، چې دلته به کومه خاصه پانګونه ونه شي، کړی مګر دا چې موږ د پانګونې د جلب او جذب منابع پیدا کړې، یو دلیل یې په نړیوال بازار باندې زموږ پوهه وه. په لومړي سر کې د دولت څو لوړ پوړي چارواکي له بهرنیو شرکتونو سره راغلل او





په هېواد کې یې د شل زرو لاینونو ټلیفونونو د فعالولو لپاره شل تر دېرش میلیونو ډالرو پورې غوښتنه کوله، دوی ویل چې له نړیوالو مرستو څخه باید دغه رقم ترلاسه کړي، خو دا چې موږ ته د ټلیفون د نړیوال بازار حالت ښه معلوم و په دې پوهېدو، چې ټلیفون په اوس وخت کې د دولت د مصرف نه، بلکې د عاید منبع ده. دې کمپنیو ته موږ په ټینګه وویل چې زموږ په جګړه ځپلې خبرې مه غولېږئ، موږ د ټلیفون په نړیوال بازار باندې پوه یو او موږ ته د یوه چا تر ناروا شخصي ګټو د خپل هېواد روا ملي ګټې ډېرې مهمې دي او دا مو ورته څرګنده کړه، چې که شخصي ګټې غواړې نو بازار ته دې ولاړ شي. دولت د شخصي ګټو ځای نه بلکې د ملي ګټو د تأمین او تعین ځای دی.

تر یوه اوږده بحث وروسته مو پرېکړه وکړه، چې باید یو څرګند قانوني چوکاټ جوړ کړو، چې په نتیجه کې یې دوو خصوصي شرکتونو ته لایسنسونه ورکول کېدل او درې کاله وروسته دوو نورو شرکتونو ته د لایسنس ورکولو فیصله وشوه.

دا چې په لومړي سر کې یوازې دوو شرکتونو ته اجازه ورکړل شوه دلیل یې دا و، چې دا وخت د بازار شرایط څرګند نه و او څوک نه پوهېدل، چې افغانان به د دې وس ولري چې په میلیونونو موبایل ټلیفونونه واخلي.

د دې تر څنګ د هېواد په امنیتي حالت هم نړیوال ډېر ډاډمن نه وو، نو لومړیو دوو شرکتونو خطر هم ومنلو او د دې په بدل کې یې د ډېرې ګټې توقع هم درلوده او هم یې استدلال کاوه، چې دوی به د خطر منلو تر څنګ بیا هم درې کاله وروسته له قوي شرکتونو سره د سیالۍ توان پیدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرنګه چې د دې بهير تخنيکي برخه پېچلې وه، نو انتقالي اداري د انګلستان له دولت څخه غوښتنه وکړه چې ورته يو پياوړی تخنيکي ټيم ورکړي، چې له يوې خوا تخنيکي شرايط په سمه توګه وسنجوي او له بله پلوه کمپنيو ته د تخنيکي شرايطو چوکاټ هم وړاندې کړي. د دې لپاره چې په دې پروسه کې هم نړيوال او هم ملي اعتبار موجود وي او په شفافه توګه تر سره شي، نو کابينې پرېکړه وکړه چې د انتقالي ادارې اراکين به د قرارداد تر اعلان پورې هېڅ ډول رول نه لري، ځکه چې د تخنيکي ارزونې ټيم بايد په بشپړ اختيار پر مخ ولاړ شي.

د انتقالي ادارې د کابينې غړي يوازې په هغه ورځ هغه مجلس ته له نورو مېلمنو سره يو ځای لاړل، چې د تخنيکي ارزونې ټيم بر رسي خلاصه کړې وه، شرکتونه له تخنيکي لحاظه طبقه بندي شوي وو او مالي وړانديزونه چې په يوه کاغذ کې په سري توګه ليکل شوي وو، د خلکو حضور ته وړاندې کېدل.

انتقالي ادارې د امريکا له حکومت څخه غوښتنه وکړه، چې له امريکا څخه په بهر کې د پانګونې تضمين کوونکې ځانګړې مؤسسې (OPIC) ته هدايت وکړي، چې خپل امکانات افغانستان ته ورکړي، ځکه د امريکا د دولت ځينې لوړپوړي مامورين په دې فکر وو، چې د بهرنۍ پانګونې لپاره د افغانستان شرايط نامساعد دي او دې مؤسسې ته به زياتې ستونزې پېښې شي. له همدې امله يې د افغان حکومت دا غوښتنه و نه منله، خو په لومړۍ غونډه کې بيا ما د افغان ولسمشر حامد کرزي په اجازه د امريکا له ولسمشر ښاغلي بش څخه همدا غوښتنه تکرار کړه او بش زما غوښتنه ومنله.





کله چې يادې شوې مؤسسې له يوه ميليارد ډالرو څخه د زياتې بهرنۍ پانګې ګارنټي ورکړه، نو ډېر لږ تاوان يې وکړ او په دې سره د هغو پانګوالو مؤسسو وېره بې ځايه ثابته شوه چې ګومان يې کاوه، چې د دوی پانګه به له خطر سره مخ شي. په افغانستان کې د همدې بريالۍ تجربې پر اساس نومړې مؤسسې پنځو نورو جګړه ځپلو هېوادونو ته دا ډول ګارنټي ورکړه.

په تخنيکي لحاظ دوه کمپنۍ برابرې وې، خو له مالي پلوه يوه شرکت يوازې يو نيم ميليون ډالر دولت ته وړاندې کړل او د روشن کمپنۍ چې د قرارداد سيالي يې وګټله، پنځه ميليونه ډالر افغان دولت ته وړاندې کړل، نو ځکه يې له مالي لحاظه عمومي نومرې ډېرې شوې، د قرارداد د سيالۍ تر ګټلو وروسته روشن کمپنۍ غوښتل چې دوی ته دې د ماليې او ګمرکونو په برخه کې ځانګړي امتيازات ورکړل شي، مګر دا چې دولت فکر کاوه چې زيات افغانان به د موبايل ټيليفونونو په اخيستلو دا شرکت ګټندوی کړي، نو دا وړانديز يې و نه مانه او په ځرګنده يې ورته وويل چې په داسې امتيازاتو ورکولو کې موږ ډېر عايد له لاسه ورکوو او که چېرې تاسې په دې ټينګار کوئ، موږ به له لومړني شرکت سره چې يو نيم ميليون ډالر يې وړانديز کړي وو مذاکرات پيل کړو. خو څلور مياشتې وروسته روشن کمپنۍ ته ځرګنده شوه، چې د موبايل د پلور بازار تود دی او د دوی دا تصور چې ډېر لږ خلک به موبايل ټيليفون وپېري ناسم وخوت.

افغان بيسيم ټيليفوني شرکت ته د استاد رباني، طالبانو او انتقالي ادارې پر مهال ټولو حکومتونو د فعاليت اجازه ورکړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه او دې شرکت په دې برخه کې پانګونه هم کړې وه. له دې شرکت سره هم دولت هر اړخيز بحث پيل کړ او هغه شرايط يې پرې ومنل چې د روښن مخابراتي شرکت منلي وو، مګر يوازې په همدومره توپير چې پخوا دې شرکت ته د جواز ورکولو په اړه بې له مناقصې په دې شرط پرېکړه شوې وه، چې د دې کمپنۍ په سلو کې شل برخه به د دولت وي.

په افغانستان کې د مخابراتي بهير پراختيا ته وده ورکول د دولت د بريالیتوب مثال دی او د ناقصو تېلو واردول يې د ناکامۍ مثال دی. دا چې په لومړي سر کې د مخابراتي بهير د ودې اصول د ملي ګټو پر بنياد کېښودل شول، ټول ملت ته يې ګټه ورسېده، خو دا چې د بې کيفيته تېلو په مورد کې ناسم او د ملي ګټو ضد اصول وضعه شول، نو ټول ملت ته يې سخت زيانونه واړول.

د يوه دولت اصولي او قانوني کردار د هغه دولت او هېواد مثبت شهرت ته وده ورکوي او د دې لامل ګرځي، چې پانګه توليد او فعاله شي. که چېرې په افغانستان کې شته پانګه فعاله شي نو له يوې خوا د افغانانو تخنيکي ظرفيت لوړوي او له بلې خوا په زرګونو خلکو ته کاري زمينې برابروي. د مخابراتو او معلوماتي ټيکنالوژۍ په برخه کې اوس زياتره زموږ افغان خويندې او وروڼه په کار بوخت دي او په لږ وخت کې يې ثابته کړه چې دوی په تخنيکي وسيلو ځانونه پوهولی شي، مګر هر کله که ناقص قوانين د شخصي ګټو لپاره د ملي ګټو پر ضد وضعه کېږي، نو په هغه صورت کې نه يوازې پانګه وده نه کوي بلکې ملت ته هم ډېره ستره او مرګوني ضربه ورکوي.





که چېرې د بې کيفيته تېلو د ورود له امله د افغان ولس روغتيايي ستونزې ووينو، نو په راتلونکو د پرشو کلونو کې به يې تاوان تر لسګونو ميليونو ډالرو واوړي.

دا چې د ناسمو پاليسيو تطبيق ملت ته صدمه رسوي، نو ځکه د پاليسۍ جوړولو کار يوازې د دولت دنده نه، بلکې د ټول ملت دنده وي. که چېرې دولت سمه پاليسي يا وضعه کولی نه شي او يا يې په تطبيق کې پاتې راځي، نو په حقيقت کې د خپل ولس او نړۍ پر وړاندې يو ناکام دولت ګڼل کېږي.

د دولت بريالۍ پاليسي دولت ته هغه عوايد په لاس ورکوي، چې دولت ترې د ملي لګښتونو پر مهال ګټه اخلي او هغه کارونه پرې ترسره کوي، چې د ملي ګټو د تأمين لپاره حياتي ارزښت ولري. د ساري په ډول، د معلولينو، کونډو او يتيمانو، تقاعديانو او نورو بېوزلو خلکو د ساتنې لپاره د ځينو لګښتونو تر سره کول د دولت هغه فريضه ده، چې د اسلامي عدالت او ټولنيزو تړونونو پر اساس يې بايد تر سره کړي.

که چېرې د دولت عوايد کال پر کال زيات نه شي، نو د ټولنې بې وزلي پاړکي لا بې وزلي کېږي او دولت هغه مهال د ټولنيزو ژمنو په تر سره کولو کې پاتې راځي، چې عوايد په سمه توګه سمبال نه کړی شي. د تېلو او ټليفون سمبالښت يو ډول کار نه دی، هر يو يې د ځانګړو قواعدو او اصولو وضع کول غواړي، چې په ځينو شرايطو کې به د دولت نېغ په نېغه رول اخيستو ته اړتياوې او په ځينو وختونو کې به يوازې دولت طرحه جوړوي او يا به يې تطبيقوي، مګر دا بايد څرګنده وي چې يو اصولي بازار بې د اصولو او قوانينو له تطبيق څخه سم فعاليت نه شي

مخې حتی د خپلو د ندو د پېژندو تر مرحلې هم نه و رسېدلی. په همدې حال کې څو زره تعليم يافته پوليس افسران د بېلابېلو ناسمو دلايلو له مخې احتياط ته سوق او پر کورونو کېنول شول. همدا ډول تر سلو زرو زيات تعليم يافته افسران تنقيص او اوس په ښارونو کې لاسي کراچۍ چلوي، مګر په سلګونو نور غير مسلکي کسان د پوليسو او سرحدي قواوو په عمده چوکيو کې مقرر شوي دي.

ډېر خلک په دې باور دي چې د پوليسو د قوماندانۍ په چوکيو باندې نرخ اېښودل شوی او بې له پيسو ورکولو څوک نه شي کولای د قوماندانۍ څوکۍ تر لاسه کړي. د امريکا د تفتيش ادارې د رپوټ له مخې لا تر اوسه د پوليسو سم تعداد معلوم نه دی، ډېرو کارکوونکو ته په وخت معاش نه رسېږي او اداري فساد لکه د سرطان مرض د ځينو پوليسو تر منځ په تېزۍ د خورېدو په حال کې دی.

کله چې خبره تر دې بريده رسېدلې، نو څه فکر کوئ چې ايا د افغانستان بې دفاع ولس به په داسې ځينو پوليسو د خپل ناموس، سر او مال د ساتنې باور وکړي؟ دا پوښتنه دا پوښتنه يوه شپه کابل ښاريانو د يوه سيمه ييز ټلويزيون له لارې ځواب کړه. په کابل ښار کې ليوني سپي ډېر شوي وو، ښاروالۍ غوښتل چې سپي له منځه يوسي، خلکو ټلويزيون ته ټليفون وکړ، چې د خدای په پار سپي ونه وژنئ، ځکه چې د دوی ناموس، سر او مالونه په خطر کې دي، خلکو ادعا کوله چې د شپې له خوا د کابل ځينې پوليس د خلکو پر ناموسونو تجاوز کوي، د خلکو مالونه غلا کوي خو د لېونو سپيو له ډاره دوی په ښار کې د ګرځېدو زړه نه ښه کوي او که چېرې سپي ووژل شول د





کولی. د ازاد بازار معنی دا نه ده چې قوانين تر پښو لاندې او مافيايي حرکتونو ته ميدان خالي شي.

په اوسنيو شرايطو کې د دولت د مشروعيت معنی دا ده، چې دولت بايد د ولس لپاره ځينې کليدي خدمتونه تر سره کړي او که چېرې په هره برخه کې دولت د کليدي خدماتو په تر سره کولو بريالی نه شي، نو هغه دولت ناکام دولت شمېرل کېږي او د ناکامۍ په پام کې نيولو سره يې مشروعيت هم کمېږي.

که په اصولي توګه په خپل ولس کې ننني منفي ليدلوري ته ځير شو، نو څو ټکي مو په لومړي سر کې مخې ته راځي:

[illegible] له اوسني دولت څخه د ولس توقع دا وه چې د ناروا زور او قوت د استعمال دوره به پای ته ورسوي او تر دې وروسته به د دوی سرونه، مال، ناموس او... له هر ډول خطر څخه په امان وي او دوی به په ازادانه توګه کولی شي، چې د هېواد له يوه ګوټ څخه بل ته په ډېره اسانۍ سفر وکړي او همدا راز به د وطنوالو په حيث د برابرو حقونو خاوندان شي، مګر له بده مرغه نن ټول ولسويني، چې تر پخوا زياته وضعه په خرابېدو ده. نه د چا ناموس په امن دی او نه مال، د هېواد په ځينو سيمو کې پر اته کلنو نجونو جنسي تېری کېږي، خو تېري کوونکي او قاتلين تر نيولو وروسته بيا د رييس جمهور په امر خوشې کېږي، نو په داسې وخت کې به څرنګه څوک باور وکړي، نن ورځ يوازې زمونږ خوښندې نه دي چې دا راز تېري زغمي، بلکې د نورو غلو په ګډون ځيني پوليس هم پر ولس باندې ډول ډول تېري کوي. په پوليسو باندې د امريکا دولت شپږ ميليارده ډالر ولګول، خو د دولت د بې غورۍ له امله د تېر کال د سرطان تر مياشتې پورې د پوليسو يو ټولی هم د امريکا د تفتيش د ادارې د رپوټ له



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی محافظت به بیا ډېر مشکل شي.

کله چې ځینې پولیس خپل رسمي لباس غلو ته په پور ورکوي او یا دا چې په رڼا ورځ په خپله غلا ته بدېږي وهي، نو ایا په نظام کې داسې څوک شته چې ویښ وي او د ولس د ناموس او ژوند د مصئون ساتلو مسؤولیت پر غاړه واخلي؟

د عبدالرحمن خان د سلطنت په دوره کې د جلال اباد-تورخم پر لویه لاره یوې قافلې خپل مالونه یوه کلي ته نږدې ښکته کړل او ویده شول، غلو د ویدو سوداګرو مالونه پټ کړل او په تروږمۍ کې ورک شول. سهار چې سوداګر له خوبه ویښ شول، نو په بیړه یې ځانونه د امیر دربار ته ورسول. امیر ور ته وویل: ایا تاسې نه پوهېدئ، چې د هغه کلي خلک له څېرمې غله دي او تاسې بیا هلته ویده شوئ؟. سوداګرو ور ته وویل موږ فکر کاوه، چې د امیر د هېواد په قلمرو کې امنیت ټینګ دی، نو که موږ ویده شو امیر خو به ویښ وي. امیر ور ته په ځیر وکتل او ویې ویل: "تاسې اوس ولاړ شئ زه به یوه اونۍ وروسته ستاسې مالونه په بشپړه توګه در ته تسلیم کړم." غلو غلا کړې وه، خو د امیر د دبدبې او هیبت له امله یې اندېي نه وو تقسیم کړي، کله چې کلي ته عسکر ورسېدل غله څرګند او مالونه یې ترې یوړل، لومړی یې سوداګرو ته خپل مالونه ورکړل او بیا یې غله قاضي ته وسپارل.

دا چې د هغه مهال امیر په نشت وسایلو داسې کولی شول، نو څرګنده ده چې افغان ولس په خپله د بې نظمۍ طرفدار نه دی هر وخت چې د دولت مشرانو د نظام د جوړولو اصول تعقیب کړي ولس یې خدمت ته حاضر شوی او ملاتړ یې ورسره کړی دی.





اوس چې په افغانستان کې امنیتي وضعیت خراب دی ډېر دولتي چارواکي د دې پړه د وسله والو مخالفینو پر غاړه اچوي، خو حقیقت دا نه دی چې وضعه یوازې هغوی خرابه کړې، بلکې وضعه د دولت بې غورۍ او بې کفایتۍ هم خرابه کړې ده. په یو هېواد کې چې د مجازاتو او مکافاتو روش نه وي، نو هلته به څرنګه څوک د اصولو په پلي کېدو باور ولري. کله چې یو والي په ولایت کې ناکام شي، له هغه ځایه راوستل شي او په مرکز کې وزیر مقرر شي او که وزیر ناکام شي، نو هغه بیا کوم بهرني هېواد ته د سفیر په توګه واستول شي، ایا د افغانستان په شاوخوا دېرش میلیونو خلکو کې پنځه زره صادق او کارفهم خلک نه پیدا کېږي، چې په مرکز او ولایتونو کې ټولې کلیدي څوکۍ د څو محدودو کسانو په لاس کې دي او په دې ادلون بدلون کې بیا هم اقتدار له همدغو کسانو سره پاتې دی.

که چېرې امنیت د دولت له اصلي وجایبو څخه وشمېرو، نو نن ورځ د افغانستان د خلکو اجماع پر همدې ده چې دولت پخپله دې دنده کې پاتې راغلی او ناکام دی، خو تر دې هم د خواشینۍ خبره دا ده، چې د وضعې د ښه کېدو امید نور د ولس په زړه کې په مړ کېدو دی او فکر کوي چې د دې دولت په موجودیت کې حالات د تباهۍ او بربادۍ پر لور روان دي. په دې کې شک نشته چې د ځینو ګاونډیو هېوادونو له خوا بل شوي اور ته پکې وهل کېږي او دلته لاسوهنه کوي، مګر دا هم د هېرولو نه ده چې فاسد قوماندانان، غله والیان او بدې خواره قاضیان زموږ د ګاونډیو هېوادونو له خوا نه دي ټاکل شوي، بلکې موجوده دولت په دندو ګومارلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



1À ولسويني چې قراردادیان ښکاره ناري وهي چې د قرارداد  د اخیستو پر سر د دولت لوړ پوړو چارواکو ته فیصدي ورکوي او له ولسوالۍ نیولې تر وزارت پورې د رشوت اخیستو جریان هم په ډاګه دی، نو

په داسې حال کې به خلک څنګه په دې ډاډمن شي، چې ایا اوسني دولتداران په رښتیا د کوم نظام د جوړولو هیله او اراده لري.

1È یوه برخه خلک داسې منفي لیدلوری لري، چې دولت د یوه قوي اقتصاد د جوړولو لپاره کومه ځانګړې او عملي طرحه نه لري، په همدې ترڅ کې د بې کیفیته تیلو د راواردولو مثال باید دا هم څرګنده کړې وي، چې دولت د شخصي ګټو مرکز ګرځېدلی او په ډېرو برخو کې یې د ناوړو مصلحتونو په نظر کې نیولو سره ملي ګټې تر پښو لاندې کړې دي. د افغانستان د اوسني نفوس زیاته برخه ځوانان تشکیلوي، چې عمرونه یې له پنځه دېرشو کلونو ټیټ دي او لا هم د ځوانانو شمېره مخ پر زیاتېدو ده، مګر د دغو ځوانانو تر منځ د بې کارۍ سلنه له ځلوېښتو نیولې تر شپېتو ځلوېښتو رسېږي. که چېرې د دې ستونزې مخه ونه نیول شي او یوه بنسټیزه اقتصادي طرحه رامنځته نه شي، نو یوازې همدغه بې کاري د دې لپاره بس ده چې په ټول هېواد کې امنیت درهم برهم کړي.

ما دوه کاله مخکې د ایریا په نامه د یوې خیریه ټولنې، چې د افغانستان ډېره ستره سروې یې کړې وه له څلورو تنو مسؤولینو سره ولیدل. زما یوه پوښتنه دا وه چې د افغانستان په سوېل کې د طالب تعریف څه دی؟. څلور واړو بې له ځنډه ځواب راکړ چې (بېکاري). د دې خبرې معنی دا ده، چې بل کوم بارز علت نشته





بلکې بېکاري ده چې د ټولې بدبختۍ سرچینه ګڼل کېدی شي او په اوس وخت کې بې امني هم د پیسو پیدا کولو په یوې سترې منبع بدله شوې ده. موږ پوهېږو، چې زموږ په معلولو او په نشه یې توکو معتادو ځوانانو سوداګري روانه ده او پر ژوندانه باندې یې قیمتونه ایښودل شوي دي. تاسې به له ډېرو رسنیو څخه دا رپوټونه اورېدلي وي، چې نن دلته یوه کورنۍ په دوو سوو ډالرو خپل ماشوم پلوري او سبا هلته یوه کورنۍ د نر ماشوم په نیمایي بیه ماشومه نجلۍ پلوري، چې د پاتې کورنۍ ژوند پرې وژغوري، مګر په همدې حالت کې هم ځینې کسان چې د بن تر پرېکړې وړاندې یې یوازې لس زره ډالره شتمني درلوده، نن ورځ د هېواد په دننه او له هېواده بهر په لسګونو میلیونه ډالر او جایدادونه لري. د ښار اوازې وایي، چې ځینو اشخاصو ته په ځینو بانکونو کې بې له یوه قیران شتمنۍ څخه د اسهامو لویه برخه ورکول شوې او دا ځکه چې دا اشخاص یا د لوړ پوړو چارواکو وروڼه دي او یا یې خپلوان. همدا راز خصوصي بانکونه د دې لپاره جوړ شوي وو، چې افغان متشبثینو ته د پانګې ورکولو زمینې پیدا کړي، خو د دې برعکس ځینو خصوصي بانکونو چې د افغانانو پس انداز حسابونه پکې پراته دي، په همدې پیسو باندې یې په دوبۍ کې د تعمیراتو کارونه پیل کړي او همدا دلیل دی چې ځینو بانکونو د اوسني نړیوال مالي بحران له کبله ستر زیانونه لیدلي، چې تاثیر به یې د بې کیفیته تېلو د زیانونو په څېر زموږ خوارو خلکو ته ورورسېږي.

د اصولو د نه پلي کولو یو بل مثال دا دی، چې ما ته د یوه دولتي بانک لوړ پوړي چارواکي وویل: "یوه ورځ د دولت یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړپوړي زورواک له خپل ورور سره راغی او د بانک له مسؤولینو څخه یې د څو میلیونو ډالرو د پور غوښتنه وکړه. د بانک مسؤولینو ورته وویل، چې د دې پور په بدل کې به ستاسو تضمین څه وي. زورواک په تمکین او اطمینان وویل: زما څوکۍ او زموږ فامیلي اثر رسوخ. کله چې د دولت دا ستره څوکۍ زما په لاس کې وي، نو ته څوک یې چې له ما څخه تضمین غواړې! "د بانکي اصولو پر بنسټ بانکي پور بې له مناسب تضمین څخه نه ورکول کېږي، مګر د اوسني دولت زورواکان یې د څوکۍ په زور تر لاسه کوي.

د افغانستان د مرکزي بانک یوه عمده دنده دا ده، چې خصوصي بانکونه وڅاري او دا یقیني کړي چې یاد شوي بانکونه هغو خلکو ته پور ورکوي، چې د پور اخیستو شرایط یې پوره کړي وي او دا خبره څرګنده وي چې پور اخیستونکي د پور د ادا کولو امکانات لري، مګر د دې برعکس د یوه بل بانک کارکوونکو راته وویل چې د مرکزي بانک یو لوړ رتبه مامور ځینو خصوصي بانکونو ته ټلیفونونه کول او په ناروا ډول یې غوښتنه ځنې کوله چې ځینو هغو اشخاصو ته دې ستر پورونه ورکول شي چې هغوی د پورونو شرایط هم نه پوره کول.

په یوه هېواد کې اقتصاد هغه وخت وده کوي، چې د مقرراتو میدان هوار او شفاف وي او هر متشبث وکړی شي چې په ټولو اساساتو باندې په یقین سره خپله مفکوره پلې کولی شي او له همدې لارې خپل ځان او هېواد ته ګټه ورسوي، مګر اوسمهال د دولت د بې کفایتۍ او فساد له امله دا میدان په بشپړه توګه ناهموار او نامساعد دی. ولس له لوږې مري او د ګوتو په شمېر خلکو ته د دې زمینه برابره ده، چې په ناقانونه توګه سترې





پانګې تر لاسه کړي او هر چېرې چې پانګه وویني نو په هماغه ساحه باندې خپلې منګولې ښخې کړي او تر انحصار لاندې یې راولي. د دغو ناوړه اعمالو څخه په بیا-بیا نړیوالو او کورنیو مطبوعاتو پرده پورته کړه او تېرکال د نړیوال شفافیت د جوړښت مؤسسې، چې هرکال د رایو تر اخیستو وروسته د نړۍ د هېوادونو په اړه د اداري فساد سروې خپروي او په دې سروې کې هېوادونه طبقه بندي کوي. په ۲۰۰۸ میلادي کال کې د دغې مؤسسې د خپرې شوې سروې په اساس افغانستان د نړۍ په پنځو ډېرو بدنامو هېوادونو کې یو و او د شمېرې د ترتیب له مخې پنځم هېواد ښودل شوی و، مګر د همدې مؤسسې د ۲۰۰۵ میلادي کال په سروې کې افغانستان ۱۱۴م هېواد و، چې د اداري فساد کچه په کې متوسطه ښودل شوې وه او تر دېرش کلنې جګړې وروسته د اداري چوکاټ په لحاظ په ډېر بد حالت کې نه و، مګر سږکال افغانستان د اداري فساد د ډېرښت له کبله ۱۷۲ هېواد دی، چې دا زموږ د بېوزله ولس توقع نه وه.

اداري فساد یوې نامشروع مالیې ته ورته دی، هر څومره چې فساد زیاتېږي په هماغه اندازه ورسره نامشروع مالیه هم زیاتېږي او دا چاره عامو خلکو ته سختې ستونزې راولاړوي. ښایي پوښتنه پیدا شي چې نامشروع مالیه کومې مالیې ته وایي؟ ځواب یې دا دی چې څه موده وړاندې په کابل کې یوې کورنۍ تر خپل منځ د جایداد د وېش ترکه جوړوله، د کورنۍ مشر چې عمر یې اتیا کالو ته رسېده له قاضي څخه وغوښتل، چې خپل ورور ته د هغه برخه جایداد چې هېڅ لانجه په کې نه وه تسلیم کړي. قاضي صاحب له دغې کورنۍ څخه د اتو زرو امریکایي ډالرو نامشروع مالیه غوښته. کورنۍ ورته وویل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کوم دلیل دوی اړ دي، چې قاضي ته اته زره ډالر ورکړي، خو قاضي دواړه پښې په یوه موزه کې کړې او تر هغه یې د جایداد ترکه ورنه کړه، چې تر څو یې اته زره ډالر جیب ته نه کړل. دا پیسې چې د قاضي جیب ته ولاړې د یوې افغانۍ په اندازه یې هم د دولت په حساب کې جمع نه کړی شوې، اما له بېوزله ملت څخه دا یوه ډېره لوړه ناروا مالیه ده چې واخیستل شوه.

د اسلام په مبارک دین کې شخصي جایداد مصئون دی. د امیر عبدالرحمن خان د سلطنت د کونړ ولایت د محکمې اسناد ما د یوې علمي څېړنې په موخه مطالعه کړي او له هغو اسنادو څخه دا په ډاګه کېږي، چې هغه وخت هندو افغانانو په مسلمانانو خپل جایدادونه یا پلورلي او یا یې ترې اخیستي دي. همدا راز نورو اقوامو هم یو پر بل باندې جایدادونه په ازادانه توګه بې د کومې نامشروع مالیې له ورکړې پلورلي دي، د داؤدخان د حکومت تر ړنګېدو پورې د خلکو جایدادونه نسبتاً مصئون وو، مګر د ثور تر کودتا وروسته په هېواد کې داسې ګډوډي رامنځته شوه، چې د ډېرو افغانانو جایدادونه یا په جعلي ډول وپلورل شول او یا په زور غصب شول، چې نن ورځ ډېر جایدادونه تر پوښتنې لاندې دي. د اوسني دولت د ښار جوړونې د وزیر په وینا په لسګونو زرو جریبه دولتي ځمکې د ځینو کسانو له خوا په زور نیول کېږي او په لوړه بیه په دغه خوار ولس باندې پلورل کېږي او د هرې ورځې په تېرېدو دا بهیر پیاوړی کېږي. ډېر لږ افغانان باوري دي، چې جایداد یې مصئون دی او دوی پرې پانګونه کولی شي.

د خلکو له فعال ګډون او د قانون له موجودیت څخه علاوه د خلکو د جایداد د مصئونیت تضمین نه شي کېدی. په کابل ښار





کې په میلیونونو خلک د غوره قوانینو د نشتوالي له کبله په غیر قانوني ډول ژوند کوي، ځکه چې یو شمېر سیمې لکه وزیر اکبر خان مېنه، دریمه او څلورمه کارته او داسې نورې د ښاروالۍ د نقشې له مخې جوړې دي، مګر ډېرې داسې سیمې هم شته چې د ښاروالۍ د پلان له مخې نه دي جوړې شوي او د ژوند تېرولو ډېر لږ امکانات هم ورته برابر نه دي.

که په ښاروالۍ کې کاري کفایت وای، نو په عاجله توګه به یې د نورو ځمکو د نقشه کولو کارونه تمام کړي وای او د قانوني جایدادونو د توزیع پروسه به یې د دې لپاره هم چټکه کړې وای، چې بېرته راستنېدونکو کډوالو په داسې جایدادونو باندې پانګونه کړې وای، چې شرعي او قانوني محفوظ حیثیت یې درلود او په اسانۍ سره یې ملکیت تثبیتېدلی شوای.

ښاروالۍ باید د ښار د هغو برخو په باب چې له لسیزو را په دېخوا په کې خلک ژوند کوي مناسب اقدام کړی وای، چې د هغوی جایدادونو قانوني بڼه غوره کړې وای. د داسې کشالو د هواري لپاره په ځینو هېوادونو کې ډېرې اغېزمنې لارې رامنځته شوي، چې له هغو تجربو څخه هم ګټه اخیستل کېدی شي. لکه د جاپان د نګویا ښاروالي چې داسې مسایل یې په بریالیتوب سره حل کړي دي او په خپله د کابل ښار اوسېدونکو هم د دې لانجو د هواري لپاره غوره وړاندیزونه کړي، چې د غور وړ دي او د اوسېدونکو، ښاروالۍ او نورو دولتي دوایرو تر منځ په تفاهم په کامیابۍ سره حل کېدی شي. مګر د کابل ښاروالي د بې کفایتۍ او فساد په داسې تیارو کې ډوبه ده چې نوره ترې د خلکو هیله پرې شوې او دا ښاروالي د ستونزو د

بېلابېل قومونه تر خپله منځه خپلوي کوي، يوله بله سره په ولسي مسايلو کې همکاري کوي او هېواد تر دېرش کلنې جگړې وروسته د يووالي په لور روان شوى دى، مگر له بده مرغه د څو مغرضو اشخاصو د شخصي گټو لپاره يو ځل بيا په ټول ولس د نهيلۍ څپه خپره شوې، په قومونو سياسي سوداگري روانه ده او د ځوانو هلکانو او نجونو احساسات پارول کېږي، چې د خپلې خاورې نور او سېدونکي پردي وبولي، د هغوى افتخارات تر خاورو لاندې کړي او ځانونه تر نورو لوړ وگڼي. څو پېړۍ وړاندې موږ دې نتيجې ته رسېدلي وو، چې که زه وايم چې زه يم او ته وايې چې ته يې، نه به زه يم نه به ته يې او که ته وايې چې ته يې او زه وايم چې ته يې، هم به زه يم هم به ته يې.

که څه هم په دغه ناوړه وضعه کې د ولس د راښکېلېدو لپاره نور ډېر عوامل هم پيدا شوي دي، خو اصلي ستونزه په سرچينه کې ده. د دولت کابينه د سرچينې په توگه په دغه فساد ککړه ده، ځکه د کابينې تر منځ په هغو اخلاقي اصولو او ښو قوانينو باندې اجماع نشته چې له مخې يې د دولت هر يو مامور د ټول ولس پر وړاندې ځان يو ډول مسؤول وبولي. د دولت يو شمېر لوړ رتبه اراکين په بشپړه بې عدالتۍ ټولې څوکۍ خپلې کورنۍ، قبيلې او قام ته ورکوي او که چېرې په يوه هېواد کې اداري جوړښتونه په دې ډول وي، نو هلته به څنگه خلک اعتبار وکړي چې موږ يو موټى ملت يوو.

د افغانستان خلک ټول د ترخو حقايقو په بنياد يوې منفي اجماع ته رسېدلي دي، ځکه د کرزي صاحب تر انتخابېدو وروسته ټولو د ده د برياليتوب هيله درلوده او فکر يې کاوه،





هواري کومه گټوره لاره نه لري.

له همدې کبله ښاروالۍ ته اوس خلکو د چوروالۍ لقب ورکړى دى. دا چې عامه وجدان چور او چپاول نه مني، ځکه د زورواکو له خوا تالا شوي شېرپور ته چورپور وايي او دا ډېره حقيقي نومونه ده، ځکه شېرپور رښتيا هم د مفسدو دولتدارانو د لوړپوړو مامورينو له خوا چور شوى دى، د دولت اراکينو دا قيمتي ځمکه په څو چنده ارزانه بيه واخيسته او بيا يې يوه اونۍ وروسته پنځه بېسويي نمره په ۱۲۰ زرو امريکايي ډالرو وپلورله. په وزير اکبرخان مېنه او شيرپور کې په لسگونو داسې دلالان شته، چې پېرودونکي ته په لږه شېبه کې د ځمکې بيه څو چنده لوړه ښيي او کله چې همدا دلالان محاکمو ته ولاړ شي، نو د ځمکې قيمت څو چنده ټيټ ښيي چې په پايله کې يې د دولت ماليه ټيټه او گټه يې د څو زورواکو جيبونو ته ولاړه شي.

که داسې عواملو ته له هره پلوه نظر واچوو، بيا هم همدې يوې پايلې ته رسېږو، چې له دولت سره د هوسا کولو لپاره کومه څرگنده طرحه او پلان نشته، بلکې برعکس له دولت څخه د شخصي او تنظيمي گټو مورچه جوړه شوې او د دې منفي وضعې بدې اغېزې په ځانگړي ډول په ځوان نسل باندې تر نورو ډېرې ښکاره او جوتې دي، ځکه دولت د اصولو پر اساس نه دى ولاړ او کارکوونکي يې د پوهې او پرهېزگارۍ پر بنسټ نه دي مقرر شوي، بلکې پر ناروا لارو راغلي او د په کارپوه ځوانانو د رشد او پرمختگ مخه يې ډب کړې ده.

همدې ويجاړوونکي وضعيت ملي يووالي ته صدمه رسولې، ځکه د بن د پروسې په پيل کې ټول خلک په دې باور وو، چې په ولس کې لا هم د ملي يووالي روحيه پياوړې ده،



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کرزی بايد پوه وي چې دی په سيلانو کې ولس بريالی کړی، نو بايد وپوهيږي چې ولس ريښه او دولت ونه ده. که ريښه مضبوطه وي ونه به استواره وي او بيا به په اسانۍ سره د ونې د شاخ بريۍ کار تر سره شي.

مطلب دا چې جګړه ځپلي ولس بنستيز اصلاحات غوښتل، خو له بده مرغه د دې برعکس دولت اصلاح شوې برخې هم په فساد ولړلې او کړې توره يې هم په خاورو ومنډله.

دې چارې نه يوازې زموږ ولس، بلکې زموږ نړيوال ملګري هم مايوس کړي او هغوی اوس فکر کوي چې افغانستان د جوړېدو نه دی. په نړيواله کچه د افغانستان دولت نن يو ځل بيا د ډېر ټيټ حيثيت څښتن دی. په هر نړيوال اخبار کې د افغانستان دولت د يوه کمزوري، غله او فاسد رژيم په نامه ياديږي. زموږ د ولس منفي ليدلوری نړۍ ته انتقال شوی او د نړۍ ډېر ستر دولتونه هم اوس فکر کوي، چې اوضاع له حده وتلې، خطرناکه او خرابه ده.

د ولس منفي ليدلوری د ستونزو د تشخيص لپاره لازمي دی، مګر د ناخوالو پر وړاندې يوازې د منفي ليدلوري په درلودو هم کومه بريالۍ پايله نه تر لاسه کېږي، ځکه د مرض تر تشخيص وروسته فوراً دارو په کار دي، يعنې د ستونزو تر پيدا کېدو وروسته د حل لپاره د ټول هېواد په کچه اوس يوې مثبتې ملي اجماع ته ضرورت دی، چې رامنځته شي او د ستونزو هواري ته په شريکه د حل لارې چارې ومومي. نو ځکه لازمه ده چې په راتلونکي فصل کې د مثبتې ملي اجماع د منځته راتګ پر لارو چارو بحث وکړو.

دویم فصل:

# د مثبتې ملي اجماع په لور

موږ اوس یوې داسې دوه لارې ته رسېدلي یوو چې پوره ځرګنده ده، یوه لاره د ځانځانۍ، شخصي ګټو او د ملت د نهیلیو خوا ته تللې، چې د ګوتو په شمېر خلک په کې د میلیاردونو ډالرو خاوندان کېږي او پاتې شا وخوا د پرش میلیونه ولس په کې په لوږه، تنده، فقر او بې امنۍ کې شپې سبا کوي. له بلې خوا به د افغانستان ګاونډیان له دې هېواده یو ځل بیا د بزکشۍ میدان جوړ کړي او زموږ دولت به په کې د ننداره چي په حیث د خیر پر غونډۍ ناست وي، چې په داسې کېدو به افغانستان په لسګونو نور کلونه هم د بې وسۍ په یوه داسې ګرداب کې غرق وي، چې د حال او مستقبل په اړه به فکر هم نه شي کولی.

د دې دوه لارې بله لاره د ایمان، باور او یووالي لار ده. د ټینګ ایمان، یووالي او ریښتینولۍ درلودل هغه څه دي، چې کولی شي موږ د یوه قانوني او اغېزمن دولت خاوندان کړي.

د زماني په دې پړاو کې چې پر ټول هېواد د نهیلۍ څپه خپره ده، کېدی شي چې موږ د یوې مثبتې ملي اجماع په تر سره کولو خپلې هغه شتمنۍ په ګوته کړو، چې له دا ډول ناوړو شرایطو





څخه هېواد ته د خلاصون لار پیدا کړو. موږ د دې توان لرو، چې د ثبات، سوکالۍ، اتفاق او ریښتینولۍ داسې لاره غوره کړو، چې جګړه ځپلی افغانستان په اسلامي نړۍ کې د اغېزمن دولت ځرګنده نمونه وګرځوي. له دې بحران څخه د وتلو لپاره زموږ شتمنۍ کومې دي؟

## الف- د اسلام مبین دین:

زموږ تر ټولو ستره شتمني د اسلام مبین دین دی. د افغانستان په سلو کې نږدې ۹۹.۹۹ وګړي د اسلام د سپېڅلي دین پیروان دي. هر وخت چې زموږ ولس د بهرنیو یرغلګرو تر تاړاک لاندې راغلی د اسلام د مبارک دین پر رسۍ یې منګولې لګولې او هېواد ته یې نجات ورکړی دی.

اسلام زموږ د ګران هېواد نړېدلې شېرازه ساتلې ده. په دې کې باید هېڅ شک نه وي، چې موږ مسلمانان وو، یوو او تر ابده به مسلمانان یوو. دا حقیقت موږ او نړۍ ته ځرګند دی، چې اسلام د تشدد او ناروا ملاتړ نه کوي. دا چې نن ورځ د اسلام تر شعار لاندې څه کېږي دا زموږ خامي ده نه د اسلام. ځکه هر څوک چې په زور د چا پر حق خېټه اچوي دا د اسلام د اصولو، عقایدو او قوانینو خلاف عمل دی. اسلام تېری نه مني او تېری کوونکی د سزا وړ بولي.

څرنګه چې مو په تېر فصل کې ولوستل، عدالت د عبادت اساس دی او دا اساس زموږ په ټولنه کې ژورې ریښې لري، مګر زموږ ځینې وګړي په دې نه پوهېږي، چې د اسلام د ځلانده تمدن ډېرې پیاوړې څېرې زموږ په خاوره کې ټوکېدلي. د عباسیانو عصر چې د اسلامي تمدن یوه ډېره پیاوړې دوره وه،

موږ د یوه ملت په توګه د دې تمدن په را وستلو او استحکام کې خورا ستر رول لوبولی و.

د هارون الرشید او مامون الرشید په دوران کې له بغداد نه په بلخ کې د مدارسو شمېر زیات و. دا مطلب پروفیسر فیدریک ستار چې د امریکا د متحدو ایالاتو په یوه معتبر پوهنتون کې استاد دی، په ډېر وضاحت وړاندې کړی دی. د دغو مدارسو نصاب هغه مهال یوازې په دیني علومو پورې محدود نه و، بلکې ټول مضامین او علوم په کې شامل وو.

په عباسي دوره کې د ژباړې زیاتره مراکز د دولت له خوا تمویلېدل او هدف دا و، چې د نړۍ ټول علوم له نورو ژبو څخه عربي ژبې ته وژباړل شي، چې په دې بهیر کې زموږ د خاورې نامتو پوهانو زیات زحمت واېست او د همدې ژباړو برکت و چې یوناني فلسفه ژوندۍ وساتل شوه او اروپا ته منتقل کړی شوه.

د همدې روښانه عصر په برکت صفر چې د هندوستان کشف و د دغو ژباړو له لارې له نورو هندي اعدادو سره چې په اروپا کې هم د عربي اعدادو په نامه شهرت لري، لومړی اسلامي نړۍ او بیا اروپا ته منتقل شول. رومي اعداد د عربي اعدادو په پرتله ډېر ستونزمن دي، ځکه د لیکلو پر مهال لیکونکی اړ دی، چې ډېر توري سره یو ځای کړي او ارقام ارایه کړي مګر عربي اعداد په سادګۍ سره د ارقامو د ښودلو چاره ترسره کولی شي. همدا راز د الجبر کلمه له عربي ژبې څخه اروپا ته تللې ده. په اسلامي نړۍ کې ډېرې رسدخانې موجودې وې او علماوو په منظمه توګه د ځمکې، سپوږمۍ او سیارو څېړنه کوله. غزنی د سلطان محمود په دوران کې نه یوازې د شعر





بلکې د علم ستر مرکز ګڼل کېده. د ځمکې د قطر د دقیقې محاسبې چاره تر اروپايي پوهانو شلور سوه کاله وړاندې د ابوریحان البیروني له خوا په ډېر بریالیتوب سره تر سره شوې وه. ابوریحان البیروني د طول البلد او عرض البلد په حساب زموږ د هېواد د ډېرو سیمو نقشې په دقیقه توګه جوړې کړې وې. له بلخي ابن سینا سره د البیروني د مکاتبې احوال دا په ګوته کوي چې دوی د خپلې فکري پراختیا په لاره کې د نړۍ له نورو تمدنونو څخه په ډار کې نه وو، بلکې د خپلې فکري پراختیا لپاره یې هر څه څېړل.

د مثال په ډول، کله چې البیروني د سلطان محمود په لښکرو کې هند ته ولاړ، هلته یې د هند د ژورو مطالعاتو د تر سره کولو په موخه سانسکریت ژبه زده کړه او په پایله کې یې د الهند په نامه یو ډېر ستر کتاب ولیکه، چې تر نن ورځې پورې هم ورته د نړۍ او هند عالمان په حیرانتیا ګوري، چې څرنګه د یوه تمدن عالم د بل تمدن رښتینی انځور په ډېره امانتدارۍ کښلی دی.

د ابوریحان، ابن سینا او نورو عالمانو اثار او کارنامې دا په ډاګه کوي، چې د تمدنونو تر منځ د ټکر او درز پیدا کول ناسم او ویجاړوونکی عمل دی او زموږ اسلامي ټولنه کولی شي چې د خپل پیاوړي تمدن په درلودو د نورو تمدنونو ښې برخې خپلې کړي او له بریاوو څخه یې ګټې واخلي.

حضرت عایشه(رض) فرمایي: "د ډیوې له رڼا ګټه واخلئ او دې ته مه ګورئ چې ډیوه د چا په لاس کې ده."

اروپا چې په منځنیو پېړیو کې د ناپوهۍ په تورتم کې ډوبه وه، زموږ د اسلامي تمدن له بریاوو څخه یې ګټه واخیسته او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهې پر لور روان شول. اوسنۍ دوره هم د عباسي او غزنوي دوران هغې ازادۍ ته اړتیا لري، چې د علم او معرفت دروازه دې د هر انسان پر مخ خلاصه وي.

د همغو ځلاندو دورو برکت و، چې فکري سرحدونه پراخ او په پایله کې یو ستر حقوقي او فکري تمدن را منځته شو چې نن یې موږ په ویاړ یادونه کوو.

په لومړي ګام کې دولتونه اړ دي، چې د خپلو ویاړلو تمدنونو ساتنه او پالنه وکړي. کله چې موږ د اسلامي تمدن په ساتنه کې د خپلو دیني علمای کرامو رول ته په درنه سترګه ګورو، نو په کار ده چې د هغوی د ژوندانه د بهبود لپاره هم په دولتي او هم په ملي کچه پام وکړو. جومات د الله(ج) کور دی، زموږ مسلمانه ټولنه په جوماتونو کې راټولېږي او د خدای تعالی(ج) خپل فرض ادا کوي.

د مخه مو ذکر کړه چې زموږ د کلیو او ښارونو جامع جوماتونه زموږ د ټولنیزو پرېکړو مراکز دي. هر کله چې پر هېواد باندې بد حالت راغلی، زموږ خلک د نظام او واکمن پر وړاندې په جوماتونو کې پرېکړو ته رسېدلي دي. په همدې ترتیب زموږ په ټولنه کې جومات د مساپرو او بېوزلو د مېلمه پالنې ځای هم دی.

همدا راز مساجد د علم هغه مرکزونه دي چې د علم د حصول لارویان په کې شپې ورځې تېروي او زموږ مؤمن خلک ورسره د خپل دسترخوان ډوډۍ شریکوي. زموږ ډېر نامتو علمای کرام لکه: استاد عبدالحی حبیبي، استاد ګل پاچا الفت، استاد عبدالشکور رشاد، استاد بېتاب، استاد عبدالله قاري او نور ټول هغه شخصیتونه وو، چې خپلې لومړنۍ زده کړې یې په





جوماتونو کې تر سره کړې وې.

زموږ په کلیو کې د ملا صاحبانو ټولې دندې د قدر وړ دي او د ډېرو ټولنیزو خدماتو تر څنګ به په پخوا وختونو کې ملا صاحبانو د مساپرو لیکونه د هغوی کورنیو ته لوستل او د کورنیو حال احوال به یې مساپرو ته لیکلو. همدا راز ملا صاحبان د خپلو مواعظو او خطبو په ترڅ کې د سیمې او نړۍ ډېر مهم مطالب ولس ته وړاندې کوي او د ولس د اجتماعي شعور په وده کې ستر رول لوبوي، خو له بده مرغه تر اوسه پورې دولت د جوماتونو د انسجام لپاره کوم ځانګړی پروګرام نه دی وړاندې کړی.

زموږ د ملي یووالي او د اسلامي هویت د ساتنې لپاره دا ډېر مهم او ضروري اقدام دی، چې د جوماتونو د تقویت او د امامانو د ژوندانه د بهبود لپاره ځانګړی او مؤثر پروګرام وړاندې شي او له دوی سره د هر اړخیزې مرستې لپاره یو جلا ترتیب ونیول شي. پر حیاتي اړتیاوو سربېره باید له ملاصاحبانو سره د دیني کتابونو او راډیویي او ټلویزیوني اسلامي خپرونو او نورو لوازمو په تیارولو کې مرسته وشي.

## ب- اګاه ولس:

وایي چې کوټه وسوه، خو دېوالونه یې پاخه شول. زموږ ولس د جګړې په اور کې وسوځېده، خو فکري شعور یې وده وکړه او نن کولی شو ووایو، چې زموږ ولس یو اګاه او باخبره ولس دی او یو موثر او عصري نظام غواړي. په پخوانیو زمانو کې به د نظام د چلولو لپاره یو پاچا پیدا شو، چې غوښتل به یې خپلې موخې تر سره کړي، مګر ډېر ځله به پاچاهان نه توانېدل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ملت ته د ټاکلو موخو په اړه قناعت ورکړي او کله چې به داسې ونه شول، نو بیا به یې یا په دولت کې موجودو چارواکو ته د قناعت د ورکولو هڅه کوله او یا به یې توري ته لاس کړ او په زور به یې پاچاهي پیل کړه. هر څو که دې چلند په ظاهره د یوه نظام بنه خپلوله، مګر په ولس کې یې بنسټ نه شو ټینګولای. که چېرې یوه افغان شپانه ته شپو خولۍ پر سر کړئ یا ورته پتلون ور واغوندئ، نو په داسې کولو ترې، نه اروپایي انسان جوړېږي او نه یې خوي او مغز تغیر کولی شي. همدا رنګه د زنده باد او مرده باد په شعارونو هم د هېوادونو ستونزې نه حل کېږي او د یوې فکري یا نسلي طبقې خلک هم نه یوازې دا چې نظامونه نه شي ټینګولی، بلکې د داسې حکمرانۍ پایلې ډېرې خطرناکې هم وي.

په افغانستان کې د ثور تر کود تا وروسته د خلقیانو او پرچمیانو د محدود اقلیت نظام او همدا راز د نجیب د حکومت تر سقوط وروسته د جهادي ډلو تر منځ تباه کوونکې جګړې ټول د هغو محدودو طبقو نظامونه وو، چې هېواد یې له بربادۍ سره مخ کړ. کابل یې ړنګ، دولت یې نابود او د ملي اردو په شمول د دولت ټول تشکیلات یې له منځه یوړل.

دا هېواد چې د نا اګاهۍ په تیاروکې ډوب و، نن په کې وضعې بدلون موندلی او د نړیوالو احصایو مطابق ۹۱٪ نارینه او ۸۷٪ ښځې په پرله پسې توګه څلور راډیوګانې اوري.

همدا رنګه ان د کلیو بانډو سپین ږیري تر ټولو زیات د هغو نړیوالو اخبارونو او مجلو سرمقالو ته غوږ نیسي، چې د راډیوګانو له خوا د دوی په محلي ژبو ژباړل کېږي. دا خبره د دې څرګندوی ده چې زموږ ولس که څه هم په زیاته پیمانه د سواد له





نعمته محروم دی، مګر بیا هم سیاسي پوهې او ټولنیز شعور یې د پخوا په پرتله ډېره وده کړې ده. دا خبره پر ځای نه ده، چې ټول باسواده خلک به پوخ سیاسي شعور ولري، ځکه ډېر داسې باسوداه کسان وي چې اصلاً د سیاسي مسایلو له اورېدو سره یا علاقه نه لري او یا پرې نه پوهېږي، مګر هغه څوک چې د خپل هېواد د برخلیک په اړه فکر کوي، هغوی د دې پوهه لري چې له مسایلو څنګه ځانونه خبر او اګاه کړي. همدا دلیل دی چې زموږ خلک اوس د سیاسي جریانونو په اړه معلومات لري او په اړه یې قضاوت کول غواړي. د دې پوهې د منځته راتګ دلایل څرګند دي، ځکه په میلیونونو کلیوال، کوچیان او ښاریان له هېواده هجرت کولو ته اړ ایستل شول او هلته یې په ګاونډیو او د نړۍ په نورو لرې پرتو هېوادونو کې ډېرې نوې پدیدې ولیدې، نو ځکه ویلی شو چې دا اوس هغه پخواني خلک نه، بلکې له ډېرو تجربو سره هېواد ته راستانه شوي خلک دي.

د ملګرو ملتونو د مهاجرو د عالي کمېشنرۍ UNHCR د کارکوونکو د وینا له مخې کله چې په تېرو څو کلونو کې افغان کډوال له پاکستان او نورو هېوادونو څخه افغانستان ته راستنېدل، نو په هرو سلو کورنیو کې تر شپېتو زیاتو کورنیو ټلویزیون درلود او د نورو ارتباطي وسیلو تر څنګ ګڼ شمېر کورنۍ داسې وې چې کمپیوټرونه یې له ځانه سره هېواد ته راوړل، همدا راز په زرګونو ځوانانو په نورو سیمه ییزو او نړیوالو ژبو بلدیت حاصل کړی او ځانونه یې په بېلابېلو علومو سمبال کړي دي. که په تخمیني توګه له یوه میلیون څخه زیات افغانان په اروپا، امریکا او نورې نړۍ کې کډوال وي، نو دوی له یوې څخه تر لسو کورنیو پورې له خلکو سره اړیکي لري او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړیکې د دې لامل دي چې تېرکال د یوه تخمین له مخې د غو افغانانو پنځه میلیارده ډالر یوازې د بن تر پروسې وروسته خپلو خپلوانو ته رالېږدولي دي.

له نېکه مرغه تر شپېتو زیاتې راډیوګانې د هېواد په هر ګوټ کې د نړۍ او هېواد په اړه معلوماتي مطالب خپروي، چې دا بهیر د ولس د خبرولو او اګاهۍ لپاره ډېره غوره سرچینه ګڼلی شو.

د ولس شریک درک ما ته د اساسي قانون په لویه جرګه کې هغه مهال څرګند شو، چې ما د مالیې وزیر په صفت د جرګې د تر دوو سوو زیاتو وکیلانو څخه پنځه، پنځه دقیقې د دوی د مؤکلینو غوښتنې واورېدې او د دوی غوښتنې مې تر اورېدو وروسته په ډېر غور وارزولې. د ټولو مثبته اجماع دا وه چې افغان ولس یو داسې معاصر، پیاوړي او اغېزمن دولت ته اړتیا لري چې وکولی شي ملت ته د یوه عصري دولت په توګه لازمې دندې تر سره کړي.

د نورو دندو ترڅنګ په اقتصادي برخه کې د استازو غوښتنې دا وې، چې ولس باید د یوه پیاوړي اقتصاد په درلودو د سوکالۍ خوا ته پل واخلي.

د سړک، برېښنا، اوبو، ښوونځي، روغتون او داسې نورو نه درلودل د ولس هغه ستونزې وې، چې ما یې د برابرولو لپاره هغه وخت یوه پانګه وسنجوله، چې له ۸۰ تر ۱۲۰ میلیارده ډالرو پورې پرې لګېدل. دا رقم لس تر شلو چندو پورې له هغې مرستې څخه زیات و، چې نړۍ یې افغانستان ته د ورکولو ژمنه کړې وه، مګر زموږ د جګړه ځپلي ولس یوه غوښتنه هم نامعقوله او نا سنجول شوې نه وه.





زما په غوښتنه نړیوال بانک پر افغانستان باندې د شوروي پرغل مستقیم او غیر مستقیم ویجاړوونکی اغېز اعلان کړ، چې د ثور له کودتا څخه د بن تر پروسې پورې یې افغانستان ته ۲۴۰ میلیارده ډالره تاوان اړولی و، مګر زموږ د خلکو غوښتنو د هغه تاوان نیمه برخه جوړوله، معنی دا چې زموږ خلکو په نیمه ډوډۍ قناعت درلود. ما د مالیې وزیر په توګه د ولس استازو ته، ځکه هغه ټول حسابونه وړاندې کړل چې غوښتل مې دوی خبر کړم، چې ستاسې غوښتنې پر ځای دي، مګر نړۍ دې ته نه ده حاضره چې دا ټولې غوښتنې ومني. موږ ته په کار ده چې په هېواد کې ټول بنسټیز حرکتونه پیل کړو، چې په وسیله یې په حکومت او اقتصاد کې اساسي بدلونونه را منځته شي. ټولو استازو دا خبره ومنله او دا چې ما د دولت عواید مرکزي کړي وو، دوی په دې کار خپله خوښي وښوده او زما د دې اقدام هرکلی یې وکړ.

زموږ ولس هېڅ وخت د دولت د بنسټیزو اصلاحاتو د راوستلو طرحه نه ده رد کړې. هر ځل چې په ولس اعتماد شوی په ډېره حوصله یې تر غور وروسته دولت ته صلاحیتونه ورکړي دي، خو دا چې دولت د دې وړتیا نه لري چې د ولس له غوښتنو سره خپل پروګرام عیار کړي دا د دولت ستونزه ده، نه د ولس. ولس په الفاظو نه غولېږي، دوی هغه تخیلي باغونه ولیدل چې دوی ته د دولت د واکمنانو له خوا ښودل شوي وو او ولس ته د سوکاله ژوند پر ځای ناکراره مرګ ډالۍ کړی شو.

دا وخت ولس عملي طرحې او سالم عمل غواړي. ولس ته باید مراجعه وشي، چې له خپل کلي تر خپل هېواده دې د هېواد د عملي امکاناتو په چوکاټ کې د ټولنې لومړیتوبونه وټاکي او

دا چې په کومه طریقه عملي کېدی شي، ولس باید پرې وپوهېږي او نېغ په نېغه په ټول جریان کې ګډون وکړي، چې د هرې طرحې د عملي کېدو مدارج څرګند او بېرته یې ټول معلومات په منظمه توګه د ولس په اختیار کې وي. نو که داسې وشي د ولس اعتماد به یو ځل بیا پوخ شي او د یوه ملت په توګه به د ټاکلو موخو پر لور حرکت وکړي.

په سرحدي سیمو کې پروت ولس د هېواد د امنیت او ثبات په ټینګښت کې د پام وړ رول لوبولی شي. له همدې کبله باید دولت په جدي ډول خپلو سرحدي ولسوالیو ته پام واړوي، ځکه که یو اجنبي وغواړي چې د یوه هېواد د ملي یووالي ځرنګوالی وڅېړي، نو لومړی د هغه هېواد سرحدي سیمو ته پام کوي او تر ټولو مخکې دا ګوري چې تر کومه بریده هلته زېربنایي امکانات لکه برېښنا، سړکونه او نور شته دي. که داسې څه په نظر ورشي، نو بیا یې له ښارونو سره پرتله کوي، چې د کلیوالو سیمو او ښارونو تر منځ د زېربنایي امکاناتو په شتون کې څومره تفاوت موجود دی. ایا په کلیو کې د ښارونو په شان روغتون، ښوونځی او نور اساسي بنسټونه شته او کنه، همدا راز چې کله د سرحدي سیمو خلک له سختۍ سره مخ شي، خپلې پلازمېنې او ولایتي ښارونو ته ځي او که ګاونډیو هېوادونو ته منډه اخلي. د سرحدي سیمو خلک کوم پیداوار او تولیدات لري او دا تولیدات چېرې پلوري. تر دې وروسته بیا له خلکو سره خبرې کوي او له هغوی نه په لومړي ګام کې دا پوښتنه کوي، چې ایا ستاسې په هېواد کې ټولنیز عدالت حاکم دی که څنګه. بله پوښتنه یې ښایي دا وي چې ستاسې ځوانانو ته د هېواد په پوهنتونونو کې د زده کړې لپاره څومره امکانات





شته دي؟

که مونږ خپلو سرحدي سیمو ته ولاړ شو او همدا پوښتنې له خلکو وکړو، نو راته څرګنده به شي، چې زمونږ سرحدي سیمې په ډېر بد حالت کې ژوند کوي. یوه اسانتیا نه لري او له محرومیت سره مخ دي. د مثال په توګه بدخشان، خوست، فراه، بادغیس، زابل، پکتیکا، فاریاب او نورو ټولو سرحدي سیمو ته د دې زمینه نه ده برابره شوې چې په هوسا توګه ژوند وکړي.

د ټولنیز عدالت له تأمین څخه علاوه نن ورځ سرحدي سیمو ته پام اړول له سیاسي او امنیتي لحاظه هم خورا مهم دي، ځکه که سرحدي ولسوالۍ مو بې وزله وي بې امنه کېږي او که هلته امن خراب شو، نو پلازمېنه او ولایات ورسره هم هغه مهال بې امنه دي. که د سرحدي ولسوالیو اوسېدونکي دولت خپل و نه ګڼي او فکر وکړي چې دوی یې پر وړاندې مسؤول نه دي، نو په هغه وخت کې د دولت وسله وال مخالفان په ډېره اسانۍ کولی شي چې له سرحدونو را تېر او په ښارونو کې امنیت ګډوډ کړي.

زمونږ سرحدي ولسوالۍ ځانګړی ټولنیز جوړښت لري، چې زمونږ دولتداران باید پرې په سمه توګه وپوهېږي. د مثال په ډول، په خوست ولایت کې قومي اربکي یو خاص بنسټ دی چې د قوم له خوا جوړېږي او د امنیت چارې سمبالوي. ځاځي او منګل قومونه داسې قومي تړونونه لري، چې د هغو په وسیله امنیت ټینګېږي او په روانې ګډوډۍ کې همدا اوس ددې دواړو سیمو امنیت تر ډېرو نورو سیمو بهتر دی، خو د محرومیت له قوي احساس سره مخ دي. ما ته څه موده وړاندې د ځاځیو د سیمې یوه اوسېدونکي وویل: "تېر کال مونږ له لېسو څخه ډېر شاګردان فارغ کړل، مګر د ګوتو په شمېر ځوانانو هم د کانکور

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ازموینې وروسته کابل پوهنتون او یا کوم بل پوهنتون ته پرې نه ښودل شول. "

په عمومي ډول زموږ سرحدي ولسوالۍ په امنیتي لحاظ بې د قومونو او مجاهدینو له فعالې ونډې اخیستو نه خوندي کېږي، ځکه مجاهدین او قومي خلک ښه پوهېږي چې له کوم لوري څخه کوم خطر پېښېدی شي.

دولت ته په کار ده، چې ټولنیز تشکیل ته په پام سره په سرحدي ولسوالیو کې د ثبات او امنیت د ټینګښت لپاره داسې یو پروګرام وړاندې کړي، چې د ولس په مشوره ټول لازم ترتیبات ونیول شي.

موږ باید له ولایتي ښارونو او پلازمېنې څخه همېشه له خپلو سرحدي سیمو سره تماس ولرو او د دې لپاره ټلیفون د دې عصر یوه مهمه وسیله ده. د مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوجۍ په برخه کې پیسې شته خو د عملي اقدام لپاره مؤثر کار په کار دی.

پر مخابراتو سربېره باید سرحدي ولسوالیو ته په څو نورو برخو کې هم ځانګړې پاملرنه وشي.

لومړی: ځوان نسل ته د مناسبې ونډې اخیستنې په منظور باید په کابل او نورو عمده ښارونو کې په ډېرو مجهزو وسایلو سمبال داسې لیلیه ښوونځي جوړ شي، چې د بشپړ شفافیت له مخې ورته نجونې او هلکان د ازموینو له لارې راشي او په هر اړخیزه وده یې عمده پانګونه وشي.

دا چې د سرحدي سیمو نجونې او هلکان له ملي او بین المللي امکاناتو څخه ګټه واخلي په کار ده، چې دې سیمو ته په لومړي ګام کې برېښنا ورسول شي او سرحدي ولسوالیو ته د





برېښنا رسول باید ملي لومړیتوب وګڼل شي. که چېرې په اول قدم کې کورونو ته برېښنا رسول ممکن نه وي، په کار ده چې جوماتونه، مکاتب او کلینیکونه په برېښنا سمبال شي، چې د لېسو زده کوونکي وتوانېږي له ثبت شویو درسي ټایپونو او بعیدو درسونو څخه استفاده وکړي او هم د جوماتونو امامان او طالبان وکولی شي د اسلامي علومو په برخه کې له نړیوالو پروګرامونو څخه برخمن شي.

هغه سرحدي ولسوالۍ چې لا هم په کې څه نا څه ځنګلونه او ورشوګانې شته باید په سمه توګه یې ځنګلونه او ورشوګانې وساتل شي. نړیوالو تجربو ښودلې، چې په هغو سیمو کې چې اقلیمي شرایط مساعد وي هلته بیا هم ځنګلونه شنه کېدی شي.

که غواړو چې د سرحدي سیمو ځنګلونه شنه شي، نو هلته باید د کار شنه قوه را منځته شي او لومړیتوب ولري.

هر کال زموږ سرحدي ولسوالۍ د سېلابونو په څپو کې خپلې کرنیزې ځمکې، څاروي او ان انسانان له لاسه ورکوي، ځکه موږ د اوبو د مهار کولو او ذخیره کولو منظم ترتیب نه لرو. که چېرې د غرونو په لمنو کې د اوبو د ذخیره کولو سم ترتیبات ونیول شي، نو په هغه صورت کې د برېښنا د تولید او د کرنې د پراختیا لپاره ترې اغېزمن کار اخیستل کېدی شي.

په سرحدي ولسوالیو کې بې روزګارو خلکو ته د کار پیدا کول ډېر مهم دي. که د ولسوالیو په کچه د شرایطو تر منځ سم تشخیص وشي. په ډېره اسانۍ کولای شو د کار فرصتونه ایجاد کړو، د بېلګې په توګه، په هغو ولسوالیو کې، چې معدنونه شته، له معدني موادو یې د نورو وسایلو د جوړولو د بهیر په پیلولو سره خلکو ته خورا ډېرې نوې کاري زمینې برابرېدی شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په هغو ولسواليو کې چې د زېربنا د جوړولو امکان وي هلته زېربنايي فعاليت د کارونو د پيدا کېدو باعث کېږي.

## ج- طبيعي پانګه:

زموږ ثروتمنه خاوره که له يوې خوا د جګړو له کبله د فقر تر کرغېړن سيوري لاندې ده، له بلې پلوه پخپله سينه کې د معدنونو ستره شتمني لري. د امريکا د جيولوجي د سروې ادارې د خپلو دقيقو څېړنو او مطالعاتو په پايله کې دا څرګنده کړه، چې د افغانستان پربمانه معدنونه د دې وړ دي چې د نشه يي توکو پر ځای د اصلي اقتصادي فعاليت ځای ونيسي. د دې سروې پر بنسټ ځينو ښودل شويو امکاناتو ته لا اوس هم کېدی شي هيله ولرو. د هېواد په شمال کې د شبرغان ګاز له ډېرو کلونو څخه شته، مګر د ګاز په برخه کې په دغې سيمه کې څو نورې داسې زېرمې هم شته چې د روسانو د هغه وخت تر تخمين څو ځلې غنې دي. بله مهمه خبره دا ده چې ښايي د پکتيکا ولايت په کټواز سيمه کې د شبرغان په اندازه د ګاز يوه بله لويه سرچينه موجوده وي.

همدا راز په هلمند کې د ګاز د پيدا کېدو امکانات ډېر دي، مګر دا هغه وخت څرګندېږي، چې موږ په دغو سيمو کې څاګانې وباسو او د ذخايرو شته والی په نښه کړو. که چېرې د کټواز د ذخيرې شته والی تثبيت کړو د هېواد پلاز مېنې لپاره به يې پايلې ډېرې په زړه پورې وي، ځکه که غواړو کابل او يا نورو هغه ښارونو ته چې له هندوکش څخه دې لورې ته پراته دي ګاز ورکړو، نو د شبرغان له لارې راغلی ګاز په ډېره لوړه بيه تمامېږي. په داسې حال کې چې د کټواز له لارې په ډېره اسانۍ





دې ښارونو ته د ګاز نل ليکې رسېدلای شي. له شبرغان څخه کابل ته يوازې د ګازو په نل ليکه باندې ۴۰۰ ميليونه امريکايي ډالر لګښت راځي او دا چې د هندوکش له لوړو څوکو راتېرېږي د موسمي شرايطو له کبله له ډېرو زيانونو سره مخ کېږي، مګر له کټواز نه ټولو هغو ښارونو ته د ګاز انتقال ډېر اسان دی چې د هندوکش د غره دې لورې د هېواد جنوب خوا ته پراته دي.

د ګازو په موجوديت کې به د افغانستان د ټرانسپورټ را تلونکې پاليسي هم په اساسي ډول په ګازو دربدلې وي، موږ بايد هغه وخت په تېلو مصرف کېدونکې پيسې د ګازو د ايجاد په لاره کې ولګوو.

د تاريخي شاليد په رڼا کې ويلی شو، چې د افغانستان زياتره دولتونه يوازې د کاغذونو پر مخ جوړ شوي دي او د يوه کاغذي سند په توګه پاتې دي، ځکه زموږ د ولس هغه برخه چې په درو او باندو کې ژوند کوي د خپل ټول تاريخ په اوږدو کې په يوه ګوله ډوډۍ پسې کله هندوستان ته تلل او کله به د نړۍ بل سر ته، مګر هغه برخه چې بهر ته تلای نه شوه، هغوی به له مجبوريته په ښارونو کې واړول.

په تېرو لويو جګړو کې د افغانستان د کليو او باندو استازي ډېر ژر په دې خبره پوه شول، چې بدخشان، دايکنډي، غور، نورستان، کونړ، پکتيکا، فارياب، باميان، ارزګان او سرپل مشترکې ستونزې لري. پر دغو ستونزو سربېره دلته وبره شته، چې لوږه، قحط او نور افات راشي، مګر د تاريخ له پلوه د دولت تر ټولو کمه پراختيايي او عادي بودجه په دغو غرنيو ولايتونو کې مصرف شوې ده، نننۍ جيولوجي سروې داسې انځور وړاندې کوي چې په همدغو يادو شويو سيمو کې ستر طبيعي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذخایر پراته دي. د بدخشان په لاجوردو او د پنجشېر په زمردو له پخوا پوهېږو، مګر اوس دا هم ویل کېږي چې د هندوکش په درو کې تر ۴۰۰ پورې نور داسې غني معدنونه هم شته چې نړۍ ورته زیاته اړتیا لري او په هر لحاظ د دې سیمې څېره بدلولی شي.

که فعال او اغېزمن دولت وای، نو دا سیمې، چې په تاریخي لحاظ یې ډېر ستونزمن ژوند تېر کړی په هوسا، بسیا او سوکاله سیمو بدلېدلی شوې. په دې سیمو کې د معدنونو په موندلو زموږ د ولس خلکو ته د یوه ښه انساني ژوند چاپېریال برابرېږي او دولت کولی شي چې له دغو عوایدو څخه په لاس ته راغلو پیسو د کونډو، یتیمانو، بېوزلو، معلولو او خپلو ټولو وګړو ژوند بهتر کړي.

یوازې د قیمتي عناصرو د معقولې استفادې په اساس هم کېدی شي، چې زموږ د خلکو ژوند او روزګار ښه شي.

د ساري په توګه، که زرګري عصري شي او نړۍ ته د عصر او زمان په غوښتنو برابر مصنوعات ولېږل شي، ویل کېږي چې له پنځو لکو نیولې تر یوه میلیون پورې انسانانو ته معقول او ابرومندانه کار پیدا کېدی شي.

افغانستان د ټولې سیمې د اوبو د تولید مرکز دی. کونړ، امو، هلمند، کابل، بلخاب، کوکچه او مرغاب هغه مهم سیندونه دي، چې زموږ له خاورې سرچینه اخلي، خو موږ په خپل وطن کې له تندې مرو. نه د څښلو پاکې اوبه لرو او نه د اوبه خور لپاره اوبه شته، مګر زموږ سیندونه ګاونډیانو ته په میلیاردونو لیټره اوبه ورکوي او موږ تر اوسه د خپلو اوبو یوازې ۱۰٪ مهار کړې دي. هر کال د وچکالۍ عذاب زموږ





حیوانات وژني او د بارانونو له امله زموږ خلکو ته په میلیونونو ډالرو تاوانونه اوړي.

د نړۍ اقلیم په چټکۍ بدلېږي، د نړۍ هوا ورځ تر بلې په تودېدو ده او که چېرې د دې بلا مخه و نه نیوله شي، نو لرې نه ده چې د اوبو بیه په نړۍ کې تر تېلو هم لوړه شي او که داسې وي، نو موږ باید د اوبو هر څاڅکی د برېښنا او کرنې د تولید د لوړولو په منظور وساتو، ځکه دا زموږ شدیده اړتیا ده چې باید پرې وپوهېږو.

څرنګه چې یو کلی د چینې د اوبو په وېش باندې یوې موافقې ته رسېږي، همدا ډول باید ګاونډي هېوادونه هم د اوبو د عادلانه وېش لپاره یوه اصولي موافقه وکړي. موږ د هلمند د اوبو پر سر له ایران سره یوه موافقه لرو او د دې موافقې په چوکاټ کې کېدی شي ډېر اغېزمن ګامونه واخلو.

د کجکي د برېښنا بند د جوړولو په دویمه مرحله کې د هېواد سوېلي ولایتونو ته په دوامداره توګه برېښنا رسېږي، چې دا په هر اړخیزې پراختیا کې ستر رول لوبولی شي.

اوسني نړیوال شرایط دا مني چې د ځینو طبیعي موادو د کارونې لپاره باید منظم سیمه ییز تیاری ونیول شي، ځکه دا هم حقوقي او هم عملي اړخونه لري. د بین الدول حقوقو د اصولو پر اساس د دولتونو مشترکو ګټو ته په پام باید داسې څېړنې وکړو، چې له مذاکراتو څخه تر مخه مو د خپل ملي منفعت د تأمینېدو لارې هوارې کړې وي او په ډېره معقوله او منظمه توګه وکولی شو، چې خپل حقوق ثابت کړو او بیا یې ژر تر ژره په پروګرامونو او پروژو بدل کړو.

معادن او اوبه زموږ د طبیعي پانګې ستره برخه جوړوي، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ ترې تر اوسه کومه د پام وړ ګټه نه ده اخيستې. ځنګل زموږ هغه ستره طبيعي پانګه ده چې موږ ورڅخه ډېره ناوړه او ناچيزه ګټه اخيستې.

په تېرو دوو پېړيو کې مو ډېر پراخ ځنګلونه له منځه وړي، خو تر اوسه مو کوم ګام نه دی اخيستی، چې نوي ځنګلونه څرنګه منځته راوړو. په کونړ ولايت کې د بدامنۍ له کبله ډېر ستر ځنګلونه په بې رحمانه توګه له منځه وړل کېږي او ګټه يې بهرنيو هېوادونو ته انتقالېږي، مګر د کونړ خلک يوې مړۍ ډوډۍ پسې د سيمې ګوټ، ګوټ ته رسېدلي دي.

د يوې مثبتې ملي اجماع په راتګ زموږ طبيعي پانګه زموږ د ملي هوساينې وسيله ګرځېدای شي، خو د يوه فاسد دولت په شته والي کې به زموږ د هېواد طبيعي پانګه تالا والا شي او د کونړ د ځنګلونو په څېر به پرې څو داړه ماران نور هم وپړسېږي او ملت به همداسې خوار پاتې شي.

## د- بشري پانګه:

له افغانستان څخه بهر په نړۍ کې د دې هېواد په اړه داسې يو انځور وړاندې شوی، چې افغانستان بشري پانګه نه لري، نو ځکه بايد د هر کار د تر سره کولو لپاره بهرني متخصصين راشي او د دې هېواد هره پراختيايي طرحه دې د هغو له خوا ترتيب شي. په دې کې شک نشته چې موږ د څو لسيزو جګړو په ترڅ کې په زياته پيمانه بشري پانګه له لاسه ورکړې او تر ننه پورې هم د هغې پانګې د جبران لپاره په مناسبه توګه کار نه دی شوی، خو دا خبره هم د منلو نه ده چې وويل شي دلته هېڅ بشري پانګه نشته.





پوښتنه دا ده چې موږ د کومو موخو د تر سره کولو لپاره څه ډول بشري پانګې ته اړتيا لرو او دا پانګه څرنګه توليدولی شو؟

که لږ تېر وختونه او نن ورځ پرتله کړو د ليکوالۍ په ساحه کې ستر مثبت بدلون راغلی دی. د افغانستان په بېلابېلو ولايتونو او سيمو کې ادبي بهيرونه او ټولنې فعالې دي، مستقلې مجلې، اخبارونه، اونيزې او په سلګونو کتابونه بې له دې چې څوک يې سانسور کړي چاپېږي، ځوانو خويندو او وروڼو ډېر خلاق استعدادونه پيدا کړي دي.

د هېواد وتلی شاعر او ليکوال ښاغلی محمدصديق پسرلی چې د يوې درنې ادبي کورنۍ هم معنوي او هم حقيقي پلار دی، وايي چې په پښتو شعر او ادب کې ډېر لوی فکري انقلاب راغلی دی، نو که ژبه د افهام او تفهيم وسيله وبولو، ويلی شو چې نن ورځ موږ هم په پښتو او هم په دري ژبو کې دا وسيله موندلې او ليکوال مو په اسانۍ سره کولی شي چې دا وسيله په مثبته توګه وکاروي. زما په فکر دا به د افغانستان په ټول تاريخ کې لومړی ځل وي، چې ليکوال بې له کوم سانسوره په ازادانه ډول کولی شي چې د دولت او دربار له امکاناتو پرته خپل مستقل ادبي او فرهنګي فعاليتونه ولري. هغه هم په داسې حال کې چې ډېرو ليکوالو ته اوس خپلې دغه هڅې د يوې مړۍ ډوډۍ ګټلو زمينه هم برابروي، نو اوس که چېرې ليکوال او شاعر د خپلې ټولنې هينداره بولو، نو موږ ډېره شفافه او روڼه هينداره لرو. که د اوسني دولت څېره په دې هينداره کې پيکه ښکاري دا د دولت د څېرې بدرنګي ده نه د هينداري ستم ظريفي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په (۱۳۸۱هـ ش) کال ډېر کم شمېر افغانان په کمپیوټر، انګلیسي ژبې او نورو تخنیکي مسایلو پوهېدل او هغوی هم په پېښور کې په نادولتي سازمانونو، د ملګرو ملتونو په اداره او یا هم په خصوصي سکتورونو کې کار کاوه، مګر اوس له نېکه مرغه دا شمېره د دولت له امکاناتو پرته خپله دې ټولنې یوې لوړې کچې ته پورته کړې او په ډېرو افغان ځوانانو کې دا پوهه ښکاري چې د کمپیوټر په برخه کې د ډېرو مهمو سکټورونو د رامنځته کولو په کار کې مرسته کولی شي چې د نړۍ د دې غني سکټور له ښېګڼو او مالي ګټو څخه خپل ولس برخمن کړي.

یو افغان ځوان چې په نړیوالو سیالیو کې یې څو ځلې مهم مډالونه تر لاسه کړي، د کمپیوټر داسې پروګرامونه جوړ کړي، چې له خلکو سره، بې له دې چې په کومه خاصه ژبه پوه شي، د کمپیوټر په زده کړه کې مرسته کوي. دغه ځوان ښاغلی اسرار احمد کریمزی نومېږي او د کمپیوټر یوه انګرېزي-پښتو ډېکشنري یې جوړه کړې، چې په پخوا زمانو کې یې خورا ډېر لګښت غوښته او د جوړولو کار به یې د مستقلو کاري کمېټو له خوا لسیزې وخت نیوه.

دا وخت زموږ ستونزه د بشري پانګې د نه درلودلو له کبله نه، بلکې له دغې پانګې څخه د مؤثرې ګټې د نه اخیستو له امله ده. د هر اړخیزې ودې لپاره د بریښنا نه لرل زموږ تر ټولو لویه ستونزه ده او زه په همدې هېواد کې لږ تر لږه شپږ داسې بریښنا پوهان پېژنم، چې د ټولې نړۍ په کچه پرې حساب کېدی شي، خو یو یې هم د بریښنا په عرصه کې دولت نه دی مقرر کړی او په دې هېواد کې له ډېرې لوړې پوهې سره بیا هم محروم ګرځي.

نړیواله مرسته د هر جګړه ځپلي هېواد اړتیا وي، خو دا





معنی نه لري چې نړیواله مرسته ګوندې هرومرو ګټوره وي. دا وخت زموږ په ښارونو کې د لنډمهالو کورسونو، ورکشاپونو او سیمینارونو لړۍ پیل شوې او له بهر څخه په سلګونو بې تجربې ځوانان، له کاره لوېدلي سپین ږیري، متقاعد عسکر او نور بې روزګاره بهرنیان زموږ هېواد ته د دې کورسونو د عملي کولو لپاره راځي، خو نه یې خورد ګټه معلومه ده او نه اغېز او په میلیونونو د مرستې پیسې بېرته له ځانه سره بهر ته وړي.

تر اوسه پورې په میلیونونو ډالر د بشري پانګې د ظرفیت د لوړولو په منظور لګول شوي، خو زموږ یو پوهنتون هم نه یوازې په نړیواله کچه بلکې د سیمې له یوه پوهنتون سره هم د سیالۍ وړ نه دی. که یوازې په کابل پوهنتون باندې له ۲۰۰ څخه تر ۳۰۰ میلیونو ډالرو پورې پانګونه شوې وای او درسي نصاب یې په سمه توګه جوړ شوی وای، نو اوس به نو موړی پوهنتون د بشري پانګې د تولید په یوې فابریکې بدل شوی وای او پنځه کاله وروسته به یې په کال کې له پنځو زرو څخه تر لسو زرو پورې کارپوه او متخصص افغانان ټولنې ته تقدیمولی. د معترضې په توګه به دلته یو څو جملې عرض کړم، کله چې زه د کابل پوهنتون رییس وم، هغه مهال ما غوښتل چې حد اقل په کال کې ۵۰۰۰ تنه د وخت د غوښتنو مطابق ځوانان وروزم. د دولت رییس ته وزیران او سلاکاران ورغلل او شکایت یې وکړ، چې یو لوی مصیبت راروان دی، موږ له یوه اشرف غني څخه پوزې ته راغلي یوو، دا چې هر کال ۵۰۰۰ نور اشرف غنیان پیدا شي بیا به له دوی سره څه کوو. همدا دلیل و، چې دولت د پوهنتون د بنسټیزو اصلاحاتو مخنیوی وکړ او د پوهنتون د پراختیا کارونه هماغسې بې خونده پاتې شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ د ټولو پانګو وده په ثبات پورې تړلې ده. ثبات او عدالت د قانون له حاکمیت څخه منځته راځي، مګر امنیت یې ستر اصل دی. همدا نن زموږ ټولنه د امنیت په برخه کې کافي بشري پانګه لري، خو له دې پانګې څخه دولت نه یوازې ګټه نه اخلي، بلکې په لوی لاس کوښښ کوي، چې دا پانګه بې اغېزې کړي. د مثال په ډول، د یوه اټکل له مخې **۱۳۵** زره افسران تنقیص شوي چې ډېر مسلکي او مجرب کسان په کې شته، مګر نن یا بېکاره ګرځي او یا په داسې کارونو بوخت دي چې هغه د غیر مسلکي وګړو له خوا هم تر سره کېدی شي. په داسې حال کې چې دا مسلکي افسران بېکاره ګرځي، په لسګونو زره غیر مجرب او بې مسلکه کسان د پولیسو په نام نهاده قواوو کې په لوړو څوکیو کارکوي، نو په همدې دلیل زموږ د ولس قضاوت دا دی، هغه څوک چې د نه مسلکیتوب په بهانه لرې کړی شوي دي مسلکي کسان دي او هغه څوک چې د مسلکي توب په بهانه مقررشوي دي، هغه خلک دي چې د قومي، سمتي او نورو روابطو له لارې د ملي اردو او ملي پولیسو لیکو ته ورغلي دي.

دا خبره پر ځای ده چې نن ورځ د ځوانو کارمندانو په روزنه پیسې لګوي او دا زموږ اړتیا هم ده، خو تر څنګ یې باید موږ د لنډ مهال لپاره د خپلو مجربو تربیه شویو افسرانو څخه هم د ښارونو او لویو لارو د امنیت ساتلو په برخه کې ګټه واخلو. د دغو افسرانو په برخه کې هم باید د مکافات او مجازات اصل په پام کې ونیول شي او هغه کسان چې د ملت او بیت المال په شتمنۍ یې تېری کړی د پولیسو یا اردو لیکو ته پرې نه ښودل شي، خو ګڼ شمېر هغه کسان چې د ملت په پیسو تربیه شوي باید د ملي ګټو د امنیت ساتلو لپاره ترې کار واخیستل شي.





همدا راز هغه مجاهدین او مجاهد قوماندانان چې د هېواد د پولو په ساتنه او د کلیو او بانډو د امنیت په خوندي کولو کې یې زیار ایستی دی، هم میدان ته راوستل شي او په دې برخه کې ترې ګټه واخیستل شي.

## هـ- ټولنیزه پانګه:

په افغانستان کې په خپلې ژمنې وفا، اعتماد او نېک نوم ځانګړې پانګه ګڼل کېږي.

یو څوک کولی شي چې په خپلې ژمنې د وفا کولو او په ټولنیزو ارزښتنو د پوهېدو له کبله په دې ټولنه کې په نېک نامه یاد شي. زموږ په ټولنه کې له پخوا راهیسې دوه طبقې د نېک نامه او لوړ عزت څښتنې وې، چې یوه یې دیني او مذهبي عالمان وو او دویمه طبقه خلک قومي مشران او سپین ږیري وو.

پر هېواد د بهرنې تجاوز پر وړاندې دې دواړو طبقو ډېرې سترې کارنامې کړې دي. هغه وخت چې د ایران رژیم د هرات له ښاره محاصره تاوه کړه، د هرات خلکو کفنونه پر سرونو وتړل او د دښمن پر وړاندې یې مبارزه وکړه. د بلخ یو نامتو دیني مشر چې صوفي اسلام نومېده له ترکمنو، ازبکو، هزاره ګانو او تاجکو سره یو ځای د هرات په لور وخوځېد او هغې جګړې ته یې چې مشري یې یار محمد خان الکوزي کوله، د خپلو ورونو په مرسته ورودانګل. توریالی، صوفي اسلام په همدغه مقدسه او هېوادپاله جګړه کې شهید شو، چې مزار یې اوس هم د غیورو هراتیانو د عقیدت مرکز دی.

کله چې انګرېزانو په هېواد حمله وکړه او افغان دولت ماتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخوړه، نو د جهادي لښکر مشري ملا مشک عالم پر غاړه واخيسته، چې هغه وخت يې عمر ۹۰ کلونو ته نږدې و. نوموړی وتوانېده چې انګريزان مات او هغه طرحه چې افغانستان يې تجزيه کاوه له منځه يوسي.

ديني عالمان د پېړيو په اوږدو کې د خپلو نېکو کارنامو ډېر ژوندي مثالونه لري او روحانيون زموږ په ټولنه کې همېشه د حکومتي سياست د منلو او نه منلو حدود ټاکي.

ولسي او قومي مشران هم څوک د کلي، څوک د ولايت او څوک د ټول هېواد په کچه نېک او وياړلی نوم لري. له انګرېزانو سره په لومړۍ جګړه کې د دوی اتفاق وکولی شول د انګريز مسلح قوتونه له پښو وغورځوي. وزير محمد اکبرخان، مير مسجدي خان کوهستانی، امين الله خان لوګری او نور ټول مشران په دې وتوانېدل چې د انګريز متجاوز لښکر ته ماتې ورکړي.

په سلګونو نور داسې مثالونه هم شته چې يادونه يې وکړو. د ميوند د جګړې په ډګر کې د هرات او نورو سيمو غونډونو چې د افغانستان د هر خېل او قوم خلک په کې وو لويه تاريخي سوبه وکړه.

زموږ د ولس او ولسي مشرانو د برياليتوب کارنامې ډېرې دي، خو اصلي خبره دا ده چې ټولنيزه پانګه چې قومي او ديني مشران دي، زموږ په هېواد کې اعتبار لري او زموږ په ټولنه کې د ثبات د ټينګښت او د خلکو د ګډون د حتمي کولو لپاره تر ټولو ستره سرچينه ګڼل کېږي.

زموږ پر ټولنيزه پانګه په تېرو څو لسيزو کې ډېر ځله يرغل شوی. د ثور تر کودتا وروسته د يادو شويو دوو طبقو په زرګونو





غړي بنديان، شهيدان او يا د وطن پرېښودو ته اړکړی شول. د دغو طبقو خلک يا له هليکوپټرو څخه ژوندي ګوزار کړل شول او يا په زندانونو کې ژوندي په ډله ييزه توګه په بيلډوزرونو ښخ کړل شول. دا چې ديني عالمان او قومي مشران د دې هېواد د ملا تير دی، نو ځکه دښمنانو په بېلابېلو پلمو په همدې طبقو حملې وکړې او کوښښ يې وکړ چې دا دواړه طبقې له پښو وغورځوي، ځکه هغوی پوهېدل چې د دې ټولنې طبيعي قوت په همدغو دوو طبقو پورې منحصر دی.

په افغانستان کې د يوې سراسري مثبتې ملي اجماع راوستل د دغو دواړو طبقو د فعال ګډون او زحمت په نتيجه کې شونی دی. بېړنۍ لويې جرګې او د اساسي قانون لويې جرګې د سياسي مشروعيت په راوستلو کې د ټولنيزې پانګې اهميت په ډاګه کړ، ځکه په دواړو لويو جرګو کې ملي مثبته اجماع تثبيت او د دې زمينه يې برابره کړه، چې د بن پرېکړې عملي کړي، خو له بده مرغه هغه مشروعيت چې د هغو جرګو استازو درلود، په ولسي جرګه کې په هغه پيمانه رامنځته نه شو. دولت هم ونه توانېده چې له ولسي جرګې او ولايتي شوراګانو څخه د ملت د انسجام لپاره کار واخلي.

په ولس کې د کرايي مشرانو اصطلاح عامه شوه، ځکه څو کرايي کښ مشران دولت ته ور وپېژندل شول چې په خپل کور کې هم له اعتبار څخه خلاص دي او په ولس کې ذره وزن نه لري او د ملي مسايلو د هوارۍ پر ځای يې خپلو شخصي ګټو ته ملا وتړله او په ناروا ګټو اخيستو بوخت شول.

د مثبتې ملي اجماع يوه برخه به دا وي چې هغه اصول څرګند شي چې پر بنسټ يې ولسي او ديني مشران د دولت له خوا منل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي، چې دوی به له دولت او ولس سره د څرګندو مسؤولیتونو او صلاحیتونو په رڼا کې کارکوي او د دواړو تر منځ به د یوه مؤثر ارتباطي پل په توګه رول لوبوي.

په افغانستان کې د دولتدارۍ پنځه مرحلې دي: کلی، ولسوالي، ښاروالي، ولایت او دولت. دا پنځه مرحلې باید په زنځیري توګه د ټولنیزې پانګې پر اساس یو له بل سره ونښلي، چې په هره مرحله کې باید څرګند حقوقي او قانوني صلاحیتونه او مسؤولیتونه وي چې د خلکو د ونډې اخیستو رول د ټولنې د هوساینې لپاره تضمین شي.

ما د ملي پیوستون د پروګرام وړاندیز ځکه وکړ، چې په کار کې مشروع مشرتابه په خپله د خلکو له خوا وټاکل شي او هرکلی د دې صلاحیت ولري، چې د اسلامي مشورې او حساب ورکونې د اصولو پر بنیاد له یوې خوا څخه کلي د پیسو لګولو او پرېکړې صلاحیت ولري او له بله پلوه به دولت ته حساب ورکړي. دا تجربه هم ځینې بریالیتوبونه لري او هم په کې یو لړ ستونزې منځته راغلي چې ستونزې یې باید لرې کړی شي.

بریالیتوبونه یې دا دي چې په کلیو کې کوم سم مشر په خپله د کلیوالو له خوا ټاکل شوی هلته ډېرې پروژې په سمه توګه پلې شوې دي. انتخابي مشران ځانونه د کلیو مسؤول ګڼي او په ملي کچه د کلیو مؤثر استازیتوب کوي.

د دې پروګرام عمده ستونزه بیا د همدې دولت اراکینو رامنځته کړې، ځکه چې د خپل اثر له رسوخ څخه په ناوړه استفادې سره یې پروژې یا خو لوټمارو قراردادیانو ته ورکړې دي او یا یې په انتصابي ډول د کومې مخورې کورنۍ نا اهله کسان د مشرتابه په مقام کې راوستي دي او پر کلیوالو یې





داسې پروژې منلي چې هغوی ته د منلو وړ نه وي.

که غواړو چې د اغېزمنې حکومتدارۍ بنسټونه پیاوړي شي، نو لازمه ده چې د ولس برخې اخیستنې ته جدي پام وشي او په دوامداره توګه وارزول شي او د حکومتدارۍ په هره مرحله کې باید د ولس ګټې تأمین شي.

د نادولتي سازمانونو (NGO) او بهرنیو قراردادیانو په پرتله د ملي پیوستون پروګرام لا تر اوسه هم ډېر بریالی دی، مګر د دې پروګرام د بریالیتوب اصل ټولنیز اعتماد او ولسي پیوستون دی، چې د دولت او ولس په منځ کې باید د حقوقو او وجایبو یو پیاوړی او څرګند ټولنیز قرارداد موجود وي، چې ټولنیزه پانګه په همدې توګه وده او پراختیا موندلی شي.

## و- مالي پانګه:

زموږ په هېواد کې دا وخت تر نورو وختونو پیسې ډېرې شوي، خو مالي پانګه کمه شوې او یا ورڅخه منفي ګټه اخیستل کېږي. ځینې خلک فکر کوي چې پیسې ګوندې کټ مټ مالي پانګه ده، مګر د پیسو او مالي پانګې تر منځ توپیر شته، ځکه مالي پانګه اقتصادي پراختیا راولي او خلکو ته کاري زمینې پیدا کوي، مګر پیسې ډېر ځله ښایي ولګول شي، اما دا نه وي څرګنده چې هر اړخیز اغېز یې ګټه لري او که تاوان.

د پیسو لګولو دوه ځایونه، فیشني ودونه او فیشني کورونه دي. زموږ ځینې بډای هېوادوال د خپلو زامنو په ودونو کې په یوه شپه یا یوه اونۍ کې په لکونو او ځینې یې ان په میلیونونو ډالر لګوي، دا پیسې زیاتره د هوټلونو او ارایشګرانو جیبونو ته ځي، مګر په ټولنه باندې یې ډېر بد اغېز ښندلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چېرې د کابل ښار د هوټلونو په پیسو باندې شرکتونه، فابریکې او نورې تولیدي او خدماتي مؤسسې جوړې شوې وای، نو اوس به په لسګونو زرو ځوانانو ته مناسب روزګار په لاس ورغلی وای.

زموږ په هېواد کې د ځمکو او کورونو بیه زموږ له اقتصادي وضعیت سره هېڅ اړخ نه لګوي. دا چې په کابل او شاوخوا نورو سیمو کې د ځمکې د یوه جریب بیه له ۱۵۰۰۰ډالرو څخه نیولې بیا تر ۲۰۰۰۰۰ ډالرو پورې رسېږي، دا د دې معنی لري چې پیسې د پانګونې معقوله لار نه لري. په هغه ولایت کې چې د کرنې یو جریب ځمکه په کال کې یوازې یو فصل حاصل ورکوي نو ۱۵۰۰۰ ډالر به په څومره وخت کې وګټي.

مجلل کورونه زموږ د ملي ثروت نښه نه، بلکې زموږ د اقتصادي کمزورۍ علامت دی. که په هېواد کې انسجام وي د دا ډول زرو کورونو په لګښت لس زره کورونه یا اپارتمانونه جوړېدای شي، چې د ژوند ټول اساسي امکانات به پکې برابر وي او د کورونو کرایې به یې دومره راټیټې کړي، چې د عام ولس زور به هم پرې رسېدای شي.

که چېرې په افغانستان کې څوک پانګونه غواړي، نو د کور کرایه ورته غټې مالي ستونزې جوړوي او همدا لامل دی چې موږ نه شو کولی خپلو لسګونو زرو بې روزګاره ځوانانو ته کارونه پیدا کړو، همدا راز که چېرې نه توانېږو، چې خپلې په میلیاردونو پیسې په مالي پانګه بدلې کړو، نو څرنګه به خپل مرګوني اقتصاد ته وده ورکړو او څرنګه به په نړۍ کې د سیالۍ خاوندان شو.

یو اغېزمن دولت هغه دولت ته وایي چې وکولی شي د





قوانینو د اجرا او تنظیم تضمین وکړي او له طبیعي پانګې څخه د روا ګټې اخیستو زمینه برابره کړي چې د ټولنیزې او بشري پانګې پراختیا او پیاوړتیا ته شرایط برابر شي.

د پیسو شته والی څو مثبت اړخونه لري: اول دا چې نن په یو شمېر ولایتونو کې پیسې شته چې دا زموږ په تاریخ کې یو نوی پړاو دی، ځکه پخوا به پیسې یوازې په ښارونو کې وې، د مثال په ډول، د تیموریانو په دوره کې په هرات ښار کې پیسې وې. د احمدشاه ابدالي په دوره کې کندهار ښار ته پیسې راټولې شوې وې او په همدې ترتیب کابل ښار په مختلفو دورو کې پیسې درلودې، مګر اوس نه یوازې دا چې پیسې په هغو ښارونو کې شته چې د پخوانیو امپراتوریو مرکزونه وو، بلکې اوس کلیو او بانډو ته هم رسېدلي دي.

د کونړ په غرني ولایت کې اوسمهال پلازې جوړې شوې، په بدخشان کې هم اوس پیسې شته خو په هېواد کې د دې پیسو سرچینه ځینې ځای مشروع او ځینې ځای نامشروع ده. په دې کې شک نشته چې د اپینو له لارې هم یوه برخه خلک میلونران شوي دي، اما دا هم د یادولو وړ ده چې په تېرو ۷ کلونو کې له هېواده بهر افغانانو په میلیاردونو ډالر خپلو خپلوانو ته رالېږلي دي. د یوه تخمین له مخې د خوست ولایت ۳۵۰۰۰ کسان د اماراتو د العین په ښار کې مزدوري کوي. دې خلکو په تېرو شلو کلونو کې ډېرې پیسې خوست ولایت ته رالېږلې، چې د نوموړي ولایت خلک پرې ګوزاره کوي.

له تخار ولایت څخه ډېر ځوانان ایران ته د مزدورۍ لپاره تللي دي او دوی هم خپلو کورونو ته پیسې رالېږي. د هېواد په د ننه کې هم یو شمېر خلکو په مشروع توګه پیسې تر لاسه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر شمېر خلک د قراردادونو د اخیستو له لارې سرمایه دار شوي. سوداګري، دوکانداري او داسې نور شغلونه هم د پیسو په تولید کې رول لوبوي او ویل کېږي چې او سمهال په ټول افغانستان کې نږدې ۵۰۰۰۰ کسان ډالري تنخواې لري چې دا هم د پیسو زېرمې غښتلې کوي. خو له بده مرغه زموږ پیسې زموږ له هېواده اوس هم بهرته انتقالېږي او زموږ سوداګرو نه یوازې دا چې له ایران، پاکستان او مرکزي اسیا څخه افغانستان ته پیسې نه دي انتقال کړي، بلکې لا هم له افغانستان څخه خلیجي هېوادونو ته په منظمه توګه پیسې انتقالېږي.

په (۱۳۸۷ هـ ش) کال کې یو اټکل شوی او دا ثابتوي چې په شپږو میاشتو کې تر یو میلیارد ډالرو زیاتې پیسې له افغانستان څخه دوبۍ ته انتقال شوې دي. یو شمېر افغانانو په دوبۍ کې هغه وخت پیسې په جایدادونو بندې کړې چې جایدادونه د لوړ قیمت اوج ته رسېدلي و، مګر په نړۍ کې د مالي بحران د راتلو له امله اوس د هغو کورونو او جایدادونو بیه ډېره راپرېوتې ده او دوی ته یې درونه مالي زیان وراړولی دی. دا چې ولې له افغانستان څخه پیسې د فرار په حالت کې دي، دلیل یې څرګند دی او هغه دا چې اوسنی دولت نه د خلکو د مال ساتنه کولی شي او نه د سر او کله چې څوک خپل ځان او مال په خطر کې ویني نو حتمي ده چې له هغه ځایه به پښې باسي.

همدارنګه د دولت کمزوري د دې لامل شوې چې نه شي کولی پیسې په پانګه بدلې کړي او یا داسې تشبث ته زمینه برابره کړي چې خلک په ازاده توګه خپلې مالي سرچینې پیاوړې کړي.





د ټولو یادو شویو پانګو مرکزیت په بنسټونو پورې تړلی او بنسټونه د یوې کامیابې مشرۍ په موجودیت کې پراختیا او ټینګښت مومي او یا دا چې یو بریالی مشرتابه کولی شي د پانګې د پراختیا بنسټونه رامنځته کړي.

زموږ د ولس منفي لیدلوري دا څرګنده کړې چې له دې ټولو پانګو او فرصتونو سره، سره هم اوسنی دولت په دې نه دی توانېدلی چې بنسټونه رامنځته او پیاوړي کړي. په راتلونکو فصلونو کې به په دې بحث وکړو چې د دولت، اقتصاد او د ملي هویت بنسټونه څنګه رامنځته کېږي او څنګه پیاوړي کېدی شي؟. د افغانستان په ځانګړو شرایطو کې خورا مهمه ده چې په نړیواله همکارۍ او انسجام باندې هم خبرې وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



درېیم فصل:

# د معاصر دولت څرنګوالی

## الف- د زور او قوت استعمال:

د دولت په اړه چې لومړی کوم ټکی ذهن ته راځي هغه زور دی، ځکه چې له یوې خوا د تاریخ په اوږدو او له بله پلوه په وروسته پاتې هېوادونو کې همېشه یوه وړه ډلګۍ د زور له لارې ځان قدرت ته رسوي او دولتي اقتدار تر لاسه کوي، مګر د دولت په معاصره پېژندنه کې د زور له لارې منځته راغلي دولتونه معاصر نه ګڼل کېږي.

د یوه عصري دولت تر ټولو منلی تعریف د قانون واکمني ده. په تېر فصل کې مو ولوستل چې موږ د یوه ملت په توګه د سترو پانګو خاوندان یوو، مګر تر اوسه مو ترې نه لازمه ګټه اخیستې او نه په دې توانېدلي یوو، چې دا پانګې په یوه مناسب چوکاټ کې تنظیم کړو، ځکه چې زموږ په هېواد کې د قانون د پانګې کمی دی او قانون داسې چوکاټ دی چې ټولې پانګې په ترتیب سره راټولوي، تنظیموي او تشکل ورکوي.

د قانون د واکمنۍ او حاکمیت نښې نښانې دا دي چې په لومړي ګام کې د قوت استعمال ته چوکاټ جوړوي، یعنې د خلکو پر وړاندې د وسله والو ځواکونو د صلاحیتونو او





مسؤولیتونو حدود ټاکي، زور هغه مهال په یوه مشروع قوت بدلېږي چې د استعمال حدود او انسجام یې د قانون له خوا وضاحت ولري.

که قوت بې له کوم روا دلیل څخه وکارول شي، نو په دولت کې له مسؤولو چارواکو په فوري ډول پوښتنې کېږي. که نولسمې پېړۍ ته وګورو دا به راته څرګنده شي، چې په دې پېړۍ کې د دولت او قوت استعمال ورو-ورو د قانون په چوکاټ کې راغی، خو د دواړو نړیوالو جګړو په ترخ کې د قوت استعمال په ځینو اروپایي هېوادونو کې ناقانونه بڼه پیدا کړه، د دې ناقانونۍ پیل لومړی په روسیه کې وشو او وروسته په اسپانیا کې د کورنۍ جګړې له کبله ډېر ملکي وګړي ووژل شول او په همدې ترتیب د فاشیزم او نازیزم له خوا په میلیونونو انسانان شکنجه او له منځه ولاړل.

د دې فجایعو دویمه برخه بیا په شلمه پېړۍ کې په جاپان او اروپا کې تکرار شوه، خو په همدې وخت کې په تدریجي توګه د قوت استعمال قانوني بڼه وموندله او اوس د دې هېوادونو وګړو ته دا د باور وړ خبره نه ده، چې ګوندې د دوی پوځونه دې د دوی پر ضد استعمال شي.

## ب- ملکي او اداري صلاحیتونه او وجایب:

د دولت ملکي او اداري صلاحیتونه او وجایب د قانون په بنیاد تعینېږي.

په یوه هېواد کې چې دولت حاکم وي د دولت د مامور مکلفیت د ملت پر وړاندې څرګند وي او نه شي کولی چې د دولت له څوکۍ نه د خپل ځان، کورنۍ او دوستانو په ګټه کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخلي. همدا راز د دولت قانون د هېواد په ټوله اراضي بې له کوم تغیر څخه یو رنګ عملي کېږي.

که چېرې د یوه حکومت اداري تسلط د هېواد په ډېرو سیمو کې ونه چلېږي هغه ته معاصر دولت نه شو ویلی، ځکه د اداري تسلط معنی شدید مرکزیت نه دی. هر هېواد له اداري پلوه مختلفې درجې لري، د ساري په توګه، کلی، ولسوالي، ښاروالي، ولایت او مرکز عامې اداري طبقې یا تقسیم بندۍ دي، مګر د دې اداري طبقو تر منځ اړیکي یو له بله توپیر لري او همدارنګه د هر یوه واحد، صلاحیتونه د قانون له پلوه په بېلابېلو هېوادونو کې مختلف دي، خو مهمه دا ده چې د هر یوه واحد، صلاحیتونه په قانون کې څرګند شوي وي او په هغه حالت کې چې د قانون په تعبیر کې ابهام وي، وګړي او مسؤولین کولی شي چې دا ابهام یوازې له قانوني لارې څخه توضیح کړي.

په وروسته پاتې هېوادونو کې د قانون او عمل تر منځ فاصله یوه ستونزه ده. مثلاً په افغانستان کې ټول دولتي عواید مرکزي بڼه لري او د اساسي قانون پر بنیاد باید په یوه واحد مرکزي حساب کې جمع او درج کړی شي او ټول لګښتونه هم له همدې واحد حساب څخه تر سره او هر کال د عوایدو او لګښتونو تفصیلي حساب ولسي جرګې ته وړاندې شي خو بدبختانه داسې نه کېږي او ډېر شمېر والیان په خپل سر له سوداګرو څخه په ناقانونه توګه پیسې اخلي او دا چې دوی په قانوني توګه د دې پیسو اخیستو حق نه لري، نو ځکه ویلی شو چې قانون تر پښو لاندې کوي. که چېرې د دولت د واحد حساب شرط نه وای او والیانو په قانوني توګه د پیسو ټولولو اجازه





درلودای نو بیا به دا هم یو قانوني عمل ګڼل کېده خو بې د قانون له اجازې داسې کړنه د قانون ماتونې څرګنده بېلګه ده.

## ج- د قانون پر بنیاد د اقتصادي چارو تر سره کول:

ټولې اقتصادي معاملې باید د قانون پر بنیاد تر سره شي. د اسلام په مبین دین کې له ډېر پخوا څخه فردي ملکیت پېژندل شوی او باید له هر ډول تېري او تجاوز څخه په امن وي او دا د دولت دنده ده چې خلکو ته د دوی د ملکیتونو د ساتنې ډاډ ورکړي. که چېرې خلک د خپل جایداد په تحفظ باندې ډاډ ونه لري، نو دوی اړ کېږي چې له نورو لارو چارو کار واخلي او له دولت څخه علاوه د خپل مال او ملکیت د ساتنې په لټه کې شي. د دولت له خوا د شخصي ملکیتونو د ساتنې او هغو ته د ازادۍ ورکولو یو ستر مثال د مایکروسافټ د سافټویر جوړولو کمپنۍ ده. ښاغلی بیلګیټس چې تل د نړۍ په پنځو پانګوالو کې شمېرل کېږي د خپل فکر سرمایه یې په کار واچوله او د کمپیوټر د سافټویر جوړولو له کبله یې ډېره پانګه تر لاسه کړه. که چېرې دولت د سافټویر جوړول شخصي پانګه نه ګڼلی او یا یې د دې پانګې تحفظ د ځان فرض نه ګڼلی، نو ممکنه نه وه چې بېلګیټس دې د دومره سترې پانګې څښتن شي.

په همدې ډول که د نویو داروګانو کشف ته پام واړوو، د خصوصي شرکتونو له خوا په سلګونو میلیونو ډالر د نویو داروګانو په کشف او څېړنه لګول کېږي، شرکتونه دا لګښت ځکه کوي چې ډاډه دي، د همدې دوایانو له سوداګرۍ څخه به په څو چنده لوړه ګټه تر لاسه کړي.

د قانون له محافظت نه علاوه هم انساني کوښښ او څېړنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



معنوي قيمت لري، ځکه موږ د سترو عالمانو، کاشفانو او څېړونکيو د څېړنو او کشفياتو قدرداني کوو، خو د نولسمې پېړۍ په وروستيو او د شلمې پېړۍ په پيل کې د نويو قوانينو طرحه کېدل د دې لامل شول چې دغه معنوي ارزښت ته د مادي پانګې د ګټلو زمينه هم برابره کړي او دا قانوني نوښت د دې باعث شو چې انساني کوښښ ته خلک د مادي سرمايې په توګه هم وګوري.

## د- د قانون تغير:

د قانون د حاکميت يو ستر شاخص دا دی چې د اړتيا پر مهال د قانون د تغير لپاره قانوني لاره وي او اهميت يې دا دی چې قانون هم دومدار تغير او بدلون ته اړتيا لري. که چېرې د قانون د تغير لپاره څرګند او ټاکلي بنسټونه، نه وي، نو قانون نه شي کولی چې له ټولنيزو بدلونونو سره همګام پر مخ ولاړ شي. د مثال په ډول، د امريکا د متحدو ايالاتو د جوړېدو له پيل څخه تر اوسه پورې د دوی قانون نه دی بدل شوی. دليل يې دا دی چې د دې هېواد ستره محکمه کولی شي، چې قانون د شرايطو د تغير پر اساس باندې تعبير کړي.

د ډېرې مودې لپاره د تورو او سپينو وګړو توپير ته محاکمو قانوني بڼه ورکړې وه، مګر هغه وخت چې يو ستر ټولنيز حرکت د ټولو وګړو د مساوات غوښتنه وکړه، سترې محکمې هغه ټول قيودات لرې کړل چې د وګړيو تر منځ د برابرۍ مانع وو.

په فرانسه کې د امريکې په پرتله د نظام په شکل باندې موافقه نه وه. څو-څو ځله جمهوريت، امپراتوري او شاهي نظامونه يو پر بل پسې راغلل او ولاړل او تر دې چې کله





جمهوري نظام په اصل شکل باندې منل کېده اساسي قانون څو واري تغير وکړ، ځکه د دولت د صلاحيتونو په اړه بېلابېلې مفکورې موجودې وې. د فرانسې اوسنی اساسي قانون د دوی په پنځم جمهوري نظام پورې اړه لري.

تر دويمې نړيوالې جګړې وروسته په اروپا کې د دولت د صلاحيتونو د تغير په باب سترې تجربې رامنځته شوې. جرمني او فرانسې په نولسمه پېړۍ کې پر فولادو او د ډبرو پر سکرو سترې شخړې وکړې، ځکه هر يوه غوښتل چې عمده معادن دې د دوی تر تسلط لاندې وي، خو د دوی ډېر مدبر سياستوال تر جګړې وروسته دې پايلې ته ورسېدل چې د دغو معدنونو شريکه کارونه به دا شخړې هوارې کړي، نو ځکه يې د فولادو او ډبرو سکرو يوه ګډه اتحاديه جوړه کړه او د دې بريالۍ تجربې له برکته يې اول شريک مارکيټ تر لاسه کړ او بيا يې په اروپا کې د اروپا اتحاديه رامنځته کړه. په اروپا کې هر هېواد ځانګړې سرحدات درلودل او په لومړي سر کې به چې کله يو اروپايي له يوه اروپايي هېواده بل ته تللو، نو اړ به و چې پيسې بدلې کړي او پاسپورټ ولري، مګر نن زياتره هغه خلک چې د اروپايي اتحاديې په چوکاټ کې ژوند کوي حق لري، چې په ازاده توګه له يوه هېواده بل ته سفر وکړي او که وغواړي په اسانه توګه هلته کار هم کولی شي.

له انګلستان او يو څو نورو هېوادونو پرته نور ډېر هېوادونه يو پولي واحد لري او د دې پر ځای چې جلا بانکونه ولري اوس د اروپا د پولي سياست ټول اختيار د اروپا له مرکزي بانک سره دی.

په اروپا کې د قانون د حکومت ستره نښه د اروپا د عدالت

(c) ketabton.com: The Digital Library



محکمه ده. د اروپا د براعظم وګړي حق لري چې د خپلو حکومتونو له لاسه عریضې همدې محکمې ته وړاندې کړي او دولتونو هم منلې چې د دې محکمې پرېکړې د منلو او تطبیقولو وړ دي.

د قانون حاکمیت دوې مهمې برخې لري، چې یوه یې د بشپړو قوانینو تقنین او توشیح ده. که قوانین په ناسمه توګه تقنین شي، کولی شي خلکو ته د اسانتیا پر ځای ستونزې پېښې کړي. د ناسمو قوانینو بده پایله موږ په افغانستان کې څو ځلې لیدلې ده، په زیاترو وروسته پاتې هېوادونو کې چې کله نوی قانون رامنځته شي نو له زړو قوانینو سره په تضاد کې وي، چې د دې تضاد د لرې کولو لپاره قانوني لاره ګونګه وي. نو له همدې کبله د ډېرو قوانینو موجودیت د وضاحت پر ځای ابهام او پېچلتیا رامنځته کوي، چې ډېرې ستونزې ترې پیدا کېږي او رشوت خور دولت له دغو تضاداتو څخه په ګټه اخیستو کولی شي، متضادې پرېکړې وکړي او متضاد سیاستونه پلي کړي. نو د تقنین اهمیت او د قانون پر مسودو باندې غور کول او د هغوی عملي اړخونو ته پام کول د قانون د راوستلو او پلي کولو لپاره ډېر ارزښت لري. همدا دلیل دی چې اوس د مقننه، اجرائیه، او قضایه قواوو ترمنځ تفکیک او توپیر په یوه نړیوال اصل بدل شوی دی.

هره قوه ځانګړي صفات لري د ځانګړو مهارتونو له مخې ورته بشري قوه ټاکل کېږي، چې هره برخه په بریالیتوب سره پر مخ ولاړه شي.

د قانون د حاکمیت بله ځانګړنه د قوانینو پر وخت اجرا کول دي. که چېرې د هېواد قوانین هر څومره اعلی او پر ځای وي خو





که د اجرا او عملي کېدو له پلوه په کې سستي وشي، نو بیا هم د خلکو باور نه شي ترلاسه کولی او د قانون د حاکمیت ښېګڼې په بدګڼو بدلوي. لکه په زمبابوې کې چې د رابرت موګابې له خوا قانون تر پښو لاندې شو.

په زمبابوې کې د قانون له مخې ولسمشر باید د عمومي ټاکنو له مخې راشي. ولس هم په دې اصل اجماع درلوده. کله چې په لومړي پړاو کې د ده رقیب ټاکنې وګټلې موګابې ونه منلې او د دویم دور ټاکنو غوښتنه یې وکړه. په دویم دور کې یې دولتي مامورین د سوټي په زور اړ کړل، چې صندوقونه د ده لپاره ډک کړي. همدا سې وشول چې موګابې دوه پښې په یوه موزه کې کړې او د خپل قدرت د ناروا دوام لپاره یې قانون تر پښو لاندې کړ. د موګابې له خوا د قانون ماتولو پایله دا شوه، چې د سوېلي افریقا یو کرنیز او شتمن هېواد په تېرو څو کلونو کې په یوه فقیر او نادار هېواد بدل شو.

د پیسو د پړسوب سلنه یې تر یوه میلون لوړه شوې او په سلو کې نږدې درش وګړي یې نورو ګاونډیو هېوادونو ته په کډه کولو مجبور شوي دي.

نړیوالو تجربو ښودلې چې په قانوني بنسټ د مشرتابه بدلون د قانون د ټینګښت لپاره ځانګړی ارزښت لري. په هغو هېوادونو کې چې د دولت د مشرتابه د بدلون قانوني موده نه وي څرګنده او منظم سیاسي حزبونه فعال نه وي، هلته مستبد واکمنان د نوي او ځوان مشرتابه د پیاوړتیا لپاره پانګونه نه کوي، ځکه دوی وېره لري چې نوی مشرتابه به د دوی د ناروا قدرت لړۍ ختمه کړي. د نامشروع قدرت دغه غریزه د نویو او فعاله انسانانو پر وړاندې ستونزې جوړوي او د دې موقع نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکوي، چې په ټولنه کې تبارز وکړي، مګر په هغو هېوادونو کې چې د قدرت قانوني میعاد معلوم وي په طبیعي ډول نوي لیډران وده کوي.

د امریکا د متحدو ایالاتو د ولسمشرۍ د دوو دورو محدودیت له یوه پلوه او د دوو مقتدرو احزابو موجودیت له بله پلوه د دې زمینه برابره کړې، چې هر څلور کاله وروسته یوه نوې څېره رامنځته شي او دا ټولنه د سوکالۍ پر لور سوق کړي.

د ښه او غوره قانون یوه بله نښه دا ده، چې د دولتي ارګانونو د دندو لوایح به ټاکلي او کاري تداخل به په کې نه وي. څکه هر څومره چې په یوه هېواد کې د وزارتونو او مستقلو ارګانونو شمېره ډېره وي په هماغه اندازه کاري تداخل رامنځته کېږي او ستونزې زیاتېږي. د ساري په توګه، که چېرې په یوه کرنیز هېواد کې د کرنې په ساحه کې پنځه وزارتونه کاري تداخل ولري، نو هر وزیر به فکر کوي چې اصلي مسؤولیت او صلاحیت له ده سره دی او دا ډول ستونزې په اسانۍ یو دولت له ښو غورځولی شي، څکه هره پرېکړه چې د یوه وزارت له خوا کېږي بل به یې ردوي او کومه قانوني مرجع به نه وي، چې د دوی صلاحیتونه په ګوته کړي، نو په دې حالت کې دولت چپه وبولئ.

یو بل علت هم چې د دولت د بې اغېزې کولو لامل کېږي هغه مستقل ارګانونه او محلي دواېر دي، چې د خپلو صلاحیتونو په وضاحت پخپله هم نه پوهېږي او کاري تداخل یې د سترو اختلافونو باعث ګرځي، چې په نتیجه کې د ملت کارونه ځنډېدلي او نېمګړي پاتې شي. د دې ژوندی مثال په وروسته پاتې هېوادونو کې فیډرالېزم او فیډرالي نظام دی. په پاکستان





کې فیډرالي نظام منل شوی، خو په عمل کې هلته د همدغو ګډوډیو او اختلافاتو په نتیجه کې بیا-بیا نظامي څواک د حاکمیت واګې اخلي او په دې توګه نظام مرکزي بڼه غوره کوي. مګر په هندوستان کې بیا د دې برعکس ولایتونه د قانون له مخې د پرېمانه اختیاراتو خاوندان دي او ډېرې پرېکړې په خپله د قانون په چوکاټ کې پخپله تر سره کوي. د قانون او عمل د فرق پر بنیاد باید وویل شي، چې مرکزیت او عدم مرکزیت دواړه هم منفي او هم مثبته بڼه غوره کولی شي او حتمي نه ده چې یو یې مضر او بل یې ګټور وي.

په هغو فدرالي نظامونو کې چې قانون نه عملي کېږي مرکزیت منفي اغېز لري، څکه قانون سیمه ییزو ارګانونو ته په یوه چوکاټ کې ډېر صلاحیتونه ورکوي، خو په عمل کې فدرالي وزارتونه د یوه سخت مرکزیت بڼه غوره کوي او لازم امکانات سیمه ییزو ارګانونو ته نه ورکوي.

په هغو هېوادونو کې چې په قانوني ډول دولت مرکزي وي او قانون پلی نه شي والیان او ولسوالان په بې وزلو خلکو ناروا حکمراني چلوي، چې دا د ملوک الطوایفۍ عصري بڼه ګڼلی شو او نن زموږ هېواد په همدا سې حالت کې دی.

د قانون د حاکمیت غوره مثال سویډن دی. که څه هم په سویډن کې د قانون له مخې نظام مرکزي دی، خو سیمه ییز ارګانونه په قانوني ډول پراخ اختیارات لري.

هدف دا دی، چې فدرالي او مرکزي نظام د فورمول له مخې نه مثبت دي او نه منفي او یا دا چې هم مثبت کېدای شي او هم منفي، څکه دواړه ښایي ښېلابېلو شرایطو ته برابر وي، یعنې په یوه هېواد کې به مرکزي نظام مناسب وي او په بل کې ښایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



فدرالي نظام مؤثريت ولري، خو د بريالیتوب اصل بیا هم په قانون باندې عمل کول او د قانوني صلاحیتونو او مسؤولیتونو په وضاحت پورې اړه لري.

هر څومره چې په يوه هېواد کې د قانون حاکمیت ټینګ شي په هماغه پیمانه سیاسي کړه وړه د قانون چوکاټ ته برابرېږي، مګر په هغو هېوادونو کې چې د قانون حاکمیت نه وي او هدف دا وي چې د قانون حاکمیت دې رامنځته شي، نو د نظام پر جوړښت باندې سیاسي اجماع کول خاص اهمیت لري او داسې اجماع په ځانګړي ډول باید په جګړه ځپلیو هېوادونو کې په دې دلیل رامنځته شي، چې څرګنده کړي د هېوادني سیاست حدود کوم دي؟ د ملي ګټو بریدونه څنګه تعینیږي؟ او هغه اشخاص چې د سیاست په ډګر کې لوبېږي یو له بل سره د کومو اصولو پر بنیاد سیالي کوي او تر ټولو مهمه دا چې دوی ولس ته په کومه سترګه ګوري.

که یو سیاستوال خپل ولس ته د یوې داسې وسیلې په سترګه ګوري چې یوازې خپلو موخو ته ور باندې ځان ورسوي، نو هلته بیا د ثبات ټینګښت او د قانون پلي کول ناممکن دي. ځکه ولس منحیث ولس وسیله نه شي کېدی، بلکې غوښتنې او پېرزوینې يې د نړۍ د بل هر مهذب ولس په څېر وي چې غواړي سوکاله ژوند ولري او بچي يې تر دوی پر مخ ولاړ شي.

که مطرح سیاستوال او دولتداران په دې سرخلاص کړي، چې ولس د نظام ريښه او سیاستوال يې څانګې دي، نو بیا باید دا هم زده کړي چې ونه به د عدالت پر بنیاد وده کوي او کله چې داسې وي نو بیا هغه اصول عملي کېږي، چې پر بنسټ يې سیاست د مثبت تغیر وسیله ګرځي او د يوه باثباته او منل شوي نظام پایه ټینګوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځلورم فصل:

# د معاصر دولت دندې

دولت کومه اپلاتوني پدیده نه ده، چې تعریف یې له ابتدا څخه تر انتها پورې ثابت پاتې شي او که چېرې په داسې تعریف پسې وګرځو، چې په هر زمان او مکان کې عملي بڼه ولري، نو هېڅ وخت به کومې ځرګندې نتیجې ته ونه رسېږو.

دولت ته باید په کوم ډول وګورو؟ د دې لپاره چې دا پوښتنه ځواب کړو په کار دي چې د قدرت په دوو بڼو باندې توپیر ته قایل شو.

د قدرت یوه بڼه دا ده، چې (الف)، (ب) اړ کوي چې د ده حکم ومني ځکه د (الف) په لاس کې داسې وسایل او امکانات شته چې (ب) ورته اړتیا لري، نو ځکه (ب) د (الف) اراده مني، خو سره له دې چې (ب) به په زړه کې خوښه نه وي، اما مجبوره ده چې ظاهراً وښیي چې د (الف) نظریه یې عملي کړې ده، دا یو وېشل کېدونکی قدرت دی.

اما بله بڼه یې دا ده چې (الف)، (ب) او (ج) غواړي په شریکه یو پټی اباد کړي، مګر هلته یوه ستره تیږه پرته ده، چې که (الف)، (ب) او (ج) ډېره خواري هم وکړي، په یوازې ځان یو هم نه شي کولی چې تیږه لرې کړي، مګر که په شریکه ور څخه





تاو شي نو کولی شي تیږه لرې او پټی اباد کړي. دا ډول قدرت ټولنیز قدرت دی.

دولت کېدی شي چې د وېشونکي او یا ټولوونکي قدرت بېلګه شي. بېګار یې هم یوه نمونه ده چې دولت بې له دې چې چا ته پیسې ورکړي، په زور خلک اړ کوي چې په کال کې به له دومره څخه تر دومره ورځو پورې په مفت ډول د دولت کارونه کوي، په ځینو نورو امورو کې هم د دولتدارۍ دا بڼه په ډېرو هېوادونو کې شته. بندیان د قانون د پرېکړې پر اساس له ځینو حقونو څخه محرومېږي او اړ وي، چې له څو ورځو نه تر عمره پورې د جرم د شدت او درونوالي په اندازه په زندان کې تېر کړي.

همدارنګه د عسکرۍ د دندې د اجرا کولو لپاره په امریکا او اروپا کې نظامي افسران ډېر درانه تمرینونه کوي او د تمرین پر مهال اړ دي چې بې له کوم دلیل څخه د مسؤولو چارواکو اوامر ومني.

د معاصرې دولتدارۍ ډېره برخه اوس په ټولنیزه بڼه ترسره کېږي. دا چې دولت باید کومې دندې تر سره کړي؟ دا په ملي اجماع او د اهمیت له مخې د یوې مسألې په ځانګړو شرایطو پورې اړه لري، د ساري په ډول، په تېرو اتو ویشتو کلونو کې د امریکا په متحدو ایالاتو کې د ولس اجماع په دې وه چې دولت باید په اقتصادي امورو کې ډېر کم رول ولري، دا لړۍ د رونالډ ریګن د قدرت پر مهال پیل شوه او په دې اصل ولاړه وه چې مارکیټ نه یوازې خپلې ستونزې په خپله حل کوي، بلکې د مارکېټ د حل لاره د دولت له حل لارې نه چټکه، معقوله او اقتصادي ده، خو په متحدو ایالاتو کې اوسنی مالي بحران

(c) ketabton.com: The Digital Library



دومره مهم شوی چې د جورج واکر بش په څېر يو ولسمشر چې د مارکيټ په مطلقه ازادۍ يې باور درلود هم اړ شو تر څو د ولس پيسې د بانکونو د نجات لپاره په لويه کچه مصرف کړي او دغه دولت او سمهال نېغ په نېغه په اقتصاد کې رول لوبوي.

که دولت په اقتصادي امورو کې د مرستې لاس نه وای غځولی او په دې برخه کې د دولت په رول باندې سياسي اجماع نه وای شوې، نو دې مالي بحران به په مراتبو ناوړه عواقب درلودل.

که شلمې پېړۍ ته وګورو د شرايطو د تغير او د ولسونو د غوښتنو پر بنسټ دولتونو مختلفې دندې تر لاسه کړې. د دولتونو تر منځ د دغو دندو اخيستو يوه مشترکه وجه له يوې خوا قانونيت او له بله پلوه د خلکو اجماع وه. که دوو تېرو پېړيو ته نظر وکړو د دولت په دندو کې به ځينې اصلي تغيرات راته څرګند شي، په ځانګړې توګه راتلونکي درې دندې هغه بنسټونه دي چې په هغو باندې د نورو دندو د اجرا کولو بنياد اېښودل شوی دی:

## الف- د قوت مشروع استعمال:

د شپاړسمې پېړۍ له پيله د شلمې پېړۍ تر پيل پورې په اروپا کې مرکزي دولتونه را منځته او مستحکم شول. پخوا تر دې د دغو دولتونو څرګنده ځانګړنه د زور او انحصار له لارې د قوت مرکزي کول و.

په فيوډالي دوران کې هر فيوډال ځانګړې قوه درلوده او له همدې قوې نه به يې د نورو فيوډالانو پر وړاندې استفاده کوله. په سيمه کې ازادانه سفر د خلکو حق نه و.





کله به چې خلک د يوه فيوډال له سيمې څخه د بل سيمې ته تلل، نو اړ به وو چې د ځان او مال د ساتنې لپاره يا ماليه ورکړي او يا د پيسو په مقابل کې بدرګه ولري او يا هم د جګړې په وسيله تېر شي.

دغو مرکزي دولتونو منظمه او معاصره اردو رامنځته او دا پلې اردو يې په داسې وسيلو سمبال کړه چې د فيوډالانو سپرې لښکرې يې ماتې کړې او پرېکړه وشوه چې له اردو نه علاوه بل څوک د وسلې د کارونې حق نه لري.

سياسي او اقتصادي قوه له نظامي قوې څخه بېله شوه او د وخت په تېرېدلو د قوت د استعمال صلاحيت د قانون په چوکاټ کې د مرکزي دولت په لاس کې شو او د دولت د تعريف يوه برخه داسې شوه چې د مشروع قوت د کارونې انحصار د معاصر دولت تر ټولو ستره نښه ده.

په دولت کې د قوت تمرکز او بيا ورته په قانوني چوکاټ کې ځای ورکولو څو مهمې پايلې درلودې:

۱- دا چې دولت د وګړو د ازادانه سفر مسؤوليت پر خپله غاړه واخيست، نو له يوه ځای څخه بل ځای ته د وګړو ازادانه سفر د خلکو حق وګڼل شو. هر هغه دولت چې په نننيو شرايطو کې پخپله ساحه کې د وګړو د ازادانه تګ راتګ امنيت نه شي تأمينولی معاصر دولت نه ګڼل کېږي.

۲- سياسي فعاليت د قوت د استعمال له تهديد څخه بېل شو. کله چې د قوت د استعمال انحصار له دولت سره نه وي، مطرح سياسي اشخاص کولی شي چې په دوامداره توګه د خپل اثر رسوخ او قوت څخه ګټه پورته کړي او په زور باندې خپلې ګټې تثبيت کړي او کمزوري واکمنان دې ته اړ کړي، چې د دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر باندې په خاصه توګه قانون تطبيقوي. په هغو هېوادونو کې چې د قانون حاکميت تثبيت شوی وي ولسمشران له خپل قوت څخه د هېواد او ولس لپاره ګټه اخيستی شي، مګر دا اصل يې بايد په پام کې وي چې د خپلو رقيبانو پر وړاندې هېڅکله دولتي قوت نه شي کارولی.

۴-د اردو او پوليس تر منځه تشکيلاتي توپير راغی. د اردو اساسي موخه دا شوه چې له ملت او مملکت څخه به دفاع کوي او د پوليس دنده دا شوه چې د خلکو د حقونو او وجايبو ساتنه او څارنه وکړي، ځکه پوليس په دوامداره توګه له ولس سره مخ وي او له خلکو سره د هغوی کړه وړه او اخلاق د دولت د مؤثريت ستر معيار ګڼل کېږي. د معاصر پوليس ښه بېلګه په انګلستان کې څرګنده ده او هغه دا چې وسله نه لري، مګر د ولس او پوليس تر منځ ټينګ توافق موجود دی او د يو بل احترام کوي.

## ب- بيت المال يا عامه شتمني:

د قوت مرکزي کول يو مالي اساس غواړي. يوه منظمه او په قانون متکي قوه منظم معاش او امکاناتو ته اړتيا لري. د تاريخ په اوږدو کې ډېر ځله ليدل شوي چې هر هغه دولت چې د خپلې قوې لپاره يې لازم معاش او امکانات نه دي برابر کړي د همدغو اردوګانو له خوا نسکور شوي دي.

جګړه لګښت غواړي او هر څومره يې چې موده اوږدېږي لګښت يې هم ډېرېږي. د نولسمې او شلمې پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې د اروپايي دولتونو تر ټولو زيات لګښتونه د اردو په تنظيمولو راغلل.

نن هم د جګړې او نظامي چارو تنظيم خورا درانه لګښت ته





د تهديدونو په پايله کې د دوی منفي ګټې تضمين کړي.

د دې برعکس کله چې د قوت د استعمال واک په قانوني چوکاټ کې راشي او د اشخاصو له انحصاره ووځي، نو بيا د سياست اصلي توجه د خلکو تنظيم ته اوړي، ځکه ډېر سياسي احزاب رامنځته کېږي او هر يو کوښښ کوي چې د برياليو پروګرامونو په جوړولو د خلکو رايې خپلې کړي او د قانون په چوکاټ کې واک تر لاسه کړي.

که څه هم زموږ په هېواد کې بدبختانه دا پروسه په تېرو کلونو کې پلې نه شوه، خو نتيجه يې په هغو هېوادونو کې څرګنده ده چې د داسې واک خاوندان دي.

۳- د قانون تطبيق عملي جنبه ونيوله. کله چې په يوه ټولنه کې د قوت تمرکز په دولت کې نه وي، نو د محاکمو پرېکړې په اسانه او شفافه توګه نه عملي کېږي. ځکه زورور خلک په دوامداره توګه کمزوري خلک تهديدوي او له منځه يې وړي، اما کله چې قوت په دولت کې تمرکز ولري زورواکان او ټوپکماران که هر څومره شتمني، شهرت او وسايل ولري، نه شي کولی چې پر کمزورو انسانانو پښې کېږدي او يا د محاکمو پرېکړې رد کړي.

د قانون پر وړاندې د هېواد د خلکو برابري هغه وخت تأمينېدای شي چې ټول وګړي په دې پوه شي چې دوی برابر حقوق او وجايب لري.

نن په ټولو معاصرو دولتونو کې د کمزورو خلکو د حقونو د ساتنې لپاره منظم ترتيبات موجود دي، ځکه يې دا د قانون د تطبيق معيار ګرځولی، چې پر شتمنو او سياسي خلکو او په ځانګړي ډول د دولت پر لوړ پوړو اراکينو باندې په عامه او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړتیا لري، په ۲۰۰۶ میلادي کال کې دولتونو یو زر یو سل او شپېته میلیارده ډالر پر نظامي چارو لګولي دي. د دې رقم ۲۴٪ یعنې ۵۲۸.۷ میلیارده ډالر یوازې د امریکا نظامي بودجه وه. ناټو په خپلو افرادو او نظامي تجهیزاتو باندې چې د ۱۸ هېوادونو مشترک تړون دی ۳۰۰ میلیارده ډالر په یاد شوي کال کې لګولي دي.

د دولت د عوایدو اساس د صنعتي ټولنې تر رامنځته کېدلو وړاندې په عامه شتمنۍ، کرنې، سوداګرۍ او خصوصي تشبثاتو باندې درېدلی و، نو د قوت د مرکزیت یو مهم دلیل عامه شتمني هم وه، چې په دولت کې یې تمرکز درلوده. ورپسې داسې قوانین وټاکل شول چې د دولت شتمنۍ ته منظمه بڼه ورکړي او د دولت پر وړاندې د خلکو مالي مسؤولیتونه څرګند کړي. د دولت شتمني په دوو اساسي اصولو باندې ولاړه ده، چې یوه برخه یې د عایداتو تنظیمول او بله یې د لګښتونو ترتیبول دي. د یوه دولت بودجه د دولت د لومړیتوبونو هېنداره ده. یوه بودجه په ډېره ساده، اما معاصره توګه دا په ډاګه کوي، چې د عاید سرچینې کومې دي، په څومره مؤثریت عایدات راټولېږي او د دولت پر وړاندې د یوه هېواد د وګړو مالي مسؤولیتونه او سهمیه څه ده.

همدارنګه د دولت لګښتونه د دې څرګندوی وي، چې دولت څه شي ته لومړیتوب ورکړی، د دې لګښتونو مؤثریت څومره او ولس تر کومه بریده قانع دی چې دا لګښتونه د دوی د ژوندانه د بهترولو لپاره تر سره کېږي.

په وروستیو دوو لسیزو کې په نړۍ کې د شفافیت، مؤثریت او حساب ورکولو کلمې ډېرې لاندې باندې کېږي او یوه شعاري





بڼه یې خپله کړې ده، مګر که د اسلامي خلفاوو ځلاندې دورې ته پام وکړئ دا به درته څرګنده شي چې دې شعارونو د حضرت عمر فاروق (رض) د خلافت په زمانه کې عملي بڼه لرله، ځکه په هغه زمانه کې د بیت المال اساس کېښودل شو، په اعمالو کې د شفافیت او حساب ورکولو اصل ته پام وشو او د ولس پر وړاندې د دولت دنده تر ټولو ستره او درنه وګڼل شوه. دوه مثالونه د دې اصل څرګندوی دي چې دلته به پرې رڼا واچوو:

وایي چې د یوه غنیمت مال تر تقسیم وروسته حضرت عمر فاروق(رض) مسجد ته تشریف یووړ، خلکو ولیدل چې امیرالمؤمنین نوې جامې اغوستې دي. د یوه صحابي(رض) په زړه کې وګرځېدل چې دا څرنګه کېدی شي، چې زما قد تر امیر ټیټ دی زما له هغه غنیمت رخت څخه کالي ونه شول او امیر چې قد یې تر ما ډېر لوړ دی ده ترې جامې وګنډلې. د ټولو خلکو پر وړاندې یې په زړورتیا پوښتنه وکړه: امیرالمؤمنینه! زما قد ستا تر قد ټیټ دی زما له هغه رخت څخه چې په غنیمت کې مو رسېدلی و جامې ونه شوې تا ترې څرنګه جامې جوړې کړې؟ امیر په ډېره حوصله مندۍ او شجاعت خپل زوی ته وفرمایل: ده ته ووایه چې ولې داسې وشول! د امیر زوی وویل: د امیر ټولې جامې زړې شوې وې، نو ما خپله برخه ټوکر هم امیر ته ورکړ، چې جامې ترې وګنډي. هغه مهال چې د امیر زوی دا خبرې کولې زړې جامې یې پر تن وې.

د حضرت عمر فاروق(رض) د عدالت یو بل مثال دا دی: د امیر عادت و چې د شپې له خوا به د خلکو له احواله د خبرېدو په موخه د ښار په کوڅو کې ګرځېده، یوه شپه یې د ماشومانو نرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژړا تر غوږو شوه، چې یوه مور خپل ماشومان کړاروي او ډاډ ورکوي چې ډوډۍ پخېدونکې ده، خو امیر و پوهېده چې بوډۍ ښځه په کور کې څه نه لري. سمدستي روان شو او له بیت المال څخه یې بوجۍ اوړه را به شا کړل او د بوډۍ په کور کې یې ښکته کړل.

همدا ډول که چېرې د حضرت علي(رض) د پیاوړي مدیریت او اداري توان ته ځیر شو ډېر ستر مثالونه وړاندې کولی شو، حضرت علي(رض) د عدالت په باب داسې فرمایي:

"کومه ټولنه چې پر عدالت ولاړه وي، له هر راز ناروغیو په امن ده. ځکه عدالت د ټولنیز توازن ساتونکی دی او ټولنې له افراط او تفریط څخه لرې ساتي."

دا مثالونه هغه لوړ عادلانه اصول تمثیلوي، چې د یوویشتمې پېړۍ دولتونه ورته په دې پېړۍ کې عقیدتمند شوي او شعارونه ورکوي چې قدرت په مشروعیت استوار دی او مشروعیت په حساب ورکولو او شفافیت ولاړ دی.

هر هغه دولت چې عدالت د بنسټ په توګه ومني د یوه ټولنیز قرارداد نمونه ترې جوړه شي. د دولت دنده ده چې خوار وګړي ماړه کړي او د دې لپاره چې په دایمي ډول د فقر او لوږې مخه ونیسي، په کار ده چې په هېواد کې داسې اقتصادي خوځښت را منځته کړي چې په پایله کې یې هم د خلکو شخصي ګټې تأمین کړې وي او هم یې په دوامداره توګه د عمومي شتمنۍ د ډېرولو هڅه کړې وي. له همدې کبله اړ دی چې په لګښتونو او عوایدو کې مؤثریت را منځته کړي.

د عوایدو اهمیت په لاندنیو ارقامو کې پروت دی:

په ۱۳۸۴ هـ ش کال کې سویېن د ټول هېواد اقتصادي





فعالیت (GDP) ټول کړی و، چې په دولتي مالیاتو کې ۵۰.۲٪ و. په اروپایي ټولنه کې دا عدد ۴۰.۵٪ و او د امریکا په متحدو ایالاتو کې دا رقم بیا ۲۵.۲٪ و. په متحدو ایالاتو کې فردي مالیه په ۱۹۲۲ میلادي کال کې ۲.۵۰ میلیارده ډالره وه، اما په ۲۰۰۲ میلادي کال کې دا مالیه زر میلیاردو ډالرو ته لوړه شوه.

په دولتي عوایدو کې دا ستره پراختیا له یوې خوا د بهترو قوانینو او مقرراتو وضع کول دي، اما اصلي دلیل یې په قانونمند دولت باندې د اقتصادي تحرک اتکاء ده او چې داسې ده، نو ویلی شو چې یو متحرک اقتصاد او قانونمند دولت یو د بل لپاره لازم او ملزوم دي.

د عوایدو په برخه کې لاندیني معیارونه هم د تاریخ له نظره او هم اوسنیو شرایطو ته په پام سره د اهمیت وړ دي:

### ۱- ګمرکي سیاست او د هغه انسجام:

کله چې سوداګري د دولت د عایداتو مهمه برخه جوړوي، د دولت ګمرکي سیاست او د هغې مؤثر او قانوني عملي کول په عایداتو باندې ستر اغېز لري، ځکه که دولت د مؤثریت او اغېز خاوند وي، سوداګر د قانون په چوکاټ کې عمل کوي او مالیه یې په شفافه توګه د دولت حساب ته ورځي.

د ګمرک مامورین د منظمو تخنیکي شرایطو پر اساس تعینېږي او کره وړه یې په ډېره دقیقه توګه د ولس له خوا تر څارنې لاندې وي.

د وارداتو او صادراتو اصول هم په شفافه توګه څرګندېږي او ولس ته دا زمینه په لاس ورځي، چې په منظمه توګه معلوماتو ته لاس رسی ولري، چې د هېواد په بېلابېلو سیمو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ګمرکونه پرتله او په نړیوالو مقیاسونو یې بررسي کړي. خو ناکام او بې اغېزې دولتونه پر خپلو ګمرکونو باندې سلطه نه لري.

ګمرکي تعرفې د روابطو پر اساس تعینېږي او مقررات له ولس څخه پټ وي. دا چې د ګمرک مامورین د روابطو له مخې مقرر شي، نو اصلي اصول مات او خلک شخصي لارو چارو ته پام اړوي او د دولت عواید د دخیلو دولتي چارواکیو تر منځ تقسیم شي.

د معاصرو او یا مفسدو ګمرکونو تنظیم په سوداګرۍ او اقتصادي تحرک باندې ستر اغېز لري. که ګمرک مفسد وي، اقتصادي حرکت سستېږي او که معاصر او له فساده پاک وي، نو اقتصادي حرکت سرعت او پراختیا پیدا کوي.

په یوه معاصر دولت کې سوداګریزه سیالي د شطرنج د لوبې په څېر په سپین میدان د څرګندو اصولو په اساس تر سره کېږي.

سوداګر یو له بله سره خپل پلانونه او چانسونه په ډېره دقیقه توګه سنجولی شي او ټول حواس په دې راټولوي، چې څرنګه د مؤثریت له لارې خپل بنسټونه بهتر او قوي کړي چې سیالي وګټي، مګر په یوه ناکام دولت کې سوداګر خپل پام د مؤثریت زیاتولو پر ځای دې ته اړوي چې څرنګه له دولتي چارواکو سره توره معامله وکړي او میدان ځان ته هموار کړي او لوبه د ده په ګټه پای ته ورسېږي. د ساري په توګه، کله چې په یوه هېواد کې د تېلو د واردولو په باب څرګند مقررات وضع شوي وي، نو په هغو تېلو کې چې سرپ ګډوي عملاً یې د واردولو امکان نشته، ځکه چې د روغتیا لپاره د زهرو مثال لري او بله دا چې د واردولو لپاره یې باید منل شوي ستنډرډونه موجود وي، خو په





یوه ناکام دولت کې سره له دې چې قانون شته خو تر پښو لاندې کېږي او هغه تېل چې سرپ ورسره ګډ دي د ماشومانو د مغزي ناروغیو او د هوا د ککړتیا لامل کېږي، مګر د رشوت ورکولو له لارې د دولت چارواکي د انساني ژوند دښمنانو ته د داسې تېلو د واردولو اجازه ورکوي.

د رشوت اغېز په داسې وخت کې یوازې اخلاقي مسئله نه ده، بلکې تاثیر یې د عامه شتمنۍ پر بربادۍ هم خورا زیات دی.

په لومړۍ مرحله کې د قانون د ماتولو پایله دا ده چې د سالمې سیالۍ فضا له منځه ځي او هغه سوداګر چې په ککړ چاپېریال کې سوداګري نه کوي خپله سرمایه له هېواده بهر وباسي. له بله پلوه د هېواد په میلیونونو وګړي له ککړو تېلو څخه د راپیدا شویو امراضو د معالجې لپاره ډېرې پیسې مصرفوي او ډېر بې وزله خلک یا مړه کېږي او یا هم عمري رنځوران شي، ځکه دوی د علاج پیسې نه لري او له بلې خوا د ښارونو هوا ورځ په ورځ ککړېږي او نور بې شمېره مرضونه هم منځته راځي.

په تېلو چلېدونکې هر انجن او ماشین ډېر زیات عوارض کوي، چې په لوړه بیه جوړېږي او که دوه کاله عمر لري په شپږو میاشتو کې له منځه ځي، چې له مالي پلوه دا هم د ملت د غریبو خلکو پر اوږو یو ستر پېټی دی، خو اصلي هدف دا دی، چې بې کیفیته تېل، چې سوداګر یې د رشوت په ورکولو سره هېواد ته واردوي او بې چاره ملت یې خورا لوړ قیمت پرې کوي، کنټرول شي. په یوه معاصر دولت کې د تیلو شدید کنټرول د دې ډاډ ورکوي، چې د دولت او ملت په تېلو چلېدونکې ټولې وسیلې خوندي وساتل شي او د هوا د ککړتیا او امراضو مخه ونیول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خو ځرګنده ده چې دولت خپل عمده عواید له لاسه ورکوي او د رشوت له لارې د څو کسانو جېبونو ته ځي، مګر هغه منفي اغېزې چې د دې کرغېړن عمل په نتیجه کې منځته راځي تاوان یې تر دې ډېر لوړ او عمیق دی.

## ۲- پر عوایدو باندې مالیات:

ګمرکونه غیر مستقیم عایدات دي. په یوه فعال اقتصاد کې د اقتصادي فعالیت ستر معیار پر عایداتو باندې د مالیاتو وضع کول دي.

هر څومره چې په یوه هېواد کې د مستقیمو مالیه ورکوونکو شمېره لوړه وي په هماغه اندازه په هغه هېواد کې د قانون حاکمیت او د عامه شتمنۍ اساس مضبوط وي، دا ځکه چې مستقیمه مالیه د قانوني اقتصادي فعالیت بڼه او علامت دی.

په هغو هېوادونو کې چې اقتصاد غیر رسمي بڼه لري او یا په کې د غیر قانوني اقتصاد ونډه پراخه وي، د دولت د منظمې مالیې اخیستنې اساس خورا کمزوری وي.

د اقتصادي تحرک بنسټ لوی، منځنی او واړه شرکتونه جوړوي. په کومه اندازه، چې داسې بنسټونو ته د اقتصادي فعالیت زمینه برابروي، په هماغه اندازه رسمي او قانوني اقتصادي فعالیتونه وده کوي، خو په ناکامو دولتونو کې د داسې اقتصادي تشبثاتو مخې ته خنډونه جوړېږي.

## ۳- پر املاکو مالیه:

پر املاکو مالیه اخیستل له یوې خوا د تاریخ له نظره او له





بلې خوا د اوسنیو شرایطو په رڼا کې د عوایدو لویه سرچینه ګڼل کېږي، مګر له دې سرچینې څخه ګټه اخیستل هم د قانون په حاکمیت پورې تړلې دي.

د دې لپاره چې یو دولت وکولی شي، چې له املاکو څخه په منظمه توګه مالیه تر لاسه کړي، نو لازمه ده چې د املاکو د ساتلو او خوندي کولو لپاره هم خپله دنده تر سره کړي. دې هدف ته د رسېدلو لپاره د هغو اصولو وضع کول په کار دي، چې پر بنسټ یې غیر منقول املاک قباله شي او په بازار کې په شفاف ډول د ځمکې او کورونو بیې وټاکل شي.

په یوه معاصر دولت کې غیر منقول املاک په ځرګند ډول ثبت وي، اسناد یې په شفافه توګه د مربوطه مؤسسو او شرکتونو له خوا لیدل کېدی شي او د معاملاتو کار یې په اسانۍ سره د اجرا وړ وي، نو ځکه په معاصرو دولتونو کې د اسنادو تثبیت معیاري بڼه غوره کړې وي، مګر په یوه غیر معاصر دولت کې د املاکو اسناد ناقص او تر دعوو لاندې وي، محکمې متضادې پرېکړې کوي، خلک د دولت پر اسنادو بې باوره وي او د خلکو معاملې په یوه بې باوره او منفي فضا کې تر سره کېږي.

په معاصر دولت کې د کور یا ځمکې بیه د بازار له لارې په اسانۍ تعینېږي او اسناد یې په چټکۍ سره هم د کور د اخیستونکي او هم د دولت لاس ته راځي، مګر په غیر معاصر دولت کې د کور یا ځمکې نرخ د دولت په املاکو کې په یوه نرخ ثبتېږي او د خلکو په معاملاتو کې په بل نرخ.

اداري فساد د دغه ناوړه سلوک اصلي شاخص دی، ځکه که په دولتي دوایرو کې فساد اوج ته ورسېږي، نو د مالیې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ډېره امانتدارۍ د اوسني او راتلونکي نسل اړتیاوې پرتله کړي او د دواړو د تأمینولو لپاره یې ځان مسؤول ګڼلی دی، خو په ځینو نورو شتمنو هېوادونو کې د تېلو پیسو د بلا بڼه غوره کړې، چې ډېرې پیسې یې یا د مجللو ماڼیو په جوړولو او یا هم په ناقصو پروژو مصرفېږي. د عراق ولسمشر صدام حسین هغه مهال، چې پر عراق لس کاله جګړه تېره شوې وه، د ملګرو ملتونو له خوا پرې اقتصادي بندیزونه لګېدلي وو او د عراق میلیونونو خلکو په فقر او افلاس کې ژوند کاوه، له څلو ښتو څخه زیاتې ماڼۍ جوړې کړې وې.

د طبیعي پانګې عایدات ترلاسه کول د قانون له حاکمیت او شفافیت سره ټینګ اړیکي لري، خو که د قانون حاکمیت نه وي، نو دولتي او خصوصي شرکتونه له طبیعي پانګې څخه د ګټې اخیستلو په غرض د رشوت اخیستلو او ورکولو له مخې معاملات کولای شي. لکه په افریقا، لاتیني امریکا او منځنۍ ختیځ کې دغو شرکتونو د دولت ډېر چارواکي په فساد ککړ کړل.

پر دې سربېره، یوه بله مهمه موضوع د قراردادونو ترتیب او تنظیم دی، چې ډېر زیات دقت غواړي. د یو قرارداد څو جملې د دې لامل کېدی شي، چې دولت یا په میلیونونو ډالر وبایلي او یا یې ترلاسه کړي. د قرارداد ترتیب ځانګړې حقوقي مهارت غواړي او د څو جملو په استعمال کېدی شي د دولت هغه مامورین چې مفسد هم نه وي وغولېږي او ستره عامه ګټه ضایع کړي.

د ځینو شرکتونو خاوندان په قراردادي مسایلو کې خورا مهارت لري، مامورین به یې فکر کوي، چې قرارداد یو ډول





مامورینو نیولې تر قاضیانو او پولیسو پورې ټول دولتي دوایر د عامه ګټو پر ضد دریغ نیسي، ولس په ځانځانۍ اخته کېږي او د دولت عواید د څو محدودو مفسدو اشخاصو جیبونو ته لوېږي، خو په معاصر دولت کې له ناحیې او ښاروالۍ نه نیولې تر کلي او بانډې پورې ټول خلک ځان د دولت جز او دولت د خپل ځان جز ګڼي، نو ځکه د دولت د عوایدو تدارکات په سمه توګه تر سره کېږي او خلک د شخصي ګټو پر ځای ملي ګټو ته ترجیح ورکوي. کله چې ولس پر دولت باوري شي او د ملي ګټو په خوندي کېدو ډاډه وي، نو هلته بیا د یوه مفسد مامور د روپۍ ګټې لپاره میلیون عامه ګټه له منځه نه ځي.

## ۴- پر طبیعي پانګې مالیه:

کوم هېوادونه، چې طبیعي پانګه ولري همدا پانګه یې ستره عایداتي سرچینه وي. د مثال په توګه، په لیبیا کې د دولت ۹۰٪ عواید د تېلو له لارې راځي، ځکه د تېلو استخراج لږو فني کارکوونکو ته اړتیا لري. که څه هم، ډېرو تېل لرونکو هېوادونو د تېلو د خرڅلاو له کبله ډېرې پیسې ترلاسه کړې، خو نه دي توانیدلي، چې په نورو برخو کې اقتصادي فعالیتونه ترسره کړي، ځکه چې زیاتره وخت یوازې د تېلو عوایدو په اقتصادي ودې باندې مثبته اغېزه نه ده لرلې. له همدې کبله اقتصادپوهان له طبیعي پانګو څخه راغلو پیسو ته هم د نعمت او هم د بلا په سترګه ګوري.

د بېلګې په توګه، په ناروې کې د تېلو اقتصاد د هغه ولس لپاره نعمت دی، ځکه په ځانګړو حسابونو کې یې د راتلونکو نسلونو د هوساینې لپاره د تېلو پیسې جمع کړې دي. دغه دولت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، خو هغه به له حقوقي پلوه بل راز معنی لري او په کومه برخه کې به یې دا سې څو جملې پټې وي، چې د قرارداد د تعبیر اصلي صلاحیت به یا کومې کمپنۍ او یا نړیوالو محاکمو ته ورکوي.

د دې ترڅنګ دا سې شرکتونه هم شته چې هیڅ ډول عملي امکانات نه لري، خو د دولت د چارواکو د تېر اېستلو ډېره پراخه تجربه لري. دوی په ډېره چالاکۍ د دولت له چارواکو څخه په ټیټ نرخ قرارداد اخلي او بیا یې په ډېره لوړه بیه په نورو شرکتونو پلوري او یا یې بېرته حکومت ته په لوړ قیمت ورکوي.

په معاصرو دولتونو کې له طبیعي پانګې څخه په اغېزمنه توګه ګټه اخیستل کېږي، چې د دغو منظمو ترتیباتو څو برخې ډېرې مهمې دي:

۱- د قراردادونو په تنظیم باندې پانګونه کېږي او له هغو نړیوالو مؤسساتو سره مشورې کېږي، چې د شفافیت او حساب ورکولو تعهد او تجربه لري.

۲- په خپل هېواد کې د بشري پانګې د رامنځته کولو لپاره منظم پلانونه جوړوي، چې هم دغه ظرفیت د خپلو طبیعي پانګو او عامه ګټو د خوندي کولو لپاره په لنډه، منځنۍ او اوږده موده کې د سم مدیریت او انسجام صلاحیت ولري.

۳- ډېر شمېر قراردادیان د دې لپاره، چې د قراردادونو په وېش او تنظیم کې لاس ولري د دولت د لوړ پوړو چارواکو له خپلوانو او کورنیو سره ځان شریکوي او له دې لارې پرمخ ځي، مګر په معاصر دولت کې د مکافات او مجازات د اصل پلي کول د دغه کار مخنیوی کوي، چې په نتیجه کې یې دولتي





چارواکي نه شي کولی له خپلو کورنیو او خپلوانو سره مراعت وکړي.

۴- طبیعي شتمنۍ ته په پام سره د یو دا سې اقتصادي پلان جوړول ضروري دي، چې د نورو اقتصادي فعالیتونو د تحرک او خوځښت سبب وګرځي.

د ساري په توګه، که چېرې یو هېواد مرمر ولري او د ډېرې په نظر ورته وکوري، نو هیڅ په لاس نه ورځي، خو که چېرې د مرمر لپاره د هېواد په دننه او بهر کې مارکېټ پیدا کړي، نو دې ته د ارزښت زنځیر وایي، په دې معنی، چې دغه زنځیر له څو کړیو جوړ دی او هره کړۍ یې یوه مرحله ده، نو که دا زنځیر هر څومره اوږد او پلن وي په هماغه اندازه به زیات اقتصادي فعالیتونه ژوندي او متحرک کړي او د کاریابۍ زمینې به ډېرې کړي، خو که دا زنځیر لنډ او کړۍ یې کمې وي په همغه اندازه به عامه ګټې هم کمې ترلاسه شي.

## ۵- د جوازونو د پلورلو له لارې راغلي عواید:

د دولت یوه بله مهمه دنده د هغو جوازونو او لایسنسونو ورکول دي، چې پر بنیاد یې د یوې ټاکلې مودې لپاره کورني او بهرني شرکتونه د عامه خدماتو په برخه کې پانګونه کوي او له دې لارې مشروع ګټې ترلاسه کوي، چې پخپله د لایسنس ورکول متعدد ګټې لري.

دولت د عامه خدماتو لپاره خپله پانګه نه لګوي، پیسې په مالي پانګه بدلېږي او په ترڅ کې یې هم خدمات ترسره کېږي او هم خلکو ته کاري زمینې په لاس ورځي. د عاید یوه بله سرچینه یې د لایسنس په بدل کې د ټاکل شوي فیس تادیه، د شرکتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خوا په وارد بېدونکو مالونو باندې ګمرکي ټیکس، د شرکتونو په عوایدو باندې مالیه او د شرکتونو د کارکوونکو په معاشونو باندې د مالیې وضع کول دي.

همداراز په لایسنسونو باندې د بولۍ لګول هم ګټور کار دی، خو د بولۍ د چوکاټ شفافیت تنظیمول او د هغه ګارنټي کول هم د دقت وړ دي، ځکه دلته که له یوې خوا نه د اقتصادي تحرک امکانات شته، له بلې پلوه د رشوت خورۍ او فساد زمینه هم برابرېدی شي.

د مثال په ډول هغو هېوادونو، چې په تېرو څو کالونو کې یې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ په برخه کې په سمه توګه د لایسنس ورکولو چارې تنظیم کړي، هم د ټلیفوني خدماتو په کمیت او کیفیت او هم د دولت په عوایدو کې لوی تغیر راغلی دی، خو برعکس په هغو دولتونو کې، چې د دې چارې د تنظیم لپاره پر ځای لازم ترتیبات نه وو نیول شوي هلته هم د دولت عواید خراب شوي او هم د خدماتو کیفیت صدمه لیدلې ده.

په همدې ترتیب د دولتونو له خوا هوایي شرکتونو ته لایسنس ورکول هم د عایداتو په ډېرښت کې رول لوبوي.

په معاصرو دولتونو کې د داسې خصوصي هوایي شرکتونو ایجاد له یوې خوا سم خدمتونه ترسره کوي او له بلې پلوه په یوه رقابتي چوکاټ کې پرمختګ کوي، ځکه هر شرکت پوهېږي، چې د لایسنس موده یې څومره ده او څومره نور شرکتونه د سیالۍ ډګر ته د راوتلو په حال کې دي.

په ناکامو دولتونو کې دا ډول لایسنسونه د شفافو قانوني اصولو په چوکاټ کې نه، بلکې د شخصي روابطو او رشوت ورکولو له لارې ورکول کېږي، چې د هېواد پېژندګلوي او د





وګړو ژوند له مطلق او مرګوني خطر سره مخ کوي.

که چېرې الوتکې د ښه کیفیت لرونکې نه وي او یا یې ښه ساتنه او څارنه ونه شي، نور هېوادونه اړ کېږي، چې پخپلو هوایي ډګرونو کې د ناستې اجازه ورنه کړي او تر دې زیات خطر دا دی، چې د ناسم حفظ او مراقبت له کبله الوتکې سقوط کوي او غمیزې رامنځته کوي.

همدارنګه بانکونو ته لایسنس ورکول هم د دولت مهمه دنده ده. که چېرې بانکونو ته په سمه توګه لایسنسونه تنظیم شي، نو د دې لامل کېږي، چې د خلکو انفرادي پیسې په مالي پانګه بدلې شي او کله چې شرکتونو ته د پور په توګه ورکول کېږي، نو په ټول هېواد کې د اقتصادي فعالیتونو د خوځښت سبب ګرځي، خو که چېرې بانکونه تر منظمې څارنې لاندې نه وي او د پورونو ورکړه یې په ناسمه توګه دوام ولري، نه یوازې ګټه نه رسوي، بلکې د ولس لپاره د تاوان لامل ګرځي.

د دولت له خوا څارنه او مقررات ډېر مهم دي، ځکه اوسمهال بانکداري یو پېچلی مسلک دی او که د پورونو په ورکړه کې دقت و نه شي لوی خطرونه پېښېدای شي. په نړۍ کې د ۲۰۰۸ کال مالي بحران وښوده، چې د دولت د څارنې په نشتوالي کې ډېر ستر اقتصادي قوتونه مات او تاواني شول.

د دولت د ناسمې څارنې پایلې هغه وخت څرګندې شوې، چې په متحده ایالاتو کې یو سړي ډېرو شتمنو خلکو ته قناعت ورکړی و، چې دی کولی شي په امانتدارۍ سره خدمات ترسره کړي، مګر همدې سړي خلکو ته نږدې پنځوس میلیارده ډالر تاوان ورساوه، چې په کې سترو پوهنتونونو، شرکتونو او شتمنو خلکو ډېر زیان ولید.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د دولت ټولې عايداتي سرچينې موږ په تفصيل سره ذکر کړو، نو په کار ده چې پر عوايدو يو ځانګړې کتاب وليکل شي، خو دومره بايد ووايو، چې د دولت د عوايدو ټولول هم نظم غواړي هم تخصص او هم امانتداري.

کله که داسې شرايط منځته راشي، چې دولت کولی شي هم ستر اهداف تعين او هم يې سرته ورسوي، کله چې په دولت کې يوګونی بانکي حساب وي او ټول لګښتونه له همدې حساب څخه ترسره شي، نو د ډېرو بې ځايه پېچلتياوو او ابهاماتو مخنيوی کېدی شي. د اوسنۍ معلوماتي ټيکنالوجۍ پر مټ د دولت چارواکي په ډېره اسانۍ کولی شي، چې هره اونۍ له بېلابېلو سرچينو څخه راغلي عوايد معلوم کړي او پر اساس يې خپل لګښتونه عيار کړي.

## ۲- لګښتونه:

که عوايد د عامه شتمنۍ د بودجې يوه خوا ده، نو لګښتونه يې بله خوا ده. څنګه چې په يوه کور کې د عوايدو او مصارفو تر منځ اړيکه وي، نو په همدې توګه بايد په يوه هېواد کې هم د عوايدو او مصارفو تر منځ تعادل په پام کې ونيول شي او د يوې باتدبيره اقتصادي پاليسۍ په چوکاټ کې عيارشي، لکه يو کور يا يو شرکت چې په مالي لحاظ د اعتماد خاوند وي دولت هم بايد د همداسې مالي بنسټ پر اساس د نړيوال اعتماد خاوند واوسي.

که يو دولت پور اخلي، نو دا بايد څرګنده وي، چې سبا ورځ دغه پور پرې کولی شي، که نه؟ که پور په معقول ډول اخيستل شوی وي او په اصولي ډول تعهدات سپارل شوي وي، نو په





هغه صورت کې د پور اخيستونکي اعتماد ډېرېږي.

د امريکا د متحده ايالاتو مالي شهرت د دې هېواد د لومړني ماليې وزير (هملتن) له خوا تثبيت شو. د امريکا د انقلاب په دوران کې دولت له سوداګرو او عامو خلکو څخه پورونه اخيستي وو او په بدل کې يې ورسره ژمنې کړې وې.

کله چې جګړه دوامداره شوه او د نوي دولت تشکيل يو څه وخت ونيوه، نو په بازارونو کې د دغو تعهداتو بيه نيمايي ته راټيټه شوه. د هملتن ملګرو او د دولت ځينو چارواکو به ويل، چې د دې پورونو پرې کول په دولت باندې يو پېټی دی، نو يا دې په ټيټه بيه تاديه شي او يا دې هم ادانه کړی شي. مګر هملتن پوهېده چې بنسايي دولت بيا بيا اړ شي، چې له کورنيو او بهرنيو بانکونو څخه پور وغواړي، نو ځکه يې ټينګار وکړ، چې پورونه بايد له ژمنو سره سم په اصلي بيه پرې کړی شي او په همدې اساس يې د نوي دولت ژمنې هم کورنيو او هم بهرنيو بانکونو ته څرګندې کړې.

د امريکا دولت په تېرو څو سوو کلونو کې د پورونو د پرې کولو له کبله ښه شهرت ترلاسه کړی او کولی شي په بېلابېلو سکتورونو کې د پورونو له لارې سترې پانګونې وکړي.

په نړۍ کې بيا ځينې داسې دولتونه هم شته چې دا نېک شهرت نه لري او په لسيزو يې پورونه اخيستي، مګر بيا يې د نه ورکولو لپاره د افلاس اعلان کړی دی.

اوسمهال په نړۍ کې د هېوادونو په کچه طبقه بندۍ شته، چې د يوه هېواد شهرت څرګندوي (الف) تر ټولو لوړ او (د) تر ټولو ټيټ معيار دی، اما تر دې طبقه بندۍ وتلي هېوادونه بيا بېخي خطرناک دي او که څوک پور ورکوي، نو ستر خطر

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبلوي. د پور اهمیت په دې کې دی چې دولتونه د خپلو پراختیايي کارونو د ترسره کولو لپاره اړکېږي پور واخلي، خو د بېرته ورکولو لپاره هم مجبورېږي، چې په لومړیتوبونو کې ځای ورکړي.

د یو معیار په توګه باید دا څرګنده شي، چې د بهرنیو پورونو تادیه د یوه هېواد د صادراتو د فیصدۍ ځویمه برخه تشکیلوي. په ۲۰۰۸ کال د نړۍ تر ټولو لوړه فیصدي د برازیل وه، چې ۴۵٪ یې د بهرنیو پورونو تادیې ته ځانګړې کړې وه.

په قزاقستان کې ۲۴٪ په ترکیه کې ۳۹٪ په پولینډ کې ۲۹٪ په اندونیزیا کې ۱۷٪ په نایجریا کې ۱۲٪ په هندوستان کې ۱۲٪ او په مراکش کې ۱۱٪ وه، نو اوس باید پوه شو، چې پور پر بودجه باندې ډېر لوی اغېز لرلی شي. په بېلابېلو هېوادونو کې بودجې په مختلفو بڼو جوړېږي او د شفافیت اندازه یې فرق لري.

په پاکستان کې د پورونو د ادا کولو پروسې دویم مقام درلود، ځکه لومړی مقام امنیتي مصارفو ته ورکړل شوی و. په ځینو هېوادونو کې داسې خبیثه حلقې (د بدو افرادو ډلې) شته چې د زړو پورونو د پرې کولو وخت پوره شي، نو دوی نوي پورونه واخلي، د زړو پورونو یوه برخه پرې کړي او نور بیا ارام کېني، خو په سمه توګه د پور پرې کولو کار ته ملا نه تړي.

ځینې دولتونه نه شي کولی بې له پور اخیستلو بنسټیزې پروژې بشپړې کړي، خو د پور اخیستل هم منفي او هم مثبت اړخونه لري. که دولت اغېزمنه پانګونه ونه کړي، نو پرې کول یې ډېر سخت دي، خو په تېرو څلورو لسیزو کې د دولت د اغېزمنې پانګونې دوه ستر مثالونه د دوبۍ او سینګاپور سمندري هلې دي.





ځلوېښت کاله وړاندې د شیخ محمد پلار، چې هغه مهال یې تېل نه درلودل او عایدات یې ډېر کم وو پرېکړه وکړه، چې په دوبۍ باندې پانګونه وکړي او په سوداګریز مرکز یې بدله کړي. دا چې پیسې یې نه لرلې د کویت له دولت څخه یې پور واخیست او د دوبۍ ټول عایدات یې په تضمین کې ورکړل، خو پروژه د ده تر مستقیم نظارت لاندې ترسره شوه او د ده د ښه مدیریت له کبله ډېر ژر د کویت پورونه ادا شول او د بندر له لارې راغلي عواید یې بېرته د بندر په پراختیا او نورو بنسټیزو پروژو لکه هوايي ډګر او نورو ولګول.

## ۷- د پیسو ثبات او یا پړسوب:

هغه دولتونه چې مصارف یې تر عوایدو لوړ وي، په ناسمه توګه د پیسو چاپ ته اړ شوي دي او یا یې داسې ناکام پولي او مالي سیاستونه غوره کړي، چې د پیسو ارزښت یې ورځ په ورځ او ځینې وخت ګړۍ په ګړۍ د تغیر په حال کې وي.

په برازیل کې د پیسو د پړسوب سلنه په ۱۹۸۰ میلادي کال کې ۲۵۰۰٪ ته رسېدلې وه او په ۲۰۰۸ کې په زمبابوې کې دا سلنه له یوه میلیون څخه لوړه ښودل شوې وه. په افغانستان کې هم د شوروي تر اشغال وروسته چې پولي او مالي سیستم وجود نه درلود، د پیسو بې خرته چاپ ته ملا وتړل شوه او په روسیه کې به کانټینر کانټینر چاپېدلې او دلته به خو محدودو کسانو ته په لاس ورتللې.

په همدې کشمکش کې خوار ولس له پښو ولوېد، ځکه شتمنو خلکو خپلې شتمنۍ په ډالر او نورو با ارزښته پیسو ساتلې او غریب خلک به له هرڅه خلاصېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



برابرېږي. سینګاپور د دغې نجیبه حلقې ستره بېلګه ده.

کله چې په ۱۹۶۵ کال کې سینګاپور له مالیزیا څخه بېل شو زیات مبصرین په دې فکر وو، چې ښايي سینګاپور ډېر دوام ونه کړي، ځکه دغه سیمه هېڅ طبیعي پانګه نه لري او اداري فساد ورته په میراث پاتې و، خو داسې ونه شول، ځکه د سینګاپور رهبري چې په سرکې یې یو پاک، باکفایته او وطن دوست ټیم و توانیدل، چې په د برش کالو کې سینګاپور په یوه هوسا او بسیا هېواد بدل کړي.

په تېره لسیزه کې د نړیوالو مؤسساتو د معیارونو پر اساس سینګاپور د شفافیت له لحاظه د نړۍ په پنځو پاکو او بریالیو دولتونو کې وشمېرل شو. او سمهال په سینګاپور کې د یوه وزیر کلنی معاش تر یوه میلیون امریکایي ډالرو څخه لوړ دی، اما کله یې چې مشرانو د هېواد جوړونې پرېکړه وکړه، نو د چا خبره د زړه په وینه یې ګوزاره کوله. ښاغلی (لیکوانیو) چې څو لسیزې د سینګاپور صدراعظم و او اوس د مشر سیاستوال لقب لري په خپلو خاطراتو کې لیکي، چې ما به تل رسمي سفرونه په تجارتي الوتکه کې کول او ما ته به د حیرت ځای و، چې حتی د ډېرو فقیرو افریقایي او اسیایي هېوادونو مشران به دغو غونډو ته په شخصي الوتکو کې راتلل او د مجالسو په دوران کې به الوتکې د دوی په انتظار ولاړې وې. نو که چېرې د دولت لوړ رتبه چارواکي د عامه شتمنۍ په لګولو کې امانتداري ولري خرګنده ده، چې د ټیټ رتبه مامورینو لپاره به د عبرت مثال وي.





په ۱۹۹۸ کال کې ما پخپله د روسیې خلک ولیدل، چې د پیسو د انفلاسیون له کبله به یې ۱۰۰ ډالر میده کړل او په هغه به یې خپل ورځني لګښتونه کول، خو نوره ټوله پانګه یې په ډالرو ساتله.

## ۸- د دولت د کارمندانو معاشات:

هر دولت د دولتي دندو د اجرا لپاره مسلکي کارمندانو ته اړتیا لري. که دولت غواړي چې د دولت دندې په سمه توګه اجرا شي، نو اړ دی چې خپلو کارمندانو ته مناسب معاش ورکړي او په منظمه او دوامداره توګه یې پر خپل وخت وررسوي. د دولت د مناسب معاش معیار دا دی، چې له یوې خوا د بهرنیو هېوادونو د مامورینو له معاش او له بلې پلوه د ازاد بازار له نرخونو سره پرتله شي، خوراکي توکي، د کور کرایه، ټرانسپورټ، د برق مصارف او داسې نور بنسټیز اقلام باید وسنجول شي، چې د مامور معاش ورته کفایت کوي او که نه؟

یوه خبیثه حلقه (د بدو افرادو ډله) هغه وخت منځته راځي، چې د دولت مامور د معاش د کمبود له کبله په لوی غله بدل شي، چې په نتیجه کې یې د دولت عایداتي سرچینې د عامه پانګې پر ځای په شخصي پانګه بدل شي او د دولت څوکۍ د عایداتي سرچینې په توګه نیلام کړای شي. هر څومره چې د فساد کړۍ پراخه شي په هماغه اندازه عامه ګټې زیانمنې کېږي، د یوې نجیبه حلقې (د ښو افرادو ټولګې) په پراختیا سره عامه ګټې پراختیا مومي، د عایداتو او لګښتونو تنظیم منځته راځي، د مؤثرو عامه ګټو له پراختیا سره اقتصاد وده کوي او د دولت د کارمندانو په معاشونو کې د زیاتوالي زمینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۹- حفظ اومراقبت:

هره پانګه ساتنه او څارنه غواړي او که د حفظ او مراقبت پروسه سمه عملي نه شي، نو پانګه ډېر ژر او په اسانۍ سره له کاره لوېږي.

د ساري په توګه، که چېرې د میلیونونو ډالرو په ارزښت یوې فابریکې یوه عادي پرزه، چې بیه یې زر ډالره وي د نه ساتنې او څارنې له کبله خرابه شي، نو فابریکه به په ټپه ودرېږي او بیا چې کله د فابریکې مشر وغواړي دغه پرزه بدله کړي او نوې واخلي، نو اړ به وي چې مسؤولو مقاماتو ته وړاندیز وکړي، دا چې څومره ژر به یې وړاندیز اجرا شي، په هغه دولت پورې تړلې ده چې دولت څومره فعال دی یا نه دی.

که چېرې د پېرلو اصول پېچلي وي، نو فابریکه به په اونیو او میاشتو درېدلې وي او تاوان به یې دولت ته رسېږي، نو ځکه لازمه ده چې د حفظ او مراقبت اصول او مقررات داسې وضع شي، چې هم په کې حساب ورکول وي او هم ورسره دا صلاحیت وي، چې د داسې عواملو له مخې فابریکه ونه درېږي.

په وروسته پاتې هېوادونو کې د دولت چارواکي د حفظ او مراقبت برخې ته هېڅ پاملرنه نه کوي او هرکله، چې په بودجه باندې فشار راشي دوی د حفظ او مراقبت بودجه، چې خورا حیاتي ده، کموي. د یوه هېواد د شتمنۍ لپاره دغه وضعیت ډېر مضر تمامېږي، ځکه هغه ستره پانګونه چې شوې له منځه ځي او بیا بیا د پانګونې اړتیا وي، چې په پایله کې یې ډېر ستر مالي تاوان منځته راځي.

که د برېښنا بندونو ته پام وکړو د برېښنا تولید د بند په حفظ او مراقبت پورې اړه لري. که چېرې توربینونه پخپل وخت باندې





ترمیم نه کړی شي او له مسؤولینو سره یې د ترمیم صلاحیت نه وي، نو په نتیجه کې د برېښنا جریان قطع کېدی شي او تاوان یې د ولس کمپنیو، دوکانونو او نورو مراکزو ته رسېږي. له اوبو تولید شوې برېښنا د ولس لپاره تر ټولو ارزانه ده او که د نشتوالي په صورت کې یې د جنراټور په وسیله برېښنا تولید شي، نو مصرف او ضرر دواړه یې ډېر لوړېږي.

د جنراټور د لګښت پیسې ټولنه پرې کوي او دا پرې د بې کفایته دولت له خوا تپل شوی لګښت دی، چې د ټولنې ملا ماتوي. بل مثال یې د سړک حفظ او مراقبت دی، که چېرې د یوه سړک لپاره د حفظ او مراقبت ترتیب موجود وي او داسې اصول ولري، چې پر سړک به له لس ټنو څخه د زیات وزن لاریو او باروړونکو موټرو ته اجازه نه ورکول کېږي، نو د سړک حفظ او مراقبت به د لومړي ځل لپاره د (۷)، (۱۰) او (۱۴) کالونو تر منځ سړک ترمیم کړي او تر شلو کالو وروسته به سړک په اساسي ډول له سره ورغول شي، خو که د حفظ او مراقبت برخه فعاله نه وي او خلک له ۳۰ څخه تر ۴۰ ټنو پورې بارونه په سړک راوړي، نو په هغه صورت کې به دولت اړ کېږي چې اته کاله وروسته سړک له سره جوړ کړي.

عامه پانګې لکه برېښنا او سړک نه یوازې ساتنه غواړي، بلکې څارنې ته هم جدي اړتیا لري. که دولت مؤثر نه وي، نو هلته به بیا د ټرانسپورټي شرکت د ډېرې لږې ګټې لپاره د میلیونونو ډالرو عامه ګټه په سیند لاهو کېږي.

د دولت بودجه د دولت د دندو او د ولس ترمنځ د تړون هېنداره ده، ځکه د لګښتونو طبقه بندي دا ښیي چې لومړیتوبونه کوم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه عوايد د دې ښودونکي دي، چې عمده سرچينې کومې دي او په کومه توګه ترې ګټه اخيستل کېدی شي. د يوه هېواد بودجه هم تخنيکي اړخونه لري او هم سياسي، ځکه په هغه هېواد کې چې ازادي وي هلته سياسي فعالان ولس ته مختلفې طرحې وړاندې کوي او ژمنې کوي، چې که چېرې دوی قدرت واخيست، نو لومړيتوبونه به يې څه وي.

د امريکا د متحدو اېالاتو د ۲۰۰۸ کال د انتخاباتي مبارزې په جريان کې ښاغلي جان مکين او بارک اوباما د دولت د عوايدو او لګښتونو په اړه بارز توپيرونه درلودل، خو کله چې اوباما ټاکني وګټلې، نو د ده د حکومت بودجه د ده د انتخاباتي پروګرام په اساس تعين شوله.

همداراز، د يادولو وړ ده چې ځينې مصارف او عوايد له پخوا څخه موجود وو او په راتلونکي کې به هم دوام ومومي، ځکه هغه پروژې چې پيل شوي او په اړه يې ژمنې شوي بايد سرته ورسېږي.

د بودجې سياسي اړخ دا ايجابوي، چې په بودجه باندې د دولت، ولسي جرګې او خلکو تر منځ اساسي بحثونه ترسره شي، چې څرګنده کړي د دولت لومړيتوبونه کوم دي او په څه ډول يې عملي کوي، همدا دليل دی، چې په ډېرو هېوادونو کې پارلمانونو ته د دولت له خوا بودجه وړاندې کېږي.

د بودجې يوه بنسټيزه او ميراثي ستونزه د هغې کلنۍ لړۍ ده، ځکه بودجه بايد هرکال له قطعيې سره ترتيب شي، کله چې د دولت دندې يوازې د امنيت په ساتنه او اداري پورې تړلې وي، نو کلنۍ بودجه مناسبه وي. مګر کله چې دولت په زېربنايي پروژو او يا په نورو دندو بوخت وي هغه مهال بيا د روانې





بودجې اصول د بنسټيزو پروژو د اجرا له کارسره په ټکر کې واقع کېږي، ځکه چې يوه پروژه بېل مراحل لري او جلا ترتيبات غواړي.

ځينې هېوادونه په دې توانېدلي، چې د داسې دندو د سمو اجرااتو لپاره په خپل بودجوي نظام کې اساسي بدلونونه راولي، مګر نه يوازې په ډېرو هېوادونو کې، بلکې په ډېرو نړيوالو کمپنيو کې لاهم ستونزې پېښوي.

په عمومي ډول د کال په پيل کې په پيسو باندې هجوم وي، د کال په منځ کې که اداري ډېرې فعالې نه وي، نو کارونه سرېږي او د کال په پای کې هره اداره کوښښ کوي، چې د روان کال پيسې په هره توګه چې وي مصرف کړي. د دې دليل دا دی، چې هر دفتر که هغه خصوصي شرکت وي يا کومه دولتي اداره وي غواړي، چې کم له کمه د خپل تېرکال بودجه خوندي وساتي. که سم تنظيم نه وي، نو د يوې اداري ګټه چې د هغې د افرادو د دندو ساتنه ده له عامې ګټې سره په ټکر کې راځي، ځکه عامه ګټه هغه وخت تأمينېدای شي، چې يو دولت هم پخپلو موخو کې وضاحت ولري او هم يې اصول او مقررات د موخو د ترسره کولو لپاره عيار شوي وي، خو که چېرې داسې وضاحت نه وي، نو بودجوي مقررات له موخو سره په ټکر کې راځي، ځکه هغه اشخاص، چې د پيسو د حساب ورکولو مسؤول دي هغوی خپله دنده د بودجوي مقرراتو اجرا ګڼي او هغه کسان، چې د پروژو مسؤول دي، هغوی د پروژو بشپړاوی خپله دنده بولي.

کله چې په بودجوي اصولو او مقرراتو کې انعطاف نه وي، نو د پروژو مسؤولين د يو کلنې بودجې په چوکاټ کې ځان اړ ګڼي، چې له مؤثريت پرته پيسې مصرف کړي، ځکه چې له لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې تلونکې وي، نو که چېرې داسې اصول رامنځته شي، چې د پروژو مسؤولين ډاډ حاصل کړي چې پيسې د ډېر وخت لپاره محفوظې دي د غيرمؤثر لګښت مخه نيوله کېږي. او د دې د مخنيوي لپاره لازمه ده، چې د بودجې په تخنيکي مقرراتو کې داسې تغير راشي، چې پر بنسټ يې لازمه صلاحيت او مسؤوليت يو له بله سره ټينګ اړيکي ولري او تخنيکي مقررات له موخو سره په ټکر کې واقع نه شي.

د دې مخنيوی، ځکه ډېره مهم دی چې زيات وخت ډېر فني او صادق خلک اړ کېږي، چې د ناسمو مقرراتو له کبله داسې مصارف وکړي، چې د عامه ګټو د تأمين پر ځای د عامه ګټو په ضرر تمام شي.

په تېرو زمانو کې د معلوماتو لاس ته راوړل ډېر ګران کار وو. په افغانستان کې څو اونۍ په کار وې، چې يو څوک دې له هرات څخه په اس باندې کابل ته معلومات راوړي او يا دې له کابل څخه بلخ ته معلومات انتقال کړي.

ډېرو دولتي چارواکو چې په اسانۍ سره يې د خپلو مامورينو په اړه معلومات نه شول ترلاسه کولی، نو بيا يې د سزاګانو ډېر درانه حدود وټاکل او که څوک به له دغو حدودو وتل، درنه سزا به يې ليدله. له نيکه مرغه، نننی معلوماتي انقلاب اوس د معلوماتو د شريکولو کار ډېره اسانه کړی دی.

په ۱۳۸۲هـ ل کال کې په افغانستان کې يوازې سل موبايل ټليفونونه موجود وو، نو هغه وخت د معلوماتو ټولول ساده نه وو، که چېرې به چا له يوه وزارت څخه له بل وزارت سره تماس نيولو، اړو چې يو څوک ورولېږي او يا پخپله ورشي. مګر اوس چې په هېواد کې شاوخوا اووه نيم ميليونه موبايل ټليفونونه





شته دولت، ټولنيز مؤسسات او عام خلک په ډېره اسانۍ کولی شي د افغانستان له هر ګوټ څخه په يوه شېبه کې معلومات ترلاسه کړي. که چيرې بربېښنا دومداره شي او په دولتي ادارو، کورونو، ښوونځيو او دوکانونو کې کمپيوټر رايج شي، نو د معلوماتو هره نوعه به د انټرنټ په وسيله په ډېر لږ وخت کې د نړۍ هرګوټ ته انتقال کړای شي.

د معلوماتي ټيکنالوجۍ په دغه عصر کې به دا ډېره ساده خبره وي، چې د بودجوي مقرراتو دقيقه ژغورنه وشي، چې په صلاحيتونو کې لازم تغيرات راشي او وطن پرست مسؤولين وتوانېږي، چې د ملي لومړيتوبونو د پلي کولو لپاره لازم اقدامات وکړي.

## ج- امنيت اوثبات:

د دولت تر ټولو مهمه دنده د ثبات ساتل دي. او ثبات د قانون د حاکميت په رڼا کې تأمينېږي. امنيت د ثبات يوه برخه ده، خو چېرې چې خلک خپل ناموس، ځان، مال او د بيان ازادي په خطر کې ووينې، نو هلته بيا قانون يوازې د کاغذ پر مخ ليکل شوی متن دی چې هېڅ بل ارزښت نه لري، ځکه د خلکو ياد شوي حقوق د ثبات ضروري عوامل دي، چې د امن په فضا کې تأمين وي او په خلکو کې دا يقين پخوي چې د دولت امنيتي ارګانونه د قانون په چوکاټ کې د دوی د ناموس، سر، مال او افکارو د ازادۍ تحفظ کوي.

د ثبات او امنيت تر منځ توپير موجود دی. امنيت د قوت د استعمال له لارې او په زوره هم تأمينداي شي، لکه د فرانکو ديکتاتورۍ د اسپانيا تر جګړې وروسته يو ديکتاتوري امنيت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټینګ کړ، مګر د اسپانیا وګړي له سیاسي ازادۍ او د افکارو د اظهار له ازادۍ څخه محروم وو او د همدې مبارزې له کبله یې ډېر کلونه په زندانونو کې تېر کړل.

اسپانیا د جنرال فرانکو تر مړینې وروسته په یوه دیموکراتیک هېواد بدله شوه او د غربي اروپا قوانین او اصول یې ومنل. په پاکستان کې مارشال ایوب خان هم دیکتاتوري نظام راوست او په دې بریالی شو، چې یو اقتصادي حرکت رامنځته کړي، خو دا چې د ده نظام ثبات نه درلو، خلکو سختې مظاهرې وکړې او دی یې له اقتدار لرې کړ، د پاکستان چارواکو ونه شو کولی، چې داسې اصول وټاکي چې شرقي او غربي پاکستان په کې په مساوي ډول ځانونه شریک وبولي.

یحییٰ خان غوښتل چې شرقي پاکستان د قوت د استعمال له لارې وساتي، مګر کله چې په لکونو خلک له شرقي پاکستان یا نني بنګله دیش څخه هند ته وتښتېدل او هند خپل عسکر راولېږل پاکستاني پوځ ماتې وخوړه او شاوخوا نوي زره عسکر یې هند ته تسلیم شول، خو د اسپانیا برعکس په پاکستان کې هېڅ وخت د پوځي حکومت تر ماتېدلو وروسته سیاسي ثبات ټینګ نه شو او تر یحییٰ خان وروسته بیا هم دوه ځلې هلته پوځي جنرالان د کودتا له لارې واک ته ورسېدل.

په یوه هېواد کې د پوځي کودتاګانو، سیاسي فریبونو او یا په زوره د زعامت بدلول د ثبات د نشتوالي ستره نښه ګڼل کېږي. د ثبات حکم دادی چې یو مشر د قانون په اساس تعین شي او تر ټاکلې مودې حکومت کولو وروسته په قانوني توګه بدل شي. داسې چې حقوق او وجایب یې هم د اقتدار پر وخت او هم تر اقتدار وروسته معلوم او تأمین وي.





د امنیتي مؤسسو تنظیم د ثبات په راوستلو کې ډېر ستر رول لري. د شلمې پېړۍ په دویمه برخه کې په وروسته پاتې هېوادونو کې یو شمېر کودتاګانې وشوې، ځکه چې په پوځي تاسیساتو باندې یې پانګونه شوې وه، تشکیلات یې برابر وو، مګر اقتصادي، سیاسي او اداري اړخونو ته یې پاملرنه نه وه شوې. کله چې سیاسي مشران د ټولنیزو بحرانونو د حل کولو توان له لاسه ورکړي او د خلکو تر منځ باور بایلي، نو بیا د نظامیانو له خوا د قدرت خلا ډکېږي.

په نړۍ کې څو محدود نظامي رژیمونه، چې بېلګه یې جنوبي کوریا ده، وتوانېدل چې په خپلو هېوادونو کې بنسټیز تغیرات راولي، مګر په افریقا، لاتین امریکا او سویلي اسیا کې ډېر پوځي رژیمونه د تغیراتو د نه راوستلو تر څنګ په دې هم ونه توانېدل، چې د خپلو خلکو امنیت وساتي.

یو مثال یې د کانګو جمهوري دولت دی، چې له ډېرې طبیعي پانګې سره سره یې خلک د افلاس او لوږې بې خونده ژوند تېروي. د افغانستان نن او پرون هم دا په ډاګه کوي، چې ثبات په زور نه شي ټینګېدی.

په دې هېواد کې د ثبات په ټینګښت کې قومي مشرانو، صوفیای کرامو او دیني عالمانو ستره ونډه لرلې ده. زموږ دیني عالمان د نظام په مشروعیت او یا د هغه په ردولو کې همېشه لوی رول درلودلی دی.

د مبارکې جمعې لمونځ د عبادت، ټولنیز یووالي او د نظام د مشروعیت په باب د افکارو د ټولولو یوه ستره بېلګه ده، ځکه په همدې مبارکه ورځ په هر جامع جومات کې د نظام په نامه خطبه لوستل کېږي او که علمای کرام د نظام مشروعیت ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



منـي، نـو پـه خطبـه کـې يـې نـه يـادوي او د نظـام د مشـروعيت پـه باب په خپلو خطبو کې تبصرې کوي.

کـه پـه مدرنـه اروپـا کـې خلـک لـه نـورو لارو د نظـام پـه مشروعيت بحث کوي، خـو زمـوږ پـه هېـواد کـې پـه اړه هـره جمعـه يوه مکمله ارزونه روانه وي.

د نظـام د مشـروعيت پـه اړه د دينـي عالمـانو د اغېـز تـر ټولـو روښـانه انځـور مغـل امپراتـور، جهـانګير، وړانـدې کـړی دی. دی وايـي: "علمـا د دعـا پـوځ دی او د هېـواد د ثبـات پـه ټينګښـت کـې د دوی اغېـز يـا لـه جنګـي پـوځ سـره مسـاوي او يـاهم تـرې ډېـر دی." پـوه او ځيـرک مشـران مسـاجدو تـه پـه غـور سـره ګـوري او د حکومتونو کړه وړه د همدې قضاوتونو په رڼا کې عياروي.

د علمـای کرامـو او صـوفيانو ځـانګړې اهميـت دا دی، چـې هـر قـوم پـه کـې ګـډون لـري. همـداراز، نـه يـوازې د نارينـه وو بلکـې د ښـځينه وو پـه مـنځ کـې هـم زمـوږ د خـاورې ډېـر داسـې مشـهور صـوفيان شـته، چـې ډېـر پيـروان لـري. د دوی د تصوف حلقـات تـل د پراختيـا پـه درشـل کـې وو او پـه خـود جوشـه ډول د هېـواد هرګـوټ تـه، چـې زړه يـې غوښـتل تللـی شـول او د هـر کلـي، خانقـاه، جومـات او کاروانسـرای دروازې يـې پـرمخ خلاصـې وې، دوی کـولی شـول په اسانۍ سره احوال او پرېکړې له يوه ځايه بل ته انتقال کړي.

د دينـــي عالمـــانو او صـــوفيای کرامـــو ســـازماني قـــوت پـــه بېلابېلـو وختونـو کـې ځرګنـد شـوی دی. قـومي مشـران بـل سـتر بنسـټ دی، چـې د ثبـات پـه راوسـتلو او يـا لـه منځـه وړلـو کـې يـې درنـــه ونـــډه اخېســـتې ده. هرکلـــه چـــې د دوی او دولـــت تـــرمنځ د مسـايلو په اړه نظـر شـريک وي، نـو ثبـات ټينـګ وي او هرکلـه، چـې د دوی او دولـت تـرمنځ پـه اساسـاتو کـې توپيرونـه رامنځتـه شـي،





نـو بيـا د هېـواد پـه يـوه يـا بـل ګـوټ کـې هرومرو ګډوډې راځـي او د ثبات ستنې نړوي.

مسـتبدو حکومتونـو همېشـه دا کوښـښ کـړی، چـې د دې وطـن دغـه شـېرازه ورانـه کـړي. غـټ مثـال يـې د خلقيـانو او پرچميـانو حکومـتو، چـې پـه لکونـو قـومي متنفـذين او مشـران يـې د خپـل نظـام ضـد وبلـل، ځـوک يـې ژونـدي پـه خـاورو کـې ښـخ کـړل، ځـوک يـې پـه زنـدانونو کـې پـه شـکنجو ووژل او ځـوک يـې لـه هېـواده فـرار کړل.

کـه څـه هـم، عبـدالرحمن خـان هـم ډېـر صـوفيه کرام، علمـا او د طريقـې پيـروان شـهيدان او يـا بنـديان کـړل، مګـر لـه پرچميـانو او خلقيـانو سـره يـې دا تـوپير درلـود، چـې هغـه يـوازې ځېـرې بـدلې کـړې، مګـر د پـرچم او خلق ګونـد غوښـتل، چـې مؤسسـات لـه منځـه يوسـي. همـدا دليـل و چـې د عبـدالرحمن تـر سـلطنت وروسـته دا درې واړه بنسـټونه پخپـل ټـول قـوت پـاتې شـول، خـو د خلقيـانو او پرچميـانو تـر رنګېـدلو وروسـته زمـوږ سـتره سـتونزه داوه، چـې زمـوږ دې ډول ټـولنيزو بنسـټونو تـه د ودې ورکولـو او بيـا احيـا کولو پـه موخـه هېـڅ پاملرنـه ونـه شـوه، نـو ځکـه پـه اوس وخـت کـې په اساسي توګه د ثبات په راوستلو کې له مشکلاتو سره مخ يو.

د بـن تـر پروسـې وروسـته لـه ټولـو نـاخوالو سـره سـره بيـا هـم پـه تېـرو اتـو کـالو کـې ځينـې پخـواني بنسـټونه ژونـدي شـوي او ځينـې نـوي بنسـټونه د ودې پـه حـال کـې دي او علايـم يـې هغـه خودجوشـه شـوراګانې او ټـولنې دي، چـې د دولـت لـه توجـه پرتـه د هېـواد پـه هرګوټ کې منځته راغلي دي.

همدغـه شـوراګانې د يـوې سرتاسـري ملـي اجمـاع او ثبـات پـه راوسـتلو کـې لويـه برخـه اخيسـتی شـي. د ځلـورو نويـو عناصـرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وده په کې د ځانګړې یادونې وړده:

### ۱- ځوانان:

په اوس وخت کې د ټولنې زیاتره ځوانانو هم د مېرمنو په څېر د مشرتابه وړتیا ترلاسه کړې او د هېواد په اړه د مېرمنو په څېر رغنده او سالم نظریات لري.

### ۲- مېرمنې:

افغان مېرمنو د هېواد په پلازمېنه او ولایتونو کې د ټولنیز مشرتابه او ټولنیز باور د پام وړ ظرفیت ترلاسه کړی دی.

### ۳- حرفوي تشکیلات:

په داسې حال کې چې یو شمېر شوراګانې د سمتي او قومي هویت په اساس جوړې شوې، خو یو شمېر بیا داسې هم شته چې په حرفوي اساس منځته راغلي دي او د حرفوي ګټو څارندوی دي. یو مثال یې د متقاعدو افسرانو او بل یې د ازاده ګانو شوراوې دي.

د ازده ګانو شورا د هغو ذواتو له خوا جوړه شوې، چې ډېر عمر یې په زندانونو کې تېر کړی او اوس یې ځانونه د ملي یووالي او ثبات د ټینګښت لپاره وقف کړي دي. د دې شوراګانو جوړښت دا په ګوته کوي، چې دلته بالاخره د یوې داسې مدني ټولنې، چې له خود جوشو حرکتونو څخه منځته راغلې، د بنسټ ډبره کېښودل شوه او موږ اوس د یوې مدني ټولنې د خاوند کېدلو په حال کې یوو.

د مدني ټولنې د ودې لپاره امنیت لازمي شرط دی، مګر د





ثبات دایمي ټینګښت زموږ له عنعنوي او نویو مدني بنسټونو له شریک فعالیت څخه پرته ناشونی دی، ځکه نوي او پخواني بنسټونه د دولت او ولس ترمنځ د ارتباط کړی دي.

### ۴- ملي سوداګر:

په راتلونکي فصل کې به د اقتصاد او سوداګرۍ په اړه تفصیلي بحث وکړو، خو دلته به په لنډیز سره ووایو، چې هم په پخوانیو زمانو کې او هم اوسنۍ هغې کې د ثبات په ټینګښت کې سوداګرو هم منفي او هم مثبت رول درلودلی دی. مثبت رول یې دا دی، چې پیسې پر مالي پانګه اړوي او په نتیجه کې یې هم خلکو ته کاري زمینې په لاس ورځي او هم اقتصاد وده کوي، خو منفي رول یې هم څرګند دی او هغه دا چې د قاچاق، رشوت، بې قانونۍ او ګډوډۍ لامل هم ګرځي او د خپلو شخصي ګټو لپاره ملي ګټې په خطر کې اچوي.

## د- ملکي اداره:

د نړۍ هر دولت د خپل هېواد د اصولو پر اساس په مختلفو انواعو طبقه بندي کوي. افغانستان یوګونی مرکزي نظام لري، چې په مرکز، ولایت، کلي، ولسوالۍ او ښاروالۍ باندې تنظیم شوی دی، په دې اداري نظام کې هره اداره ځانګړې دندې لري، چې د قانون د لوایحو پر بنا ټاکل شوي دي.

څرنګه چې مو په تېر فصل کې د فیوډالي او مرکزي اداري نظامونو په اړه بحث وکړ، چې د صلاحیتونو د تنظیم په برخه کې توپیر لري. د شکل له مخې نظامونه توپیر لري، خو هره ټولنه باید د خپل اداري نظام په اړه یوې اجماع ته ورسېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر اساسي هدف دا دی که نظام د شکل له مخې هر ډول وي محتوا يې بايد اغېزمنه او مؤثره وي، چې د ولس د هوساينې او سعادت سبب وګرځي.

د دې موخې د لاسته راوړلو لپاره ځينې اصول شته، چې د نړيوالو تجربو له مخې يې خپل مؤثريت ثابت کړی موږ به د داسې څو عمده اصولو يادونه وکړو:

## ۱- څرګند مقررات:

د يوه اداري نظام هره برخه بايد څرګند صلاحيتونه او مسؤوليتونه ولري. د مکافات او مجازات اصل، چې زموږ په سياسي کلچر کې خورا ارزښت لري، بې د څرګندو مقرراتو له وضع کېدلو منځته نه شي راتلی. زموږ د هېواد په اوسني نظام کې دوه ستونزې، د وزارتونو ترمنځ کاري تداخل او د سيمه ييزو ادارو د دندو په تفکيک کې نه وضاحت، داسې ستونزې دي، چې هره ورځ په زرګونو نورې ستونزې زېږوي، ځکه د وزارتونو کاري ساحې ډېرې نږدې دي او کله چې يوه مسئله ور وړاندې شي، نو يو وزارت دعوا کوي، چې په دوی پورې اړه لري او بل وزارت وايي، چې ددې صلاحيت په دوی پورې اړه لري او بالآخره هغه کار په مياشتو او کلونو وځنډېږي، خو حل نه شي.

همدا ډول په سيمه ييزو ادارو کې هم د دندو تفکيک لازم وضاحت نه لري او د دې لامل دا کېږي، چې د ولايت يا ولسوالۍ په سطحه يوه څرګنده او مشخصه موخه نه رامنځته کېږي، چې د دولت کارکوونکي يې په اساس له يوې خوا مسؤول او له بله پلوه په لازمو امکاناتو سمبال وي. د همدې ابهام په نتيجه کې يا ډېر امکانات له لاسه ځي او





يا ترې کمه ګټه اخيستل کېږي.

## ۲- د اداري او شخصي مقام توپير:

په يوه اداري چوکاټ کې هر شخص ځينې صلاحيتونه او مسؤوليتونه لري، چې دا صلاحيت او مسؤوليت د هېڅ چا شخصي پانګه نه ګڼل کېږي، د يوې اغېزمنې اداري چارواکي خپل مسؤوليت او صلاحيت د قانون په چوکاټ کې برابروي او هېڅ وخت له دغه چوکاټ څخه بهر عمل نه کوي.

اداري فساد هغه وخت منځته راځي، چې د اداري مسؤولين د زورواکو، رشوت ورکوونکو او يا مقاماتو د خپلوانو په ګټه پرېکړې وکړي، مګر په اغېزمنه اداره کې د کور او اداري ترمنځ غوڅ توپيروي، ځکه چارواکي په کور کې د دفتر پرېکړې نه کوي او پوهېږي، چې د دولت پرېکړه بايد په ليکني ډول په دفتر کې تر سره او ثبت شي، چې تر قانوني څارنې لاندې وي. که د اساس القضات کتاب ووينئ د خپل هېواد د قضايي نظام ماضي په کې ليدلی شئ، د امير عبدالرحمن په وخت کې قاضي حق نه درلود، چې د دولت پرېکړه په کور يا مسجد کې وکړي.

هره پرېکړه بايد په مشخص کتاب کې ثبت شوې وای او ددې ترڅنګ د نورو تدابيرو په توګه قاضي دا حق هم نه درلود، چې څوک دې ورته مېلمستيا وکړي او يوازې يې له امير يا هغو خپلوانو څخه ډالۍ اخيستی شوای، چې ده يې په اړه د قضاوت حق نه درلود.

دا چې د قانون په چوکاټ کې د چارواکو صلاحيت روښانه وي دا د سکې يوه خوا ده او دا چې د کار پر مهال او تر تقاعد وروسته دولت اړ وي، چې د چارواکي د امنيت ساتنه وکړي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سکې بله خواده. که چېرې چارواکي پرېکړه کوي او د زور او زر خاوندان یې تر تهدید لاندې نیسي دولت اړ دی، چې د چارواکي او د هغه د کورنۍ امنیت وساتي.

یو قاضي که کله تقاعد اخلي او د زورواکانو پر خلاف سمې پرېکړې کړې وي، نو د دولت له لوري باید په بشپړه توګه ډاډه وي، چې ساتنه او پالنه یې کوي او د زور خاوندان ترې غچ نه شي اخیستی. د کار پر مهال او تر تقاعد وروسته د یوه چارواکي په وړاندې د دولت یوازېنۍ دنده دا نه ده، چې د چارواکي فزیکي امنیت وساتي، بلکې دولت په دې هم مکلف دی، چې متقاعد چارواکي ته د تقاعد داسې شرایط فراهم کړي، چې تر کار وروسته هم وکولی شي په ابرومندانه توګه ژوند وکړي او دغه ترتیب جوړول په ملي کچه د اقتصادي ودې لپاره یوه ملي موخه او د عملي پلان جوړول غواړي.

د بېلګې په توګه، په سینګاپور کې اوسمهال د یوه وزیر معاش د امریکا د متحدو ایالاتو د ولسمشر له معاش څخه دوه نیم چنده ډېر دی، ځکه سینګاپور غواړي، چې همېشه د نړیوالو معیارونو پر بنسټ د نړۍ د ډېرو بریالیو هېوادونو په لومړي کتار کې وشمېرل شي. د دې هېواد د بریالیتوب راز په دې کې دی، چې له یوې خوا یې د دولت مامورینو ته د تقاعد یو ډېر منظم ترتیب نیولی او له بلې خوا یې د یوه اغېزناک پلان له مخې مامورینو او عامو خلکو ته د اوسېدو ځایونه جوړ کړي، چې ویل کېږي د دې هېواد ۹۰٪ اپارتمانونه د دولت له خوا جوړ شوي دي.

د دولت مامورین ډاډه دي، چې د دوی د ماشومانو راتلونکی تضمین دی او همدا ستر دلیل دی، چې دوی د اداري فساد الوده





سیستم غځېدلو ته لار نه ور کوي.

### ۳- شایسته سالاري:

هغه خلک چې د حکومت دندې پرمخ بیایي اقلیت دی، خو د ولس پر وړاندې د همدې اقلیت اغېز ډېر ستر دی، ځکه دوی د ځینو اصولو له مخې مقام ته رسي او د ځینو اصولو پر بنیاد ترفیع کوي.

د شایسته سالارۍ مفهوم دا دی چې کارپوه، رښتیني او په روښانه اصولو ولاړ خلک باید د دولت د اصلي اقتدار په سر کې واقع شي. زموږ په ژبنۍ محاوره کې دې اصل ته د (کار اهل کار ته سپارل) وایي. په یوه هېواد کې، چې د قانون حاکمیت ټینګ وي هلته زیاتره لوړې څوکۍ د امتحانونو په وسیله ورکول او بیا د کاري وړتیا په اساس د مراتبو په سلسله یو څوک پرمختګ کوي.

د دولتونو کابینې او نور لوړ پوستونه په زیاترو هېوادونو کې سیاسي دي، یعنې دولت سیاستوال د ازادو ټاکنو له لارې ګماري، چې عمده مسؤولیت یې د پالیسیو ټاکل وي، ځکه د ټاکنو په جریان کې ولس ته خپلې پالیسۍ شرحه کوي او د همدې په ترڅ کې ولس انتخاب کړي دي، نو د ټاکنو پر اساس د دې حق لري چې دغه پالیسۍ عملي کړي. په یوه اغېزناک دولت کې ملکي او نظامي اداري اړې دي، چې په قانوني توګه د یوه سیاستوال د پالیسیو عملي کولو ته متې راونغاړي او له هغه سره همکاري وکړي. د دغو ادارو لپاره دا توازن ساتل ګران کار دی، مګر ډېر ضروري دی، ځکه که چېرې ولس له یوې پالیسۍ سره موافق نه وي، نو د پالیسۍ د بدلولو قانوني لاره همدا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دوی سیاستوال کامیاب کړي او هغه پالیسي بدله کړي. دلته د نظامي چارواکو بې طرفي دا خبره حتمي کوي، چې د ولس معقولې پرېکړې د قانون له لارې عملي شي او دغه عمل کولی شي، چې د دولت اغېز او بریالیتوب تثبیت کړي.

کله چې د شایسته سالارۍ اصل تر پښو لاندې شي پر دولت د ولس اعتماد ختم او د ثبات تداوم هم له منځه ځي. د شایسته سالارۍ اصل کله بیا د تعدیل وړ شي. لکه په یوه نامتجانسه ټولنه کې، که چېرې، ټولو اقوامو ته په مساوي ډول د لوړو زده کړو زمینه نه وي برابره شوې او خلک داسې فکر وکړي، چې دولت د یوې اقلیتي ډلګۍ له خوا په نا مشروع ډول انحصار شوی او ضروري ده چې د ملي مشارکت لپاره د نورو قومونو خلک هم په اقتدار کې برخه ولري. په دغه صورت کې بیا کېدی شي چې په یوه قوم کې د افرادو د لازمې وړتیا پیدا کولو تر وخته د هغه قوم غړي ته په دولت کې اقتدار ورکړل شي، خو د دولت مهمه دنده دا ده، چې په همغه قوم کې افراد تر جدي روزنې لاندې ونیسي او د هغوی په مقررولو بېرته د شایسته سالارۍ اصل ته رجوع وکړي، یعني دولت ته په کار ده، چې ټولو اقوامو ته په هر اړخیزه توګه د متوازنې پراختیا شرایط برابر کړي، چې د شایسته سالارۍ اصل په دوامداره توګه ژوندی او پیاوړی پاتې شي. د مثال په ډول، په سوېلي افریقا کې اقلیت سپین پوستو اکثریت تور پوستي له علم او معلوماتو محروم او لرې ساتلي وو، خو کله چې د دې هېواد پیاوړی تورپوستی مشر، نیلسن مانډیلا، له زندان څخه ازاد شو او بېرته تر اوږده بنده وروسته د سوېلي افریقا ولسمشر وټاکل شو، نو سپین پوستي چارواکي یې له دندو ګوښه نه





کړل، بلکې تر څنګ یې د ملي مشارکت او متوازن انکشاف په منظور د تورپوستي نژاد د ظرفیت لوړولو لپاره بې دریغه تلاش وکړ. دغه پروسه یې د یوه لس کلن پراختیایي پلان په جوړولو پیل کړه. د ښاغلي مانډیلا د دولت هغه اغېزمن اقدامات، چې د یوه اکثریت قوم لپاره په تدریجي اما اساسي ډول حیاتي وو عملي شول او د یوې لسیزې په تېرېدلو سره د شایسته سالارۍ اصل پیاده او هغه تورپوستي خلک چې په ادارو کې له کار څخه محروم وو له یوې مخې په دندو وګمارل شول.

په سوېلي افریقا کې د ښاغلي نیسلن مانډیلا دغه ګټور اقدام زموږ د نامتجانسې ټولنې لپاره هم یو غوره مثال کېدی شي، چې پرې عمل وکړي.

## ۴- امکانات او وسایل:

یوه اغېزمنه اداره بې له امکاناتو او وسایلو څخه کار نه شي کولی. د دولت د مؤثریت یو معیار دا دی، چې باید په لږه موده کې پیسې او کاري تجهیزات د مرکزي دولت له خواسیمه ییزو ادارو ته واستول شي او ولس خبر وي، چې څومره امکانات او وسایل د دوی محلي ادارې ته رسېدلي دي. د پیسو د رسېدلو لومړۍ ګټه مامور ته رسېږي، لومړی اقدام، چې باید وشي د مامور د معاش په اړه دی. که مامور ته پوره او پر وخت معاش ونه رسېږي معنی یې دا ده، چې دولت یا نظم نه لري او یا په کې رشوت، غلا او فساد موجود دی.

د دولت هره اداره بېلابېلو وسیلو ته اړتیا لري. ځینې ادارې تعمیر، څوکۍ، میزونو او ځینې نورې یې موټر، کمپیوټر، ټلیفون، انټرنټ او نورو ته ضرورت لري. هرکله که دا وسیلې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځارنه کې د ولس پیاوړې ونډې ته ډېر اهمیت ورکړل شي. دغه طریقه څو ګټې لري یوه دا، چې که چېرې ولس خپل لومړیتوبونه تعین کړي، نو د دولت کار اسانېږي. په دې معنا چې که یوه ولسوالي د ښځو د ښوونځي جوړولو غوښتنه وکړي او یو بل ولس په یو بل ځای کې د څښاک پاک اوبو ته اړتیا ولري، نو ولس د څښاک اوبو ته زیاته اړتیا لري. د ولسوالیو د خبرلو او بیا غواړي او دولت ورته سړک قیرکړي، سره له دې چې قیرسړک ډېر مفید دی، خو بیا به هم ولس له دولت څخه نه وي راضي. بله ګټه یې دا ده چې ولس به په دې پوه شي چې د یوې پروژې بشپړېدل څومره وخت او پیسو ته اړتیا لري، نو ولس اړ دی چې خپل لګښتونه کم کړي او له پیسو څخه په اغېزمنه توګه ګټه ترلاسه کړي. که پیسې دولت پخپل سر مصرف کړي د ولس په زړه کې دا شک پیدا کېږي، چې دا به په سمه توګه لګول شوې وي او که غلا غدی به هم په کې شوې وي.

د لومړیتوبونو په تعینولو کې یوازې د ولس برخه اخیستنه هم بسنه نه کوي، که دولت غواړي، چې مؤثر عمل وکړي، نو په کار ده چې ولس ته د ځارنې حق ورکړي. دغه راز ځارنې ته ولسي ځارنه وایي، چې د دولت د کارونو او دندو په اړه له خلکو څخه په کې منظمې پوښتنې کېږي.

د ساري په ډول، په هره اداره کې چې خلک له دولتي مامورینو سره مخ کېږي، نو مامورین ترې پوښتنې کوي، په لیکلې توګه یې ثبتوي او د ادارې د لا اغېزمنېدلو لپاره یې د ادارې له نورو کارکوونکو سره په غور تر څېړنې لاندې نیسي.

د دې ترڅنګ د ولسي ځارنې بل اصل دا دی، چې که چېرې په یوه کلي کې د دولتي ځمکو یا نورو انحصاري امتیازاتو په اړه له ولس سره پوښتنې پیدا شي، نو دولت د ټولنیزو بنسټونو مسؤولین د کمیسونونو په توګه ټاکي او هغوی ته د موضوع د





وي، نو د ادارې کارکوونکي لومړی زړه توري کېږي او بیا ورو ورو ناقانونۍ ته ملا تړي.

دا چې د دولت د مامورینو اصلي دنده ولسي خدمت دی، نو په کار ده چې په بودجه کې ولسي خدمت ته ځانګړې شوې پیسې پر وخت هغو ځایونو ته ورسول شي، چې چېرې ورته ضرورت وي. دا سې هېوادونه شته، چې له پلازمېنې څخه کلي ته د لېږدول شویو پیسو ډېره برخه نه رسېږي او په لاره کې د مفسدو چارواکو جیبونو ته لوېږي. د دې درغلۍ د مخنیوي لپاره دولت باید ولس ته د ورکول شویو امکاناتو په اړه کره معلومات ورکړي، چې ولس پوه شي، چې د څومره برخې حقدار و او څومره ورته ورسېده.

## ۵- د خلکو ونډه اخیستل:

په ډېرو هېوادونو کې ملکي اداري په یوې مستبدې قوې بدلې شوې دي. په پخواني شوروي اتحاد کې ولس حق نه درلود، چې له چارواکو څخه د چارو په هکله پوښتنه وکړي او برعکس ددوی ټول اعمال په نامناسبه توګه د دولت له خوا تر ځارنې لاندې وو.

په همدې ترتیب له فاشیستي جرمني او ایټالیې څخه نیولې تر افریقایي او اسیایي دیکتاتوریو پورې ټولو مستبدو رژیمونو به په دروا غو د حکومت مشر نابغه، اتل او ستر شخصیت باله او اداري به یوازې د حکومت مشر تابه ته ځان مسؤول ګاڼه، خو ولس ته به یې په ډېره سپکه سترګه کتل. په تېرو څلویښتو کلونو کې په اغېزمنو دولتونو کې دې اصل ډېره وده وکړه، چې د دولت د لومړیتوبونو په ټاکنه او د لګښتونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزونې او شفافې څارنې صلاحیت ورکوي. ښه حکومتداري هغه ده، چې خلک په کې برخه ولري، چې د دوی دغه ګډون دا باوري کوي، چې خلک د دولت د لګښتونو او عوایدو په باب د دقیقو معلوماتو د ترلاسه کولو حق لري.

معلوماتي ټکنالوجي د داسې څارنې کار ډېره اسانه کړې. هغه مهال چې د معلوماتو ټولونې ډېر وخت نیوله، دا څارنه ساده نه وه، مګر اوس د حساب ډېر شمېر جدولونه د سترګو په رپ کې د نړۍ له یوه ګوټ څخه بل ته انتقال مومي. همدا راز د میلیونونو ټلیفونونو په شته والي کې دولت په اسانۍ سره د معاشونو او پروژوي لګښتونو په اړه په کم وخت کې معلومات ترلاسه کولی شي. همدا راز کولی شي د ټلیفونونو د مراکزو په پرانیستلو له ولس سره نېغ په نېغه تماس ونیسي، چې د لګښتونو د مؤثریت او نه مؤثریت په اړه خپل نظریات وړاندې کړي.

په ذکر شویو پروسو کې د خلکو برخه اخیستل د اداري فساد د مخنیوي تر ټولو غوره لار ده. که محلي مامورین په دې پوه شي، چې د دولت تر مقاماتو ولسمشر، وزیرانو او نورو پورې د ولس غږ رسېدای شي او هغوی د مکافاتو او مجازاتو د اصل له مخې له دوی سره چلند کوي فوراً خپلو کړو وړو ته تغیر ورکوي. د دې لپاره چې ولسي څارنه په یوه کلتور بدله شي لازمه ده، چې له مهمو عایداتي او مصرفي ادارو څخه یې پیل وشي. زما د معلوماتو پر بنسټ محدود وزارتونه او اداري داسې دي، چې لګښتونه کوي او عواید لري، مثلاً ۲۰٪ دولتي اداري ۸۰٪ لګښت کوي.

د دفاع، داخله او پوهنې وزارتونه ډېر لګښت لري. همدا





ډول د دولت عواید هم له محدودو وزارتونو څخه لاس ته راځي. په افغانستان کې ګمرکونه له پخوا څخه لوړه عایداتي منبع ده، چې اوس ورسره د مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوجي پر سکتور وضع شوې مالیه هم یادولی شو، خو په راتلونکي کې به د دې هېواد عواید وستره سرچینه د معادنو وزارت له خوا ترلاسه شي.

که غواړو چې په ډاډمنه توګه د ولس او دولت ترمنځ د اعتماد فضا منځته راشي، نو په کار ده چې ولس او دولت دواړه پوه شي، چې بیت المال د ولس امانت دی او دولت مکلف دی، چې په شفافه توګه ولس ته حساب وړاندې کړي او د خلکو اصلاحي نظریاتو ته غور ونیسي او عملي یې کړي.

که څه هم د څارنې پیل له ذکر شویو برخو څخه په کار دی، خو دا د دې معنی نه لري چې په نورو برخو څارنه دې نه کېږي، مګر مهمې برخې تر څارنې لاندې نیول په ولس کې دا باور ټینګوي، چې دولت د اصلاحاتو عملي کولو لپاره ژمن دی او ټینګه اراده لري.

## ۲- رسمي حساب ورکونه:

په رسمي توګه د حساب ورکولو اصول په درې برخو وېشلی شو.

لومړی دا چې په هره اداره کې باید د محاسبې اصول او مقررات وضع وي، چې په مستنده توګه ټول عواید او لګښتونه درج کړي او تر څنګ یې د څارنې ځانګړې کمېټې، چې له مسلکي اشخاصو څخه جوړې وي او د دولت په بودجوي واحد کې د څارنې مسؤولیت پر غاړه لري موجودې وي.

دویم دا چې د تفتیش او محاسبې مستقلې اداري او کمیسیونونه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ځانګړي صلاحیتونه لري او کولی شي د دولت لوړ رتبه مامورین او د هغوی خپلوان تر څارنې لاندې ونیسي.

درېیم د اجرایي قوې له خوا مقننې قوې ته د حساب ورکولو بهیر دی، چې د دولت کابینه د پارلمان غړیو ته حساب ورکړي، ځکه د پارلمان غړي د ولس استازیتوب کوي او لازمه ده چې د ولس په نامه د څارنې حق او وجیبه ادا کړي.

په یوه اغېزمن دولت کې اجرایي قوه په دوامداره توګه مقننه قوې ته حساب ورکوي او دا معلومات د ډله ییزو رسنیو په وسیله ولس ته رسېږي، چې پر بنیاد یې د پارلمان غړي د اجرایي قوې له چارواکو څخه پوښتنې کوي او که چېرې د پوښتنو ځواب د قناعت وړ نه وي، نو اجرایي قوې د مجازاتو د اصل په بنیاد خپل وړاندیزونه مقننه قوې ته وړاندې کوي او بېرته د خپلو اجرااتو په اړه راپور ورکوي، خو که په قانون کې ستونزې موجودې وي، نو مقننه قوه قانون بدلوي او یا د تعدیل په اساس پېچلتیاوې لرې کوي او که د اجرایي قوې چارواکي ستونزې لري، نو هغوی خپلې ستونزې حل کوي.

په اغېزمنه دولتدارۍ کې د تعادل او توازن اصل ته ډېره پاملرنه کېږي. د سترې محکمې او قضاییه قوې استقلال ساتل د دې اصل ډېر مهم رکن دی، ځکه اغېزمن دولت د قانون د حاکمیت پر بنسټ ولاړ وي، نو ځکه په دولت باندې د قانون تعبیر او تطبیق د قانونمندۍ په لحاظ پخپله ډېر لوی څارونکی دی.

په عامه توګه ټول محاکم او په خاصه توګه ستره محکمه باید د قانون بیانګره وي. ولس باید کلک باوري شي، چې په ټول هېواد کې د قانون د اعتبار له مخې د سترې محکمې





پرېکړه وروستۍ پرېکړه ده او دا باور هغه وخت قوي کېږي، چې محاکم له فساد نه خالي شي او په قضاییه قوې باندې د دولت له خوا ستره پانګونه وشي چې په ټولنه کې یې عزت او اعتماد حفظ وي. که چېرې د اجرایي او مقننه قواوو له خوا د قضاییه قوې تعبیر یې ومنل شي، نو هېواد ته د دایمي سولې او ثبات په راوړلو کې لویه مرسته کوي.

## هـ- زېربنا:

په اسلامي نړۍ کې دولت د زېربنایي بنسټونو په جوړولو او خوندي کولو کې ستره ونډه لرلې ده، څرګند مثال یې د اوبو تنظیمول دي. که په تاریخي لحاظ د هرات د هریرود د اوبو وېش په پام کې ونیسو، هغه مهال چنګیز د هرات ښار رنګ کړ او نهري نظام یې له منځه یووړ. اسلامي حکومت له ولس سره لاسونه یو کړل او رنګ شوی نهري نظام یې بیرته فعال کړ. هرات ته نهري نظام دومره لومړیتوب درلود چې آن مدبر سلاطین یې د مغولو تر دورې وروسته د ویالو په جوړولو پسې راووتل او له ولس سره به یې اوږه په اوږه بېل واهه.

د هرات د اوبو عادلانه او عاقلانه وېش د تیموریانو له دورې څخه موږ ته په میراث پاتې دی او د اوبو د خوندي کولو او تنظیمولو نړیواله نمونه ده.

په تېرو ۱۵۰ کلونو کې د امریکا متحده ایالاتو او اروپایي دولتونو د زېربنا په جوړولو کې ستره ونډه لرله، د مثال په ډول، د امریکا هغه سترې لارې چې د دې هېواد ختیځ او لویدیځ یې سره په منظمو شبکو ترلي له ۱۹۵۲ میلادي کال څخه مخکې نه وې. جنرال ایزن هاور، چې هغه مهال د متحده ایالاتو ولسمشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وټاکل شو، یو وخت د خپلې ځوانۍ پرمهال له خپلو عسکرو سره په ډېره سختۍ له ختیځه لویدیځ ته تللی و. نوموړي پرېکړه وکړه چې دا حیاتي لارې باید په اساسي ډول جوړې شي. ښاغلي ایزن هاور د هېواد مقننه قوه دې ته قانع کړه، چې دا پرېکړه ومني او د میلیاردونو ډالرو په بیه دا لار جوړه شوه، چې له برکته یې اوس ټول هېواد د یوه داسې اقتصادي نظام په لمن کې ژوند کوي، چې په ډېر کم وخت کې خلک خپل تولیدات له ختیځ څخه لویدیځ ته انتقالولی شي.

نوموړي دولت په تېرو ۱۰۰ کلونو کې په برېښنا بندونو باندې ډېرې پیسې لګولې دي، چې په نتیجه کې یې د دې هېواد په لویدیز کې د اوبه خور اوبه له خپلو سرچینو څخه په سوونو کیلومتره لرې کرنیزې ځمکې خړوبوي. په جاپان او اروپا کې د ریل پټلۍ جوړونه هغه زېربنایي پانګونه وه، چې د دې هېوادونو د ریل سیستم یې ډېر موزون او منظم ګرځولی دی. چین د زېربنا په اړه د خپلې دقیقې پلان ګذارۍ او لګښت په نتیجه کې وده او پراختیا مونده.

په ډېرو هېوادونو کې داسې ډېر طبیعي خنډونه شته، چې د اقتصادي حرکت او اداري تنظیم پر وړاندې رامخې ته کېږي، خو د زېربنایي کارونو پر وړاندې د ستونزو لرې کول په دې مهم دي، چې له یوې خوا د یوه هېواد اوسېدونکو ته دا زمینه برابروي، چې تر خپله منځه اقتصادي اړیکې ټینګ کړي او له بلې خوا نړۍ ته د داسې اړیکو لمن پراخه کړي.

په تېرو پاڼو کې مو د افغانستان د زېربنا د تباه کېدو په اړه د نړیوال بانک تخمین ولوست. د بدبختۍ ځای دا دی، چې دې جګړه ځپلي هېواد په څو لسیزو کې د ۲۴۰ میلیاردو ډالرو په بیه





زېربنا او د ودې امکانات له لاسه ورکړي او که دا وژونکې جګړه نه وای، نو اوس به دې ناداره هېواد د ۲۴۰ میلیاردو ډالرو په اندازه زېربنایي پانګه درلوده.

د زېربنا د جوړولو بله نتیجه دا ده، چې جغرافیه د اقتصاد تر اغېز لاندې راځي او ځایونه د زمان له نظره یو له بل سره نږدې کېږي، مګر جګړې د زمان په لحاظ زموږ د هېواد ځمکه یو له بله ډېره لرې کړې وه، په (۱۳۵۵ هـ ل) کال له کابل څخه جلال اباد ته په درې نیمو او کندهار ته په شپږو ساعتونو کې خلک تلل راتلل، خو په (۱۳۸۳ هـ ل) کال کې برعکس له کابل څخه جلال اباد ته لس ساعته او کندهار ته دوه ورځې لار وه.

د هر اړخیزې پراختیا لپاره په زېربنا باندې پانګونه کول ضرور دي، مګر اغېز یې د موخو په ټاکلو او د پلان په عملي کولو پورې تړلی دی. که هدف د دوو ښارونو تر منځ د لارې لنډول وي، نو بیا باید د دواړو ترمنځ یوه ډېره لنډه لار انتخاب شي او که موخه د ټولیزې اقتصادي ودې تأمینول وي، نو بیا باید د ښارونو تر منځ پراته ټول کلي هم د دغه مواصلاتي زنځیر په وسیله وتړل شي او دا چې کلي له ښارونو سره د سړکونو په وسیله ونښلول شي، نو څرګنده شوه چې دلته مهمه موخه د کلیو د نښلولو وه، نه د لارې د لنډولو.

د بېلګې په ډول، د سردار داودخان له جمهوریت څخه وړاندې تردې چې د هرات-کندهار سړک پوخ شو، لویه لار د فراه له ولایت څخه تېرېدله چې د دې ولایت ډېرې مرکزي نقطې یې له هرات او کندهار سره تړلې، مګر کله چې افغان حکومت او روسي انجنیرانو د دغه سړک د پخولو کار پیل کړ، پرېکړه یې وکړه چې لاره باید له دښتې تېره کړي، ځکه چې لنډه وه، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فراه ولایت ډېرې مهمې سیمې له سړک څخه بهر پاتې شوې، چې په منځمهاله او اوږدمهاله دوره کې یې په اقتصادي لحاظ ډېر منفي اغېز درلود، ځکه فراه منزوي شوه او ښه فرصتونه یې له لاسه ووتل، خو اوس چې د زرنج–دلارام سړک بشپړ شوی هېله ده چې د یوه مهم اتصالي موقعیت په حیث فراه له دغه سړک سره په نښلېدلو یو ځل بیا خپل نوم او شهرت ترلاسه کړي. همدا ډول د سروبي–جلال اباد سړک له غرونو او دښتو څخه تېرېږي خو زړه لاره له سروبي څخه جلال اباد ته د ډېرو کرنیزو سیمو تر منځ تېریدله او چې اوس د دې سیمې خلک پر پاخه سړک نه دي پراته اړ دي چې د خپلو زراعتي تولیداتو د انتقال لپاره لومړی جلال اباد ته لاړ شي او بیا کابل ته رامخه کړي.

نو له همدې کبله باید زېربنایي پلان ګذاري داسې وشي، چې د خلکو پر اقتصادي ژوندانه ښه اغېز وکړي. د حلقوي سړک په وسیله مونږ ته له ګاونډیو هېوادونو سره نښلېدل خورا حیاتي اړتیا ده، مګر که چېرې همدا سړک زمونږ ولسوالۍ او کلي او ولایتونه لکه فاریاب، بادغیس، فراه، پکتیکا، کونړ، بدخشان، بامیان، دایکنډي، ارزګان او نور یو له بله سره ونه نښلوي هېڅکله یو بانظمه اقتصادي ژوند نه شي تأمیندی.

نو ددې لپاره چې د زېربنا سم انتظام رامنځته شي لازمه ده، چې هغو اصولو ته پام وکړو، چې د نړیوالو تجربو پر اساس ډېر بریالي وو، دلته د داسې څو اصولو یادونه کوو:

## ۱- مطالعاتي ظرفیت:

په عمومي توګه د زېربنایي پروژو ایجاد ستره پانګه غواړي. د دې لپاره چې دا پانګونه په سمه توګه وشي په کار ده،





چې په څرګند او بنسټیز ډول بدیلونه برابر او د هرې سترې زېربنایي پروژې ګټې او تاوانونه یو له بله سره پرتله شي، نو په همدې اساس باید په وروسته پاتې هېوادونو کې د دې ظرفیت د ایجاد لپاره ستره پانګونه وشي. که چېرې د یوې زېربنایي پروژې ټول مطالعات د بهرنیو شرکتونو له خوا وشي، نو یو شرکت به د بل له مطالعې نه خبر نه وي او ولس به هم د هغوی له مطالعاتو څخه پوهه نه شي ترلاسه کولی، چې بالاخره جنجالونه هم پېښېدای شي.

د زېربنایي پروژو د مطالعې ظرفیت ته د سترو پروژو اداره وایي. د داسې ادارو مهمې دندې اوونډې دا وي، چې منظمې پروژې تیارې کړي او کله، چې پیسې لاسته راشي په فوري ډول دې ددې تصمیم ونیسي، چې د لومړیتوبونو په رڼا کې کوم نظریات لومړی عملي بڼه غوره کړي.

بربښنا د افغانستان ستره بنسټیزه اړتیا ده او مونږ د پرېمانه اوبو په لرلو کولی شو پر ګاونډیو هېوادونو هم خپله بربښنا وپلورو، خو په دې هم باید وپوهېږو، چې که چېرې مونږ په کامه، کونړ، کوکچه او پنجشېر بندونو باندې پانګونه کوو په لومړي تخمین کې پرې له ۵۰۰ څخه تر ۱۵۰۰ میلیونو ډالرو پورې لګښت راځي، نو که چېرې له مونږ سره د پورتنیو ذکر شویو امکاناتو په اړه بشپړ معلومات، چې د مطالعې پر مټ تیارېږي نه وي، نو په هغه صورت کې تصمیم نیول بې ځایه کاردی. له دې نه علاوه زمونږ ونډه او مسؤولیت یوازې د څو سیندونو پر ارزونې نه بشپړېږي، بلکې مونږ باید د هرسیند د بربښنا د تولید په اړه منظمه بررسي او دقیق پلان ولرو، چې هر بند مو په یوه ستره طبیعي پانګه بدل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د نړیوالو متخصصینو له موجودیت نه علاوه زموږ د سترو پروژو مطالعات نه شي کېدی، نو په کار ده چې په عاجله توګه پر خپلو خلکو پانګونه وشي چې د داسې مطالعاتو د ترسره کولو وړتیا پیدا کړي او ترمنځ یې کاري تداوم په دوی کې د تطبیق ظرفیت هم غښتلی کړي.

د ارزونې د ظرفیت اهمیت یوازې په دې کې نه دی، چې د لویو پروژو مطالعات وشي، بلکې ډېرې داسې وړې پروژې هم شته چې که داسې ظرفیت ولرو د دې پروژو بیه به د اوسنۍ بیې نیمایي ته راټیټه کړي.

د بریښنا د وړو بندونو ایجاد د ښوونځیو او وړو ادارو تعمیرات د دې پروژو څرګندې بېلګې دي، چې زیاتره وخت دیوه اساسي انسجام او ارزونې په بنیاد نه پلې کېږي، چې له یوې خوا پیسې ضایع کېږي او له بلې خوا ولس ناخوښه وي.

## ۲- د زېربنايي پروژو د منفي اغېزو مخنيوی:

زېربنایي پروژې په عمومي ډول دوه عمده منفي اغېزې لري، چې کېدای شي داسې پروژې د ډېروخت لپاره وځنډوي او یا یې ناکام کړي. د دې پروژو لومړی ستونزه ټولنیزه ده.

کېدای شي د یوې سترې زېربنایي پروژې د تطبیق لپاره د خلکو ځمکې ته اړتیا پیښه شي او یو کلی یا ښار له خپله ځایه بې ځایه کېدلو ته اړ ایستل شي.

په شلمه میلادي پېړۍ کې په زیاترو زېربنایي پروژو منفي ټولنیزې اغېزې پرېوتې او خلکو یې پر وړاندې سخت احتجاجونه وکړل، چې لوی مثال یې په هند کې د اوبو د سترو بندونو د جوړولو پر وړاندې د خلکو پراخې احتجاجي مظاهرې





وې، چې په پایله کې د دې پروژو تمویلوونکي نړیوال بانک او اسیایي پراختیایي بانک داسې مقررات وضع کړل، چې د خلکو د ژوندانه پروړاندې منفي اغېزې کمې کړي او د هغو خلکو لپاره پر ځای ترتیبات ونیسي، چې د پروژو د تطبیق له کبله یې ژوند یا جایداد په خطر کې وو.

په ټولنیز لحاظ د سترو پروژو منفي تاثیرات اوس تر ډېره حده کمېدای هم شي. انجنیران دې ته متوجه شوي، چې پروژې باید په داسې توګه ډیزاین شي چې په ټولنیز لحاظ یې منفي اغېزې کمې وي. د مثال په توګه، که د سترو بندونو ارتفاع کوزه شي د هر متر په کوزېدو یې منفي تاثیرات کمېږي. بله طریقه داسې ده، چې د یوه ستر بند پر ځای څو واړه بندونه جوړ شي، چې د یوې شبکې په وسیله یې بېرته بریښنا راټولېږي او په هماغه اندازه بریښنا تولیدوي. اما په ټولنیز لحاظ یې منفي اغېزې لس ځله تر لوی بریښنابند کمې دي. بل اصل چې تر ټولو ډېر ګټور ثابت شوی هغه له خلکو سره مفاهمه او په بنسټیز ډول د هغوی د ژوندانه د بهترولو لپاره ځانګړي اقدامات دي. که چېرې د رشوت او فساد لاس نه وي غځېدلی، نو دولت کولی شي د خلکو پرځمکو باندې یوه مناسبه بیه کېږدي او کله چې خلکو ته د ځمکو قیمت په لاس ورشي په خوښۍ سره د پروژو تطبیق ته غاړه ږدي. که متضررو خلکو ته داسې ژمنه ورکول شي، چې د پروژې تر بشپړېدا وروسته به دوی هم د ګټو په اخیستلو کې لومړیتوب ولري کېدی شي مخالفت ونه کړي، مګر موږ د یوه هېواد په توګه اړیوو، چې د سترو پروژو د مطالعاتي ظرفیت تر څنګ د هغو د منفي اړخونو په تحلیل هم پوه شوو او خلکو ته تر قناعت ورکولو وروسته هغوی په ګټو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې شريک کړو، چې له يوې خوا د خلکو ژوند بهتر شي او له بله پلوه په هېواد کې زېربنا ايجاد کړو.

د زېربنايي پروژو تطبيق د ټولنيزو ستونزو ترڅنګ په طبيعي پانګه هم اغېز کولی شي. هره لويه پروژه په يوه طبيعي سيستم باندې اغېزه کوي، چې کله ښه او کله ناوړه وي. کله چې په يوه سيند باندې بند جوړېږي، نو له امله يې د هغه ځای کبان وده نه شي کولی او د کبانو د ودې مخنيوی د يوې طبيعي پانګې په توګه منفي اغېزه ده او د دې منفي اغېزې د مخنيوي لپاره لازمه ده، چې د کبانو د ساتنې په برخه کې د نړيوالو اصولو په اساس ترتيب او تنظيم ونيول شي.

بل منفي اغېز يې د ډبرو له سکرو څخه د برېښنا توليد دی، چې د هوا د ککړتيا لامل کېږي اما له اوبو څخه د برېښنا توليد بيا د هوا په ځرنګوالي باندې ښه اغېز لري، ځکه د نړۍ د تودوخې درجه ورځ تر بلې تودېږي او کارپوهان وايي چې له باد او لمر څخه د انرژۍ توليد د اقليم لپاره ډېر ګټور دی. د همدې دليل پر اساس ځينې نړيوال اصول وضع شوي، چې برېښنا بايد له سکرو څخه توليد نه شي، ځکه د نړۍ د اقليم په تغير کې ناوړه پايلې لري.

## ۳- ساختماني کوډونه اومقررات:

زېربنا هغه مهال خاصه ګټه لري چې په دوامداره توګه پاتې شي او د دې لپاره لازمه ده چې په يوه هېواد کې منظم ساختماني کوډونه او مقررات موجود وي او عملي بڼه ولري.

د ترکيې په استامبول کې د شلمې پېړۍ په نويمه لسيزه کې ډېره ستره زلزله راغله او د حيرت وړ وه، چې ډېر لوی





اپارتمانونه د ماشومانو د لوبو د کورکيو په څېر يو په بل پسې ونړېدل، خو تر څنګ يې په څو متره کې يو لړ اپارتمانونه پر ځای ولاړ پاتې شول. کله چې کارپوهانو څېړنه وکړه څرګنده شوه، چې پرېوتي اپارتمانونه د ساختماني مقرراتو له چوکاټه بهر جوړ شوي وو او د قراردادیانو بې کيفيته کار او د مامورينو د اداري فساد له امله درانه ځاني او مالي تاوانونه پېښ شول، مګر هغه تعميرات چې مستحکم وو د مستحکمو اصولو او قوانينو پر بنسټ جوړ شوي وو او مستحکم پاتې شول. دغه مثال دا په ګوته کوي چې په زېربنايي پروژو کې د ساختماني اصولو مراعت کول څومره لوړ حياتي ارزښت لري.

هغه اشخاص چې په لنډمهالو ګټو زړه خوشحاله کوي په حقيقت کې په منځ مهاله او اوږد مهاله موده کې هم خپل ځان او هم هېوادوالو ته ستر زيانونه وراړوي. يوه ساختماني پروژه، چې په هره اندازه لويه وي په هماغه اندازه په ساختماني اصولو باندې عمل کول ضروري دی.

که په يوه هېواد کې د برېښنا يو بند د ناقص کار له امله ونړېږي، نو منفي اقتصادي اغېز يې د ټول هېواد لپاره مرګونی دی. د دې لپاره چې د يوه هېواد پانګه په زېربنايي پروژو خوندي کړی شي بايد د نړيوالو تجربو پر اساس د ساختمان اصول وضع شي، د دولت چارواکي د دغو اصولو په زده کړه سمبال شي او ټول قراردادیان او فني ماهرين ورسره سم اشنا شي او د زړه له کومي يې ومني.

که يو هېواد خپل منظم ساختماني اصول ولري، نو قراردادي دې ته نه اړ کېږي چې د سترو پروژو د تطبيقولو لپاره د خاصو بين المللي بنسټونو او مرستندويانو په اصولو عمل

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي. کله چې نړیوال کارکوونکي یوه ستره پروژه بشپړه کړي، نو په دویم ګام کې یې حفظ او مراقبت د ملي بنسټونو په غاړه وي، نو په داسې حال کې د دولت چارواکي مجبور دي، چې د یو ډول اصولو پر ځای مختلف اصول زده کړي او دا د دوی کار پېچلی کوي، نو لازمه ده چې اصول ډېر څرګند او یو ډول وي او په یوه ډول تطبیق شي. زموږ په هېواد کې د څرګندو ساختماني اصولو د نشتوالي نښې یې په حلقوي سړکونو کې لیدل کېږي. د کابل-جلال اباد سړک په یوه معیار، خو د کابل-کندهار سړک، دې ته په پام سره چې قراردادیان یې مختلف شرکتونه وو، په مختلفو معیارونو جوړ شوی دی.

همداډول د هرات-اسلام قلعه او کابل- شمالي او داسې نور ټول سړکونه یو له بل سره غوځ توپیر لري او د مختلفو شرکتونو له خوا د مختلفو معیارونو په اساس او بڼو جوړ شوي دي. د دې سړکونو بېلابېل کیفیتونه دا په ګوته کوي چې د حفظ او مراقبت او د دوام له کبله نوموړي ټول سړکونه په یوه ستندرډ نه دي جوړ شوي او په هغه اندازه ګټور نه دي، چې یو نوی سړک ګټور وي، نو ویلای شو چې ملت ته له دې کبله هم لازمه ګټه نه ده رسېدلې.

## ۴- د مناقصې یا قرارداد اصول:

د زېربنایي پروژو یوه مهمه برخه د مناقصې یا قرارداد اصول دي.

دا چې زیاتره پروژې اوس د خصوصي سکتور له خوا اجراکېږي، نو په همدې بنیاد دولت ته په کار ده، چې د مناقصې داسې اصول وټاکي، چې د شرکتونو تر منځ د رغنده





سیالۍ لامل شي او د ښه کیفیت کار په ټیټه بیه ترسره شي. په عملي توګه په ډېرو هېوادونو کې د مناقصې اصول د کثافت او فساد سرچینه ګرځي. یوه برخه یې دا وي چې د دولت مامورین له کورنیو او نړیوالو شرکتونو سره شراکت کوي او د شخصي ګټو لپاره ملي ګټې تر پښو لاندې کوي. د اداري فساد بله بڼه داسې وي، چې ډېر شرکتونه پخپلو کې یو داسې تړون کوي، چې قیمتونه تر قرارداد اخیستو مخکې وټاکي او په نوبت یې یو یو ګټندوی شي، چې دا عمل هم له عامه ګټو سره په ټکر کې دی.

بله بڼه یې دا ده چې قراردادیان له دولتي چارواکو سره شریک شي، د احتمالي ګټونکو قراردادیانو ادرس معلوم کړي. د زور یا زر په وسیله یې له میدانه وباسي. یو مثال یې داسې هم دی چې ډېر قراردادیان قراداد په سمه توګه لاسلیک کړي، خو په نیمایي کې له دولتي مامورینو سره شریک شي او په پټه د قرارداد شرایط بدل کړي.

ډېرې نورې لارې هم شته چې په وسیله یې د قرداد د مناقصې اصول تر پښو لاندې کېږي او دا ډول اعمال هم په سیمه او هم په نړۍ کې ډېر ځله تر سره شوي دي.

د داسې ناجایزو اعمالو د مخنیوي لپاره لازمه ده، چې یو هېواد د مناقصې ټینګ اصول، لوایح او قوانین جوړ کړي او د افرادو په روزنه او ساتنه پانګه واچوي. که چېرې لس تنه ایمانداره کسان د مناقصې د نظام په راس کې راشي هېواد ته به په میلیونونو ډالره ګټه ورسوي.

که چېرې په کوم مرسته اخیستونکي هېواد کې د مناقصې سم اصول نه وي، نو هلته ټول مرسته کوونکي هېوادونه هر یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل خپل اصول تطبیقوي، چې په پایله کې ټول قراردادونه د بهرنیو شرکتونو لاس ته لوېږي او ګټه له هېواده بهر ځي، چې په دې صورت کې ملي قراردادیان په وچ ډاګ پاتې وي او زېربنايي پروژې نیمګړې یا هم پر خپل وخت نه پیلېږي.

## ۵- ملي ساختماني ظرفیت:

د اغېزناکو دولتونو د بریالیتوب یو لامل دا دی چې دوی کولی شي په سمه توګه په زېربنايي پروژو باندې پانګونه وکړي، چې له همدې لارې خپلو خلکو ته کاري موارد ډېر او عامه ګټې تضمین کړي.

څېړنو ثابته کړې، چې همدا اوس په نړۍ کې ځینې داسې هېوادونه شته چې په مؤثریت سره هم خپل ملي عواید او هم نړیوالې مرستې مصرفوي. په دې هېوادونو کې د ملي ساختماني ظرفیت شته والی د زېربنايي لګښتونو لپاره ضروري شرط ګڼل کېږي. جاپان، سینګاپور، ایرلنډ، اسپانیا، سویلي کوریا، مالیزیا او دوبۍ د دې هېوادونو غوره مثالونه دي، ځکه دغو هېوادونو د ملي ساختماني ظرفیت د ودې لپاره پانګونه وکړه، څرګند اصول او مقررات یې وټاکل او په همدې توګه یې له خپلو ملي عوایدو او نړیوالو مرستو څخه اغېزمنه استفاده وکړه.

د دې ظرفیتونو د ایجاد لپاره د خصوصي او دولتي سکتورونو تر منځ کلکه همغږي او همکاري لازمه او ضروري ده او ښه لاره یې دا ده چې ټول شرکتونه د یوې اتحادیې په بڼه سره راټول شي او یوه منظمه ساختماني ټولنه جوړه کړي، چې د اصولو او مقرراتو د پیروي ټینګه ژمنه وکړي او د کمیت او کیفیت په لحاظ معیارونه وضع او د اخلاقي اصولو له مخې ورته پابند پاتې شي. همدا ډول یوه اتحادیه به له دولت سره په





شریکه د شرکتونو د ظرفیتونو ارزونه کوي.

دولت ته هم په کار ده، چې د دې اتحادیې د ظرفیتونو د لوړولو او تخنیکي تقویې لپاره پانګونه وکړي او د اصولو په مراعت کې پرې ټینګار ولري. لکه څرنګه چې باید د دولت پر کارمندانو باندې د مکافات او مجازات اصل عملي شي، د همدې اصل تطبیق پر قراردادیانو باندې هم ضروري دی او د دې تر څنګ له دغه بهیر څخه د خلکو د څارنې پروسه هم ډېره ضروري او مهمه ده.

## ۶- تدارکات:

په وچه پروت یو هېواد د شرایطو په لحاظ له هغو هېوادونو سره ډېر توپیر لري، چې بحري بندرونه لري.

دا ډول هېوادونه سیمه ییزې همکارۍ ته تر بل هر هېواده زیاته اړتیا لري، چې په دې توګه وکولی شي د خپل ضرورت ساختماني مواد په مناسب وخت او لازم کیفیت تر لاسه کړي. که چېرې یې په سمندري بندرونو کې د اړتیا وړ اجناس له یوې تر درې میاشتو پورې تال وخوري، نو په بازارونو کې یې د اجناسو بیه ډېره لوړېږي، چې په وچه پروت افغانستان داسې ترخې تجربې کړې دي او د ګاونډیو په بحري بندرونو کې یې په میاشتو میاشتو د اړتیا وړ مواد ځنډېدلي دي.

د بحري بندرونو لرونکي هېوادونه په وچه پرتو هېوادونو سره ډېر توپیر لري او دا توپیر موږ د کابل ـ پېښور، کندهار ـ کویټې او هرات ـ مشهد تر منځ په اسانۍ پرتله کولی شو، په ګاونډیو هېوادونو کې د یوه کیلو متر سړک د قیر کولو بیه ۱۲۰زره امریکايي ډالره کېږي، مګر زموږ په هېواد کې د یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیلومتر سړک د قیر کولو بیه له څلورو لکو ډالرو هم اوړي، نو دا چې له موږ سره د نړۍ مرستې کمې دي او که موږ د زېربنايي پروژو بیه راټیټه او کیفیت لوړ نه کړو دا مرستې زموږ د اساسي اقتصادي بدلون سبب نه شي ګرځېدای.

## ۷- حفظ او مراقبت:

دا هغه برخه ده چې د هرې کچې اشخاص یې په اهمیت پوهېږي. د ساري په توګه، که چېرې یو بزګر ځمکه وکري او بېرته یې په سمه توګه خشاوه، اوبه خور او نوره لازمه څارنه ونه کړي، نو بې له شکه به یې د پټي حاصل هغومره نه وي، چې توقع ترې کېدی شي او که یو مالدار د خپلو څارویو سمه پالنه او روزنه ونه کړي، نو یا به خوار ډنګر وي او یا به یې ترې لېوان وخوري.

همدا رنګه تر ختیین بام لاندې او سېدونکي خلک اړ دي، چې د موسمي بارانونو تر ورښت د مخه خپل بام اخېړ کړي او که داسې ونه کړي یا به پرې را ولوېږي او یا به یې سر له بارانه نه پټېږي.

زېربنا د ټول ولس شریکه پانګه ده. کله که سړکونه خراب وي ټول سر ټکوي، چې په سمه توګه اقتصادي فعالیتونه نه شي تنظیمولی. د ټرانسپورټ بیه لوړه وي، تولیدي او سوداګریز اموال په اسانۍ سره انتقال نه مومي او وسایط یې د ډېرو عوارضو پېښولو له کبله تاوانونه کوي. برېښنا هم داسې زېربنا ده چې که نه وي، تاوان یې ټولو ته یو ډول دی. د ساتنې او څارنې ستر اهمیت دا دی، چې د اصولو په تعقیب سره ډېرې لویې پانګې له خطر څخه نجات پیدا کوي او تر ډېره وخته ترې ګټه اخیستل کېږي، چې مثال یې سړک دی. زموږ زیاتره





سړکونه له ۷ څخه ۱۰ ټنه وزن ته جوړ شوي دي، که چېرې دا په مقرر ډول تعقیب شي، موږ به له ستر تاوان څخه خلاص یوو او که دا اصول په پام کې ونه نیول شي او لکه اوس چې له بده مرغه له ۵۰ ټنو نیولې ان تر ۱۰۰ ټنو پورې بار کړې لارۍ زموږ پر سړکونو را روانې دي او سم حفظ او مراقبت یې نه کېږي نو موږ اړ یوو، چې ۷ کاله وروسته دا سړکونه له سره اباد کړو، چې دا ډېر ستر تاوان دی. که څه هم د لاریو څو خاوندان د درنو بارونو راوړلو له کبله څو روپۍ پیدا کوي، خو د ولس لپاره یې زیان په دقیق ډول تر میلیونونو ډالرو رسېږي.

په بې اغېزې او ناکامو دولتونو کې همېشه یا د حفظ او مراقبت بودجه پر وخت نه رسي او یا هم دا مهمه برخه په بودجه کې نه داخلېږي، چې په پایله کې یې د ولس ستر زېربنايي بنسټونه له منځه ځي. لکه د برېښنا بندونه، چې یوه پرزه یې خرابه شي په لومړي سر کې یې قیمت ښايي شل زره افغانۍ وي، خو که جوړه نه شي نو د فشار په نتیجه کې نورې پرزې هم له کاره لوېږي او بیه یې لکونو او بالاخره میلیونونو ته لوړه شي، چې د ولس ملا ماتوي. اغېزناک دولتونه دې برخې ته کلکه پاملرنه کوي او د ساتنې او څارنې په نتیجه کې د ولس له زېربنايي پانګې څخه د اوږدې مودې لپاره ګټه اخلي.

که د دولت په دې برخه باندې دقیق فکر وکړ دا په ګوته کېږي، چې د افغانستان په څېر د یو غریب هېواد لپاره د ساتنې او څارنې برخه خورا مهمه ده. دولت اړ دی، چې د دې برخې د انسجام لپاره داسې اصول وټاکي، چې زموږ له اوسنیو شرایطو سره اړخ ولګوي. په دې فصل کې مو اصل اصول طرحه کړل خو په راتلونکي فصل کې به د کار د پیدا کولو او د زېربنا د ترتیب په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړه یو لړ وړانديزونه وکړو.

## و- بشري پانګه:

او سنی اقتصاد د علم پر تهداب ولاړ دی، د نبي کريم (ص) مبارک حديث دی چې فرمايي: (د علم طلب وکړئ ولو که په چين کې وي). د مخه مو په عباسي او غزنوي دورې کې د علم د ودې او پراختيا په باب معلومات وړاندې کړي دي. د پورتني مبارک حديث په رڼا کې هغوی د نړۍ علوم راټول او بېرته يې د نړۍ ډېرو برخو ته ورسول، خو له بده مرغه په راوروستو وختونو کې اسلامي حکومتونو پر خپلو خلکو لازمه پانګونه ونه کړه او د دې نتيجه دا وه چې ورو، ورو يې دولتونه بې اغېزې او له اغېزناکو دولتونو سره يې ورځ تر بلې توپير په زياتېدو شو او د اسلامي نړۍ زياتره خلک له ثروتمندو څخه په بې ثروته خلکو بدل شول، چې بشري پانګې په کې د پام وړ وده ونه کړه، مګر يوائيني اسلامي هېواد ماليزيا. و چې د بشري پانګې په اهميت پوه شو او په دې برخه کې يې له خپل ولس سره ډېر کار تر سره کړ، د ماليزيا د مشر (ډاکټر مهاتير محمد) دوه مداره هڅې د دې باعث شوې، چې په دېرشو کالونو کې ماليزيا له يوه فقير هېواد څخه په امير او سرمايه دار هېواد بدل کړي. د ډاکټر مهاتير پياوړی ابتکار دا و چې د شل، شل (٢٠-٢٠) پلانونه يې ترتيب کړل.

ډېر خلک د شل شل تعبير داسې کوي، چې دا د شل ميلادي کال دی، يعنې په کومو ولايتونو او ښارونو کې چې د شل پلان خبره مطرح ده، هدف يې د شل ميلادي کال منځمهاله موخې دي. دا پلانونه چې لومړی يې په ماليزيا کې اساس کېښودل





شو، هدف يې دا دی چې د مختلفو ولايتونو، ښارونو، کمپنيو او شرکتونو او يا د ټول هېواد په کچه خلک راټولېږي او د هېواد راتلونکی انځور وړاندې کوي او په دقت سره خپل اوسنی حالت له راتلونکي انځور سره پرتله کوي، چې وپوهېږي د دوی د مستقبل د موخو د بشپړولو په لاره کې د دوی حال کوم خنډونه لري، چې د هغو موخو مخنيوی کولی شي او کله چې دا خنډونه ورته معلوم شي، نو د لرې کولو لپاره يې د ظرفيتونو ايجاد ته ملا تړي او منځمهاله موخو ته د رسېدو لپاره يوې څرګندې نتيجې ته رسېږي.

ډاکټر مهاتير له شل، شل څخه يو بل هدف هم درلود، نوموړی د سترګو ډاکټر و او د سترګو په طبابت کې د شل، شل اصطلاح دا معنی افاده کوي چې بويه دواړه سترګې په بشپړه توګه کار کوي او هغه څوک چې د شل، شل ليد توان لري عينکو ته اړتيا نه لري، معنی دا چې روښانه ليد د يوه هدف د تعين لپاره ډېر اړين دی، چې يوه ټولنه په نظم او تقوا سره د هغې موخې د عملي کولو لپاره څرګند معيارونه ولري او په اګاهانه توګه وپوهېږي چې څرنګه د هدف د لاس ته راوړلو لپاره حرکت کوي.

موږ هم د يوې ټولنې په حيث د بشري پانګې د رامنځته کولو لپاره داسې يوه څرګند پلان ته اړتيا لرو او که په همداسې شدت کار ونه کړو په عمومي توګه به د ولس او په ځانګړې توګه به مو د ځوان نسل استعداد ضايع کړی وي. که موږ غواړو چې د بهرنيو سلاکارانو شمېر چې د مرستو لويه برخه د دوی په معاشونو او لګښتونو له هېواده وځي کم کړو، نو په کار ده چې پر خپلو ځوانانو پانګونه وکړو او د خپل کور څښتنان شو او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې مورد کې د اغېزمنو هېوادونو له تجربې ګټه واخلو او پر بنا یې د خپل هېواد د راتلونکي انځور په اړه یوې سراسري ملي اجماع ته ورسېږو، چې په بنسټيزه توګه خپلې موخې تعین کړو. په دې اړه ځینې اصول په لاندې ډول تشریح کوو:

### ۱- د لوړو زده کړو اهمیت:

اداره، اقتصاد او مدني ټولنه هر یو په ځانګړې توګه مدیریت، تخنکي پوهې او مشرتابه ته اړتیا لري، او دا پوهه بې له دې چې په یوه هېواد کې د لوړو زده کړو داسې بنسټونه چې نړیواله سویه ولري نه رامنځته کېږي.

په پخوا زمانو کې مواصلاتي امکانات دومره پر مخ نه وو تللي، چې د اسیایي هېواد یو پوهنتون د امریکا یا اروپا له کوم پوهنتون سره نېغ په نېغه تماس ونیسي، نو ځکه دولتونو د لوړې پوهې د حصول لپاره خپل ځوانان دغو هېوادونو ته لېږل چې داسې ظرفیتونه پیدا کړي چې نه یې لري. دا طریقه په هغه وخت کې مناسبه وه، مګر تاثیر یې ډېر کم و، ځکه په شپېتمه میلادي لسیزه کې افغان حکومت د ګوتو په شمېر ځوانان بهر ته د زده کړو لپاره ولېږل، خو د دې بر عکس د کابل پوهنتون د انجنیرۍ پوهنځي چې د امریکا له لوړو پوهنتونونو سره تواميتونه درلودل په همدې هېواد کې ګڼ شمېر محصلان وروزل.

او سمهال د نړۍ شرایطو تغیر کړی او بدبختانه هغه افغانان چې بهر ته د زده کړو لپاره ځي، په کم تعداد کې بېرته راستنېږي، اکثریت یې په هماغو هېوادونو کې پاتې کېږي او بیا هېواد ته نه راځي.

او سمهال زموږ بحث پر دې دی، چې زموږ د هېواد





پوهنتونونه او د لوړو زده کړو نور تاسیسات باید یا له نړۍ او یا هم کم له کمه د سیمې له هېوادونو سره د سویې په لحاظ سیالي وکړي.

په ۲۰۰۵ کال کې چې ما د کابل پوهنتون له محصلانو سره درې میاشتنی بحث درلود، ټول د دې غوښتونکي وو، چې د عالي تحصیلاتو د ظرفیت لوړولو لپاره دې ځینې اصول وضع شي، چې پر اساس یې دا څرګنده وي چې افغانستان په راتلونکو ۱۰ او ۲۰ کالونو کې کوم ډول ظرفیتونو ته اړتیا لري او د اقتصادي ودې اساس یې په کومو سکټورونو باندې ولاړ دی. کله چې دا اصول روښانه شي، نو بیا به د اړتیا او ودې د پلانونو په اساس په پوهنځیو کې تقسیمات صورت ونیسي. دا باید جوته شي چې کوم پوهنځی باید یو له بل سره ګډ شي او کوم پوهنځي دې نوي رامنځته شي؟. کوم ډیپارټمنټونه دې د پوهنځي کچې ته لوړ شي او کوم پوهنځي دې د ډیپارټمنټ کچې ته راوړل شي.

د مثال په توګه، افغانستان اړتیا لري چې د کمپیوټر داسې پروګرامونه جوړ کړي چې زموږ له شرایطو سره برابر وي، نو د دې مسلک لپاره دې یا داسې ډیپارټمنټونه جوړ شي چې دا ظرفیت په همدې هېواد کې ایجاد شي او یا دې داسې څو پوهنځي منځ ته راشي چې دا کار سر ته ورسوي.

همدارنګه د یوه داسې اسلامي پوهنځي جوړول حیاتي دي، چې وکولی شي افغانان د ځلانده اسلامي تمدن له پېژندګلوي سره پوره اشنا کړي.

زموږ د پوهنتونونو یوه بله ډېره غټه ستونزه دا ده، چې نصاب یې یو ډول نه دی، د انجنیرۍ پوهنځي نصاب امریکایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی او د اقتصاد پوهنځي نصاب یې په زاړه جرمني سیستم عیار شوی دی او په همدې ترتیب د نورو پوهنځیو نصابونه هم په نورو سیستمونو پورې اړه لري.

که موږ غواړو چې د مالیزیا په څېر د راتلونکي لپاره منظم پلان ولرو، نو د عالي تحصیلاتو نصاب باید په داسې توګه جوړ شي، چې ټول پوهنځي په مشترکه توګه وکولی شي د محصلانو تر منځ ملي روحیه، ملي ژمنه او کاري کفایت ایجاد کړي. دا چې په لېسو کې زموږ متعلمین په لازمو امکاناتو سمبال نه دي، دې ته ژور فکر په کار دی او زما په نظر باید یو کال د دوی لپاره اساسي طبیعي علوم، لیکوالي، کمپیوټر، ژبې، تاریخ او کلتوري زده کړې په پام کې ونیول شي.

له بهر څخه د طبیعي علومو لپاره اوس د بعید درس یعني په لاین زده کړه باندې ډېر کم لګښت راځي، خو ټولنیزې او کلتوري زده کړې په خپلو ژبو او هېوادني تاریخ باندې د نه پوهېدو په صورت کې نه شي حاصلېدی، نو په همدې دلیل پر پنځو ژبو باندې له کلتوري لحاظه پانګونه کول ډېره ضروري ده، پښتو، دري، ازبکي، عربي او انګریزي، هغه ژبې دي چې د پورتنیو موخو د تر لاسه کولو لپاره پرې پانګونه حیاتي ده. موږ د یوه نوي نظام په توګه د ډېرو قوانینو لیکلو ته اړتیا لرو او د قانون د لیکلو لپاره اړ یوو چې په هېواد کې د عربي ژبې پیاوړي مراکز ولرو، چې له یوې خوا د دیني زده کړو د حصول او له بلې خوا د قانون د لیکلو لپاره یوازینۍ منبع ده.

همدا ډول پښتو، دري او ازبکي زموږ د هېواد درې عمده ژبې دي او د ملت جوړولو د پروسې عملي کېدل دا غواړي چې په دغو دریو ژبو اساسي پانګونه وشي. د واحد افغان ملي





هویت په دې پېژي کې د دې معنی نه لري چې بویه د دې هېواد واړه قومیتونه له منځه ځي، بلکې د دې برعکس زموږ کلتوري شتمنۍ زموږ د ملي یووالي قوي بنسټ جوړوي، ځکه چې د دې شتمنیو په پیاوړتیا کې به هر افغان هم پر خپل افغاني هویت افتخار کوي او هم به په دې باوري وي، چې د ده مورنۍ ژبه محفوظه او د احترام وړ ده. د دې تر څنګ باید د افغانستان پر نورو ژبو هم څېړنې وشي او د اساسي قانون د هدایت مطابق دې د لوړو زده کړو بنسټونه په دې اړه لازمې هڅې وکړي. لوړې زده کړې باید انسان په درې صفاتو وروزي:

اول دا چې یو انسان باید د لوړو زده کړو په حصول کې د یوه اسلامي او ملي هویت نمونه او مثال جوړ شي، ځکه که یو انسان ډېره لوړه تخنیکي پوهه ولري، خو که له اسلام څخه ناخبر او په قومي تعصب کې غرق وي، نو څه فکر کوئ چې هغه به د یوه ملت او هېواد لپاره څه خدمت وکړي؟

دویم دا چې انسان ته دې تخنیکي پوهه وښیي چې له دې لارې هم خپل ځان ته روزي وګټي او هم هېواد ته خدمت وکړي.

دریم اصل دا دی چې یو تعلیم یافته انسان باید د یوه وطنوال په حیث د خپلو هېوادوالو پر وړاندې تر نورو ډېر خپل وجایب وپېژني او عمل پرې وکړي، ځکه لوړې زده کړې زموږ په هېواد کې د ولس په پیسو تأمینېږي، نو ځکه تعلیم یافته ځوانان اړ دي چې د ولس خدمت وکړي او لازمه ده، چې په ډېره ایمانداري دا پور پرې کړي. تر ټولو مهمه دا ده چې موږ ډېر څه له لاسه ورکړي او اوس زموږ ځوانان مجبور دي، چې په یوه وخت کې ملت، دولت او اقتصاد درې واړه په پښو ودروي او کله چې دا درې مسؤولیتونه پر مخ بیایي، نو په کار ده چې درې

(c) ketabton.com: The Digital Library



واړه پوهې يې حاصلې کړې وي. د داسې يو نصاب ايجادول اړين دي، چې يو انجنير د ملت په جوړولو وپوهوي او همدا ډول يو اديب ته د اقتصاد د جوړولو طريقې ورزده کړي، چې ملت په راتلونکو سلو کلونو کې د دې نصاب روښانه پايله ووينې، نو ځکه بايد د اوسنيو عالي تحصيلاتو په محتوا کې اساسي بدلون راشي.

د هېواد ټول پوهنتونونه بايد په بنسټيزه توګه سمبال شي، چې د اوسنيو مواصلاتي امکاناتو پر مټ د نړۍ له معتبرو پوهنتونونو سره وتړل شي او محصلان وتوانېږي، چې د هغو پوهنتونونو له امکاناتو څخه ګټه واخلي.

د شپې پوهنځي بايد د فعال حرکت په نتيجه کې د ورځې د پوهنځيو په څېر ټول امکانات ولري، ځکه د دولت هغه کارمندان چې د جګړو له کبله ورته د لوړو زده کړو زمينه نه وه برابره شوې بايد په اساسي توګه زده کړې تر سره کړي.

د لېسو هغو فارغانو ته چې پوهنتونونو ته يې د داخلېدو چانس نه دی تر لاسه کړی، بايد بعيد درسونه (په لاين زده کړه) پيل شي او د بانظمه کارکوونکو له خوا دا ترتيب پر مخ يووړل شي، که ځوانان ثابته کړي چې معيارونه يې پوره کړي، پوهنتون بايد شهادتنامې ورکړي.

د پوهنتونونو نصاب بايد په دوو، څلورو او شپږو کلونو تقسيم شي، چې زياترو ځوانانو ته هم د زده کړې او هم د کارکولو زمينه برابره شي. دوه کلن پروګرامونه ډېر مهم دي او د تخنيکي مديريت هغه پوهه په کې تر لاسه کېدی شي، چې د پروژې اړتيا ده. د دې تر څنګ بايد شپږ کلن پروګرامونه هم رامنځته شي چې د ماسترۍ اخيستو لپاره مهم دي، خو موږ د





لوړو زده کړو په خوا کې دا وخت د هغو دوه کلنو کالجونو جوړولو ته هم شديده اړتيا لرو، چې کولی شي د کرنې، اوبو او برېښنا په برخه کې د هېواد په هر ګوټ کې کاري ظرفيتونه لوړ او ګڼ شمېر ځوانان وروزي. نړيوالو تجربو ثابته کړې، چې داسې دوه کلن تخنيکي بنسټونه د کرنې، صنعت او خدماتو د پراختيا لپاره ډېر ګټور ثابت شوي دي.

## ۲- د مېرمنو د زده کړو اهميت:

د اسلام په سپېڅلي تمدن کې مېرمنو ډېر ځلاند رول لوبولی دی، حضرت خديجة الکبرئ (رض) لومړنۍ مېرمن وه، چې د اسلام پر مبين دين مشرفه شوه. حضرت عايشه صديقه (رض) لومړنۍ مېرمن وه، چې د نبوي احاديثو په انتقال کې يې ستره ونډه واخيسته او حضرت بي بي فاطمة الزهرا (رض) د نبي کريم (ص) لور بي بي هم د اسلام له هغو عالي مېرمنو څخه ده، چې ډېرې کارنامې لري.

په غربي نړۍ کې ښځو يوازې په شلمه پېړۍ کې د دې اختيار تر لاسه کړ چې د ملکيت حق ولري، خو څوارلس سوه کاله وړاندې يوه مسلمانه مېرمن د مکې د ښار ستره سوداګره وه. بي بي خديجې(رض) د اسلام په لومړي پړاو کې د حجاز له ټاپوګانو څخه خپل سوداګريز مالونه د نړۍ نورو امپراتوريو ته لېږل. همدا راز په تيموري عصر کې ملکې ګوهرشاد ډېر لوی جايدادونه لرل، چې د عامه تاسيساتو د جوړولو لپاره يې خپل ډېر جايدادونه وقف کړل. د هندوستان په سلطنتي دوران کې سلطان رضيه په دې وتوانېده چې د درباريانو پر وړاندې د اولوالامر په توګه ودرېږي. د امير دوست محمد خان خور د

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغان ـ انګلیس تر هغې جګړې وروسته چې د دې ورور یې له واکه لرې کړ او هند ته یې ولېږه، وکولی شول چې د غازیانو په تشویق او تمویل کې لویه برخه واخلي.

د روښاني نهضت وروستۍ رهبره بي بي عالیه وه، چې په کلونو یې مغول تر فشار لاندې ونیول او په دې یې قانع کړل چې د دې کورنۍ ته لوړ منصبونه ورکړي.

دا چې په ځلانده اسلامي تمدن کې د مېرمنو د زده کړې اهمیت څرګند شوی اوس نوره نړۍ هم په دې عقیده ده چې که مېرمن زده کړه ونه کړي ټولنیزه پراختیا ناشونې ده. په پراختیايي بنسټونو کې اوس دا خبره یوه مقوله ګرځېدلې چې وایي که یو هلک با سواده شي یو نسل ورسره تغیر کوي او که نجلۍ باسواده شي کم له کمه پنځه نسله ورسره مثبت تغیر کولی شي. ځکه مور د اولاد په روزنه کې تر ټولو مهمه ونډه لري او خپل بچي ته له شیدو سره د پوهې او معرفت مینه ترزیقوي. مور خپل ماشوم ته ژوند ښیي، اوبه، جامې او راشه درشه یې تنظیموي.

کله چې مور نیا شي، نو بیا لمسیو ته لارښوونه کوي او که ژوندۍ پاتې شي تر دریم نسله ټول کور پالي، خو دا حقیقي خبره ده چې تر پنځم نسله پورې یې ډېر تاثیرات پاتې وي.

که اړتیا پېښه شي یوه مور له یوې خوا خپل اولاد ته ډوډۍ هم ګټي او له بلې خوا یې سم مدیریت هم کوي. د یوه کورني کلتور په حیث مور همېشه د نسلونو په خاطراتو کې ژوندۍ وي او همدا دلیل دی، چې په یوه اسلامي او افغاني کورنۍ کې د مېرمنو او نارینه وو ترمنځ په متقابل احترام ولاړ اړیکي قایم وي.





دا چې د اسلام په مبارک دین کې د ښځې ملکیت خوندي دی، نو اوس اصلي مسئله د حقوقو نه، بلکې د امکاناتو برابرول دي. په نننی ژوند کې د روزۍ ګټل له ښځو او نارینه وو دواړو څخه غواړي چې کار وکړي، خو له علمي او تخنیکي پوهې څخه علاوه کار کول ناممکن برېښي، که برېښنا تولید شي په اسانۍ سره د وړو نجونو او هلکانو لپاره د ټلویزیون له لارې داسې پروګرامونه جوړېدای شي، چې د هغوی تخنیکي پوهې ته وده ورکړي، برېښنا یوې مور ته هم د دې زمینه برابروي، چې خپل ماشومان په سمه توګه وروزي. که چېرې اخلی پخلی، د کالیو مینځل، د کور جارو کول او نور کارونه چې اوس یې مېرمنې په لاسونو کوي د برېښنا په وسیله تر سره شي، نو مېندې به ډېر وخت وسپموي چې له خپلو اولادونو سره کار وکړي. همدارنګه د مالونو ساتنه، د مېوو وچونه او لاسي کارونه ټول د مېرمنو ځانګړي وظایف دي، چې کورنۍ ورته اړتیا لري، خو له دې کارونو څخه مېرمنې په مستقیمه توګه عایدات نه شي ترلاسه کولی. که غواړو چې د کلیو او ښارونو مېرمنو ته په اساسي ډول عایدات په لاس ورشي، لازمه ده چې په دغو ټولو امورو کې د دوی تخنیکي روزنې ته زمینه برابره کړو.

دا چې په کلتوري لحاظ زموږ مېرمنې نه شي کولی له کوره ووځي او بهر له نارینه وو سره یو ځای کورسونه تعقیب کړي، نو د اوسنیو تخنیکي امکاناتو پر مټ اوس دا چاره ډېره اسانه شوې او د ټلویزیون له لارې هم داسې ډېر امکانات برابرېدی شي، چې د ښځو د تخنیکي ظرفیت په لوړولو کې مرسته وکړي او یا دا چې په کلتوري چوکاټ کې ورته د چټکو زده کړو داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورسونه جوړ شي چې مېرمنې وروزي.

د مثال په ډول، په باميان ولايت کې د روغتيا په برخه کې يوې افغانې ډاکټرې ډېره بريالۍ تجربه تر سره کړه. له بده مرغه په هېواد کې د زوکړې پر وخت موږ ډېر ځله مور او ماشوم له لاسه ورکوو او د ناوړه صحي چاپېريال او لازمو امکاناتو نه لرل ډېر وخت د پنځه کلنۍ مودې ماشومان هم تلف کوي. يوه افغانه ډاکټره وتوانېده چې د يوه کلي مېندې او خوېندې ګانې يې يوه ځای ته راټولې کړې، له دوی سره يې پر له پسې د زوکړې پر مهال د مور او ماشوم په اړه خپلې تجربې شريکې کړې. کله چې سپين سرې مېرمنې د دغو موضوعاتو په اهميت پوه شوې خپلو لوڼو او ننګيانو ته يې اجازه ورکړه، چې ټولې لاړې شي او له نږدې څخه په موضوعاتو ځانونه پوه کړي. د دغو ګټورو بحثونو په نتيجه کې داسې پروګرامونه وضع شول، چې د مېندو او ماشومانو د مړينې کچه يې راټيټه کړه او د خوېندو او ننګيانو تر منځ د دغو پروګرامونو په وسيله مناسبات هم بهتر شول.

له تخنيکي تعليماتو علاوه په لېسو او پوهنتونونو کې پېغلو نجونو ته د داسې زده کړو ترتيب په کار دی، چې په پورتنيو مواردو کې ترې ګټه واخلي او وکولی شي ښې استادانې وي.

په ۱۳۸۵ کال کې په کابل پوهنتون کې د ښځينه محصلانو ۲۰٪ سلنه وه او په ۱۳۸۸ کې د ځينو تخمينونو پر بنياد ۳۰٪ ده، خو موږ بايد د يوې سالمې ټولنې د رامنځته کولو لپاره په ډېره بېړه دا سلنه ۴۰ او بيا تر پنځوسو واړوو، خو مسئله په دې هم نه حل کېږي چې يوازې سلنه لوړه شي، بلکې کوښښ په کار دی





چې مېرمنې د ژوند په هغو ټولو څانګو کې، چې دوی يې غواړي او هېواد ورته اړتيا لري، لازمه برخه واخلي. مګر په روغتيايي چارو کې د مېرمنو ونډه ډېره حياتي ده، ځکه مېرمنې او ماشومان په لويه پيمانه ناروغۍ لري.

د مېرمنو د پوهې بل ډګر مارکېټينګ يا بازار موندنه ده، چې لاسي کارونه، مالداري او زرګري په کې د مېرمنو د عمده عايداتي سرچينو په توګه يادولی شو.

افغانه مېرمن د دې وړتيا لري چې د نړۍ د بل هر هېواد د مېرمنو په څېر تخنيکي ظرفيت پيدا کړي، خو که چېرې د مارکېټ د پيدا کولو سم ترتيب ونيول شي، د دوی لاسي زيار او زحمت به ډېره ښه نتيجه ورکړي او خپلې کاري بېلګې به د نړۍ ټولو بازارونو ته ورسوي، خو دا خبره د يادولو وړ ده چې په اوسنيو شرايطو کې دا ظرفيت او انتقال يې بيا هم په برېښنا، کمپيوټر او ټليفون پورې تړلی دی.

### ۳- تخنيکي پوهه:

موږ په خپل هېواد کې له عجيبو ناخوالو سره مخامخ يوو. له يوې خوا په ميليونونو انسانان د کار په تلاش ګاونډيو هېوادونو ته روان دي او له بله پلوه په پلازمېنه او ځينو ولايتونو کې د عادي تخنيکي کارونو لپاره د همسايه هېوادونو وګړي استخدامېږي.

هر څوک چې کور، مارکېټ، او هوټل جوړ کړي، ژر پوهېږي چې د ساختمان تر جوړېدو وروسته بايد وخت پر وخت د ساختمان او په کې د کارېدلو وسايلو ترميم وشي او په دې توګه موږ هر کال په ميليونونو ډالر پانګه ضايع کوو، خو زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هېواد کې په تخنیکي تعلیماتو اساسي فکر نه دی شوی او ضروري تخنیکي مهارتونه اوس هم یو شاګرد له استاد څخه په کلونو وروسته زده کوي. نجاري، نلدواني او معماري لا تر اوسه هم پلارنۍ پېشه ګڼل کېږي او دا چې په تېرو جګړو کې داسې مهارتونو ته اړتیا نه وه، نو ځکه یې د ماهرینو شمېره هم کمه ده.

مګر اوس له نېکه مرغه د دغو لنډمهالو تخنیکي مهارتونو د روزنې لپاره یوه ډېره بریالۍ نړیواله تجربه شته، چې په شپږ میاشتو کې کېدای شي په لکونو کسان وروزل شي او بیا بیا ورته د داسې تعلیماتو زمینه برابره شي. څرنګه مو چې د ماشومانو او مېرمنو د زده کړو په باب ویل همدا ډول حرفوي تعلیمات د ټلویزیون له لارې هم په اسانۍ زده کېدی شي، خو دا خبره مهمه ده چې له دې کارګرانو څخه دې په شفاف ډول د ازموینې اخیستو طریقه برابره شي او د لومړۍ څخه تر پنځمې درجې دې ورته سندونه ورکول شي، چې بیا د یوه ساختمان مالک په اسانۍ وپوهېږي، چې د استخدام شوي کارګر سویه څومره او په بدل کې یې باید څومره مزدوري ورکول شي.

تخنیکي پوهه یوازې په لومړیو عملي کارونو نه تر لاسه کېږي، ځکه له حسابدارۍ څخه نیولې د وړو پروژو تر مدیریت پورې ټول بهیر تخنیکي روزنه غواړي.

که موږ غواړو چې دا اړتیا پوره کړو، نو لازمه ده چې په لومړي ګام کې له نهم ټولګي څخه تر دولسم ټولګي پورې ډېر شمېر تخنیکي ښوونځي ولرو او د پوهنتونونو په چوکاټ کې داسې دوه کلن پروګرامونه ولرو، چې ډېر استعدادونه د دې کارونو د تر سره کولو لپاره په سمه توګه وروزي.





## ۴- منځنۍ زده کړې:

د یوې ټولنې د اقتصادي پرمختګ معیار په منځنیو زده کړو پورې تړلی دی.

هر څومره چې یو هېواد وده کوي په همغه کچه په کې لومړۍ د منځنیو زده کړو او بیا د لوړو زده کړو اهمیت را څرګندېږي. زموږ د منځنیو زده کړو نصاب باید هم زموږ د لنډمهالو، منځمهالو او اوږدمهالو شرایطو سره سم او هم د نړیوالو تجاربو په اساس را منځته شي، چې درې برخې په کې ډېرې مهمې دي.

لومړی دا چې د ملي او اسلامي هویت تهداب په منځنیو زده کړو کې ټینګښت مومي. ځکه د یوه ځوان احساسات په همدې وخت کې لوری پیداکوي، چې د دې لوري ځینو دریځونو ته بیا په اسانۍ تغیر نه ورکوي، نو لازمه ده چې په همدې وخت کې په نصاب کې ملي او اسلامي هویت په روښانه توګه منعکس شي او ځوانانو ته د هویت په برخه کې د مؤثرې څېړنې او ودې زمینه برابره شي.

دویم دا چې نړیوالو تجربو ښودلې، چې د منظم عقلاني فکر تهداب الجبر او ریاضي علوم دي، نو د مخه مو ویلي چې د دې علومو په تکامل کې اسلامي پوهانو ستره ونډه درلوده او دا چې موږ یو ځل بیا دا علوم حاصل کړو د منځنیو زده کړو په نصاب کې ورته مهمه ونډه ورکول په کار دي.

په درېیم قدم کې تخنیکي پوهه هغه وسیله ده، چې کولی شي د منځنیو زده کړو یو فارغ د ټولنې با اهمیته غړی کړي او په نصاب کې د تخنیکي پوهې شمولیت د ښوونځي فارغ ته دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چانس ورکوي چې په ټولنه کې مؤثر فعالیت وکړي.

موږ باید د خپل هېواد ترڅنګ د نورو هېوادونو له ترخو تجربو څخه مثبت درس واخلو. په ډېرو وروسته پاتې هېوادونو کې منځنۍ زده کړې ډېر ځله د ځوانانو د وخت د ضایع کېدو او د دوی تر منځ د بېلابېلو تعصباتو د پیدا کېدو زمینه برابروي.

په میلیونونو ځوانان بې له دې چې با اهمیته پوهه ترلاسه کړي، د ژوند پنځه کلونه یې د دې زده کړو په ټولګیو کې تیرېږي. پر کمیت او تعداد بې له دې چې کیفیت او اهداف په پام کې نیول شوي وي، زوراچول د نوي نسل غولول دي او دا تباه کوونکې چاره باید تر سره نه شي.

## ۵- لوړې زده کړې:

انسان یوازینی مخلوق دی، چې ماشوم یې د ډېرې مودې لپاره روزنې او پالنې ته اړتیا لري. انسان ډېرې فطري غریزې لري، خو د زده کړې رول ورته د خاص اهمیت وړ دی او دا اهمیت په لوړنیو زده کړو کې څرګندېږي. د ماشوم ذهن ډېر مستعد وي او کولی شي هر څه په ډېره اساسي توګه زده کړي چې یو مثال یې د ژبې زده کړه ده.

د پاخه عمر کس به یوه ژبه یا په اسانه او یا په سخته توګه زده کړي. مګر هېڅکله به هم په هغه صلابت او مهارت ونه غږېږي چې لازمه وي، مګر یو ماشوم هره ژبه د مورنۍ ژبې په څېر زده کوي.

د ماشوم په استعداد او وده باندې چاپېریال درونند اغېز پرېږدي. پخوا به د ماشوم وده د استاد په خوارۍ او زحمت پورې منحصره ګڼل کېده، خو اوس د استادانو د کاري کیفیت





ترڅنګ دا خبره هم مهمه ده، چې ماشوم په څه ډول محیط کې ژوند کوي. پخوا چې به د کلیو هلکان په ښاري پوهنتونونو کې وروزل شول، نو بیا به کلیو ته نه ستنېدل، ځکه کلیو د ژوندانه ډېر ابتدایي اسباب درلودل او هلکان به په ښارونو کې مېشتېدل. اوس موږ ته په هېواد کې د متوازن انکشاف راوستل لازمي دي او موږ باید په هغو سیمو باندې چې په تاریخي لحاظ یې تریخ ژوند درلود پانګونه وکړو او داسې پراختیا ورکړو چې د ژوند تېرولو لازم امکانات پیدا کړي.

زموږ په هېواد کې د دولتي مکتبونو تر جوړېدو د مخه چې لومړۍ یې حبیبیه لیسه وه. جوماتونه، مدرسې او صوفیه طریقې د علم د حصول مراکز وو. دا دود عام و چې یو مستعد ماشوم به لومړی د کلي له ملا صاحب سره لومړنۍ زده کړې کولې او تر هغه وروسته به د علم په تلاش ولسوالۍ، ولایت، پلازمېنې او بهرنیو هېوادونو ته تلو.

ډېر داسې افغانان وو چې د درس د حصول لپاره یې ځانونه بخارا، بغداد، مکې معظمې او مدینې منورې ته رسولي وو. تر دې وروسته چې کله د عصري زده کړو محدود مراکز جوړ شول د عنعنوي تعلیماتو فارغانو به د ۲، ۵ او ۷ ټولګیو ازموینې په یوه ځل ورکړې او په ښوونځیو کې به شامل شول، مګر په دې پېړۍ کې د برېښنا، ویډیو او ټلویزیون شته والی او له بلې خوا په کلیو کې د با سویه مشرانو موجودیت د ماشومانو او مېرمنو د روزنې چاره تر ډېره اسانوي.

په فزیکي توګه د ښوونځیو جوړول ډېر مهم دي، مګر معلم، نصاب او درسي وسایل تر دې هم د اهمیت وړ دي، چې د ماشوم د ودې لپاره هر اړخیزه زمینه برابره کړي، نو ځکه لازمه ده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ د درس د ورکړې او زده کړې په شيوه کې سم تغيرات راشي. د محدودو کتابونو زده کړه د ماشوم له ودې سره ډېره مرسته نه شي کولی، که امکانات پراخ شي ماشومان کولی شي داسې مضامين په انټرنېټ کې هم ومومي، مګر د ماشوم د افاقي پوهې لپاره دا اړينه ده، چې هغوی ته د پوهې سرچينې په ګوته شي او اصلي تمرکز د ماشوم پر فکري وده باندې را ټول شي، چې وکولی شي خپل راتلونکی د پوهې له حصول سره وتړي، ځکه د ماشوم د جذب قوه پياوړې ده او د فکري ودې لپاره يې بايد کمپيوټر په اختيار کې ورکول شي.

په نړيوال مارکيټ کې د کمپيوټر بيه ورځ تر بلې په ټيټېدو ده. دا ارزاني کولی شي له يوې خوا سبب شي چې د بېوزلو هېوادونو ماشومانو ته کمپيوټر ورسېږي او له بله پلوه د پرمختلليو او وروسته پاتې هېوادونو د ماشومانو د امکاناتو تر منځ توپير کم کړي.

که موږ غواړو چې د امکاناتو د شته والي په لحاظ هغه ۱۵۰ کاله چې له لاسه مو وتلي، جبران کړو، نو لازمه ده چې د خپلو ماشومانو وده د يوه حياتي لومړيتوب په توګه په پام کې ونيسو، چې د هوسا راتلونکي زمينه ورته برابره شي.

د يوه ماشوم سويه د کورنۍ له پاملرنې علاوه نه شي لوړېدای، نړيوالو تجربو ښودلې چې کله ميندې د ښوونې او روزنې په بهير کې مستقيمه ونډه واخلي د ماشومانو سويه ډېره لوړېږي. په نيپال کې چې اقليمي او جغرافيايي شرايط يې زموږ له هېواد سره اړخ لګوي، ميندو او پلرونو د لومړنيو زده کړو په تمويل او اداره کې فعاله ونډه واخيسته.

له ابتدا څخه د ماشومانو لپاره د سپورټ ټولنې جوړول هغوی ته د مشرتابه او ټولنيزې همکارۍ رازونه وربښيي، د دې





موخې د تر سره کولو لپاره موږ د ملت په حيث اړ يوو، چې د ابتدايه زده کړو معلمانو ته د هوسا ژوندانه شرايط برابر کړو، ځکه د دوی نظريات پر نسلونو باندې په مثبت او يا خدای مه کړه په منفي توګه ډېر اغېز کوي.

## ۲- کرنېزې زده کړې:

په نړۍ کې کرنه د يوې پوهنې په توګه پېژندل کېږي، مګر زموږ په عنعنوي ټولنه کې دا يوه داسې عنعنه ګڼل کېږي چې له اسلافو څخه اخلافو ته په ميراث پاتې کېږي او د تېرو نسلونو د تجاربو هغه تسلسل بلل کېږي چې راتلونکي نسلونه ترې ګټه اخلي.

زموږ د ټولنې دا تصور هم سم دی، چې څرنګه په عنعنوي توګه خلک پوهېږي چې په کومو موسمي شرايطو کې کوم حبوبات، مېوې او سبزيجات وده کوي، مګر د دې حقيقت تر څنګ بايد په دې مفکوره کې يو څه بدلونونه هم رامنځته شي. څرنګه چې نور علوم د پرمختګ او بدلون په حال کې دي، کرنه هم د بدلون او پرمختګ په حال کې ده. که چېرې يو بزګر عصري وسايل او نوې پوهه ونه لري، نو په مؤثره توګه نه شي کولی له خپلې ځمکې څخه بنسټيزه ګټه واخلي.

زموږ په هېواد کې پېړۍ پېړۍ، وړاندې خلک د کرنې پر اهميت پوهېدل. په ۹۲۱ هـ ق کال د هرات په ښارکې قاسم بن يوسف ابو نصر هروي د ارشاد الزراعه په نامه يو ستر کتاب وليکه. د دې کتاب په يوه برخه کې راغلي دي: "هر هغه بزګر چې په يوه فصل کې له خپلې ځمکې زر منه حاصل اخلي او د لټې په وجه نهه سوه منه تر لاسه کړي، لازمه ده چې د سل منه ضايع شوي غلې په اړه چې د خلکو له لاسه ووته ترې پوښتنه وشي."

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چېرې په یوه هېواد کې د بزګر پر وړاندې داسې حسابي چلند وي، نو په ټولنه کې به هرومرو د کرنې او حاصلاتو په برخه کې ښه تاثیر ولري.

ښکاره خبره ده، چې دا د کرنې د اهمیت ستر ثبوت دی چې یوه هېواد ورته په خپلو لومړیتوبونو کې ځای ورکړی دی. موږ به په راتلونکي فصل کې د کرنې په اهمیت تفصیلي بحث وکړو، خو دلته به یوازې دومره ویل بس وي چې د کرنې وده بې له دې چې دولت پرې منظمه پانګونه وکړي او بزګر ته په اساسي توګه د کرنې د علم او پوهنې سمه زمینه برابره کړي په رښتینې توګه پرمختګ او حرکت نه شي کولی.

په هرې ولسوالۍ او یا لږ تر لږه په ولایتي مرکزونو کې باید د خاورې نقشې موجودې وي او بزګران وپوهول شي چې د دوی ځمکه څه ځانګړنې لري او کوم فصل څومره اوبه خور ته اړتیا لري.

زموږ په کرنیز کلتور کې فصلونو ته زیاتې اوبه ورکول رایج دي، خو که بزګر ته دا قناعت ورکوو، چې فصلونه څومره اوبو ته اړتیا لري، نو په کار ده چې یوازې په توصیه ورکولو اکتفا ونه شي، بلکې عملي روزنه ورکول شي. همدا ډول بزګر باید وپوهېږي چې په مارکیټ کې کوم جنس څه نرخ لري او که دی د منځمهاله مودې لپاره داسې نباتات کري، چې څلور تر پنځو کلونو وخت نیسي، نو په دومره موده کې به په بازار کې د نرخ او تقاضا په برخه کې څه تغیرات راشي. په ډېرو هېوادونو کې داسې شوي چې څو سوه بزګرو یوه مېوه عرضه کړې او چې کله د نورو له خوا د عرضې کچه لوړه شي، نو نرخونه دومره پرېوځي چې د ټولو ملاوې ماتې کړي. په چین کې یو ځل مڼې ګرانې





شوې، نو په میلیونونو بزګرانو مڼې تولید کړې چې په پایله کې یې نرخ را پرېوت او ټولو تاوان وکړ.

که د خپل هېواد شاړو ځمکو ته وګورو نو سملاسي باید لاس په کار شو، د خپلو ځمکو د ښېرازۍ لپاره په ډېر غور د عملي او علمي پوهې زمینه برابره کړو او خپل ولس داسې سمبال کړو، چې کرنه مو د اقتصادي ودې او د کار پیدا کېدلو سیله وګرځي.

## ۷- سپورټي پوهنه:

له صدر اسلام څخه په دې خبره ټینګار کېږي، چې (سلیم عقل په سالم بدن کې وي) د سالم وجود او سلیم عقل په ساتنه کې سپورټ ډېر مهم رول لري.

زموږ د ټولنې لویه برخه ځوانان دي. د ښوونځي تر درسونو وروسته ورته د سپورټي امکاناتو نشوالي د سپورټ د تفریح ډېره لږه زمینه برابره کړې ده، نو ځکه دولت او ټولنیزو سازمانونو ته په کار دي، چې د سپورټ وده د دوی د پروګرامونو او اهدافو په سر کې وي.

په اوسنیو شرایطو کې سپورټ له یوې خوا د شتمنۍ پیدا کولو او له بلې خوا د ملي شهرت د تثبیت وسیله ده. هغه وخت چې افغان کرکټ لوبډلې د نړۍ مهمې سیالۍ وګټلې، نو د هېواد خلکو په ډېر جوش او خروش د دوی استقبال وکړ، او د ۲۰۰۸ کال د المپیک په سیالیو کې، چې د کابل ښار یوه ځوان روح الله نیکپا مډال وګټاته نو کابلیان یې په ډېر ویاړ مخې ته ورغلل او د یوې سترې ملي خوشحالۍ باعث شول. که چېرې دا د خوشالۍ خبره ده، نو لازمه ده چې په ټولو عنعنوي او ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ز- د وطنوالو حقوق او وجایب:

یو معاصر دولت هغه وخت مؤثرېږي، چې د اتباعو حقوق او وجایب یې معلوم وي او عملي بڼه غوره کړي. د یوه هېواد د اوسېدونکو په وجایبو باندې مخکې غږېدلي یو، چې پر قانون پابندي، د مالیې ورکړه، د عامه پانګو ساتنه، له تعلیماتو څخه مثبته ګټه اخیستل او د دولت د مشروعیت منل دي.

د وطنوالو حقوق په عمومي توګه په دوه برخو وېشلی شو، چې یوه برخه یې مثبته او بله یې منفي ده. که وطنوال له خپلو روا حقونو څخه ګټه واخلي، نور ولس ته یې ضرر نه رسېږي. په دې حقوقو کې د ملکیت ساتنه، زده کړه، او د حرکت ازادي شامل دي، چې د ګټې اخیستلو په صورت کې یې قانون لاټینګیږي او د ثبات لمن پراخیږي.

بله برخه هغه حقوق دي، چې که چېرې یې په اخیستلو کې محدودیت په پام کې ونه ساتل شي، نو یوه ډله خلک یې اخلي، خو بله ډله زیانمنوي. د مثال په ډول، که چېرې د یوه کلي ترمنځ یو کاریز وي او یا د اوبو لښتی وي، د هغه کلي خلک حق لري، چې ګټه ترې واخلي، مګر که د استعمال طریقه د اسراف خواته لاړه شي او لازم محدودیت په پام کې ونه نیول شي، نو د لاندې پرتو کلیو د خلکو فصلونه ترې پاتې کېږي او زیانویني. د اوبو د تقسیم په برخه کې بیا هم ابوالقاسم هروي ته مراجعه کوو چې هغه په خپل ځانګړي کتاب (طریق آب قلب) کې دا څرګنده کړې، چې د اوبو د تقسیم معیارونه باید ټاکلي وي او ټول بزګران پرې وپوهېږي، چې له شخړو او جنجالونو څخه مخنیوی





سپورټونو له بزکشۍ نه نیولې تر نېزه بازۍ پورې پانګونه وشي او د فعالیت ساحه یې پراخه شي. سپورټ له ښوونیزو بنسټونو سره تر ټولو کلکه اړیکه لري، نو په کار ده چې له لومړنیو زده کړو څخه تر لوړو زده کړو پورې د سپورټي امکاناتو په برابرولو کې لازم اقدامات وشي.

سپورټ کومه بې ځایه پانګه نه ده. د ځوانانو د افکارو او جسمونو ساتنه د هېوادونو حیاتي اړتیا ده. زموږ په ټولنه کې له یوې خوا د نشه یي توکو استعمال او له بله پلوه بې روزګاري هغه بلاوې دي، چې ځوانان له کاره باسي او بې کاره ځوانان هم د خپل ځان او هم د ټولنې لپاره ستر خطر ګرځېدی شي.

خو تجربو ښودلې، چې داسې ډېر خطرونه د سپورټ په وسیله کمېږي. دا چې یو دولت د معتادو ځوانانو په علاج پیسې لګوي، زما په فکر باید لومړی د دې په وقایې پیسې ولګوي او سپورټ دی، چې داسې وقایوي عملیه یې ګڼلی شو. معتاد ځوانان هغو چینجیو ته ورته دي چې هم خپلې غوښې خوري او هم د خپلو کورنیو هډونه شپېلي، خو تر دې خطرناک پړاو دا دی چې په اوس وخت کې له معتادو ځوانانو څخه د ترهګریزو فعالیتونو لپاره هم ګټه اخیستل کیږي.

د سپورټ ټولنو نه یوازې د ځوانانو لپاره د تفریح زمینه برابره کړې، بلکې د ټولنیزې همکارۍ، مشرتابه او ګروپي کار داسې زمینې یې برابرې کړې، چې ځوانان ورته ډېره اړتیا لري. زموږ په ټولنه کې له بده مرغه داسې عنعنه شته، چې وایي په ښوونځي کې د سپورټ په برخه کې لایق شاګردان په درسونو کې نالایق وي او دا د جسمي او فکري فعالیت ترمنځ تضاد دی چې باید لرې کړی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وشي.

اوس یو تخمین موجود دی، چې وایي د اوبو د تقسیم پرسر کړکېچونو د بشریت د پرمختګ مخه نیولې، او شاوخوا ۱،۱ میلیون وګړي یې په ورځ کې د څښاک د یو ګلاس اوبو څخه محروم کړي دي.

د دې حقونو بل مثال د بیان ازادي ده. تر پېړیو وروسته ولسونو د خبرو کولو، نظریاتو وړاندې کولو او لوستلو ازادي ترلاسه کړه. تر نولسمې میلادي پیړۍ پورې ډېر اروپایي حکومتونه مستبد وو او په شلمه میلادي پېړۍ کې هم په المان، ایټالیا، شوروي او سویلي اروپا کې د بیان پر ازادۍ سخت بندیزونه وضع وو. که شمالي امریکا او اروپایي اتحادیې ته وګورو د بیان د ازادۍ ممثلین دي، خو د ازادي محدودیتونه لري او یو وګړی نه شي کولی له دغه حق څخه په ګټه اخیستلو د نورو وګړو وقار، ژوند او ګټې په خطر کې واچوي او که داسې عمل وکړي، نو بیا د قانون له مخې جرم ګڼل کیږي.

له همدې کبله، د نړۍ مشهورې ورځپاڼې که کله د یوه شخص پر وړاندې په کومه لیکنه کې اتهامات وارد کړي د قانونپوهانو په وسیله تر څېړنې لاندې نیول کېږی او که قانون صلاحیت ورکړي، نوخپاره یې کړي او که وپوهېږي، چې د نشر حق یې نه لري له خپراوي یې ډډه کوي؛ خو له بده مرغه په هغو هېوادونو کې، چې د بیان ازادي په ناڅاپي ډول منځته راشي هلته بیا ډېر وخت بې له سمې څېړنې د ټولنې په مختلفو خلکو تورونه لګول کېږي. او بې له دې، چې غور وشي نشر ته سپارل کېږي. په داسې وخت کې ډېره حوصله پکار ده، ځکه له یوې





خوا باید دا ګټور اصل تأمین شي او له بله پلوه باید په څو مرحلو کې په قانوني توګه د دې بهیر په سمولو او قانوني کولو یوه اجماع منځته راشي.

یو دولت هغه وخت اغېزمنېږی، چې د خلکو د حقوقو او وجایبو ترمنځ تعادل راولي. د تعادل د رامنځته کېدلو او د ملي یووالي د ټینګښت لپاره په تجربو ثابت لاندې څو اصول باید په پام کې ونیول شي:

## ۱ - سیمه ییز تعادل:

جغرافیایي موقعیت، ځنې وخت، د متوازن انکشاف پروړاندې ستر خنډ ګرځي. په هغو هېوادونو کې، چې نامتوازنه پراختیا جریان لري د پلازمېنې او یا څو مهمو ولایتونو په ساحه کې ګړندي کارونه پرمخ روان وي، خو په جغرافیایي لحاظ په لرې پرتو سیمو کې بیا د پراختیا کار نه کېږي، زموږ په هېواد کې هم جغرافیایي خنډونه څو مهم اړخونه لري، چې پاملرنه غواړي.

سرحدي ولسوالۍ زموږ د ملت د ثبات، پرمختګ، ملي یووالي او ملي هویت ساتندوی دي، که د دې ولسوالیو اوسیدونکي پوه شي، چې دوی ته د افغانستان د نورو خلکو او حکومت توجه ده او د دوی د پراختیا لپاره پلانونه لري، نو په هغه صورت کې ملي تړون ټینګ دی او سرحدونه مصؤون دي او که د دې برعکس هغوی ته توجه ونه شي، نو فکر کوي، چې د دویمه درجه اتباعو په توګه ورسره برخورد کیږي او په هغه وخت کې بیا سرحدي مصؤنیت تخریبیږي.

غرني ولایتونه بله جغرافیایي ستونزه ده، چې د تاریخ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوږدو کې ورته د متوازن انکشاف په برخه کې هېڅ پام نه دی شوی او دا، چې د افغانستان ډېر قومونه په غرونو کې پراته دي ددې، نو ستونزې د هواري په موخه باید دولت د متوازنې پراختیا په برخه کې دغه سیمې په خپلو لومړیتوبونو کې شامل کړي؛ ځکه له نورو سیمو سره یې د نسبي توازن جوړولو لپاره مؤثره پانګونه پکار ده. دا چې دا یوه مهمه مسئله ده ډېر غور او بحث غواړي، چې د پراختیا لپاره یې څرګند معیارونه په ګوته شي.

له نېکه مرغه، زموږ په غرنیو سیمو کې طبیعي پانګه پرته ده، چې په ځانګړي ډول یې معادن او اوبه موږ ته ددې هیله راکوي، چې که کار په کې وشي، نو په ډېر لږ وخت کې به دغه سیمې ډېره ښه وده وکړي.

د متوازن انکشاف د راوستلو لپاره په حلقوي سړک باندې د یوه هېواد ټولې سیمې تړل هم تر ډېره بریده بریالۍ لاره ده او د دولت د لومړیتوبونو اساسي رکن ګڼل کېږي.

## ۲- د ځانګړې پاملرنې وړ قشرونه:

په هره ټولنه کې داسې ځانګړي ټولنیز قشرونه شته، چې که پام ورته ونه شي د ژوندانه وضعه یې خرابېږي.

په هغو ټولنو کې، چې ټینګ ټولنیز تړون رامنځته شوی دولت مکلف دی، چې د داسې قشرونو د ساتنې او روزنې لپاره یو لړ مسؤولیتونه په غاړه واخلي.

که څه هم د داسې مسؤولیتونو اخیستل امکانات غواړي، خو دا چې نن د دولت امکانات غلا کېږي، نو څنګه به وکولی





شي، چې د فقیرو طبقو پر وړاندې خپل وجایب ترسره کړي؟
زموږ په هېواد کې زیاتره خلک فقیران دي او ډېر یې بیا د جګړو له کبله معذور شوي دي او د وجود اندامونه یې له لاسه ورکړي دي، خو لا تر اوسه پورې هم موږ د مصنوعي اندامونو د جوړولو لپاره کوم ترتیب نه لرو.

په امریکا کې د مصنوعي اندامونو تیارول ډېر ګران دي، خو د هندوستان په جیپور نومې سیمه کې بیا په څلوېښت ډالره مصنوعي پښه جوړېږي، چې د ښه کیفیت له کبله یې نړیوال شهرت ترلاسه کړی دی. د هند په څېر دغسې ارزانه مصنوعي اندامونه زموږ د ټولنې ډېر مفلوج انسانان پر پښو درولی شي.

همدا راز باید زموږ په طبي نصاب کې د دا ډول زده کړو لپاره خاص اقدامات وشي او د معلولینو د مرستې لپاره په کار ده، چې د اختصاصي مرستو ځانګړي امکانات برابر کړای شي.

کونډې او یتیمان زموږ د ټولنې بل هغه بې وزله قشر دی، چې ځانګړې پاملرنه غواړي. د یوه تخمین له مخې یوازې په کابل ښار کې پنځوس زره کونډې دي او په لسګونو زره داسې یتیمان دي، چې له شپږ کلنۍ څخه د شلو افغانیو په پیدا کولو پسې د ښار په واټونو کې سرګردان ګرځي او کوښښ کوي، چې خپلې کورنۍ ته نفقه پیدا کړي.

څلور کاله وړاندې ما د فرانسې د ماشومانو په نوم د شلو هغو افغان ماشومانو لیکونه ولوستل، چې د یوې افغاني مؤسسې له خوا ورته د لیک-لوست د زده کړې زمینه برابره شوې وه. په دې لیکونو کې د نبستې هغه انځورو، چې فقیرو افغان ماشومانو د فرانسې د ماشومانو لپاره کښلي و. دا په داسې حال کې، چې د افغانستان د دولت په سونو میلیونه ډالر

(c) ketabton.com: The Digital Library



د څو زورواکانو جېبونو ته لوېږي او د غه فقير ماشومان د ويجاړ ښار په کوڅو کې سرګردان ګرځي، چې خپلې نهيلۍ او رنځورۍ مور او ماشومو خوېندو ته يوه مړۍ ډوډۍ پيدا کړي. دا د يوه معاصر دولت او يوه بادرده ملت دنده ده، چې خپل وجدان ته په مسؤوليت د داسې بې وزلو ماشومانو د راتلونکي لپاره لازم فرصتونه برابر کړي او د مينې په غېږ کې يې ونيسي. هره هغه افغان کورنۍ، چې يا په بهر کې او سېږي او يا يې دلته ژوند هوسا دی کولی شي، د يوه ماشوم د روزنې مياشتنی لګښت په غاړه واخلي.

هغه نړيوالې مرستندويه مؤسسې، چې د داسې بېوزلانو لپاره مرستې ترې ترلاسه کيدی شي، بايد وهڅول شي، چې خپلې هلې ځلې لا ګړندۍ کړي، خو داسې نه لکه اوس چې د کابل ښار د دغې برخې مسؤولين له دغو مؤسسو نه لومړی رشوت غواړي او بيا ورته د بې وزلو د خدمت کولو اجازه ورکوي، چې په دې عمل سره د نړيوالو په وړاندې زموږ د هېواد اعتبار ته درنه صدمه رسوي.

کونډې بايد د دغه هېواد د ناموس حيثيت ولري، ځکه دا د هغو شا زلميانو مېرمنې وې، چې د وطن د ازادۍ د ساتنې لپاره يې ځانونه قربان کړل. د يتيمانو په څېر دوی ته هم داسې پروګرامونه جوړول لازمي دي، چې کار ورته پيدا کړي او که رنځورې يا معذورې دي، نو د دولت جدي مسووليت دی، چې د مرستې امکانات ورته برابر کړي.

## ۳- د ټولنې فقير قشرونه:

د ټولنيزې پراختيا په برخه کې بايد د دولت تر ټولو مهمه





موخه د فقر او بې وزلۍ له منځه وړل وي، ځکه نبي کريم (ص) فرمايي، چې خدای (ج) مو له فقر څخه وساته، چې فقر انسان کفر ته نږدې کوي. د نړيوالو معيارونو پر اساس زموږ د هېواد ۸۰٪ خلک له شديد فقر سره مخ دي. فقر قوم، ژبه، مذهب او سيمه نه پېژني. زموږ ټولنه نه شي کولی، چې له يوه ستر ټولنيز کوښښ نه پرته د بې وزلۍ سپېره ټغر ټول کړي.

د شوروي يرغل پر وړاندې د افغان مېړني مقاومت پر مهال زموږ د خلکو شتمنۍ تباه شوې او ډېر مجاهدين ورونه د معذوريت او معلوليت ترڅنګ د نېستۍ د بلا خولې ته ولويدل. اوس زموږ د دولت دنده ده، چې هم د بې وزلو مجاهدينو او هم د نورو ورونو خويندو په ژوند کې بدلون راولي، خو دغه کار د اقتصادي تحرک او د کاري زمينو له ايجاد څخه پرته نه ترسره کېږي. هيله ده، چې په دې فصل کې مو لوستونکو ته د اغېزمنې دولتدارۍ هغه اصول او معيارونه په ګوته کړي وي، چې پر اساس يې وکولی شي د اغېزمنو او بې اغېزو پاليسيو ترمنځ توپير وکړي.

د دې کتاب په راتلونکي فصل کې به دا په ګوته کړو، چې د خلکو خصوصاً ځوانانو لپاره څنګه د کار فرصتونه ايجاد بدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځم فصل:

# اقتصادي رغونه او د کاري زمینو ایجاد

زموږ په جګړه ځپلې ټولنه کې درې عددي اکثریتونه شته چې له سیاسي او اقتصادي لحاظه په اقلیت کې شمېرل کېږي. دا عددي اکثریتونه په لاندې ډول دي:

۱- **ځوانان**: د دې هېواد غوڅ اکثریت ځوانان دي او د هرې ورځې په تېرېدو یې شمېره لوړېږي. خو د کار هیڅ زمینه ورته مساعده نه ده.

۲- **فقیران**: فقر قوم، ژبه، سمت او سیمه نه پېژني.

۳- **مېرمنې**: دا هغه خاموش مظلوم اکثریت دی چې د کور درانه کارونه یې ترغاړې دي، خو دا چې نبغ په نبغه یې عواید لاس ته نه راځي نو ټولنه یې تیار خوري او بې کاره ګڼي او کارونو ته یې په درنه سترګه نه کتل کېږي.

په اقتصادي لحاظ باید دا درې عددي اکثریتونه په پیاوړي اکثریت بدل شي. د دې هېواد هر بې وزله، ځوان او مېرمن باید له بشپړ اقتصادي ځواک سره خپل ځانونه د افغانستان مالکان وبولي او په دې ډاډه شي چې د دې ټاټوبي راتلونکی د دوی په لاس کې دی. د دې موخو د ترلاسه کولو لپاره باید موږ د دولت، اقتصاد، ټولنیزو تشکیلاتو او ولس ترمنځ په اړیکو کې





بنسټیز تحولات راولو، چې د افغانستان ټولو وګړو ته د یوه باعزته ژوند د برابرولو اصلي موخه ترلاسه شي. دا فصل له تېر فصل سره د زنځیر د کړیو په ډول تړلی دی، ځکه زموږ باور دا دی چې بې د یوه معاصر او اغېزناک دولت له شتوالي یو متحرک اقتصاد نه شي را منځ ته کېدی، نو ځکه هغه اصلونه چې په دې فصل کې پرې بحث کوو په تېرو فصلونو کې مو ور ته اشاره کړې ده. د متحرک اقتصاد څو لازمې برخې په دې ډول دي:

## الف- د دولت رول:

زموږ د ملي موخو د حصول لپاره کم له کمه باید دولت په څلورو برخو کې دندې اجرا کړي:

### ۱- د مساعد چاپېریال تیارول:

د دولت تر ټولو مهمه دنده د قانون ساتنه ده. ازاد بازار په متحرکو اقتصادي نظامونو کې د قانون تر سیوري لاندې معاملات ترسره کوي، ځکه چې په انساني معاملاتو کې همېشه د ورو او غټو جنجالونو د را منځته کېدو وېره شته، نو دولت د یوه عادل قاضي په توګه اړ دی، چې د را پېښو جنجالونو د لرې کولو لپاره مساعد چاپېریال برابر کړي.

که یو شتمن وغواړي چې په هېواد کې پانګونه وکړي، نو لومړی اندېښنه به یې دا وي، چې د ده پانګه به په **۵**، **۱۵** او یا **۲۰** کلونو کې څومره ګټه وکړي.

که د حکومتونو له تغیر سره ټاکلي قوانین او مقررات پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای وي، نو شتمن به باوري وي چې تاوان نه کوي او که د نظام له بدلون سره مقررات او قوانین هم تغیر کوي، نو بیا پانګوال کوښښ کوي چې له والي او ولسمشر سره روابط قایم کړي او ضوابط تر پښو لاندې کړي، چې په پایله کې د سالمې سیالۍ پر ځای د رشوت خورۍ بازار ګرم او د متحرک اقتصاد پر ځای تورې معاملې را منځته شي.

د ملکیت د حقونو خوندي ساتل د قانون د حاکمیت یوه بله ډېره ستره برخه ده، چې پر اقتصاد مستقیم اغېز لري. د کور، پټي، بانکي حساب، فکري اختراع او نورو جایدادونو ساتل د ملکیت د حق مهمې برخې دي. هر څومره چې د دې حقوقو ساتنه کمزورې وي او اداري فساد د خلکو حقوق ولوټي، په هماغه اندازه اقتصادي وده سسته او له زوال سره مخ وي.

په اوسني وخت کې یې ژوندی مثال د کابل ښار دی، چې د میلیونونو انسانانو د ملکیت حق پکې خوندي نه دی.

د عرف له مخې د ښار اوسېدونکو په هغو ځایونو کې کورونه جوړ کړل، چې د ښاري ماستر پلان په ساحه کې د کور جوړونې لپاره نه وو تعین شوي او دا چې دغه کورونه شرعي قبالې نه لري، نو د معاملاتو په برخه کې له ستونزو سره مخ دي او هغه قبالې چې په جعلي توګه جوړې شوي په هغو باندې هم ګرمې دعوې روانې دي چې د ټولنې ډېر معتبر خلک هم په کې ښکېل دي او دې چارې د کابل د قاضیانو او عدلي مامورینو غوا لنګه کړې ده او په لکونو ډالره په رشوت ورکولو کې لاندې باندې کېږي.

په همدې رشوتونو ورکولو هم ولس د ثابتو حقونو حقدار نه شو، خو د دولت د چارواکو جیبونه وپړسېدل او ډېره شتمني یې





له دې لارې پیدا کړه.

که چېرې د خلکو حق په اساسي توګه د دولت له خوا محفوظ وای، نو له یوې خوا به اداري فساد په کنټرول کې وای او له بله پلوه به د اقتصادي ودې په موخه خلکو په جایدادونو پانګونه کړې وای او نتیجه به یې دا وه چې دولت په میلیونونو افغانۍ عواید راټول کړي.

په افغانستان کې په لسګونو داسې کورنۍ شته چې په زرګونو جریبه ځمکه او سلګونو کورونه یې وپلورل او پیسې یې بهر ته انتقال کړې، مګر دې خلکو نه دولت ته په سمه توګه مالیه ورکړه او نه یې د پانګونې په کولو نورو ته د کار زمینه پیدا کړه.

د خلکو د ملکیت د تثبیت په موخه باید داسې با صلاحیته قضایي جوړښت را منځ ته شي چې مدني ټولنې او ولس په کې نېغ په نېغه ګډون ولري او د شخړو د هواري او رشوت د مخنیوي لپاره په اسنادو شفافه څارنه او څرګند بحثونه وشي.

همدارنګه د ټولو اسنادو د ثبت لپاره یو کمپیوټري نظام په کار دی، چې یو وطنوال وپوهېږي چې د جایداد حقوقي حیثیت څومره خوندي دی او د اسنادو د ثبت لپاره اړ نه دی، چې له روابطو او رشوت ورکولو څخه کار واخلي. د لانجو د هواري په موخه لازمه ده چې د بن تر پروسې مخکې چې کومو غریبو خلکو د کابل ښار په ځینو سیمو کې کورونه جوړ کړي هغوی ته دې قانوني اسناد ورکړل شي. د کابل ښار د چهل ستون، دشت برچي او نورو سیمو اوسېدونکو په دې اړه ډېر غوره پېشنهادونه وړاندې کړي وو، چې د ټول ښار د اوسېدونکو ستونزو ته یې حل لار پیدا کولی شوای او هم یې لازم

(c) ketabton.com: The Digital Library



تسهيلات، لکه سړک، اوبه، برېښنا او نور ټول په پام کې وو، مګر دولتي چارواکو پرې غور ونه کړ.

هغه دولتي ځمکې ځانګړی انتظام غواړي چې د ځينو افرادو له خوا په زور نيول شوي او په ځانګړي ډول بايد تر قانوني غور لاندې ونيول شي، خو د ولس هغه بې کوره خلک چې ستونزې لري پر دولت دا حق لري چې په قانوني توګه د هستوګنې د ځای جوړولو ترتيبات ونيسي او د راتلونکو اړتياو لپاره دا لومړی ګام دی.

امنيت د ملکيت د خوندي کولو لپاره لومړی شرط دی. که امنيت نه وي ملکيت نه شي خوندي کېدی، ځکه که په قانون کې ملکيت خوندي هم وي، خو چې ټوپکماران او زورواکان کمزوري خلک اړ کړي او محکمې ته يې کش کړي، چې خپل جايداد په نشت بيه د زورواک او ټوپکمار په نوم ثبت کړي دا د بدرنګې بې قانونۍ او بې امنۍ تر ټولو ستره نښه ده او زموږ خوار ولس ورسره تر لسيزو جګړو وروسته نن هم لاس او ګرېوان دی.

په يوه هېواد کې امنيت په دې نه ټينګېږي چې د چارواکو ساتونکي ډېر شي او د هرې دولتي ودانۍ مخې ته خاردار سيمونه وغځېږي.

د امنيت معيار دا دی چې ولايتي ښارونه دې د ښارونو او کابل دې د پلازمېنې په توګه د خلکو په همکارۍ د ځانګړي امنيت څښتن شي، ځکه که خلک خپل حقونه محفوظ وويني، نو هغه وخت خپل ځان اړ بولي چې د هرې ناحيې د امنيت په ساتلو کې برخه واخلي. د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره دولت اړ دی چې خلک د دولتي مؤسساتو په څارنه کې شريک کړي.





که چېرې هره اونۍ په منظمه توګه خلک وکولی شي، چې د ملکي او نظامي ادارو لکه د ناحيې او حوزې د پوليسو او د ښاري محکمې د رييسانو کارونه په دقيقه توګه بررسي کړي او نور ولس ته يې هم د رسنيو له لارې وړاندې کړي او د مکافاتو او مجازاتو اصل پرې تطبيق شي، نو خلک به په ګرم زړه د دولت دفاع کوي. معلوماتو ته لاسرسی لرل د دې لامل کېږي چې د اقتصادي تحرک او قانون د ساتنې وسيله وګرځي.

په پخوا زمانو کې د معلوماتو ټولول ګران وو، خو لکه څرنګه چې مو د مخه ويلي اوس د نوې ټکنالوژۍ له برکته دا چاره ډېره اسانه شوې ده، خو زموږ بدمرغي په دې کې ده چې د دولت ځينې مامورين له رشوت پرته د دولت دنده نه ترسره کوي.

که چېرې څوک وغواړي چې د برېښنا بېل تحويل کړي مجبور دی چې هم په ساعتونو په کتار کې ودرېږي او هم د برېښنا بعضو مامورينو ته رشوت ورکړي، همدا ډول که يو څوک موټر چلوي بې له دې چې رشوت ورکړي، لايسنس چې قانوني حق يې دی په قانوني ډول نه ورکول کېږي او يا دا چې د ترافيکو له خوا د دوه نيمو زرو افغانيو په بدل کې په يوه دا سې کس لايسنس پلورل کېږي چې هغه د موټرچلوونکی نه وي او د لسګونو انسانانو ژوند هم په خطر کې اچولی شي.

که دولت وغواړي چې د يوه شرکت واردات او صادرات معلوم کړي، نو بايد ګمرک ته ولاړ شي او څېړنه وکړي، خو دلته فساد په هغه اوج کې دی چې په ګمرک کې هم دا معلومات لاس ته راوړل ناشوني دي.

دا چې زموږ په اقتصادي معاملاتو کې هغه شفافيت نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې خلک پرې باور کولی شي، نو په نتيجه کې زموږ اقتصادي وده ورځ تر بلې کمزورې کېږي او د زرګونو کارونو د ايجاد مخه نيسي.

بې له فزيکي زېربنا اقتصادي تحرک نه رامنځته کېږي، خو ټولنيز بنسټونه او خصوصي سکټور کولی شي يو لړ اسانتياوې برابرې کړي. لکه وړوکې برق چې او سمهال په کليو -بانډو کې يا د ملي پيوستون او يا هم د کليوالو په خپل همت رامنځته شوې او کار ترې اخلي، خو د داسې بربښنا په موجوديت سراسري اقتصادي تحرک نه راځي.

که غواړو چې زموږ درې اکثريتونه، ښوزلي، ځوانان او مېرمنې له اقتصادي لحاظه د هوسا ژوند خاوندان شي، خو بې له دې چې زېربنايي پروژې پلې شي دغه کار ناشونی دی. بربښنا، اوبه او ټرانسپورټ د زېربنا اصلي محورونه دي. په نړۍ کې هغه هېوادونه ډېر کم دي چې دا بنسټيز محورونه په کې د دولت له خوا نوي تنظيم شوي وي.

له دې څخه دا په ډاګه شوه، چې که د زېربنايي پانګې اصلي محورونه نه وي جوړ هراړخيزه اقتصادي وده نه شي راتلی، خو د دې تر څنګ بايد دا هم هېر نه کړو، چې زموږ په هېواد کې د بربښنا د توليد دومره امکانات دي چې نه يوازې موږ ته کفايت کوي، بلکې کولی شو پرګاونډيو هېوادونو يې هم وپلورو.

په ځانګړې ډول څلور نورې داسې برخې هم شته چې د دولت سياستونه او پرېکړې په کې په اقتصاد باندې مستقيم اغېز لري.

لومړی بهرنۍ مرستې ترلاسه کول او له هغو څخه په مؤثره توګه کار اخيستل دي.





بهرنۍ مرستې په خپل ذات کې نه مفيده ده او نه مضره. په شرقي اسيا کې له بهرنۍ مرستې څخه ډېره ګټه اخيستل شوې، خو د دې پرعکس په سوېلي اسيا کې دا مرستې ګټورې نه دي ثابتې شوې، نو ويلی شو چې د مرستو مؤثريت د دولت او ټولنې په مديريت او کفايت پورې تړلی دی. که دولت باکفايته وي، نو مرستې ګټه لري او که بې کفايته وي، نو د هېواد درد پرې نه دوا کېږي.

له بهرنيو مرستو څخه د منځمهالي مودې بازار ډېر ګټور دی. د مثال په توګه، که چېرې موږ خپلو مميزو ته د منځمهاله مودې بازار پيدا کړو او په بازار کې يې بيه د کيلو پر سر له ۱۵۰ افغانيو څخه ۲۰۰ افغانيو ته لوړه شي، نو د باغدارانو عوايد به هم ورسره لوړ شي.

موږ بايد د اجناسو د کيفيت په لوړولو هم ټينګار وکړو او هم د بازارياب‍ۍ اصول له پامه ونه باسو، ځکه د مميزو قيمت له يوې خوا د مميز په کيفيت پورې تړلی دی، خو له بلې خوا د هېوادونو په معاهدو پورې هم اړه لري. څو کاله وړاندې هندوستان د افغانستان مميزو ته خاص اهميت ورکړ او په پايله کې يې په دوو کلونو کې هند ته زموږ د مميزو لېږد هم سريع شو، خو دا چې د کيفيت له مخې زموږ مميز بيا هم د نړۍ او سيمې له هېوادونو سره سيالي نه شي کولی، نو ځکه موږ نه شو کولی په بازار کې يې د لوړې کچې په بيه وپلورو او د ۱۵۰ افغانيو پر ځای يې کيلو په ۲۰۰ افغانۍ بازار ته وړاندې کړو. زموږ باغداران لا تر اوسه هم نه دي توانېدلي چې په فني توګه د مميزو د وچولو کار د لازمو تجهيزاتو په وسيله ترسره کړي او سوداګر هم نه دي توانېدلي چې د مالونو د کيفيت په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړولو، د صادراتو د نورم او ستنډرډ د اصولو په تطبيقولو او ګارنټي کولو باندې موافقې ته ورسېږي.

که دا عمليه په مشترکه توګه ترسره شي ډېر ژر به زموږ مميز چين، خليج، اروپا او د امريکا بازارونو ته ورسېږي. هر څومره چې زموږ نړيوال بازار پراختيا ومومي، په هماغه اندازه به هم امکانات ډېر شي او هم به بې روزګاره خلکو ته کاري زمينې په لاس ورشي، نو ځکه وايو چې دولت بايد د خپل اغېز د ثابتولو لپاره بازارونه پيدا کړي.

د يوه باعزته کار ايجادول ډېرې پانګونې او لازمې تخنيکي پوهې ته اړتيا لري، نو ځکه وروسته پاتې هېوادونه اړ دي چې د دغو اهدافو د لاس ته راوړو لپاره بهرنۍ پانګې جذب کړي، خو دا کار اغېزناک دولت، حقوقي چوکاټ او قوي مدني ټولنه غواړي چې له بهرنۍ پانګونې څخه مؤثره ګټه ترلاسه شي.

د يوه هېواد طبيعي شتمنۍ هم په مالي شتمنيو بدلېږي، خو د يوه اغېزناک دولت له موجوديت نه علاوه ستر خطر هم لري، ځکه که سم ترتيب نه وي يو هېواد به په کوټه پيسو خپله طلا له لاسه ورکړي.

په افريقا کې بيا، بيا ليدل شوي چې سترو بهرنيو شرکتو د يوه ميليون ډالرو په رشوت، چې د هېواد مفسدو چارواکو ته يې ورکړي وو د هغه هېواد په سلګونو ميليونه ډالره طبيعي شتمني خپله کړه، مګر د سينګاپور اغېزمن دولت چې طبيعي شتمني يې هم نه لرله وتوانېد، چې په ميلياردونو ډالره بهرنۍ پانګه جذب او په مؤثره توګه ترې ګټه واخلي، نو د يوه دولت لپاره د مؤثريت معيار دا دی چې هم پانګه جذب کړي او هم ورته شرايط برابر کړي چې ولس ترې ګټه واخلي او که چېرې دولت د





اداري فساد په طاعون ککړ وي، نو بيا يې يوه وړه برخه هم د دې لامل کېدی شي چې په مودو، مودو يې تاوان ته ټېل وهي.

د مالياتو او ګمرکونو په برخه کې د دولت مستقيمه پاليسي او پرېکړې پر اقتصادي تحرک ډېر اغېز لري. له يوې خوا د مالياتو شفافه ټولونه بايد د دې باعث شي چې دولت پرې د ولس هغه خدمات ترسره کړي چې ولس يې غوښتونکی وي او له بله پلوه بايد ګمرکي عايدات د دولتي پاليسيو ممد وګرځي.

ملي او بهرنۍ پانګوال ټول د ګمرکي سياست شفافيت ته اړتيا لري. که چېرې په يوه هېواد کې د ګمرکي مالياتو سياستونه په تېزۍ سره بدلون مومي او يا ورسره سليقوي برخورد کېږي. په هغه وخت کې ټول پانګوونکي پوزې ته راځي او غواړي چې خپلې پانګې له هغه هېواده بل ځای ته ولېږدوي او که داسې وشي، نو دا بيا ټولې نړۍ ته په ډاګه کېږي، چې دا هېواد د سمو معاملو توان نه لري.

نن په نړۍ کې هېڅ هېواد د يوې جلا جزيرې حيثيت نه لري، بلکې د هر هېواد مالي او ګمرکي سياست بايد خپلې ملي ګټې د نړيوالو سياليو او معاهدو په چوکاټ کې تنظيم کړي. په همدې ترتيب که يو هېواد د ګاونډيو هېوادونو د بې کيفيته مالونو پر وړاندې بې له دې چې په مقابل کې يې خپلو صادراتو ته امتياز اخيستی وي د خپل هېواد دروازې خلاصې پرېږدي دا په حقيقت کې له خپل ولس سره ستره جفا ده.

## ب- مقررات:

په تېرو پېړيو کې دولتونو پر بازار باندې قيودات لګولي وو. په اروپا کې تر ۱۷ ميلادي پېړۍ پورې د ګلډ په نامه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرګرۍ او اهنګرۍ ټولنې وې او چا نه شوی کولی دا کسب زده کړي. ګلډ دا امتياز درلود چې د کاريګرو تعداد وټاکي او د ټاکلو مقرراتو له مخې به يو شاګرد د استادۍ درجې ته رسېده.

د ازاد بازار اصطلاح لومړی د دې موخې لپاره وکارول شوه، چې شته قيودات له منځه يوسي او خلک د دې حق پيدا کړي، چې په بازارونو کې د مقرراتو پر اساس پر کارونو بوخت شي چې د بازار ازادي له مدني او سياسي حقونو سره اوږه پر اوږه مخ پر وړاندې لاړه شي، نه دا چې د ازادۍ معنی په ګډوډۍ تعبير شي او د بې عدالتۍ ډګر وګرځي، د افغانستان د اقتصادي تاريخ يوه مهمه برخه د اصولي مقرراتو ټاکل کېدل او تطبيقېدل وو. کله چې د اميرامان الله حکومت نسکور شو او وروسته نادرخان واک ته ورسېده. دولتي خزانه خالي وه، خو دولت نه شوای کولی چې د اميرعبدالرحمن له زمانې څخه تر اماني دورې پورې چې څرنګه مؤثره ماليه راټولېدله له خلکو واخلي، نو همغه وو چې د ګمرکونو ماليې ته يې پام شو او فکر يې وکړ، چې څرنګه کولی شي چې د عوايدو دا برخه منظمه کړي.

په دې وخت کې مرحوم عبدالمجيد زابلي چې د روسيې او جرمني له اوضاع سره ډېر اشنا وو، په اقتصادي امورو کې ډېر رغنده نظريات وړاندې کړل او دا نوي نظريات د دولت له خوا ومنل شول، مرحوم زابلي د ګمرک د تېرو دريو کلونو د محصول په اساس د راتلونکو دريو کلونو لپاره دا ذمه واري واخيسته، چې پانګوالو ته يې ځينې ځانګړي صلاحيتونه ورکړي چې انحصارات يې د مثال په توګه يادولای شو.

څنګه يې چې له نوم نه څرګنده ده د يو شمېر عمده اقلامو لکه تېل، چای، بوره او... انحصار د زابلي او نورو سوداګرو په





واک کې ورکړل شو چې دوی د افغانستان د اړتياوړ اقلام د نړۍ او سيمې له عمده مارکيټونو څخه افغانستان ته راوړل او په ټاکلي بيه يې پلورل.

اروانباد زابلي د قره قل د پوستکي تيته سوداګري په ښه اهتمام ترتيب کړه او نېغ په نېغه يې د لندن او نيويارک بازارونو ته د افغانستان د قره قل پوستکي ورساوه. تر قره قل وروسته ښاغلي زابلي د مالوچو سوداګرۍ ته مخه کړه او د افغانستان په شمال کې يې د پنبې کرونده بېرته مروجه کړه او د پنبې د سوداګرۍ ترتيب يې ونيوه، چې په پايله کې يې د لومړي ځل لپاره افغان تاجران له سوداګرو څخه په پانګوال بدل شول، ځکه خورې ورې او بې ترتيبه پيسې يې راټولې او متمرکزې شوې. دا کومه لاشعوري پروسه نه وه، بلکې د مرحوم زابلي موخه دا وه چې سرمايه متمرکزه کړي، د مرحوم زابلي دوه نور ستر کارونه هم د يادولو وړ دي چې يو يې د ملي بانک تاسيس و، د ملي بانک په جوړولو کې د هرات سوداګرو ستر رول ولوباوه او هېواد يې د دې جوګه کړ، چې په نړيوالو اقتصادي معاملو کې مستقيمه ونډه واخلي.

بل کار يې دا و چې د افغانستان د صنعتي کولو لپاره يې په لومړي ځل په پلخمري کې د نساجي فابريکه جوړه کړه او وروسته يې د برېښنا د توليد لپاره هم له يادې شوې فابريکې څخه ګټه واخيسته. له ۱۳۱۸ نه تر ۱۳۳۱ کال پورې اروانباد زابلي د افغانستان د اقتصاد وزير او د خپل وزارت پر وخت يې کوښښ وکړ چې صادرات او واردات د افغانستان د رښتيني ودې اساس وګرځوي، مګر تر دويمې نړيوالې جګړې وروسته د ده پراخ نظريات عملي نه شول، ځکه د هېواد په دننه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ځينې هغو روښانفکرانو چې د سوداګرو د امتيازاتو پر وړاندې يې خنډونه جوړول، له ده سره ټکر وکړ او له بله پلوه يې له شاهي کورنۍ سره هم مناسبات خراب شول.

افغانستان د تاريخ په اوږدو کې بېلابېل اقتصادي نظريات تجربه کړي، خو داسې تجربه ترسره نه شوه چې وتوانېږي د دې هېواد اقتصادي مسير ته اساسي تغير ورکړي. اوسمهال د ازاد بازار شعار ګډوډي راوستې ده او موږ اړ يوو بېرته هغه اصل ته رجوع وکړو، چې د صلاحيتونو او مسؤوليتونو پر بنياد د ازاد بازار اصول ټاکي. د دې اصولو څو مثالونه په دې ډول ذکر کوو:

### ۱. لايسنسونه:

د مهمو اقتصادي امورو تنظيم دا ايجابوي، چې وړې پانګې تمرکز ومومي چې په نتيجه کې يې ستره پانګه برابره شي او مهم سکټورونه په حرکت راولي. د مخه مو وويل، چې د لايسنس ورکولو په برخه کې سم انسجام د دې باعث شو، چې په هېواد کې ۷ ميليون موبايل ټليفونونه ووېشل شي، ځکه مقررات داسې ټاکل شوي وو چې په لومړي سر کې به دوو او بيا به دوو نورو شرکتونو ته د کار لايسنس ورکول کېږي.

که چېرې شلو کمپنيو ته لايسنس ورکول شوي وای پايله به يې ګډوډي وه او که يوې کمپنۍ ته د کار لايسنس په لاس ورغلی وای، نو بيا به يې د مطلق انحصار بڼه درلوده، نو دلته څلورو شرکتونو ته اجازه نامه ورکول د ازاد بازار د هغه اصل پر بنا تاييد شول چې د مخابراتو او معلوماتي ټيکنالوژۍ په سکټور کې د شفافو اصولو پر اساس هم ټولنې ته د خدماتو د عرضه کېدو چانس په لاس ورشي او هم له دغو شرکتونو څخه





په شفاف ډول ګمرکي ټيکس او ماليه راټوله شي.

ځينې وخت د ملي ګټو ساتنه دا هم ايجابوي چې د لنډ يا منځمهال لپاره په يوه برخه کې انحصار راشي. په ۱۳۸۴ هـ کال چې کله افغان حکومت هوايي ټرانسپورټ تر څېړنې لاندې ونيوه، زه په دې فکر وم چې دې سکټور ته د لازمې ودې ورکولو په خاطر بايد د څلورو کلونو لپاره د کابل –دوبۍ، کابل - ډيلي او کابل فرانکفورت هوايي کرښې د اريانا د دولتي شرکت له خوا تر انحصار لاندې راشي او په دې شرکت کې داسې بنسټيز بدلونونه راولو، چې د سيمې پر يوه ممتاز هوايي شرکت بدل کړی شي. په همدې وخت کې نوموړي شرکت شاوخوا اتيا ميليونه ډالره پانګه درلوده، خو که دولت ورباندې د سلو ميليونو ډالرو نورې پانګونې سربېره د دې شرکت د مديريت او ادارې په برخه کې اساسي تغيرات راوستي وای، نو زما د تخمين له مخې به اريانا په پنځو کالو کې د زرميليونه ډالرو ارزښت پيدا کړی وای، چې په نتيجه کې به يې دولت کولای شول پر افغاني سوداګرو باندې دا شرکت په ښه بيه وپلوري او په لاس ته راغليو پيسو کېدی شول، چې د دولت کارکوونکو ته د تقاعد يو قوي بنسټ کېښودل شي، له بده مرغه د دولت له خوا دا طرحه ونه منل شوه او نن اريانا د يوه کمزوري او بې اغېزې شرکت په نامه پېژندل کېږي.

که څه هم په دې وخت کې يو څه نور هوايي شرکتونه منځته راغلي چې يوه يې ښه نوم ګټلی، خو د ټليفون په عرصه کې چې کوم اصول په پام کې نيول شوي وو په دې برخه کې له پامه غورځېدلي، نو له همدې کبله د خلکو پر وړاندې د هوايي شرکتونو وجايب ناڅرګند پاتې شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مختلف شرکتونه د روابطو پر بنياد راځي او د بېلابېلو فرامينو په اخيستو امتيازات غواړي، چې د ساري په توګه د اريانا د هغه امتياز يادونه کوو چې د ولسمشر په فرمان يې الوتکو ته د زينو د اېښودو انحصار اخيستی او د هرې الوتنې پر وخت چې دوی الوتکې ته زينه کېږدي زر امريکايي ډالره مزدوري اخلي. په همدې برخه کې يوه بله نيمګړتيا داده چې د کابل هوايي ډګر دويم نوی ترمينل چې تر جوړېدو نهه مياشتې وروسته هم د خلکو لپاره خدمات نه عرضه کوي او دولت نه دی توانېدلی، چې عملي فعاليت ته يې تيار کړي.

که غواړو چې زموږ الوتکې مخامخ په معتبرو هوايي ډګرونو کې ناسته وکړي او بکسونه مو بيا تفتيش نه شي په کار ده، چې په هوايي ډګرونو کې د نړيوال تفتيش اصول پلي شي. جاپان د مرستې په دود په کابل هوايي ډګر کې يو نوی ترمينل جوړ کړ، خو دا چې د افغانستان د ټرانسپورټ وزيران په متداوم تغير کې دي، نو په دې هېواد کې لا تراوسه هغه اصول نشته چې پر اساس يې ترمينلونه مرتب شي. په دې صورت کې لازمه وه، چې د دې ترمينل د ځنډولو پر ځای له کوم نړيوال امنيتي شرکت سره قرارداد شوی وای چې دا چاره يې پر مخ وړې وای. که چېرې د جوړ شوي ترمينل نهه مياشتې بې ځايه ځنډ په پام کې ونيسو، نو له يوې خوا يې په مادي لحاظ تاوان کړی او له بلې خوا يې زموږ هېوادوال په رواني لحاظ ډېر تنګ کړي دي، خو دولت د خپلې بې کفايتۍ له امله نه دی توانېدلی چې خلکو ته په وخت خدمات ترسره کړي.

د مقرراتو يا (ريګولېشن) اهميت يوازې د کاري لايسنسونو په ورکړه کې نه، بلکې د وارداتو، صادراتو او





خدماتو په برخه کې د دولت هغه مسؤوليت په ګوته کوي چې د کيفيت کنټرول وکړي. د بې کيفيته تېلو په اړه مو مخکې بحث کړی، اوس غواړم د دارو درملو په اړه بحث وکړم.

هغه مهال چې افغانستان د تودې جګړې ډګر و او په هره برخه کې يې لمبې بلې وې، نو هم افغانستان ته بې کيفيته دارو راوړل شول، مګر اوس هم په پراخه پيمانه جعلي داروګان د پلازمېنې په ګډون د هېواد په ټولو لويو او وړو بازارونو کې پېر او پلور لري. هغه بې کيفيته او يا له تاريخه تېر دارو چې مطلق زهر دي او ولس ته هم ځاني او هم مالي تاوانونه اړوي. همدا اصل پر ګڼو وارداتو صدق کوي.

نن ورځ افغانستان له هغو وارداتي اقلامو ډک دی، چې زيان به يې لسګونه کاله وروسته زموږ نورو نسلونو ته هم ورسېږي. د کيفيت نه کنټرول دا معنی نه لري، چې بويه موږ د کنټرول لازم وسايل او ظرفيت نه لرو. د کابل پوهنتون د فارمسي پوهنځي همدا اوس هغه ټول امکانات او پوهه لري چې د دوا، غوړيو، شېدو او نورو اقلامو کنټرول په مؤثره توګه ترسره کړي، مګر په بې کفايته دولت کې دا ظرفيت او احساس نشته چې له دغو امکاناتو څخه ګټه واخلي او د ولس ژوند وساتي او هغه ميليونونه ډالره تاوان چې له همدې کبله هېواد ته رسېږي مخه يې ډب کړي.

د ازاد بازار په حواله بايد نتيجه ګيري دا وي، چې دولت اړ دی له خپلو قانوني صلاحيتونو څخه د يوه مشروع بازار په رامنځته کولو کې ګټه واخلي. که غواړو چې د يوه مافيايي او نامشروع اقتصاد پر ځای يو چټک او متحرک اقتصاد رامنځته کړو، نو لازمه ده چې صلاحيتونه او محدوديتونه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانوني چوکاټ کې تنظيم کړو او د تطبيق لپاره يې متې را ونغاړو.

### ج- د دولت مستقيمه اداره:

په هره ټولنه کې ځينې اقتصادي امور د دولت له خوا په مستقيمه توګه اجرا کېږي، خو دا امور، ځکه ثابت نه دي، چې ټيکنالوژي او اقتصاد په دوامداره تغير کې دي او هغه وخت چې يو خصوصي سکټور کولی شي په منظمه توګه خدمات ترسره کړي بايد موقع ورته برابره شي. زموږ په اوسنيو شرايطو کې لاندې برخې بې د دولت له مستقيمې څارنې او مديريت څخه نه شي ترسره کېدی:

### ۱- زېربنا:

د راتلونکي ملي اقتصاد وده د زېربنايي پانګې له جوړولو پرته ممکنه نه برېښي. په کار ده چې له بلاعوضه مرستو او ارزانه پورونو څخه ډېره برخه په زېربنايي پروژو ولګول شي. افغانستان په دې برخه کې تر هر څه لومړی برېښنا، اوبو، سړک، د ريل ګاډي پټلۍ او هوايي ډګرونو ته اړتيا لري.

د برېښنا په نه موجوديت کې تعليمي، اقتصادي او دولتي چارې پرمخ نه ځي، نو ځکه دولت اړ دی چې هم زموږ وافرې اوبه په برېښنا بدلې کړي او هم زموږ له باد او لمر څخه د برېښنا انرژي توليد کړي او په دويم ګام کې د برېښنا د توزيع په مديريت باندې پانګونه وکړي چې ظرفيت ترلاسه شي، ځکه د کابل ښار د برېښنا شبکې د توزيع په برخه کې په کلونو د نړيوال بانک پيسې پرتې وې، خو د برېښنا په برخه کې د ظرفيت د





نشتوالي او د برېښنا وزارت د بې غورۍ له امله پر ځای ونه لګول شوې، چې د ښار فقيرو خلکو يا تياري قبولې کړې او يا يې په جنراټوري برق ميليونونه ډالر مصرف کړل.

د زېربنا په برخه کې درې ډوله ظرفيتونه د ځانګړي اهميت وړ دي.

**لومړی**- د لويو پروژو پلان او نقشه جوړول: دا هغه علم او فن دی چې په هر اړخيز ډول پانګونې ته اړتيا لري، مګر افغانستان هم کولی شي چې د اغېزمنو دولتونو په څېر دا ظرفيت له بازاره واخلي. د وړاندېز په توګه ويلی شم، چې د دې پر ځای چې که په متفرقه توګه د يوې پروژې لپاره دا ظرفيت اخيستل کېږي ولې يې په عمده توګه په يوه ځل نه اخلو. يعنې افغانستان کولی شي چې د يوه معاصر دولت په توګه د پلان او نقشه جوړونې دوه نړيوالې کمپنۍ په بيه واخلي. د مديريت چارې دې نړيوالو متخصصينو ته پرېږدي او د ملکيت حق دې له دولت سره وي، چې ډېرې ګټې ترلاسه شي.

که چېرې موږ په دې وتوانېدو هغه وخت به ډېرې نړيوالې مرستې متمرکزې کړو او را پېښنه ګډوډي به له منځه لاړه شي.

**دويم**- دولت بايد د زېربنايي بنسټونو ساتندوی وي او د دې دندې د ترسره کولو لپاره لازمه ده چې دولتي تصديانې ايجاد شي چې په دوامداره توګه د زېربنايي بنسټونو ساتنه او څارنه وکړي. که چېرې د داسې تصديو په ايجاد پانګونه وشي او تر يوه اغېزناک مديريت لاندې سمبال شي موږ به له يوې خوا د سترو زېربنايي بنسټونو ساتنه کړې وي او له بله پلوه به وکولی شو، چې په همدې ظرفيت په کليو او بانډو کې منځنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ورې پروژې ترسره کړو.

**درېیم-** افغانستان چې په وچه پروت هېواد دی او تر ډېره بریده یې رغاونه په سوداګرۍ پورې تړلې ده. همېشه دې ته اړتیا لري چې د ځینو عمده اقلامو لپاره د دولت او خصوصي سکټور له خوا ستراتیژیک ذخایر خوندي کړي.

د دولت له خوا باید څو عمده بندرونه لکه حیرتان او شېرخان له یوې خوا مجهز شي او له بلې پلوه نه یوازې تورغونډۍ، بلکې له عاقینې نه نیولې تر بادغیس، هرات، فراه، کندهار، پکتیکا، خوست، ننګرهار، بدخشان او کونړ پورې د وچو بندرونو ترتیب ونیول شي، چې زموږ ملي ګټې ورسره خوندي کېدی شي.

افغان ولس د بې اغېزې او ناکام دولت له لاسه یوازې د سیمنټو په برخه کې په میلیونونو ډالره ګټه د پاکستان د سیمنټو تولیدوونکو فابریکو ته ورسوله او ځان ته یې تاوان وکړ. زموږ ناکام دولت نه یوازې په دې بریالی نه شو، چې د سیمنټو د تولید لپاره نړیوال پانګه ترلاسه کړي، بلکې د تدارکاتو داسې نظم یې هم رامنځته نه کړی شو، چې د پاکستان د سیمنټ پلورونکو د انحصار مخه ونیسي.

داسې قوي شواهد شته چې پاکستاني سیمنټ پلورونکو کمپنیو د ټولو نړیوالو اصولو پر خلاف پرېکړه کړې وه، چې پر افغانانو باندې بیې لوړې کړي او دې ته یې اړ کړي چې په لوړه بیه له دوی څخه سیمنټ واخلي. په همدې ډول د قیر (تارکول) په برخه کې هم همداسې وشول، د امریکا د متحدو ایالاتو دولت پر ایران بندیزونه لګولي او هیڅ امریکایي شرکت اجازه نه لرله چې له ایران څخه قیر واخلي.





دې شرکتونو له پاکستاني کمپنیو سره قراردادونه وکړل او هغوی چې دا موقع ولیدله، نو ورځ تر بلې یې د قیر بیه اسمان ته لوړه کړه او نتیجه یې دا شوه، چې په افغانستان کې د یوه کیلو متر قیر سړک بیه له همسایه هېوادونو څخه درې تر څلور چنده لوړه شوه. زموږ دولت د یوه مستقل دولت په توګه کولای شول پخپله له ایران سره قرارداد وکړي له ایران څخه په ارزانه بیه قیر واخلي او بېرته یې امریکایي قراردادیانو او شرکتونو ته ورکړي.

که دولت دا کار کړی وای، نو د سړک قیمت به ټیټ شوی وای او د نن په پرتله به زموږ د پخو سړکونو شمېره هم لوړه وای، څه چې تېر شو هغه هېر شو، خو اوسنۍ نتیجه ګیري باید دا وي چې دولت اړ دی د تدارکاتو په برخه کې اغېزناک ظرفیت رامنځته کړي چې د بهرنیو مرستو هر ډالر او د کورنیو عوایدو یوه افغانۍ زموږ د درد دوا شي او لویه ګټه ترلاسه شي.

## د- د کار قوه:

زموږ ننۍ حیاتي ستونزه بې روزګاري ده. زموږ ځوانان چې مطلق اکثریت دی. بې روزګاره دي او د ټولني د خدمت پر ځای د ستونزو لامل ګرځېدلي دي. همدا دلیل د دې لپاره بس دی چې وواېو زموږ ټولنه پر خپلو پښو نه ده ولاړه.

د دولت زېربنایي پروژې باید د دې وسیله شي، چې ځوانانو ته د کار زمینه برابره کړي، خو د دې موخې د ترلاسه د کولو لپاره په کار ده چې یوه اغېزناکه کاري قوه را ژوندۍ کړی شي، چې په هر زون او ولایت کې له محلي خلکو څخه تشکیل او د سترو زېربنایي پروژو په کار کې استخدام شي، د پروژې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرنګوالي ته په پام بايد په اول قدم کې ځوانان تر چټکې روزنې لاندې ونيول شي چې د پروژې مطابق کاري ظرفيت ترلاسه کړي او د پروژې تر تطبيق وروسته دې بيا په دويم ګام کې دوی ته د داسې زده کړې زمينه برابره شي چې دوی ته يو کسب وښيي او په وسيله يې د يوه قانونمند بازار په چوکاټ کې د هوسا ژوند خاوندان شي. د کار دا قوه په بېلابېلو برخو کې لکه برېښنا بندونو، سړکونو او نورو ضروري پروژو کې په کار ګومارل کېدای شي.

د دې تر څنګ د کار يوه شنه قوه هم د افغانستان حياتي اړتيا ده چې وتوانېږي د هېواد تباه شوي ځنګلونه بېرته له سره ژوندي کړي. يوه بله مهمه موضوع د زېربنايي پروژو د امنيت ستونزه ده چې او سمهال يې د هېواد په سويل کې د ځينو بهرنيو امنيتي کمپنيو له خوا امنيت ساتل کېږي او ويل کېږي چې نېږدې ۵۰٪ پيسې په امنيتي برخه کې لګوي. که چېرې د کار سمه قوه رامنځته شي، نو له تنقيص شويو افسرانو څخه هم داسې قوه جوړېدای شي چې له يوې خوا د پروژو امنيت وساتي او له بلې خوا څخه ملت ته دا ثابته کړي چې د يوه عسکر په توګه د دوی په خدمت بوخت دي.

سره له دې چې زموږ په ميليونونو ځوانان بې روزګاره دي، مګر په زياترو ښارونو کې د عادي کارونو لپاره بهرني کاريګر په لوړه بيه استخدامېږي او دليل يې دادی چې هغوی زموږ د ځوانانو په پرتله لوړه تخنيکي پوهه لري. که چېرې دولت پرخپلو ځوانانو زړه سوی ولري، نو ځينې تخنيکي پوهې لکه نلدواني، معماري، نجاري او داسې نورې پوهې په ډېره اسانۍ د يوه بااستعداده ځوان له خوا په لږه موده کې زده کېدی شي،





نو لازمه ده چې دولت داسې شرايط رامنځته کړي چې دا پوهې حاصلې شي.

که دولت وغواړي کولی شي هغه وخت چې د پوهنتون، ښوونځي، روغتون او يا کومې بلې مؤسسې ودانۍ جوړوي، نو د يوه ملي پروګرام په چوکاټ کې دې همدې ځوانانو ته د عملي کار زمينه برابره کړي او تر فراغت وروسته دې د دوی د لياقت او پوهې په نظر کې نيولو سره دوی ته داسې اسناد ورکړي چې په وسيله يې کولی شي ځان ته مناسب روزګار پيدا کړي او د همدې اسنادو له مخې هر څوک چې په دغه کاريګر باندې کار کوي. د ده سويه ورته ځرګنده او په هماغه اندازه مزدوري ورته ورکړي.

همدا ډول موږ په زرګونو داسې ځوانانو ته اړتيا لرو چې د پروژو اداره ترلاسه کړي او په اصولي توګه وکولی شي د ساختماني پروژو مديريت سمبال کړي. د داسې مهارتونو د زده کړې لپاره شپږ مياشتيني او دوه کلن پروګرامونه شته چې تر لاس لاندې ونيول شي، خو اصلي هدف دادی چې دولت بايد د کاري قوې د روزنې لپاره داسې لس کلن او شل کلن پروګرامونه جوړ کړي چې ټولنه د هغو ټولو ظرفيتونو خاونده شي چې يو مستقل هېواد پرې ودانېدلای شي.

## هـ- سکتورونه:

هر هېواد اړدی چې د خپلې هراړخيزې ودې لپاره ځينو سکتورونو ته په لومړيتوب قايل شي، ځکه د يوه هېواد موقعيت، طبيعي او بشري پانګې او مالي امکانات دا لازموي چې هغه سکتورونه په نښه او منظم کړی شي چې د اکثريت

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مخه مو ذکر کړه چې کله ښاغلي زابلي په پنبې باندې پانګونه وکړه، نو بغلان او کندوز پر صنعتي سيمو تبديل شول، مګر نن ورځ برعکس د افغانستان په شمال کې مالوچ نه ليدل کېږي، ځکه د توليد، صدور او بازار سرچينې يې فلج دي او که چېرې دا برخه فعاله شي د پنبې پيداوار به هم وغوړېږي، ځکه د کرنې بيارغاونه په لومړي ګام کې د سيمه ييزو او نړيوالو بازارونو په ايجاد پورې تړلې ده.

همداراز بايد په ټول هېواد کې کرنه له يوې عنعنې څخه په يوه علم بدله شي، ځکه نن ورځ له خيشاوې څخه نيولې تر حاصل اخيستو پورې ټولې برخې په علمي اصولو درېدلې دي. که غواړو چې له خپلو ځمکو څخه لازم حاصلات واخلو په کار ده د هرې ولسوالۍ پر کچه د ځمکې زرعي نقشې ولرو او په دې پوه شو چې د نړيوالو تجربو پر اساس کوم اقلام زموږ د خاورې له شرايطو سره برابر دي. همدا ډول بزګر هم د بازار په وضعه پوه وي چې په کوم وخت کې کوم اقلام ده ته ډېره ګټه کوي. معاصره کرنه بې له دې چې بزګر ته يو منظم مالي حساب او پوره امکانات په لاس ورکړي مؤثره نه واقع کېږي او که غواړو، چې بزګر ته د پور اخيستو ترتيب ونيسو، نو هم بايد د ملکيت د تثبيت مسئله حل شي او هم د هغو اقلامو د پيداوار نرخونه وسنجول شي چې په وسيله يې پور ورکول کېږي.

څرنګه چې اصلي کرنه په وسايلو سمبالېږي، نو تر هغه چې د داسې وسيلو د جوړولو امکانات او توليدات زموږ په هېواد کې برابر نه شي ممکنه نه ده، چې دا برخه انکشاف ومومي، ځکه کرنه داسې علم دی چې همېشه د تغير په حال کې دی، نو د څېړنو داسې مراکز ډېر مهم دي، چې نوې منځته راغلې تجربې





خلکو د ژوند تأمينولو چاره پرمخ وړي. زموږ په اوسنيو شرايطو کې شپږ داسې سکتورونه دي، چې زما په اند بايد د لومړيتوب حق ولري: کرنه، مالداري، معادن، ساختماني، مخابرات او معلوماتي ټيکنالوجي او ښاري خدمات.

## ۱- کرنه (زراعت):

دا سکټور په دو دليلونو زموږ په هېواد کې ځانګړې اهميت لري. يو دا چې زموږ ډېر خلک لا تر اوسه هم بزګري کوي او ښارونو ته ډوډۍ برابروي، خو دوی پخپله ډېر بېوزله دي او دا چې د دوی بېوزلي ختمه شي په کار ده د کرنې چارې په عصري وسيلو سمبال شي چې د پيداوار په نتيجه کې دوی ته د ژوند ډېرې اسانتياوې په لاس ورځي.

بل دا چې کوکنار چې زموږ په هېواد کې د ځينو علتونو په اساس کرل کېږي درې ځانګړنې لري، کمې اوبه غواړي، ډېر زحمت ته اړتيا لري او چېرې چې نور فصلونه ډېره ګټه نه کوي هلته کوکنار کرل کېږي. که غواړو چې دا بوټی لرې کړو ځينې اقتصادي اقدامات په کار دي او هغه دا چې د يوه کليوال ورځنی عايد بايد له پنځوسو افغانيو څخه دوو سوو افغانيو ته لوړ شي.

که چېرې داسې وشي يعني بزګر له مشروع لارې خپلې اړتياوې پوره کړي، نو بيا ورته پر کوکنارو دومره خواري کول ګټه نه لري او د خپلې عقيدې له مخې هم اړ کېږي چې دا ناروا بوټی ختم کړي.

که چېرې غواړو چې د کرنې له لارې په ورځ کې د بزګر جيب ته څلور ډالره عايد ورشي، نو دا بيا په دې سکټور باندې بنيادي پانګونې ته اړتيا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له کروندګرو سره شريکي کړي او که دې ټولو اړتياوو ته پام وکړو، نو دا په ګوته کوي چې موږ په دې برخه کې يو ملي پروګرام ته ضرورت لرو.

## ۲- مالداري:

مالداري زموږ د اقتصاد يوه ډېره مهمه برخه وه، ځکه زموږ په هېواد کې د کبانو رشد او ودې ته له پخوا څخه زمينه نه وه برابره او انسانان اړ وو، چې د پروټينونو د اخيستو لپاره د پسونو او غوايانو له غوښو کار واخلي. همدا ډول د لبنياتو ټول انواع لکه غوړي، شيدې، ماسته، کوچ او نور هم له کورنيو څارويو څخه ترلاسه کېدل، مګر جګړې، وچکالۍ او ناروغيو زموږ مالداري ډېره زيانمنه کړه. د ځينو کارپوهانو د اټکلونو له مخې موږ نږدې اتيا په سلو کې مالداري له لاسه ورکړې ده او يو تر ټولو څرګند تاوان يې دا دی، چې نن موږ په ډېره لوړه پيمانه غوښې او لبنيات له بهرنيو هېوادونو څخه واردوو.

عصري مالداري د کرنې په څېر هم يو علم او هم يو فن دی. که د مالدارۍ پراختيا ته پام وکړو هم هېوادوالو ته کار پيدا کولی شو او هم هغه پيسې چې په غوښو او لبنياتو پسې بهر ځي کولی شو پخپل هېواد کې پرې په توليدي امورو کې پانګونه وکړو.

مالداري په درې برخو کې جدي پاملرنې ته اړتيا لري:

### د کليوالو مالداري:

هغه مالداري چې د کليوالو خويندو ورونړو له خوا يې پالنه





او ساتنه کېږي. دولت اړ دی، چې د کرنې په شمول د دې برخې د غښتلتيا په منظور هم ډېر مؤثر کار وکړي.

### د کوچيانو مالداري:

بله برخه هغه مالداري ده، چې د کوچيانو خويندو ورونړو له خوا کېږي. په عمومي توګه کوچيان په ننني دور کې د افغانستان له ډېرو بيوزلو پاړکيو څخه شمېرل کېږي، ځکه د دوی د معيشت عمده برخه مالداري وه چې د جګړې او وچکالۍ په ترڅ کې يې له لاسه ورکړه او زياتره يې مزدورکار شول. د کوچيانو يوه بله برخه داسې خلک وو، چې هم يې ځمکې درلودې او هم مالونه. دوی د بن د پرېکړې تر مهاله د دې توان پيدا کړی و چې خپله مالداري وساتي او په تدريجي ډول يې زياته کړي، مګر هغه کوچيان چې اوس، اوس غواړي خپله مالداري زياته کړي له ډېرو ستونزو سره مخ دي.

څارويو ته د څښاک د اوبو نه لرل يې لومړۍ ستونزه ده. دوی چې کله خپل څاروي له يوې ورشو څخه بلې ته بيايي او يا هم موسمي سفر کوي، د لارې په اوږدو کې د څښاک د اوبو له جدي ستونزې سره مخ دي. که په بغلان ولايت کې د دوی د څارويو لپاره يوازې له پنځوسو څخه تر سلو پورې څاګانې وکېندل شي، د دوی د څارويو د څښلو د اوبو ستونزه هوارولی شي.

که چېرې د دوی د څارويو لپاره په پراخه پيمانه څاګانې وکيندل شي دوی به نه اړکېږي، چې څارويو ته د اوبو ورکولو له امله پر اوږدو لارو خپل څاروي خوار کړي.

د ورشوګانو پر سر جنجالونه يې بله عمده ستونزه ده. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نولسمه پېړۍ کې زمونږ ورشوګانې ډېرې وې، ځکه کليوال او ښاري نفوس کم و، ځمکې پراخې وې او کلي اباد وو. په هېواد کې له يوې خوا وچکالي او له بلې خوا د ځمکو د غصب جګړې زېږولي دي، زورواکان د دې لامل شول چې ځمکې تنګې او ورشوګانې د کميت او کيفيت په لحاظ محدودې کړي.

د دې ستونزې د هواري لپاره دولت اړ دی، چې د ورشوګانو د قانوني چوکاټ جوړونې په موخه سمدستي يوه عمومي سروې وکړي چې د ځايي اوسېدونکي او کوچي ترمنځ ستونزې پای ومومي.

د کوچي او ځايي اوسېدونکي ترمنځ په موسمي کوچونو کې د کروندو پر سر مهالنۍ خوابدي يوه بله ستونزه ده. د اوسنيو ټرانسپورټي امکاناتو په موجوديت کې دا ستونزه هوارېدی شي.

که چېرې مالونه د ټرانسپورټ په وسيله انتقال شي له يوې خوا به د ځايي اوسېدونکو کروندې هم په امن پاتې شي او له بله پلوه به د څارويو هغه وزن چې د پياده کوچ له امله يې بايلي پر ځای پاتې شي. د ټرانسپورټي انتقال په صورت کې دولت کولی شي په اسانۍ سره د هغو لارو امنيت ونيسي، چې د کوچيانو څاروي ترې تېرېږي.

د مالدارۍ په برخه کې د ځايي اوسېدونکو او کوچيانو ترمنځ څلورمه ستونزه يو ډول ده. دوی نه شي کولی په اسانۍ سره د خپلو څارويو محصولات غوښه او لبنيات بازارونو ته ورسوي. د مالدارۍ د ودې په موخه په ټولو برخو کې د بازار د شرايطو پيدا کول هم ځايي اوسېدونکو او هم کوچيانو ته ډېر ضروري دي.





## عصري مالداري:

څرنګه چې ميکانيزه فارمونه د عصري کرنې د پراختيا وسيله ګرځي، په همدې ترتيب د عصري مالدارۍ لپاره هم ځانګړي ترتيبات موجود دي. په افغانستان کې په لومړي ځل د داوود خان د حکومت پر مهال د عصري مالدارۍ د پراختيا په منظور په هرات کې مسلخ او په بغلان کې د شيدو فابريکه جوړه شوه، خو د جګړې په دوران کې يې نه پراختيا وموندله او نه يې محافظت وشو.

افغانستان د عصري مالدارۍ د پراختيا لپاره ډېر غوره اقليمي شرايط لري، خو هغه وخت ترې کار اخيستل کېدی شي چې يو ملي سراسري پروګرام په سمه توګه پلی شي. د ملي پروګرام په چوکاټ کې بايد د افغانستان ټولې برخې وڅېړل شي او په مؤثره توګه د دې برخې د پراختيا لپاره پانګونه وشي.

## ۳- معادن:

د افغانستان ستره طبيعي شتمني د دې هېواد معدنونه دي او کولی شي چې د ځانګړو خصوصياتو په درلودو د افغانستان د متوازن انکشاف زمينه برابره کړي، ځکه د افغانستان په ټولو برخو کې معادن موجود دي.

دمخه مو ذکر کړه، چې د جيولوجي سروې تر بشپړېدو وروسته مونږ ته ګرګنده شوه، چې پکتيکا هم په کافي اندازه ګاز لري. که دا احتمال سم وخېژي، نو په دې وسيله به د افغانستان په مرکزي او جنوبي برخو کې ستر اقتصادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



انکشاف رامنځته کړي.

که څه هم د افغانستان درې له تاريخي نظره د ترخه ژوندانه نمونې وې، خو د جيولوجي سروې دا په ډاګه کوي، چې همدا درې سترې طبيعي پانګې لري او زموږ په اساسي قانون کې معادن ملي شتمني ګڼل شوې، چې د استخراج او تنظيم لپاره يې دولت په دې مکلف دی چې اساسي اقدامات وکړي.

د معادنو قرارداد ډېره د پام وړ مسئله ده. په دې اړه مو مخکې د افريقا د ځينو هېوادونو مثالونه وړاندې کړل، چې د رشوت خورۍ له کبله يې سترې پانګې له لاسه ورکړې.

زموږ له دغو سترو شتمنيو څخه د عامه ګټو د تأمين لپاره جدي اقدامات په کار دي.

**لومړی:** د سترو معدنونو د قرارداد کولو لپاره بايد داسې اصول وضع کړو چې په مطلق شفافيت سره په کې د حساب ورکولو اصول مراعت شوي وي. د دې موخې د لاس ته راوړلو لپاره اوس ځينې نړيوالې تجربې شته، چې کار ترې واخلو. داسې نړيوالې مؤسسې منځته راغلې چې د دولتونو او قرارداديانو مکمل شهرت ورسره موجود دی. دوی پوهېږي چې پانګوونکې کمپنۍ او يا هېواد له پخوا څخه په داسې معاملو کې څه ورځ شهرت لري.

که چېرې يوه کمپني يا هېواد په رشوت ،فساد او درغلۍ کې ناوړه سابقه ولري، نو مخکې له مخکې پوهېدای شو چې شرايط مو بايد څه ډول وي. دا ډېره مهمه ده چې د قرارداد پر وخت داسې معلومات پراته وي.

د شفافيت د خوندي کولو لپاره د بې طرفه نړيوالو مؤسسو موجوديت هم ضرور دی او هم بايد د افغاني مدني ټولنې پر





ګډون سربېره قراردادونه خپاره او د عامه معاملاتو لپاره وړاندې شي.

**دويم:** دا چې قرارداد يو حقوقي بنسټ لري، څو مهمې جملې يې کولی شي يا په لسګونو ډالر ګټه وکړي او يا په سلګونو ميليونه ډالر تاوان پېښ کړي، ځکه د قرارداد د ليکلو ژبه له عادي ليکلو سره حساس توپير لري، نو ځکه لازمه ده چې ډېره په غور وڅېړل شي. د افغانستان د حقوقو د ساتنې لپاره لازمه ده، چې څو نړيوال حقوقي شرکتونه د افغانستان د دولت له خوا په دوامداره توګه د معادنو د قراردادونو په برخه کې استخدام شي.

د نړيوالو اصولو مطابق دوی نه شي کولی هغو هېوادونو ته کار وکړي، چې غواړي زموږ د معادنو په برخه کې پانګونه وکړي. که څه هم د داسې شرکتونو استخدام ارزانه نه دی، خو بې له داسې شرکتونو څخه دا هم تر ډېره ممکنه ده، چې په ميليونونو ډالر په يوه قرارداد کې له لاسه ووځي. د دې ترڅنګ موږ ته هم په کار دی چې په عمومي توګه د معادنو او په خاصه توګه د معادنو په حقوقي برخه کې د بشري پانګې په روزلو پانګونه وکړو.

**درېيم:** د دولت عوايد بايد د اساسي قانون د ۴۲ مادې پر بنياد يوه واحد دولتي حساب ته راټول او تحويل شي. د دې مادې په استناد لازمه ده، چې په قراردادونو کې بشپړ دقت وشي او د کمپنۍ له خوا ټول عوايد نېغ په نېغه د دولت واحد حساب ته تحويل شي. په همدې حال کې د کمپنۍ عوايد هم بايد تر اصولي څارنې او حسابي معيارونو لاندې ونيول شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه کمپنۍ کولی شي په ماهرانه توګه خپل عواید کم وښیي او د دولت مالیه هم کمه تحویل کړي.

د یوې کمپنۍ د عوایدو دقیق سنجش هم په تخنیکي ظرفیت پورې اړه پیدا کوي او د داسې ظرفیت د ترلاسه کولو لپاره موږ بیا هم اړ یوو خپل ډېر شمېر ځوانان وروزو، چې د ملي ګټو ساتنه وکړي.

**څلورم**: که غواړو چې معادن مو د ولس لپاره کاري زمینې پیدا کړي، نو بیا اړ یو چې معادن د اومو موادو په حیث بهر ته صادر نه کړو. که زموږ اوسپنه، مرمر، مس او یا نور د تولید په یوې منظمې سلسلې بدل شي یعنې په دویمو او درېیمو موادو بدل کړی شي، نو له یوې خوا به زموږ خپلې ملي اړتیاوې پوره کړي. له بله پلوه به د عوایدو د ډېرېدو وسیله وګرځي او هم به دا لړۍ ولس ته د کارونو په پیدا کولو کې مرسته وکړي، خو که خپل معادن مو د خامو موادو په توګه بهر ته لاړ شي، نو بیا ترې د داسې ګټې انتظار بې ځایه دی.

د مثال په توګه، زموږ مرمر ګاونډیو هېوادونو ته تلل او هلته د تیږو په بیه پلورل کېدل، مګر په ګاونډیو هېوادونو کې به چې وتراشل شول، نو د تراش، پالش او نورو مرحلو ټولې کاري زمینې به یې هم هلته ایجاد کړې او بیا به یې نه یوازې نورو هېوادونو ته په ډېره لوړه بیه صادرول، بلکې موږ پخپله هم خپل مرمر په ډېره لوړه بیه له هغو هېوادونو څخه اخیستي دي.

له اقتصادي لحاظه نظم لرونکي هېوادونه په دې توانېدلي چې له خپلو طبیعي پانګو څخه (Value chain) یعنې د ګټې زنځیر جوړ کړي، چې د همدې زنځیر کړۍ په غور لیدل کېږي او





د نورو کارونو او عوایدو د پیدا کېدو وسیله ګرځي.

که چېرې د لوګر مس چین ته د خامو موادو په څېر صادر شي معنی یې دا ده، چې مس پرې پلورل شوې او که یې هره برخه په ځیر ولیدل شي او ګټه ترې واخیستل شي، نو ډېر عواید او کاري زمینې به زموږ د خلکو په لاس راشي.

د دې لپاره چې زموږ طبیعي پانګه د ګټې په یوه زنځیر بدله شي اړ یوو چې بیا هم خپلو زېربنایي برخو لکه اوبو، برېښنا، سړک او د ریل پټلۍ ته پام وکړو، ځکه د افغانستان زیاتره صادراتي اموال د وزن له لحاظه ډېر درانه دي او د تېلو نرخونه هم تل د بدلون په حال کې وي، نو په داسې وخت کې اړ یوو چې د ګټې د لاس ته راوړو لپاره د ریل پټلۍ ولرو.

زموږ د معادنو اهمیت یوازې په سترو معادنو پورې نه دی تړلی، ځکه په کار ده چې د وړو او منځنیو معادنو د استخراج لپاره هم ځانګړي مقررات ولرو، چې پانګه مو په اصولي توګه په کار واچول شي. په دې برخه کې زموږ له قیمتي عناصرو څخه د کار مساعد شرایط منځته راځي.

موږ کولی شو د لاجوردو، زمردو، سروزرو، یاقوتو او نورو په پیدا کولو په هېواد کې د زرګرۍ صنعت ته وده ورکړو. په همدې حال کې په اروپایي اتحادیه کې زموږ د زرګرۍ صنعت پر وړاندې یو شمېر امتیازات موجود دي او زموږ په دې برخه باندې ډېره لږه مالیه وضع شوې ده، چې دا هم یو ښه امکان ګڼلی شو.

د ځینو متخصصینو په فکر زموږ د هېواد له پنځه سوه زرو څخه نیولې تر یوه میلیون پورې خلک د زرګرۍ په صنعت کې پر کار ګومارل کېدی شي او دا چې د زرګرۍ د صنعت لپاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستړو فابریکو جوړول او د زیاتې پانګونې اړتیا نشته، نو کېدی شي چې د هېواد په مختلفو سیمو کې داسې ترتیب ونیول شي چې ځوانان دې ځانګې ته جذب شي.

په ډېرو هېوادونو کې زرګري د مېرمنو ځانګړې پیشه ګرځېدلې چې زموږ د مېرمنو لپاره هم ښايي داسې روزنه برابره شي.

په معادنو باندې پانګونه منځمهاله او اوږدمهاله پروسه ده او د قانون تسلسل په کې حتمي شرط دی. پانګوال باید دا ډاډ ولري چې د نظام په تغیراتو قوانین او مقرات نه بدلېږي او د اصولو تداوم به د دوی د مشروع ګټو ساتندوی وي. که دولت ظرفیت ونه لري د قانون حاکمیت نه تأمینېږي، ځکه په لومړي ګام کې د معادن وزارت ته څوک د قانون د مرکز په سترګه نه ګوري، څو که موږ دا پرېکړه کړې وي چې یو هوسا هېواد او خودکفا خلک غواړو، نو بیا لازمه ده چې د هېواد معدنیات په شدیده توګه په هغه قانوني چوکاټ کې تنظیم شي چې ټولنیز عدالت تأمینولی شي.

د دې دلیل دادی چې د ټولنیز عدالت او د دولت د عوایدو د انسجام تر منځ کلک اړیکې موجود دی. په افغانستان کې لېترلېږه په راتلونکو سلو کلونو کې معادن ډېر ستر رول لوبوي، نو ځکه ورته داسې تهداب جوړول په کار دي چې زموږ راتلونکی خوندي وساتي.

## ۴- ساختماني:

څرنګه چې مو دمخه ذکر وکړ د نړیوال بانک د یوه تخمین له مخې افغانستان ته په تېرو جګړو کې د هر اړخېزې بربادۍ له





کبله ۲۴۰ میلیارده ډالرزیان رسېدلی دی.

کابل چې د هېواد پلازمېنې په توګه خپل ښاري حیثیت له لاسه ورکړی و او د چهاردهي سیمې د غلغلې د ښار بڼه یې غوره کړې وه چې په زرګونو کورونه یې د جګړې پر وخت تباه شوي وو. همدا ډول د افغانستان د ډېرو سیمو په ګډون د هرات ښار نیمایي برخه هم د روسانو په بمباریو کې ړنګه شوې وه. ما پخپلو سترګو د خوست او ګردیز ښارونه په داسې بد حالت کې ولیدل چې هېڅ شی په کې خوندي نه وو.

د جګړو له کبله د ننګرهار ډېره ځمکه شاړه شوې وه او د غنمو پر ځای په کې ډول ډول ماینونه کرل شوي وو.

افغانستان د هغو پنځو هېوادونو په کتار کې دی چې ډېر زیات ماینونه په کې ښخ دي. د ماین د وژونکیو حادثاتو داستانونه زموږ د خلکو ترمنځ د افسانو په څېر مروج دي. ماینونو ډېر فقیر انسانان وژلي او دغه ډاروونکی دښمن اوس هم زموږ په ځمکه کې پټ دی. مګر زما خپله یوه خاطره اوس هم نه هېرېږي. یوه ورځ د ډاکټر نجیب د دولت تر سقوط وروسته د خوست-ګردیز پر لاره د یوې درې خوا ته روان شوم د سړک پر سر ملګرو ونیولم او راته یې په وارخطایۍ وویل چې ټوله دره له ماینونو ډکه ده. دا هغه سړک و چې په زرګونو انسانانو پرې تګ راتګ کاوه او د مختلف وزن ماینونه پرې راالوتي او له منځه یې وړي دي. په همدې ترتیب مې په هرات کې هم ولیدل چې ماشومان د لوبو پر مهال د ماینونو خوراک شول.

زموږ په هېواد کې د ساختماني ظرفیت نه علاوه د یوه متحرک اقتصاد منځته راتګ ناشونی دی. دمخه مو وویل چې دولت باید د پلان ګذارۍ او د تدارکاتو د ظرفیت په برخه کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنسټیز قوت خاوند شي. اوس دا ویل غواړو چې په ساختماني برخه کې د خصوصي سکټور او دولت ترمنځ باید یو داسې اساسي تړون رامنځته شي چې له نړیوالو مرستو او کورنیو عوایدو څخه مؤثره ګټه ترلاسه کړو او په اصولي توګه تړې د زېربنا د ساتنې او پراختیا لپاره کار واخلو.

د خصوصي سکټور د پراختیا لپاره ځینو اقداماتو ته اړتیا ده چې په دې ډول ورته اشاره کولی شو:

**لومړی**- په هېواد کې باید یو ساختماني کوډ یا په بل عبارت یوه ساختماني مقرره وضع شي او داسې څرګند ملي معیارونه چې له نړیوالو معیارونو سره سمون خوري رامنځته شي او د ټولو مرسته کوونکو هېوادونو او مؤسساتو د منلو وړ وي. د دې کوډ اهمیت دا دی چې هر قراردادي به خپل وړاندیزونه په همدې چوکاټ کې برابروي او د خپل ظرفیت د لوړولو لپاره به پانګونه کوي.

**دویم**- د ساختماني قراردادي شرکتونو یوه سرتاسري اتحادیه باید جوړه او تقویه شي او هغه قراردادي چې د دې اتحادیې غړیتوب ونه لري باید د یوه قرارداد په مناقصه کې د ګډون حق ونه لري. دا اتحادیه باید دومره پیاوړې کړی شي، چې وتوانېږي د هر غړي د ظرفیت او کیفیت ګارنټي وکړي. د دې موخې د لاس ته راوړو لپاره باید د بشري قوي ټول هغه اړخونه په اساسي توګه وڅېړل شي چې د افغانانو اوسنی ظرفیت معلوم او د یوه اساسي ظرفیت د منځته راتګ لپاره منظم یو کلن، پنځه کلن او لس کلن پروګرام جوړ شي.

**دریم**- هر مرسته کوونکی هېواد، نړیوال بانک او





نادولتي سازمانونه (NGO) د مناقصې جلا، جلا اصول لري. د دې بېلابېلو اصولو زده کړه او د پروپوزلونو وړاندې کول زموږ افغاني شرکتونو ته یو ستر عذاب ګرځېدلی او له همدې کبله عمده قراردادونه د بهرنیو یا سیمه ییزو شرکتونو لاس ته لوېږي چې په پنځم شپږم لاس افغاني شرکت ته رسېږي او د ګټې ستره برخه هغه بهرني شرکتونه ترلاسه کوي، چې د پروپوزل لیکلو په چل پوهېږي. که غواړو چې دا بدبختي پای ومومي، نو لازمه ده چې دولت د مناقصې داسې اصول رامنځته کړي چې له نړیوالو مرستندویو مؤسسو او هېوادونو سره یوې څرګندې نتیجې ته ورسېږي او هغه اصول چې د ټولو لپاره یو ډول وي په تېزۍ سره خواره او عام کړي. بله لاره یې دا ده چې دولت دې له مرسته کوونکو هېوادونو څخه نقدي پیسې ترلاسه کړي او وروسته دې د خپلو شرکتونو په وسیله په خورا شفافیت او ایمانداری داسې لګښتونه وکړي چې په پایله کې یې نړۍ دې ته قانع شي چې دولت د خپل خصوصي سکټور په مرسته د نړیوالو قراردادیانو او ملګرو ملتونو د مؤسساتو په پرتله ډېر اغېزمن کارونه سرته ورسول.

**څلورم**- خصوصي شرکتونه هغه مهال پرخپلو پښو د درېدو توان پیدا کوي، چې له لنډمهال او منځمهال څخه په اوږدمهال یقین پیدا کړي او دا هغه وخت شوني کېږي، چې په منځمهاله او اوږدمهاله پروژو کې شرکتونه په دې ډاډه وي چې که چېرې د خپل ظرفیت د لوړولو لپاره پانګونه وکړي پانګه یې بې ځایه نه مصرفېږي، بلکې ګټوره نتیجه لري او که دا یقین پوخ شي، نو د افغانستان مختلف شرکتونه به اختصاصي کفایتونه ترلاسه کړي. د ساري په توګه، که چېرې دولت ټینګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



عزم ولري چې په پنځه کلنه موده کې د اوبو څلور سوه منځنۍ بندونه جوړ کړي، نو لازمه ده چې د پیسو سرچینه وضاحت ولري. نقشې تیارې او امنیتي شرایط مساعد وي، نو که چېرې خصوصي شرکتونه د دولت په منځمهاله موخو یقین وکړي ځانونه ورسره عیاروي او که چېرې موخه دا وي، چې پر څلورو سیندونو باندې په لس کلنه موده کې د برېښنا څلور ستر بندونه جوړېږي، نو هم لازمه ده په وضاحت سره وویل شي چې دې کار ته څه ډول ظرفیتونه په کار دي چې په داسې سترو پروژو کې ونډه واخلي، نو که داسې وشي پایله یې داده چې ځینې افغاني شرکتونه به پرخپل ظرفیت باندې پانګونه وکړي او یا دا چې له ځینو نړیوالو شرکتونو سره به شریک شي، چې د دریم ګام د سترو پروژو لپاره عملي تجربه ترلاسه کړي.

د ساختمان بل مثال د کورونو او اپارتمانونو جوړول دي. زموږ په اقتصادي شرایطو کې د کورونو کرایه ډېره لوړه ده. د کابل او پېښور د کورونو د کرایې پرتله د دې خبرې ښه ثبوت دی، ځکه په پېښور ښار کې د یوه مناسب کور کرایه تر کابله لس تر شلو چنده ټیټه ده. که غواړو چې ملي پانګه په کار واچوو او نړیواله پانګه په مناسبه توګه جذب کړو، نو د کورونو کرایه باید کم تر کمه د ګاونډیو هېوادونو له کرایې سره برابره کړو، ځکه له اقتصادي پلوه به بیا له ګاونډیو هېوادونو سره پرتله کېږو، که چېرې دولت دا تصمیم ونیسي، چې د لسو کالو په چوکاټ کې د هستوګنې یو میلیون واحدونو جوړولو ته زمینه برابره کړي، نو لازمه ده چې د دې موخې د عملي کولو لپاره له شرکتونو، بانکونو او نورو ملي او نړیوالو امکاناتو څخه ډېر مؤثر کار واخلي.





په همدې بهیر کې له سلو نیولې تر دوو سوو پورې شرکتونه داسې تقویه کېدی شي، چې د کورونو د جوړولو اساسي ظرفیت پیدا کړي او وتوانېږي چې د خپلو خلکو لپاره د هستوګنې وړ کورونه جوړ کړي. موږ به بیا اړ نه یوو، چې د نلدوانۍ، معمارۍ او یا نجاري لپاره د همسایه هېوادونو خلک په لوړه بیه استخدام کړو. که دا ساختماني ظرفیت چې د کمیت او کیفیت ترمنځ یې اعتدال موجود وي رامنځته شي، نو بیا به ولس په دې ډاډمن وي چې یو کور یا اپارتمان په مناسب قیمت او ټاکلي وخت ترلاسه کولی شي. کور یا د اوسېدو نور واحدونه زموږ د دولت د مامورینو ډېره ستره اړتیا ده.

که د اداري فساد لري کول په اهدافو کې شامل وي، نو باید داسې بنسټونه ایجاد کړو، چې د دولت مامورینو ته د کورونو د جوړولو ترتیب ونیسي. یوه لاره یې د تقاعد داسې صندوق جوړول دي چې له پانګې څخه یې د هستوګنې د کورونو جوړولو لپاره رقم اخیستل کېدی شي. نورې نړیوالې تجربې هم شته چې د یوه ملي بحث او ملي اجماع په ترڅ کې ترې ګټه اخیستی شو.

## ۵- مخابرات او معلوماتي ټکنالوجي:

په اوسنۍ نړۍ کې مخابرات او معلوماتي ټکنالوجي د اقتصاد مهم رکن دی، ځکه چې د معاملاتو اصل پر معلوماتو ولاړ دی او که په مناسب وخت کې معلومات ترلاسه نه شي معاملات ګټه نه شي کولی. که څوک غواړي چې خپل تولیدات د بازار له اړتیاوو سره سم عیارکړي اړ دی چې په اړه یې پوره معلومات ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمخه مو ويلي وو، چې کله په ۱۳۸۲ هـ ل کال په اصولي توګه د ټليفون لايسنسونه توزيع شوي نه وو، نو ساعتونه په کار وو چې په کابل ښار کې به دې له يوه وزارت څخه بل ته احوال لېږه، مګر کله چې ۷،۵ ميليونو افغانانو ټليفون ترلاسه کړ او س په اسانۍ سره د هېواد له يوه ګوټ څخه بل ته معلومات انتقال مومي او ٪۷۵ خلک کولی شي د يو بل له احواله خبر او د ژوند او سوداګرۍ لپاره ترتيبات ونيسي.

مخابرات او معلوماتي ټيکنالوجي يوازې د شخصي معاملو لپاره د اهميت وړ نه دي، بلکې معاصر مواصلاتي سيستم د نننې نړيوال نظام بنسټ ګڼل کېږي، نو پر همدې بنياد بايد نوي مواصلاتي نظام ته د يوې پراختيايي وسيلې په توګه وګورو او د دې سکتور د ودې او پراختيا لپاره داسې ترتيبات ونيسو چې د افغانستان د راتلونکي لپاره هم ممد وي او هم يو رکن.

د دې لپاره چې دا موخه عملي بڼه غوره کړي، بايد څو اساسي پاليسۍ جوړې او څو مهم تصاميم ونيول شي، ځکه کمپيوټر د يوه نوي علم په توګه ګڼل کېږي، په ګړې د پرمختګ او بدلون په حال کې دی. افغانستان نه شي کولی چې په دايمي توګه په نړيوالو سلاکارانو ملا وتړي. په کار ده چې د کمپيوټر د پروګرامونو په برخه کې د کمپيوټر د سافټوير داسې پروګرام جوړوونکي وروزو چې زموږ د بشري پانګې د پراختيا اساسي رکن وګرځي، ځکه کمپيوټر ورځ تر بلې له سياسته نيولې تر اداري او اقتصاد پورې په ټولو چارو کې مهم ځای نيسي، نو ځکه زموږ د سياسي او اقتصادي استقلاليت لپاره ډېره مهمه ده چې د سافټوير جوړولو دا مهم ظرفيت په خپل هېواد کې





ايجاد کړو او د دې ظرفيت د ايجاد لپاره لازمه ده، چې په پوهنتونونو کې د کمپيوټر د لوړې کچې پوهنځي جوړ کړو او يا دا چې د معلوماتي ټيکنالوجۍ يو جلا پوهنتون پرانيزو، چې موخه يې يوازې د تخنيکي کسانو روزنه نه، بلکې د پروګرام ليکنې د ظرفيت رامنځته کول وي، کمپيوټر يو معاصر علم دی او د تاريخ زده کړه ورته ضرور نه ده، د طب له يوه پوهنتون څخه د داسې يوه پوهنتون د جوړولو لګښت ډېر کم دی، مګر د اقتصاد او ادارې په برخه کې يې نتيجه د ډېر اهميت وړ ده.

په نننۍ نړۍ کې کمپيوټر ته د عام ولس لاس رسی د اقتصادي تحرک اصلي معيار دی، د کمپيوټر لپاره برق ضرور دی او دمخه مو د برېښنا په اهميت خبره وکړه، ځکه منظم او دوامداره برق له کمپيوټر څخه د ګټې اخيستو لپاره اساسي شرط دی.

انټرنيټ د مواصلاتي نظام يو بل جادويي ډوله سيم دی چې په يوه وخت کې يې ټوله نړۍ او فضا په بر کې نيولې ده. دا نړيوال جال هغه پوهنتون او کتابتون ته ورته دی، چې په ميلياردونو پاڼې تري ډکې او په دې برېښنايي کړښه کې خوندي دي. هغه معلومات چې له يوه کتابتون څخه په يوه مياشت کې ترلاسه کېدی شي په انټرنيټ کې ترڅو دقيقو زيات وخت نه غواړي، مګر له بده مرغه زموږ په هېواد کې دا اسانتيا ډېره لوړه بيه لري او که د يوه کور لپاره چې په ګاونډيو هېوادونو کې په لس ډالره د کوم کيفيت انټرنيټ ترلاسه کېږي زموږ په هېواد کې پرې تر څلورو سوو امريکايي ډالرو زيات لګښت راځي چې دا زموږ په اقتصادي شرايطو کې ډېر درونډ قيمت دی او همدا دليل دی چې زموږ ځوانان، خو لا څه زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوداګریز شرکتونه هم نه شي کولی له دې وسیلې څخه د لوړې بیې له امله اغېزمنه استفاده وکړي. زما په فکر د افغانستان دولت دې یوه داسې اصولي پرېکړه وکړي چې افغانستان د ازاد انټرنیټ ساحه وګرځي.

د انټرنیټ شرکتونه دولت ته کومه د یادولو وړ مالیه نه ورکوي، خو د ازاد انټرنیټ له امله راتلونکی اقتصادي خوځښت له دې مالیو څخه ډېر لوړ ارزښت لري. همدا ډول د ځینو امریکایي حقوقپوهانو او کمپیوټر پوهانو له خوا د سافټویر جوړولو په اړه یو ستر بحث جریان لري. که داسې اصولي اقدامات ترسره شي، نو په ګڼ شمېر کې به د سافټویر جوړولو کمپنۍ منځته راشي.

دا خبره مو په مخکې پاڼو کې ذکر کړه چې زموږ ځوانانو په تېرو اتو کلونو کې وکولی شول، چې د سافټویر په جوړولو کې خپله ونډه وښیي. که چېرې د دغو ځوانانو استعدادونو ته د رشد زمینه برابره شي دوی به د پوهنتونونو په راس کې ځای ونیسي او د دوی فکري پانګه به په ملي ګټو بدله شي.

په نړۍ کې د کمپیوټر بیه ورځ په ورځ په ټیټېدو ده. د امریکا د ټکنالوجۍ په ستر پوهنتون(MIT) کې یو ځانګړی لابراتوار په دې بوخت دی چې اول ځل د پنځوسو ډالرو په بیه یو کمپیوټر جوړ کړي او له دې څخه هدف دا دی چې وروسته یې بیه شلو ډالرو ته را ټیټه کړي. که دا او دې ته ورته زمینې عملي بڼه غوره کړي، نو زموږ ځوانانو ته به هم په پراخه پیمانه د کمپیوټر او انټرنیټ د استعمال موقع په لاس ور شي او له دې ټکنالوژۍ سره پراخه اشنایي به د دوی د ژوند په هره برخه کې ډېرې مثبتې اغېزې ولري.





## ۲- ښاري خدمات:

ښاري ژوند د کار پر تقسیم ولاړ دی. په ښارونو کې زیاتره خلک کسبګر دي او په تخصصي ډول خپل ژوند تأمینوي.

ښاري خدمات په عمومي ډول درې مهمې برخې لري:

**الف-** هغه خدمات چې د ښار له خوا کلیو بانډو او مالدارانو ته وړاندې کېږي.

**ب-** هغه خدمات چې ښاریانو ته وړاندې کېږي.

**ج-** هغه خدمات چې له ښار څخه سیمې او نړۍ ته وړاندې کېږي.

که دغو درېو برخو ته سمه پاملرنه وشي موږ به وکولی شو چې هم د خدماتو کیفیت لوړ کړو او هم د خدماتو په برخه کې کاري پراختیا او کاري زمینې را منځته کړو.

هغه خدمات چې د ښار له خوا کلیو بانډو او مالدارانو ته وړاندې کېږي د کلیوالو او مالدارانو په اړتیاوو پورې تړاو لري. زموږ زیاتره اطرافي وګړي په ورځ کې پنځوس افغانۍ عاید لري، چې دا ډېر ټیټ عاید دی او د دوی د پېر او پلور توان یې کمزوری کړی دی. دوی په ځینو خاصو موادو کې له ښاره سودا اخلي، د ساري په توګه، که واده ښادي وي، نو معمولاً ښار ته راځي او د واده د ضرورت شیان اخلي.

بزګران د سرې، غوړیو، اورلګیت، مالګې، تېلو او نورو شیانو د پېر لپاره ښارونو ته راځي، چې دا خدمات د بیې له پلوه ښاري دوکاندار ته د یادولو وړ ګټه نه رسوي، مګر کله که د دغو بزګرانو ورځنی عاید له پنځوسو افغانیو څخه دوه سوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانیو ته لوړ شو، نو بیا به دوی خپلو اولادونو ته له بهرنه کتابونه او ځینې نور شیان هم واخلي او د وخت په تېرېدو که چېرې هلته بربښنا ورسېږي، د دوی د پېر او اخیستو قوت به د دې وړ شي چې راډیو، د کالیو مینځلو ماشینونه، ټلویزیون، کمپیوټر او نورې برقي وسیلې هم له بهره وپېري.

که چېرې زموږ کرنه عصري شي، نو کلیوال به له بهرنونو څخه ټول وسایل لکه ټراکتور، ترېشر او نور واخلي او هغو زرعي مشاورینو ته به د مشورې اخیستو لپاره پیسې ورکړي، چې د دوی د حاصلاتو له پراختیا سره مرسته کولی شي. د دې ترڅنګ به دوی انجنیر، مهندس او ډیزاینر ته اړتیا پیدا کړي، چې دوی ته د کورونو، فابریکو او نورو تعمیرونو نقشې جوړې کړي او په سیمه کې د پلونو او بندونو د انسجام لپاره منظم ترتیب ونیسي.

هدف دادی چې په هره اندازه، چې د کلیوالو په عوایدو کې ډېرښت راځي په هماغه اندازه کلیوال کولی شي، چې د ټولنیزې همکارۍ له لارې خپلې اړتیاوې پوره کړي. همدا دلیل و، چې ما غوښتل د ملي پیوستون پروګرام په کلیو کې په شرکت بدل شي چې کلي يې په وسیله ملي او نړیوال مارکېټ ته لاره پیدا کړي. په هره اندازه چې زموږ د کلي سبزي په اروپایي مارکېټ کې وپلورل شي او یا یې مېوه د خلیج بازار ته ورسېږي په هماغه اندازه به زموږ د کلیوال ژوند بهتر شي.

په هره پیمانه چې د ارزښت د زنځیر کړۍ د نړۍ له معتبرو بازارونو سره وصل شي، په هماغه پیمانه به کلیوال د بهرنونو خدماتو ته اړتیا او ورتیا پیدا کړي. د مثال په ډول، که غواړو چې د کلي انګور مو د خلیج بازارونو ته لار پیدا کړي، نو





مجبور یوو چې په صحي لحاظ تثبیت او ښه کیفیت ولري. د داسې کنټرول لپاره د هغو ملي تأسیساتو ایجادول په کار دي، چې تصدیق یې د نړۍ د اعتماد وړ وي.

د کابل پوهنتون د فارمسي پوهنځی داسې ډېر امکانات لري چې د پورتنیو اهدافو لپاره کاربدلی شوای او د دغو امکاناتو پرمټ پوهنتون کولی شول چې د یوې تصدۍ بڼه غوره کړي، مګر او سني دولت ونه غوښتل، چې له یوې خوا کابل پوهنتون پر خپلو پښو ودرېږي او له بلې خوا د کیفیتونو د کنټرول یوه معتبره مؤسسه رامنځته شي.

د ښوونې او روزنې په برخه کې کلیو ته بهرني خدمات ډېر ارزښت ورډي. زه له ډېرو کلیوالو څخه اورم چې هلته د دولتي ښوونځیو هراړخیز خرنګوالی په خراب حالت کې دی، ځکه په ښوونکو باندې لازمه پانګونه نه ده شوې، درسي لوازم او د مکتبونو تعمیرات ضعیف دي او زیاتره مساجد او مکاتب برېښنا نه لري. د دې ستونزې د اوارې لپاره کولی شو د برېښنا په وسیله صوتي او تصویري درسي کسټونه، چې د پیاوړو استادانو له خوا تیار شوي وي د معلمانو او متعلمانو د مشاهدې لپاره وړاندې کړو. د دې ترڅنګ اوس په بهرونو کې خصوصي ښوونځي هم رامنځته شوي چې د دې خلا د ډکېدو لپاره یې غوره خدمت کېدلی شو، ځکه خصوصي سکټور په ډېرو برخو کې کولی شي د ناکام دولت له خوا راپیدا شوې خلاوې ډکې کړي او یا دا چې دولت باید د داسې ستونزو د اوارې لپاره اقدام وکړي او پخپله دې له عمده مضامینو څخه صوتي او تصویري ټایپونه جوړ کړي او په مؤثره توګه دې په ټول هېواد کې ووېشي. که له دې ټایپونو څخه په سمه توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



استفاده وشي، نوله يوې خوا به د معلم صاحبانو پېټى کم شي اوله بله پلوه به زده کوونکي وتوانېږي، چې مزيدو معلوماتو ته لاس رسى پيدا کړي.

کابل چې د هېواد پلازمېنه ده له بده مرغه د لېسو ترمنځ يې ډېر توپير شته. د احمدشاه بابا مېنې او د ښار د نورو اطرافو ښوونځي د اماني، حبيبيه او استقلال د لېسو په اندازه امکانات نه لري او درسي سويه يې هم يوله بله فرق کوي. که دولت د مجربو استادانو له خوا دا ډول جوړ شوي ټايپونه ووېشي او يا هم په انلاين ډول بعيد درسونه د ښوونځيو ترمنځ شريک شي تر ډېره بريده به په متوازنه توګه درسي امکانات د ټول هېواد په کچه عام او د استفادې وړ وګرځي. د دې طريقې يوه بله ګټه داده، چې ماشوم به په اسانۍ سره په خپله مورنۍ ژبه درسونه زده کړي او هم به نورې ژبې يادې کړي.

د ښار خلک د خوراک څښاک ډېر توکي له بازاره اخلي، نو ځکه لازمه ده چې په ښارونو کې لومړى د خوراک څښاک شيانو ته پام واړول شي. په ښاري قصابخانه کې غوښه ځوړند وي او مچان ترې چاپېر وي، چې د بې کيفيته تېلو بدې اغيزې هم پرې لوېږي. که منظم ترتيب وي کېدى شي دا غوښې په صحي توګه ښاريانو ته وړاندې شي او که صحي او معياري بڼه خپله کړي، نو د پېر او پلور په برخه کې به يې هم مثبت بدلون راشي.

د پلازمېنې کابل په شاوخوا ولايتونو پروان، پنجشېر، لوګر، کاپيسا، باميان او مېدان وردګ کې د مالدارۍ دومره امکانات شته چې د دې ښار د لبنياتو ټولې اړتياوې پوره کولى شي. هندوستان له کليو څخه د شيدو راټولولو او د لبنياتو په برخه کې د کوپراتيفي نظام د جوړولو ډېره بريالۍ تجربه لري،





چې د کابل او ګاونډيو ولايتونو ترمنځ پلې کېدى شي. په همدې ترتيب په نورو ولايتونو لکه ننګرهار، هرات، کندهار، مزار، خوست، کندز، پکتيا او..... کې به هم ښايي دا سې تجربې ډېرې بريالۍ نتيجې ولري.

د خدماتو د پراختيا لپاره څو نورعناصر ضروري دي:

**لومړى-** مقررات: دا سې مقررات وضع کول په کاردي، چې تش په کاغذ ليکلې پاتې نه شي، بلکې په اصولي توګه تطبيق شي. ښه خدمات په رغنده سيالۍ کې پراختيا مومي، خو که چېرې د محدودو افرادو په ګټه وکارېدل، نو بيا د خلکو باور له اصولو او ضوابطو څخه د ناوړو روابطو پر لور ځرخي او کوښښ کوي، چې په سياسي زور ميدان وګټي، نه په مسلکي خوارۍ. په کابل کې له هوټلونو سره د مستوفيت او ښاروالۍ چلند يې يو غوره مثال دى. د هوټلونو مالکان وايي، چې هره ورځ د مستوفيت او ښاروالۍ مامورين په دوى پسې ورځي او په بېلابېلو نومونو ترې په شنه زور پيسې اخلي. دوى وايي، چې د دولت مامورين دوى ته دا ښيي چې څرنګه د بډو په بدل کې د دوى ماليه کمه کړي.

زموږ خصوصي ټلويزيونونه هم د دولت له مختلفو شبکو څخه په تنګ دي او نه پوهېږي چې کوم ډول مقررات پرې تطبيقېږي. څو ځله د خصوصي ټلويزيونونو ځينې کارکوونکي د ملي امنيت له خوا بنديان شوي دي چې په حقيقت کې نه د اساسي قانون او نه هم د رسنيو د قانون له مخې د ملي امنيت ارګان دا حق لري چې د ټلويزيون کارمند ته لاس واچوي.

**دويم-** د يوه منظم پلان طرح او اجرا: د دا سې يوه منظم پلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



طرحه کول چې په دقیقه توګه په کې دا څرګنده وي، چې د وطن د ودې لپاره کوم خدمات باید پراختیا ومومي او په کومه توګه داسې خدمات عرضه کېدی شي. د دې یو مثال په هېواد کې سروې ګانې دي. په تېرو اوو کلونو کې د نړیوالې ټولنې ډېرو مؤسساتو دلته سروې ګانې ترسره کړې، چې د افغانستان د ټولو ګاونډیو هېوادونو په پرتله ډېرې ګرانې تمامې شوې. که څه هم د دې سروې ګانو ټول ساحوي مامورین افغان ځوانان وو، خو دا چې د څو بهرنیو شرکتونو له خوا ترسره شوې، نو بیه یې ډېره درنه تمامه شوه. د سروې ګانو ترسره کول هغه خدمات دي، چې په راتلونکو لسیزو کې ورته موږ په دوامداره توګه ډېره زیاته اړتیا لرو. که موږ د خدماتو یو منظم پلان ولرو په ډېره کمه موده کې همدا ظرفیت هم په خپلو پوهنتونونو او هم د شرکتونو جوړولو له لارې پیدا کولی شو. داسې نور ډېر مثالونه، شته چې پربنسټ یې ځوانانو ته د خدماتو له لارې ابرومند کارونه برابرېدی شي.

**درېیم- د ځمکو او هستوګن ځایونو عرضه کول:** د ښاري خدماتو یو بل اصل په مناسبه بیه د ځمکو، کورونو او اپارتمانونو عرضه کول دي. زېربنایي خدمات لکه برېښنا، انټرنټ او داسې نور هم په دغو خدماتو کې راځي. زموږ په ښارونو کې د کورونو، اپارتمانو، برېښنا، انټرنټ او داسې نورو ضرورتونو بیه د ګاونډیو هېوادونو په پرتله ډېره لوړه ده. که غواړو چې ښارونه مو د اقتصادي تحرک مرکزونه وګرځي، په کار ده، چې د کورونو د اخیستو او کرایې بیه حداقل د ګاونډیو هېوادونو په اندازه راټیټه





کړو، مګر دا کار بې د دولت او خصوصي سکتور له همکارۍ ناشونی دی. د ساختماني شرکتونو د پیاوړتیا لپاره په دې کتاب کې ځانګړې وړاندیزونه شته.

زموږ د وړاندیزونو د عملي کولو لپاره مهمه ده، چې په راتلونکو پنځو کلونو کې یو میلیون د هستوګنې کورونه جوړ او د معلمانو، د دولت د کارمندانو، متشبثینو او ځوانانو په واک کې ورکړل شي.

زموږ د متشبثینو یوه لویه ستونزه د ځمکو لوړه بیه ده. دا په دې معنی نه ده چې بویه ځمکې نشته، بلکې د خدماتو د عرضه کولو لپاره له دولت سره منظم پلان نشته. که دولت وغواړي کولی شي د متشبثینو په همکارۍ منظم پلانونه جوړ کړي.

د دې یو ښه مثال د مزارشریف ښار دی. پنځه کاله پخوا د مزار ښار ډېر ناپاکه او د هستوګنې ځایونو، دوکانونو او مارکیټونو له کمبود سره مخ و. په ښار کې یو سړک هم په سمه توګه پوخ نه و، مګر کله چې خصوصي سکټور له دولت سره لاس یو کړ، سړکونه پاخه شول، کورونه، دوکانونه او مارکېټونه جوړ شول او همدا ډول اوس خصوصي شرکتونه د ښار د پاکوالي لپاره هم له دولت سره مرسته کوي، چې د دې همکارۍ د ښار بڼه بدله کړې ده.

په هرات کې څو کاله وړاندې خلکو له دولت سره ومنله، چې خپلې ابادۍ چپه او سړکونه پراخ کړي چې په لږه موده کې دا چاره ترسره شوه. له دې کار سره له یوې خوا د خلکو د جایدادونو ارزښت زیات شو او له بله پلوه د ښار بڼه معیاري شوه.

دا سمه نه ده، چې وو ایوو په مزارشریف او هرات کې ستونزې نشته، خو هدف دا دی چې په وطن کې داسې ابتکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلګې شته چې له يوه ولايت څخه بل ته انتقالېدی شي.

د ښاري خدماتو د منظم پلان د نه لرلو له کبله زموږ غالۍ اوبدل له ډېرو ستونزو سره مخ ده او دا وخت بېخي پردۍ شوې دي. که څه هم د پېړيو په اوږدو کې زموږ خويندو او ورونو د غالۍ اوبدلو په کار کې ډېرې سترې تجربې ترلاسه کړي، خو اوسمهال زموږ غالۍ له پاکستان څخه نړۍ ته د پاکستاني صنعت په نامه صادرېږي. د غالۍ اوبدونکو د اتحاديې د دعوې له مخې څو ستونزې د دې لامل شوي چې زموږ غالۍ اوبدل اوس له هېواده بهر دي. يوه ستونزه دا ده چې په ټول هېواد کې د غالۍ مينځنلو دستګاه نشته. غالۍ اوبدونکي حاضر دي، چې د دې دستګاه د جوړولو لپاره پانګونه وکړي، خو دولت ترا اوسه دوی ته لازمه ځمکه په اختيار کې نه ده ورکړې.

بله د رنګ او وړۍ د ښه جنسيت د نه لرلو ستونزه ده، چې په نړيوال مارکېټ کې د دوی د مصنوعاتو اعتبار ته زيان رسوي او د افغانستان دولت په دې برخه کې هم له دوی سره مرسته نه ده کړې. نړيوال مارکيټ ته د غاليو د انتقال پروسه د غالۍ اوبدونکو بله ستونزه ده، چې افغان دولت ورته شرايط نه دي برابر کړي. اوسنی دولت ترا اوسه نه دی توانېدلی، چې د هوايي کارګو له لارې د غاليو د انتقال مناسب شرايط برابر کړي. همدا دليل و، چې غالۍ اوبدونکو پاکستان ته مخه کړه او د هغوی له هوايي کرښو يې کار واخيست.

زموږ په ښارونو او کليوکې د غالۍ اوبدلو کسب شته، خو د خدماتو هغه زنځير نشته، چې يو رنګ پوهه او تخصص په بل رنګ پوهې او تخصص پورې وتړي او ډېرو خلکو ته هم د کار





زمينه برابره کړي او هم ورته غوره خدمات وړاندې کړي.

زه د خپلې نړيوالې تجربې په اساس ويلی شم، چې له دولت څخه زموږ د غالۍ اوبدونکو غوښتنې ډېرې پر ځای او معقولې دي. که چېرې د اروپا او امريکا د سوداګرۍ د مديريت استادان هم له دغو غاليو اوبدونکو سره کېني، نو د دوی غوښتنې به ومني. په نوره نړۍ کې د سوداګرۍ اتحاديې او دولتونه په سلګونو ميليونو ډالر لګوي چې د سوداګرۍ د ادارې کارپوهان د ستونزو تحليل او حل لارې وړاندې کړي، مګر زموږ دولت ته غالۍ اوبدونکو په وړيا ډول داسې مشورې ورکړي، خو دوی پرې غوږ نه دی ګرولی. که په هېواد کې يو اغېزمن دولت راشي ژر تر ژره به د غالۍ اوبدونکو دا غوښتنې پر ځای او په لکونو خلکو ته به کاري زمينې پيدا کړي.

په همدې ډول هغه کسبګر چې په هېواد کې ژوند کوي د خپل کاري ظرفيت د لوړولو او د غوره خدماتو د ارايه کولو لپاره د دولت مرستې ته اړدي.

د کابل د پلچرخي د کسبګرو له اتحاديې څخه نيولې د جلال آباد ، کندهار، هرات، کندوز، بغلان، مزار، خوست، بدخشان، تخار، فراه او هلمند د مزدورانو او کسبګرو تر اتحاديو پورې ټولو په مفصله توګه خپلې ستونزې تحليل کړي او د هواري په موخه يې له دولت څخه مرسته غوښتې، مګر دولت پرې ځان نه دی پوه کړی. که اغېزمن دولت موجود وي د دې ستونزو د هوارې لپاره په ډېره اسانه توګه ترتيب نيول کېدی شي.

زموږ کسبګر د اولاد د نفقې ګټلو لپاره په ټوله نړۍ کې خواره دي. د ايران ساختماني شرکتونه په تېرو دريو لسيزو کې زموږ د کسبګرو په همت پرمخ ولاړل. که چېرې موږ د خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلمانو، مامورينو او متشبثينو لپاره د هستوګنځايونو ترتيب نيسو، نو له يوې خوا به مو دغه وطنوال کسبګر چې په ډېرو سختو شرايطو کې په ګاونډيو هېوادونو کې ژوند کوي بېرته خپل هېواد ته راستانه شي او له بله پلوه به هغه ټول کاري ظرفيت را ټول شي، چې موږ ورته همدا اوس ډېره اړتيا لرو.

هغه خدمات چې له ښار څخه سيمې او نړۍ ته وړاندې کېږي: د ښاري خدماتو دا برخه په سيمه ييزو او نړيوالو خدماتو پورې تړلې ده. يو مثال يې، د حوالې سيستم او بانکونه دي. پخوا تر دې چې بانکونه رامنځته شي زموږ بهر مېشتو افغانانو به خپلوانو ته د حوالې له لارې پيسې رالېږلې، خو اوس چې بانکونه جوړ شوي سوداګريزو شرکتونو ته د صادراتو او وارداتو اسانتياوې رامنځته کوي. د تشبث د تقويې لپاره بانکونه مهم دي، ځکه بانکونه د پوروکولو له لارې متشبثين تقويه کوي او د نړيوالې پانګې په جلب وجذب کې بااعتباره ملي بانکونه ډېر اساسي رول لري.

هغه مهال چې په نړۍ کې د چټکو مواصلاتو امکانات نه وو، نو زياتره خدمات په ملي چوکاټ کې ترسره کېدل. د ساري په ډول، هغه وخت چې د ټليفون، انټرنيټ، فکس او نور مواصلاتي امکانات نه وو د يوه سوداګريز شرکت مسؤولينو به د خلکو د شکايتونو او فرمايشونو د اورېدو لپاره په هره مغازه کې يو دفتر درلود. دوی به چې په هر هېواد کې مغازه لرله په هماغه مغازه کې به يې د هغه وطن مامورينو کار کاوه او ياده شوې دنده به يې ترسره کوله، مګر اوس چې ذکر شوي امکانات شته شرکتونه کولی شي د ټليفون د يوې شمېرې په وسيله د نړۍ له ګوټ، ګوټ څخه د خلکو شکايات او فرمايشونه راټول





کړي. که د يوه امريکايي شرکت د ټليفون مرکز ته څوک د نړۍ له هر ګوټ څخه ټليفون وکړي، نو ښايي په هندوستان کې ناست نفر ورته ځواب ووايي، ځکه هندوستاني ځوانان د امريکا د بېلابېلو سيمو په مختلفو لهجو خبرې کولی شي او په ډېره اسانۍ هغه کارونه اجرا کوي، چې لس کاله پخوا پخپله امريکايانو ترسره کول.

د داسې خدماتو عرضه کولو لپاره بايد يوه پياوړې بشري قوه رامنځته او د معلوماتي ټيکنالوجۍ په برخه کې اساسي پانګونه وشي.

د معلوماتي ټيکنالوجۍ په برخه کې د هندوستان د بنګلور او حيدرآباد تجربې له يوې خوا او د ايرلينډ تجربې له بلې خوا دا په ګوته کوي، چې معلوماتي ټيکنالوجي د دوی د ژوندانه د ودې يو ستر عنصر ګرځېدلی، چې د ښاري خدماتو د عرضه کولو چاره يې ډېره اسانه کړې ده.

## و- مارکېټ جوړول:

څرنګه چې موږ د دولت او ملت جوړونې ته اړتيا لرو، همدا ډول مو د قانونمند او متحرک بازار جوړول هم ستره اړتيا ده. د داسې بازار په ځينو اصولو باندې مخکې غږېدلي يوو. قانونمند بازار د قانوني حکومت تر ټولو ستر شرط دی، ځکه د قانون د حکومت په رڼا کې ژوند، وطن، پانګه او معاملات خوندي وي، خو د دې ترڅنګ زېربنا هغه اړتيا ده چې پرمټ يې ټول اقتصادي معاملات په اسانۍ سرته رسېږي. دلته د يوه قانونمند بازار په ځينو هغو اصولو رڼا اچوو چې زموږ په ځانګړو شرايطو کې ورته پاملرنه په کار ده:

نړیواله سطحه یې خپل فعالیتونه پیل کړل. د دې ټولو فعالیتونو عمده پایله داده، چې فقیرو خلکو ته د یوه جمعیت د ګارنټۍ پر اساس پورونه ورکول شي. غریب خلک هم په ډېره ایمانداری دا پورونه پرې کوي او د خپل ژوندانه د ښه کولو لپاره ترې کار اخلي.

واړه پورونه په دې هم ډېر د اهمیت وړ دي، چې غریبو خلکو ته د حد اقل اقتصادي خوځښت زمینه برابره کړي، خو د دې لپاره، چې اساسي اقتصادي خوځښت رامنځته شي د منځنیو او سترو پورونو ورکولو ته اړتیا ده.

د منځنیو پورونو اندازه شرایطو ته په پام سره فرق کوي. زموږ په ځانګړو شرایطو کې له **۲۵** زره افغانیو څخه تر **۲۵۰** زرو افغانیو پورې او له **۲۵۰** زرو څخه تر **۵۰۰** زرو افغانیو پورې قرضه د خاص اهمیت وړ ده. د دې پورونو اهمیت دا دی، چې هغو ځوانانو ته چې مبتکر فکر لري، خو د عملي کولو پانګه یې نه لري، د کار زمینه مساعده کړي او دا چې پخپله ګټندوی وي پور ورکوونکو ته هم ګټه ورسوي.

دا ډول پورونه هغو متشبثینو ته، چې په وړه سطحه کې یې خپل بریالیتوب تثبیت کړی، خو د پانګې د کموالي له کبله نه شي کولی، چې د خپل کار ساحه پراخه کړي، ډېر مهم دي. د مثال په توګه، یو بزګر چې د واړه پور په نتیجه کې یې په لس جریبه ځمکه باندې یو فصل کرلی وي او په دې برخه کې یې خپل تشبث ثابت کړی وي، خو د پیسو د نه لرلو له کبله نه شي کولی، چې داسې یو جنس چې په هېواد کې نوی وي او ښه بازار لري وکري، نو که چېرې دې بزګر ته د سل جریبه ځمکې د اجاره کولو چانس په لاس ورشي ښکاره ده، چې لویه ګټه به ترې





**لومړی**- د پور نظام: دا هغه نظام دی، چې په نړۍ کې د اقتصاد په چټکتیا کې ستره ونډه لري. دا سیستم درې برخې لري، چې درې واړه د اقتصادي تحرک لپاره مهمې دي او دا هغه سیستم دی، چې کولی شي وړې پیسې ټولې او سترو موخو ته پرې د عمل جامه واغوندي.

د واړه پور سیستم نن ورځ د ډېرو فقیرو خلکو د هوساینې لپاره یو ګټور اقدام ثابت شوی دی. د واړه پور په باب د اسلامي هېواد بنګله دېش ستره کارنامه د مثال په ډول یادولی شو. د نوبل جایزې ګټونکی ډاکټر محمد یونس هغه شخصیت و، چې د دې سیستم په پراختیا کې یې په بنګله دېش کې ستر رول ادا کړی دی. د واړه پور عمده ګټه داده، چې په عمومي ډول فقیر خلک او په خصوصي توګه هغه فقیرې مېرمنې چې هېڅ جایداد نه لري د ژوند د تېرولو لپاره ترې کار واخلي. کله چې په دې اړه سپارښتنه وشوه، چې مستحقو مېرمنو ته دې واړه پورونه ورکول شي. مهمه پوښتنه دا وه چې دوی به څرنګه د دغو پورونو په پرېکولو وتوانېږي؟

د ډاکټر محمد یونس مهم ځواب دا و، چې دا پورونه به د یوې ټولنې له خوا پرې کېږي، ده تر یو سمندري توپان وروسته د مېرمنو یو ټولګی جوړ کړ او خپلې پیسې یې ورته د پور په توګه ورکړې په نیږدې وخت کې څرګنده شوه، چې فقیرې مېرمنې د پور په پرې کولو کې تر هر چا ډېرې امانتدارې دي او په منظمه توګه خپلې ژمنې سرته رسوي. د دې په پایله ګرامین بانک جوړ شو، چې اوس په نړیواله کچه پېژندل شوی بنسټ دی. د ګرامین ترڅنګ د برک په څېر چې اوس په افغانستان کې هم فعالیت کوي، نور بنسټونه هم ایجاد شول او په سیمه ییزه او



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې په خصوصي سکتور کې دا توانایي پیدا کړه، چې د زېربنا یوه ستره برخه یې جوړه کړه. په هندوستان کې په تېرو دریو کلونو کې ځینې داسې بنسټونه منځته راغلي، چې د زېربنا پانګه یې بولي او د خصوصي سکتور له لارې یې د زېربنایي پروژو جوړول خپله موخه ګرځولې ده. موږ باید د دغو مهمو تجربو پر اساس د لازمې پراختیا لپاره په افغانستان کې هم د پور ورکولو د سیستم په هکله جدي اقدامات وکړو.

په دې برخه کې د اسلامي بانکدارۍ هغه ابتکارات، چې په تېرو شلو کلونو کې شوي هم د ډېر اهمیت وړ دي، ځکه بنسټیز اصل یې پر مضاربت ولاړ دی، نو لازمه ده چې موږ له نورو اسلامي هېوادونو بیا په تېره د خلیج له تجربو ګټه واخلو او د هغوی په اشتراک دا ډول نهادونه پخپل هېواد کې جوړ کړو.

**دویم**- اجاره او بیمه: د یوه متشبث انسان د بریالیتوبونو راز د اقتصادي بنسټونو په موجودیت کې دی. په دې برخه کې د پور د سیستم په اړه وپوهېدو، خو د اجارې او بیمې سیستم هم د یوه متشبث د بریالیتوب لپاره مهم بنیادونه دي. که چېرې یو متشبث وغواړي، چې د کرنې په برخه کې تشبث وکړي او اړ وي چې ځمکه واخلي، نو د ځمکې لوړه بیه به هغه ته د ګټې چانس په لاس ورنه کړي او که له دولت یا خلکو څخه ځمکه په اجاره ونیسي، نو د کمو پیسو په بدل کې دا کارکولی شي.

همدا ډول د ساختمان جوړولو په برخه کې د ماشینونو اجاره کولو سیستم هم ډېر ضروري دی. که یو ساختمان جوړوونکی اړ شي چې ماشینونه په کامل مالکیت واخلي، نو په هغه صورت کې به ډېره ګرانه وي چې داسې وکړي، ځکه په مارکېټ کې به د یوه ماشین بیه دومره لوړه وي چې متشبث ته به د نور فعالیت





واخلي او لا به هم د خپل ابتکار ساحه پراخه کړي، خو که چېرې یوه مبتکر ته د خپل نظر د عملي کولو موقع په لاس ورنه شي، نو ابتکاري نظریات به یې یوازې نظریات پاتې شي او هېڅکله به هم عملي نه شي، چې نه به یې ځان ته کومه ګټه ورسېږي او نه هېواد ته.

د منځنیو او وړو پورونو تر منځ هم توپیر دی، ځکه د منځني پور اخیستو لپاره یو څوک اړ دی، چې سوداګریز پلان ولري، چې د پور ورکوونکي بنسټ له خوا به د دې پلان د تطبیق مرحلې تر څارنې لاندې نیول کېږي. د منځنیو پورونو ترڅنګ د سترو مفکورو او نظریاتو د عملي کولو لپاره لوی پورونه ډېر لازمي دي، ځکه بې له لویو پورونو سترې مفکورې او ابتکاري نظریې نه شي عملي کېدی.

د دې بهیر د غښتلې ودې لپاره بانکونه هم مهم دي. د بانکونو په وسیله ټولنیزه هوسایي رامنځته کېږي. د ساري په توګه، که څوک غواړي په ځانګړې توګه کور یا اپارتمان جوړ کړي، نو له یوې خوا ډېر وخت غواړي او له بلې خوا په ډېره لوړه بیه پرېوځي، مګر په هغو هېوادونو کې، چې ساختماني شرکتونه شته کولی شي له بانکونو څخه ضروري پورونه ترلاسه او د خلکو د توان او اړتیا تر څېړنې وروسته کورونه جوړ او بازارونو ته یې وړاندې کړي. د دې ترڅنګ بانکونه پېرودونکو ته د هغوی د میاشتینیو عوایدو په نظر کې نیولو سره پورونه ورکوي، چې هغوی په ټاکلې موده کې د کور یا اپارتمان مالکان شي. په وړه، منځنۍ او لویه کچه د پور د منظم سیستم موجودیت د هېواد د اقتصاد په هره برخه کې اغېز لري.

د اسپانیا یو ستر ابتکار دا و، چې د پور د سیستم په وسیله

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره کافي پیسې نه وي پاتې، نو ځکه د بانکونو او یا نورو ساختماني شرکتونو په څېر د ماشین الاتو د شرکتونو موجودیت هم د اقتصادي خوځښت یوه لازمي برخه ده.

په افغانستان کې له نېکه مرغه ځینو متشبثیونو د ماشینونو د اجارې شرکتونه جوړ کړي دي او د دوی د فعالیت کچه دې ته رسېدلې چې بهرنیو قراردادي شرکتونو ته هم په اجاره ماشینونه ورکوي. مگر له بده مرغه د افغانستان دولت په دې نه دی بریالی شوی چې د دوی نظریات واوري او د ستونزو په حل کولو کې ورسره مرسته وکړي، ځکه د داسې شرکتونو یوه مهمه ستونزه د بیمې نشتوالی دی. که چېرې د ماشین آلاتو د اجاره دارۍ یو شرکت، یو ماشین چې له پنځوسو زرو ډالرو تر درې سوو زرو ډالرو بیه ولري، له لاسه ورکړي او په یوه کال کې دا عمل څو ځله تکرار شي، نو شرکت ته به ویجاړوونکې صدمه ورسوي. د بیمې اساس دا وي چې د طبیعي افاتو او انساني صدماتو د راتگ پر وخت د یوه متشبث د زیانونو جبیره وکړي. که د بیمې منظم سیستم وي، نو متشبث په ډاډه زړه کولی شي خپل پلانونه منسجم کړي. جگړه ییز حالات او بد امني د خاصو اقداماتو غوښتنه کوي. په هغه صورت کې چې امن نه وي دولت او نړیواله ټولنه د نړیوالو تجربو پر اساس کولی شي اصولي گامونه واخلي چې د متشبثینو هلې ځلې تقویه او هغوی ته د نورو اقتصادي فعالیتونو د پراختیا زمینه برابره کړي.

**درېیم**- د تدارکاتو زنځیر یا (Supply Chain): دا یو علمي فن دی، ځکه اوسنی نړیوال اقتصاد په دې استوار دی او هر چېرې، چې خامو یا پخو موادو ته اړتیا پېښه شي باید پر





وخت ورته ورسېږي.

د تدارکاتو نظم راوستلو ته د تدارکاتو زنځیر وایي او زنځیر یې ځکه بولي چې که ترمنځ یې هره کړۍ ماته شوه، نو زنځیر خپل اغېز له لاسه ورکوي. په همدې ډول د تدارکاتو د زنځیر هره کړۍ د زنځیر د موجودیت لپاره هم ډېر اهمیت لري. د دې ادعا ژوندی مثال زموږ واردات دي. موږ د مختلفو پروژو لپاره بېلابېلو ماشینونو ته اړتیا لرو او ترڅو، چې یو ماشین کم وي دا پروسه پرمخ نه شي تللی، خو له بده مرغه ډېر وخت داسې شوي، چې زموږ د اړتیا وړ واردات د کراچۍ په بندر کې په اونیو او میاشتو ټال شوي دي. په چین، جاپان، اروپا، او امریکا کې د یوې پروژې مسؤول په دقیقه توگه پوهېږي، چې دده د اړتیا وړ ماشینونه به کوم وخت ده ته ورسېږي او که ځنډ په کې راشي، نو د ماشینونو شرکتونه به ورته ډېره لویه جریمه ورکوي. خو دا چې موږ په وچه پروت هېواد یو - زموږ واردات په یقیني ډول د مودې له پلوه نه شي گارنټي کېدی، چې په خپل وخت به زموږ لاس ته راشي. له همدې کبله اړ یوو، چې خپل ضروري تدارکات په اساسي توگه تنظیم کړو او له هغو هېوادونو سره، چې بحري بندرونه او د ریل پټلۍ لري یوې موافقې ته ورسېږو، ځکه په وچه پرتو هېوادونو لپاره ځینې نړیوال قوانین موجود دي او موږ باید د هغو قوانینو په چوکاټ کې یوه پیاوړې ملي طرحه او ابتکار رامنځته کړو، چې په پایله کې یې زموږ د بارچالانۍ نظام داسې بڼه غوره کړي، چې د پروژو د تطبیق لپاره له وخت او زمان څخه مؤثره گټه واخلو.

د بارچالانۍ اهمیت یوازې په دې کې نه دی چې د پروژو د عملي کولو لپاره مواد انتقال کړي، بلکې کرنه، صنعتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



فعالیتونه او نور ټول خدمات په یوه تدارکاتي نظام پورې تړلي شیان دي. موږ اړ یوو، چې په دې فني برخه کې ګڼ شمېر ځوانان وروزو، چې د دې مهم زنځیر په هره کړۍ کې د ډېرو معلوماتو خاوندان شي او وکړی شي، چې راتلونکي نسلونه هم تربیه کړي.

**څلورم-** د ګټې زنځیر: بشري پانګه کولی شي طبیعي او کلتوري شتمنۍ په مالي پانګه واړوي. د طبیعي پانګې په اړه مو د مخه وویل، چې څنګه خام مواد کېدی شي پر قیمتي تولیداتو باندې بدل شي. زموږ مېرمنې لاسي کارونه کوي، خو نه دوی د یادولو وړ ګټه ترلاسه کوي او نه هغه سوداګر، چې له دوی څخه لاسي جوړ شوي توکي اخلي، سبب یې دادی، چې د ګټې زنځیر محدود او لنډ پاتې دی او هغه کړۍ، چې کولی شي دا لاسي صنایع د نړۍ سترو بازارونو ته ورسوي په دې زنځیر کې نه ده ورزیاته شوې. موږ اړ یوو، هغه کړۍ چې د کالیو د نړیوالو سټنډرډونو ځانګړنې په ګوته کوي او د هغو پلورنځیو د غوښتنو په اړه معلومات راکوي، چې ستر بازار لري د خپلو ګټو په زنځیر کې زیاته کړو.

د دې لپاره چې زموږ لاسي صنعتګران د دې بازارونو پر اهمیت پوه شي او د هغوی د اړتیاوو په پام کې نیولو سره خپل کارونه تنظیم کړي، نو په کار ده، چې دوی ته د معلوماتو راټولولو او د فني مهارتونو د لوړولو زمینه مساعده شي. کله چې د ګټو زنځیر زموږ له کلي څخه تر نړیوال بازار پورې په منظمه توګه وغځېږي او خلک په هرې کړۍ کې د بلې کړۍ پر اهمیت پوه شي، نو هغه مهال به د ګټې زنځیر ریښتیا هم پیاوړی او د دې لامل شي، چې زموږ د ټولنې شلېدلي خواوې وتړي او د





خلکو ژوند هوسا کړي.

د ګټې د زنځیر بل مثال کلتوري شتمني ده. موږ د خپل تاریخ له ډېرو دورو څخه لرغوني اثار او نښې لرو، چې زموږ کلتوري پانګه ده. مصر، مکسیکو او ترکیه د هغو هېوادونو له بېلګو څخه دي، چې له خپلو لرغونتوکو او ټوریزم څخه یې د ګټې یو قوي زنځیر جوړ کړی دی او توانېدلي دي، چې هر کال په میلیاردونو ډالر له دغه زنځیر څخه پیدا کړي. سره له دې، چې ځینې خلک فکر کوي، په اوسنیو امنیتي شرایطو کې په افغانستان کې د ټوریزم پراختیا ناممکنه ده، مګر افغان متشبثینو دا نظریه غلطه ثابته کړه، او په بلخ کې هغه څو تنه متشبثین، چې څو ستر باغونه یې جوړ کړي وایي، چې د دوی باغونو ته خلک راځي ودونه او نور ډول ډول محافل په کې نیسي او په دې برخه کې د خلکو تقاضا تر دې هم لوړه برېښي.

اوس چې زموږ په هېواد کې ګڼ شمېر بهرنیان ژوند کوي کولی شو، هم د دوی له لارې او هم د داخلي ټوریزم د پراختیا له لارې خپله دغه برخه د ګټې په زنځیر بدله کړو.

**پینځم-** ګارنټي: پانګونه همېشه له خطر سره مخ وي. که پانګوال خطرونه ونه مني، نو د ډېرو پیسو خاوندان کېدی نه شي. کله چې په امریکا او اروپا کې اساسي اقتصادي وده پیل شوه پانګوال اړوو، چې د پانګې د پراختیا لپاره ټول خطرونه ومني، مګر د وخت په تېرېدلو داسې بنسټونه رامنځته شول، چې ورو- ورو یې د پانګونې په برخه کې ریسک کم کړ.

د قانون حاکمیت او د بیمې او پور سیستمونه هغه نوښتونه دي، چې ریښتیا هم د پانګوال خطرونه تر ډېره بریده کمولی شي او په کومه اندازه، چې د پانګوال خطرونه کمېږي په هماغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



انــدازه د هغــوی د فعاليــت ســاحه پراختيــا مــومي. لــه دې سيســټمونو څخــه يــو تــر ټولــو مهــم سيســټم، ګرنټــۍ ده، چــې پــه تېــرو شــپېتو کلونــو کــې رامنځتــه شــو. دا ګــارنټي بېلابېلــې برخــې لــري او د مختلفــو هېوادونــو او مؤسســاتو لــه خــوا ورکــول کېــږي، چــې د سياســي ريســک ګــارنټي يــې غــوره مثــال دی، ځکــه پــه هغــه وخــت کــې، چــې د دولتونــو د پاليســيو پــه تــداوم بانــدې پــانګوال بــاورونــه لــري، نــو هــم د دولــت او هــم د پــانګوالو لــه خــوا پــه قراردادونــو کــې د سياســي ريســک ګــارنټي داخلېــږي او معنــی يــې دا وي، چــې کــه د حکومــت پاليســي بدلــه شــي، نــو پــه هغــه صــورت کــې بــه د ريســک ګــارنټي کــوونکې مؤسســه د پــانګوال د تــاوان جبيره کوي.

همدارنګه حکومت به له وړاندې څخه په قانوني توګه يوه اندازه تاوان منلی وي. په دې کې عمده عنصر هغه دربيم ګرې مؤسسه ده، چې د دولت او پانګوال ترمنځ د دواړو خواوو ژمنې ښاري، چې قراردادونه يې بايد پر اصولو ولاړ وي. د ګارنټۍ يو بل مثال په يوه بې ثباته هېواد کې د پانګوالو تشويق او ترغيب دی.

د ســاري پــه توګــه، مــوږ اړ شــوو، د مــؤقتې او انتقــالي دورې پــر مهــال د امريکــا لــه متحــدو ايــالاتو څخــه وغــواړو، چــې لــه امريکــا څخــه بهــر د پــانګونې ګــارنټي کــوونکي مؤسســې (OPIC) پــه وســيله زمــوږ پــه هېــواد کــې بهرنــۍ پانګونــه ګــارنټي کــړي. تــر څــه بحثونــو وروســته دا کــار وشــو او د ۲۰۰۸ مــيلادي کــال تــر پــای پــورې د امريکــا يــادې شــوې مؤسســې وکــولی شــول تــر يــو ميليــارد ډالــرو زياتــه بهرنــۍ پانګونــه پــه افغانســتان کــې ګــارنټي کــړي. د دې نوښت نتيجــه دومــره بريــالۍ شــوه، چــې تېرکــال د همــدې مؤسســې لــه خــوا شــپږو نــورو هغــو هېــوادو تــه هــم انتقــال شــوه، چــې تــازه د





جګــړې لــه ډګــره راوتلــي وو. پــه افغانســتان کــې د بهرنــۍ پــانګې ګــارنټي کېــدل مثبــت دي، ځکــه د هــر وروســته پــاتې هېــواد هــدف بايــد داوي، چــې د کــارد ايجــادولو لپــاره د امکــان ترحــده بهرنــۍ پانګــه جــذب کــړي، مګــر اصــلي هــدف بايــد دا وي، چــې مــوږ لــه هېــواده بهــر او پــه هېــواد کــې دننــه، افغــاني پانګــه جــذب او پــه کــار واچــوو. دا چــې پــه وروســته پــاتې هېوادونــو کــې د کــورنۍ پــانګې لپــاره د ګــارنټۍ کومــه منبــع نشــته، نــو مــوږ بايــد نــور شــرايط داســې عيار کړو، چې خپله پانګه مو بهرته ونه وځي.

## ز- ټولنيز تشبث:

فــردي تحــرک د متشــبث اقتصــاد لپــاره خــاص اهميــت لــري او د تــاريخ پــه اوږدو کــې داســې بنســټونه منځتــه راغلــي چــې متشــبثينو تــه دا امکــان برابــر کــړي تــر څــو خپلــې پــانګې ســره راټــولې کــړي، چــې پــه ګټــه او تــاوان دواړو کــې ســره شــريک شــي. د دې يــو مثــال خانــداني تجــارت دی، خــو پــه دې عنعنــوي تجــارت کــې د شــرکتونو مالکيــت او مــديريت لــه يــوه تــن ســره وي او پــه يــوه کــورنۍ کــې تمرکــز لــري، مګــر پــه يــوه ســهامي شــرکت کــې د مالکيــت او مــديريت پــه برخــه کــې تــوپير وي، ځکــه مــديريت هغــو کســانو تــه ســپارل کېــږي، چــې د مــديريت وړتيــا لــري او د مــالکينو ګټــه خونــدي ســاتلی شــي. پــه داســې بنســټونو کــې د مالکــانو دنــده ښارنــه وي چې وکولی شي خپل ملکيت او ګټې خوندي وساتي.

پــه نــړۍ کــې يو خــاص بنســټ چــې پــه وروســتيو لســيزو کــې يــې ځــانګړې حيثيــت پيــدا کــړی ټــولنيز تشــبث دی. زمــوږ پــه ټولنــه کــې دا تشــبث پــه يــوه ســاحه کــې ډېــره اوږده ســابقه لــري چــې هغــه د اوبــو د تنظــيم برخــه ده. د تــاريخ پــه اوږدو کــې د افغانســتان پــه هــر ګــوټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د ټولنیز کوښښ په نتیجه کې د اوبه خور لپاره ویالې جوړې شوې دي او ستر سند یې په هرات کې د اوبو د نظام په هکله هغه ځانګړې ترتیب دی، چې په لسمه هجري پېړۍ کې یې رامنځته کړی و. دا طریقه په دومره اساسي ډول پلې شوې وه چې نن هم دوام لري او دا وخت له نړیوال بانکه نیولې د نورو ټولو نړیوالو بنسټونو متخصصین دې اجماع ته رسېدلي چې د اوبو حفظ او مراقبت بې له دې چې ولسونه او ټولنیز بنسټونه په کې برخه واخلي، دولتونه یې نه شي تنظیمولی.

اوبه زموږ د طبیعي پانګې ستره برخه جوړوي، نو لازمه ده چې یو ځل بیا خپلو ټولنیزو بنسټونو ته قانوني واک ورکړو او د دولت او ملت ترمنځ نوي قراردادونه اونوی تعادل راوړو.

په وروسته پاتې هېوادونو کې د ټولنیز تشبث یو ستر بریالیتوب د برېښنا تولید او ځارنه ده. وړه برېښنا چې د دولت یا مرسته کوونکو هېوادونو په مرسته د کلیو د تشبث پر اساس رامنځته شوې ډېره بریالۍ ده. عمده مثال یې نیپال دی چې پلازمېنه یې د برېښنا له کمبود سره مخامخ ده، خو کلي یې د خپل زحمت په بنیاد په برېښنا روښانه دي. زموږ په هېواد کې هم د برېښنا په برخه کې ځینو کلیو اقدام کړی دی، خو دا واړه کوښښونه هغه وخت نتیجه ورکولی شي چې د یوه ملي پلان په ترڅ کې د دولت او نړیوالې ټولنې له مرستو او د خصوصي سکتور له ودې سره همآهنګي پیدا کړي. د دې هڅو پر وړاندې یوه بله ستونزه په هېواد کې د وړې برېښنا د انجنونو د تولید د سرچینو کموالی دی او د دغو انجنونو د تولید کیفیت هم یوله بله سره فرق کوي. که چېرې تولید پراخ او معیاري بڼه غوره کړي او هغه متشبثو کلیو ته چې په دې هکله هڅه کوي مرسته





ورکول شي، د عرضې او تقاضا ترمنځ تعادل ټینګ او یو له بله وتړل شي، نو په هغه وخت کې به زموږ کلي وتوانېږي چې له هرې ژرندې او ابشار څخه د برېښنا په تولید کې کار واخلي او که چېرې کلي ته برق ورغی، نو بیا به ډېر ژر ورته په نورو اقتصادي چارو کې د فعالیت زمینه برابره شي.

د ټولنیز تشبث په برخه کې په اسپانیا کې تر هغې کورنۍ جګړې وروسته چې له دویم نړیوال جنګ څخه تر مخه پېښه شوه ډېر ستر تجارب رامنځته شول، ځکه کلي او ښارونه رنګ شول، په لکونو انسانان د بارودو خوراک شول. هغه وخت یو مفکر اسپانوي د ټولنیز تشبث داسې اساسات کېښودل چې کلي یې په واقعیت کې په شرکتونو بدل کړل، چې وروسته تري یې ستره اتحادیه جوړه شوه او مونډروګان چې یو ستر نړیوال شرکت دی د همدې هڅو په پایله کې منځته راغی.

زموږ په ځانګړو شرایطو کې زما وړاندیز دا دی چې زموږ کلي هم باید د ټولنیز تشبث په مرکزونو بدل شي. د ملي پیوستون لومړۍ مرحله د همدې موخې لپاره وه چې په کلیو کې پانګه او مدیریت رامنځته کړي، چې د برېښنا او اوبو پر تنظیم سربېره د داسې تشبثاتو مرکز وګرځي چې په وسیله یې د کرنې، وړو معدنونو او صنعت په برخه کې هم تشبثات رامنځته شي.

## ک- ځوانان او اقتصاد:

ځوانان زموږ د ټولنې یو مطلق عددي اکثریت دی، خو له بده مرغه زموږ په ټولنه کې لا هم اقتصادي اقلیت ګڼل کېږي، بې له دې چې ځوانان په یوې متحرکې اقتصادي قوې بدل شي په هېواد کې ثبات نه شي راتلی. دا چې زموږ ځوانان په حال او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستقبل دوا ړو کې مناسبه برخه واخلي جدي اقدامات په کار دي.

د مخه مو ذکر کړه چې ځوانان تخنيکي پوهې ته اړتيا لري او د زده کړې زمينه يې بايد برابره شي که موږ د افغانستان هر ځوان ته د هغه نيالګي په سترګه وګورو چې په يوې سترې ونې بدليدونکی او راتلونکي نسلونه به يې مېوه خوري او سيوري ته به يې کيني، نو لازمه ده چې دوی ته د اقتصادي تشبث ټولې لارې خلاصې کړو. د تدارکاتو او ګټې د زنځير په هره کړۍ کې يې شامل کړو په ځانګړې ډول د پور نظام بايد په هره برخه کې د ځوانانو لپاره اختصاص ولري او موږ بايد له ځوانانو سره په ګډه داسې بنسټونه جوړ کړو چې پر بنسټ يې د ټولنيز مسؤوليت په چوکاټ کې د دوی تشبثاتو ته پورونه ورکول شي.
د مديريت په برخه کې د ځوانانو روزنه يو بل مهم ګام دی. د دولت، اقتصاد او ملت جوړولو ټوله پروسه د اصولي مديريت او بشري پانګې په غښتلتيا ولاړه ده، نو ځکه بايد د ځوانانو لپاره په پوهنتونونو او له پوهنتونونو بهر داسې ترتيبات ونيول شي، چې دوی هم په مديريت او هم په عملي تطبيق کې د پوهې او تجربې خاوندان شي.





# نتيجه ګيري

په دې فصل کې زموږ ټول بحث د يوه متحرک اقتصاد پر محور څرخېده، مګر دا هم بايد په ګوته کړو چې د يوه متحرک اقتصاد هره برخه له يوه اغېزناک دولت سره زنځيري ارتباط لري، مګر دا يې هم معنی نه ده چې بويه دولت او اقتصاد خپل بنسټيز خصوصيات نه لري. هره ساحه ځانګړې پوهه او ځانګړې مديريت غواړي، خو ملي ګټې هغه مشترک ټکی دی چې بايد د قانون د حاکميت په چوکاټ کې رامنځته شي. ملي ګټې د ولس په اجماع، معلوماتو ته د لاس رسي او د حساب ورکولو په هغو اصولو، چې په صدر اسلام کې اينښودل شوي دي تأمينېږي.
دا وړانديزونه له کاغذي او فرمايشي چوکاټ څخه وتلي چې موږ غواړو د افغانستان ځانګړو شرايطو ته په پام، د اقتصاد په برخه کې يو داسې پراخ ملي بحث رامنځته شي چې موږ يوې سراسري ملي اجماع ته ورسوي چې په وسيله يې هم ملي موخې څرګندې او هم يې د تطبيق عملي لارې روښانه شي.
د ملت جوړول هم يوه احساساتي او هم يوه عقلاني پروسه ده. ملت جوړول هم د دولت او هم د اقتصاد له جوړښت سره ټينګه رابطه لري، ځکه د يوه اغېزناک دولت او متحرک اقتصاد رامنځته کول د ملت جوړونې په پروسه کې ممد واقع کېږي، مګر ملت سازي په اقتصاد جوړونې او دولت سازۍ کې نه خلاصه کېږي او ځانګړي قواعد لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږم فصل:

# ملي هويت او ملت جوړونه

هويت يوه کلتوري پديده ده او کلتور پر ژبه ولاړ دی، ځکه د انسان او حيوان ترمنځ يو لوی توپير د ژبې موجوديت دی، خو ژبه له وينې سره تماس نه لري، بلکې د زده کړې په چاپېريال پورې اړه لري، ځکه هرماشوم کولی شي يوه ژبه په مکمله توګه زده کړي. د ژبې زده کړه يوه طبيعي ځانګړنه ده، مګر دا چې يو انسان کومې ژبې زده کوي په تاريخي شرايطو پورې تړاو لري، د ساري په توګه، تر افغان جهاد وړاندې کم شمېر افغانان په اردو پوهېدل، مګر اوس دا شمېره ډېره لوړه ده، ځکه افغانانو د هجرت پر مهال په پاکستان او نورو ګاونډيو هېوادونو کې بېلابېلې ژبې زده کړې. پخوا تردې چې افغانان امريکا، اروپا او د نړۍ نورو هېوادونو ته لاړ شي، ډېر کم کسان په انګريزي، فرانسوي او جرمني ژبو پوهېدل، مګر اوس داسې ډېرې کورنۍ دي، چې په يادو شويو ژبو خبرې کوي. د دې کورنيو د ځوانانو ترمنځ د پښتو او دري ژبو پوهه په مختلفو مدارجو وېشلی شو، خو د ليک لوست ژبې يې هغه دي چې ښوونځي، کالجونه او پوهنتونونه يې ورباندې ويلي دي.

کوم افغانان چې په هغو ټولنو کې ژوند کوي د هويت په لحاظ د مختلفو ابعادو خاوندان دي. دوی وياړي، چې افغاني





الاصله دي او له پلرني وطن سره مينه لري، خو بيا هم اړ دي چې له هغو ټولنو سره ځان عيار کړي، چې دوامداره ژوند په کې کوي. د افغانستان په اړه فکر کول به د دوی په خبرو او ليکنو کې ښکاري او بېرته به پر افغانستان باندې مثبت يا منفي اغېز ولري، مګر ښکاره ده چې د زماني په تېرېدو سره به د هېواد په دننه او بهر کې د هويت په مختلفو ابعادو کې توپيرونه څرګند شي، ځکه هويت د هېواد په دننه کې د تاريخ جوړونې په پروسه کې خپله بڼه ښکاره کوي او يوه برخه عملونه اوعکس العملونه به په دې پورې تړلي وي، چې د ملت جوړونې په پروسه کې به ولس او د دولت چارواکي څرنګه د اعتماد فضا راوړي چې د خلکو باور ورسره ټينګ شي. همېشه د هويت بحث په يوه احساساتي بحث تبدلېږي، وړاندېز مې دادی، هغه عمده مسايل چې د هويت په برخه کې د ستونزو په توګه ګڼل کېږي بايد په سړه سينه وڅېړل شي او بيا په هغو لارو چارو بحث وکړو، چې افغانستان په کې د يوې ملي اجماع په ترڅ کې د هويت خاوند کېدی شي.

## الف- ستونزې:

موږ د يوه ملت په توګه له ځينو عمده ستونزو سره مخامخ يوو. د دې لپاره چې دا ستونزې هوارې شي بايد مخکې طبقه بندي شي او بيا ورته د حل لارې وسنجول شي. دا لېست چې په دې فصل کې تر بحث لاندې نيسو يو مقدماتي او لومړنی لېست دی او ښايي د يوه ملي بحث په ترڅ کې تغير وکړي، مګر له او سنيو ستونزو څخه دا بحث په ګوته کېدی شي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱- مهاجرت:

لاهم په پاکستان او ایران کې په میلیونونو مهاجر پراته دي د دې مهاجرو تر څنګ چې د روسي یرغل پر مهال له هېواده وتلي دي، په لکونو نور ځوانان هم کوښښ کوي چې د کار پیدا کولو لپاره بهرنیو هېوادونو ته لاړ شي. د دې هېوادوالو ژوند د ګاونډیو هېوادونو په چاپېریال پورې تړلی او که چېرې دوی مارکیټ ته ځي یا ټلویزیون او راډیو ته کېني، نو حتما د ګاونډي هېواد د کلتور تر تاثیرلاندې راځي او د هغه هېواد په چوکاټ کې ژوند عیاروي. سیاست، اقتصاد او کلتور یې د دوی پر ژوندانه مستقیم اغېزکوي همدارنګه د بهر هغه لوستي افغانان، چې د سردار محمد داؤد د حکومت پر مهال او یا د ډاکټر نجیب تر دوران وروسته امریکا، اروپا او نورو هېوادونو ته کډه شوي د افغانستان په باب تاوده بحثونه کوي.

دغه بحثونه د راډیوګانو، ټلویزیونونو، مجلو او اخبارونو له لارې خپرېږي او په افغانستان کې هم انعکاس مومي چې په طبیعي ډول منفي یا مثبت اغېز پرېښودلی شي. دې کړیو زیاتره قومي بڼه غوره کړې او یوه له بلې سره د قومي اړیکو پر بنیاد راشه درشه کوي چې له همدې امله د افغانستان داخلي قضایا هم د قومیت له سترګیو (عینکو) ورته ګوري. د دې ترڅنګ چې کله د افغانستان په واقعیتونو بحث کوي نو شالید یې عموماً په هغه چاپېریال پورې تړلی وي چې دوه د راوتولو پرمهال ترشا پرېښې و، یعنې ځینې د سردار داؤدخان او ځینې یې د ډاکټرنجیب د حکومت د شرایطو په رڼا کې قضاوتونه کوي او د هغو زماني ادارو په کړیو کې بشکیل دي او هر څومره چې دوی د بهر وخت لپاره له هېواده بهرپاتې کېږي په هماغه اندازه یې د





قضاوتونو معیار په طبیعي توګه تغیر مومي او له هغه چاپېریال څخه متاثر کېږي چې دوی په کې ژوند کوي، نو نتیجه یې دا شي چې د دوی او د هغو افغانانو چې د هېواد په داخل کې دي د قضاوتونو ترمنځ توپیر رامنځته کېږي.

## ۲- محرومیت:

زموږ په هېواد کې هر چیرې د محرومیت بحث خپور دی او هر څوک خپل ځان د یوه هویت په توګه محروم بولي- نه د فرد په حیث. د دې بحث اړخونه ډېر دي، یوه مسئله یې په حکومت کې د څوکیو وېش دی. نن داسې قوم نشته چې په دې اړه دې خپل ځان محروم ونه شمېري.

د دې زړه بداوي او محرومیت د احساس ستر دلیل د اوسني دولت د وزیرانو قومي او ګروپي چلند دی، چې یو وزیر قومي چلند کړی او وزارت یې د قومي تضاد په مرکز بدل کړی دی. خو کله چې یې وزارت پرېښی، نو ټول مهم سلاکاران او لوړ رتبه کارکوونکي ورسره له وزارته تللي دي او دې چارې دا فکر عام کړی، چې فلانی قوم په اقتدار کې ونډه لري او فلانی محروم دی، خو په اصل کې د داسې قضیو په تکرار سره هېڅ قوم هم ځان دخیل نه بولي او ټول فکر کوي چې محروم دي.

دولت ته د لیاقت او شایستګۍ پر معیار د خلکو نه انتخاببدل هم د محرومیت یو بل دلیل دی، ځکه کله چې د دولتي دندو لپاره دا معیارونه په پام کې نه وي نیول شوي، قومي سیاستوال په بیړه د خپل قوم ځوانان څوکیو ته خېژوي او دا چې په دې توګه دولت ته داخل شوي، نو اړ دي چې دولتي مقررات پرېږدي او د خپل محسن (ولي نعمت) هره خبره که

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروا وي او که روا و مني، ځکه ده ته يې مفته څوکۍ ورکړې ده.

د محروميت بله ستونزه د قراردادونو اخيستل دي. دا ستونزه له بګرام او کندهار هوايي ډګرونو څخه پيل شوه او اوسمهال يې د يوې عمومي ستونزې بڼه غوره کړې ده. هغه متنفذين چې دا ډول قراردادونه يې ترلاسه کړل له خپل ټول نفوذ او زور څخه يې کار اخيستی چې د نورو مخه ډب کړي، د دې په پايله کې اقتصاد د هويت په جګړه بدل شو.

يوه بله اساسي ستونزه چې د ځوانانو تر منځ يې قومي تبعيض ته وده ورکړې، لوړو زده کړو ته نه لاس رسی او د سکالرشيپونو نامنظم وېش دی، چې د افغان ځوانانو تر منځ يې د نسل په توګه د محروميت احساس راپارولی دی او دوې مسئلې يې ډېرې زياتې زورورې دي چې يوه مسئله په پوهنتونونو کې د دوی داخلېدل دي، ځکه د کانکور په ازموينو باور نشته او بيا - بيا د ازموينې سوالونه په بازار کې پلورل شوي دي، چې په نتيجه کې يې فعال، خو بې وزله ځوانان فکر کوي چې د زور او نفوذ خاوندانو يې حق په زور ترې لوټلی دی.

په ځوانانو کې د محروميت بل احساس په خاص ډول د بهرنيو سکالرشيپونو په برخه کې د بې عدالتۍ او درغلۍ له امله رامنځته کېږي. ډېر ځوانان په دې عقيده دي چې د دوی د سکالرشيپونو د وېش په برخه کې يا معيارونه نشته او يا نه عملي کېږي، ځکه بيا - بيا ليدل کېږي، چې چارواکي خپل خپلوان بې له دې چې لياقت يې ولري په سکالرشيپونو نازوي او هغه خلک چې پيسې نه ورکوي په مختلفو بهانو يې مخه نيسي.

د محروميت يوه بله دردونکې ستونزه د جهاد پر وخت له





هغو قربانيو نه راپيدا شوې چې خلکو ورکړي دي. په جهاد کې د چا پلار يا ورور شهيد شوی، يا په کې څوک معذور شوی او اندامونه يې پرې دي او يا څوک کونډه او بوره شوې ده. هغه کورنۍ چې داسې صدمات يې ليدلي او اوس د فلاکت شپې تېروي، نو محروميت يې ښځي عقده يي بڼه پيدا کړې، چې هم يې عقيدوي شکل نيولی او هم يې د ټولنيز درد بڼه غوره کړې ده.

سيمه ييز محروميت يوه بله ستونزه ده چې په دې هېواد کې اوږده سابقه لري. په افغانستان کې د متوازن انکشاف خبره د ظاهرخان له زمانې څخه خوله په خوله ګرځي خو په دې برخه کې اوس هم ډېرې داسې سيمې شته، چې د ژوندانه بنسټيز حقونه هم نه دي ور ته رسېدلي او له دې امله خپل ځانونه محروم احساسوي. بادغيس، غور، نورستان، پکتيکا، بدخشان، دايکنډي، کنړ، ننګرهار، پروان، پنجشېر، ارزګان، کندهار، خوست، هلمند او داسې نور، ټول په دې فکر دي چې هېڅ پاملرنه ورته نه کېږي. د بن د پرېکړې پر مهال خلکو د دې هيله درلوده، چې بالاخره به د افغانستان ټولې سيمې متوازن انکشاف وکړي. اوس چې د انتخابي حکومت پينځه کاله تېر شوي د سمتي محروميت بحث تود دی او هر څوک سر ټکوي چې سيمې ته يې پام نه کېږي او نه يې په ژوند کې کوم ښه انکشاف راغلی دی. د محروميت خبره يوازې تر ولايتونو نه ده محدوده، بلکې ولسوالۍ هم سر ټکوي چې دولتي امکانات او ان نړيوالې غذايي مرستې هم په مخ او خاطر وېشل کېږي او چې اصلاح شوي تخمونه، سره يا نور غذايي مواد راشي، نو ولسوال او امنيه قوماندان ور ته شنه ناست وي او هر څه خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورونو ته ورږي.

د مېرمنو په برخه کې خو د محروميت په ستونزو ډېر بحثونه کېدی شي، خو تېر دېرش کلونه هغه زمانه وه، چې زموږ خويندو په کې ډول -ډول محروميتونه وګالل. زموږ مېرمنې هم په عمومي ډول او هم د خاص صنف پر اساس له محروميتونو سره لاس و ګرېوان دي. په عمومي توګه يې محروميت دا دی، چې د کور ټول کارونه پرې پنډ دي، د اولاد روزنه يې تر غاړې ده، خو څوک يې کارونو ته په درنه سترګه نه ګوري او نه ورته د داسې ابرومندانه کار زمينه برابرېږي، چې پيسې يې لاس ته ورشي. هغه مېرمن چې جګړو کونډه کړه او يتمان ور ترغاړې شول، هغوی مجبورې دي، هر کار ته مخه کړي، چې د يتيمانو لپاره يوه مړۍ ډوډۍ پيدا کړي.

د ماشوم د زوکړې پر وخت زموږ د خويندو او ميندو ستونزه ډېره دردوونکې ده. د صحي امکاناتو نشتوالی له يوې خوا او د ولادت په اړه د مېرمنو ناخبري له بلې خوا هغه بلاوې دي، چې هره ګړۍ زموږ مېرمنې او ماشومان وژني او د کورنيو تر منځ ډېرې ناخوالې پر ځای پرېږدي.

په ملي کچه زموږ د محروميتونو پورتنی لست مکمل او جامع نه دی، ځکه زموږ په جګړه ځپلي هېواد کې ښايي ډېر داسې موارد وي چې محروميتونه زېږوي، خو زموږ هدف د ټولو محروميتونو په ګوته کول نه، بلکې د دې يادونه ده چې په اوسنيو شرايطو کې د محروميت دردوونکی انځور زموږ د ملي هويت په جوړولو باندې منفي اغېز پرېږدي او که بنيادي اقدامات و نه شي دا اغېز به نور هم خپور شي.





## ۳- ژبنۍ ستونزې:

ژبه هم کلا ده هم بلا، که ژبه د افهام او تفهيم او ملي ګټو د ساتنې او څارنې وسيله شي، نو کلا ده او که د نفاق او کرکې د پراخولو وسيله شي نو بلا ترې جوړېږي.

موږ د متعددو ژبو ويوونکې ټولنه يوو او له تاريخي لحاظه دري ژبه د زرو کلونو لپاره د دربار او اقتصاد حاکمه ژبه وه. د افغانستان د نورو ژبو ښاري ويوونکي وګړي په مسلطې او حاکمې ژبې (دري) يا پوهېدل او يا يې ګوزاره پرې کولی شوه. په ځانګړي ډول هغو کسانو چې به ښوونځی يا مروج علوم لوستل، نو په دري به يې ليک لوست کولی شو. همدا ډول د افغانستان په کمو برخو کې خلک د پښتو په ليک باندې پوهېدل. مګر په تقريري لحاظ په ډېرو سيمو کې پښتانه په پښتو ژبه خبرې کولی شي، خو تر څنګ يې د ډېرو سيمو پښتانه په دري او نورو سيمه ييزو ژبو هم پوهېدل.

د مهاجرتونو بهير په دوو عمده ژبو پښتو او دري کې يو لړ تغيرات رامنځته کړل. هغه خلک چې پېښور يا کوټې ته لاړل د پښتو ژبې په چاپېريال کې يې ژوند وکړ. په تاريخي لحاظ دا لومړی ځل دی چې ګڼ شمېر پښتنو او غير پښتنو له ښوونځي څخه نيولې تر پوهنتونه پورې ټولې زده کړې په پښتو ژبه تر سره کړې، چې په همدې حال کې دويمه ژبه ورته اردو يا انګريزي ده.

کله چې دوی افغانستان ته راستانه شول په دري ژبه سم نه پوهېدل او په ښوونځيو او پوهنځيو کې ورته په درسونو کې ستونزې وې. په همدې وخت کې په ميليونونو افغانان ايران ته کډوال شوي وو، چې هغوی په ايراني چاپېريال کې ايرانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



فارسي زده کړه. دوی په کلونو پښتو ژبه نه وه اورېدلې او کله چې هېواد ته راغلل په پښتو ژبه نه پوهېدل. له دې نه علاوه زموږ ترکي ژبو وطنوالو هم خپلې مورنۍ ژبې ته پام واړاوه، ځينې ليسې او ښوونځي يې جوړ کړل او له دولت څخه يې خپلې مورنۍ ژبې ته توجه وغوښته. په افغانستان کې ترکي ژبه هم د پښتو ژبې په څېر تر ډېره حده د تحرير ژبه نه وه او د تقرير په ساحه کې تري پخپله ترکتبارو هېوادوالو ګټه اخيسته، خو د تحرير د چارې لپاره يې لږه کاروله، اما اوس زموږ ترکتبار هېوادوال متوجه دي او غواړي، د دوی ژبه چې د ټولې سيمې په کچه مهمه ژبه ده د تقرير او تحرير ژبه شي. همدا ډول نورستاني، بلوڅ او پشه يي ورونه او خويندې هم غواړي، چې ژبې ته يې په دولتي کچه پاملرنه وشي او کوښښ کوي چې کم تر کمه خپله مورنۍ ژبه له ياده ونه باسي او د ژوندیو ژبو په کتار کې يې وساتي. د مثبتو سترګيو له نظره موږ دا ډول حرکتونه د کلتوري تعادل پر علامت تعبيرولی شو.

که چېرې په ولس کې دا توان پيدا شي چې خپلې ټولې ژبې پر ژوندیو ژبو بدلې کړي، نو دا به يوه ستره سياسي، اقتصادي او کلتوري پانګه وي، ځکه په مورنۍ ژبه زده کړه د هر چا حق دی او د زده کړو د کيفيت او نورو ډېرو ګټو لرونکې ده. له بله پلوه معلوماتو ته لاسرسی هم يو انساني ضرورت دی، چې په مورنۍ ژبه تر نورو ژبو په اسانۍ تر لاسه کېدی شي. د دې تر څنګ ژبه د ګډ بشري تمدن او کلتوري ميراثونو د انتقال وسيله ده، نو ځکه يې پالنه او ساتنه ضروري ده.

د دې حرکتونو منفي اړخ دا ښيي چې د يوې ژبې مطلق حاکميت ته د نورو ژبو ويونکي د خطر په سترګه ګوري. د





افغانستان په ډېرو ژبو کې داسې کلمې شته، چې له نورو سره مشترک اړيکي لري او ډېر داسې لغتونه دي، چې له يوې ژبې څخه بلې ته تللي، خو د دې ژبو ډېر ويونکي په دې نه پوهېږي او فکر کوي چې دا لغتونه يې خپل دي.

ژبه د يوې ټولنيزې پديدې په توګه په دايمي ډول د تغير په حال کې ده او کله چې نوي بنسټونه او پديدې رامنځته کېږي نو هغه نوي نومونه غواړي لکه کمپيوټر، سافټوېر، موبايل او داسې نور. دا چې اوس زموږ د ځوانانو تر منځ په ځينو کليمو شخړې روانې دي دا اصلي ستونزې نه شو ګڼلی، بنسټيزه ستونزه دا ده چې ګڼ شمېر دري ژبي په پښتو نه پوهېږي او همدا ډول ګڼ شمېر پښتانه په سمه توګه دري نه شي ويلی.

څرنګه چې زموږ ټولې ژبې د اهميت وړ دي او ولس مو غواړي چې په ټولو ژبو خبرې وکړي، نو په کار ده چې د يوې ژبې د مطلق تسلط څخه تېر شو او وړانديز مو بايد دا وي، چې د ټولو ژبو د ژوندي ساتلو او ودې لپاره اساسي زمينه برابره کړو. که د يوې ژبې ويونکي په دې فکر شي، چې د ايران په څېر يوه ژبه په خپلو خلکو په زور وتپي لکه هغوی چې فارسي ژبه جبري ګرځولې او د نورو ژبو ودې ته پام نه کوي او يا د پاکستان په څېر چې د اردو په مقابل کې يې نورې ژبې، بې برخې کړي، نو په هغه صورت کې به ستر جنجالونه پيدا شي. مګر له اوسنۍ معلوماتي ټېکنالوژۍ څخه په استفادې سره موږ کولی شو دا ستونزه په منطقي او اصولي توګه حل کړو.

## ۴- قومي سياست:

قومي تشکل زموږ د ټولنې واقعيت دی، مګر دې ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



سياسي تشكل د تاريخ په پړاو كې مختلفې بڼې غوره كړې دي.

د شلمې پېړۍ يوه لويه برخه سياسي جريانونه پر ملت جوړونې بنا وو او محور يې پر وطن او وطنپالنه څرخېده. كيڼ جريانات او اسلامي احزاب په مختلفو فكري بنيادونو بنا وو. په دې جريانونو كې قومي هويتونه په هغو فكري چوكاټونو كې غورځول شوي وو، چې له افرادو څخه يې په كلكه د خپلو اساسي نظرياتو پلوي غوښته.

ډېر ليدل شوي، چې يو ورور به له كمونستانو سره په ګوند كې و او بل ورور به يې د مجاهدينو په سنګر كې ناست و. زموږ اوسنۍ سياسي ستونزه همدا ده، چې داسې يوه ملي مفكوره نه ده وړاندې شوې چې پر اساس يې په عمومي توګه ولس او په ځانګړې توګه ځوانان خپل ملي هويت وټاكي. دا چې انسانان د هويت په خلا كې ژوند نه شي تېرولی، نو ځكه اوس له قوميت نه داسې هويت جوړ شوی چې پر بنسټ يې قومي سياستونو شكل نيولی، خو ستونزه يې دا ده چې هېڅكله هم د قومي سياستونو په موجوديت كې يو غښتلی او واحد ملت نه شي جوړېدای.

د قومي هويت او ملت جوړولو تر منځ د اصولو په لحاظ كوم بنسټيز تضاد نشته، ځكه په موسيقۍ، كالي اغوستلو او نورو دودونو كې څرګنده ده چې بېلابېلې سليقې موجودې دي او دا ټولې سليقې د احترام وړ دي، خو هغه وخت ستونزې را پيدا شي چې قومي هويت له قانون څخه لوړ وګڼل شي او له دولتي امكاناتو څخه د يوه قوم پر ګټه او د بل پر ضد كار واخيستل شي او يا له دولتي څوكيو څخه د يوه د اعزاز او د بل د سپكاوي لپاره ناوړه ګټه پورته شي. يا دا چې دولتي اقتدار د





يوه قوم اجاره وګرځي او نور يې برخې كړی شي، نو داسې كړه وړه د دې باعث كېږي، چې هره دولتي مؤسسه او يا معامله په قومي شخړه واوړي او لانجه ترې پورته شي.

له دې سره- سره چې قومي سياست دا مهال ښه په درز كې روان دی، خو بې وزله ځوانان او بې اسرې كونډې او يتيمان كه په هر قوم پورې تړلي دي هماغسې فقير او در په در ګرځي، خو قومي سياستوال په دې نه دي توانېدلي، چې حتیٰ د خپلو كونډو او يتيمانو ګېډه مړه كړي.

زموږ په هېواد كې لوږه قوم، ژبه او سمت نه پېژني، نو ځكه په قومي سياستونو زموږ د ژوندانه ستونزه نه حل كېږي.

له نېكه مرغه قومي نفاق د ولس ستونزه نه، بلكې د يو څو تنو د اغراضو نتيجه ده، خو زموږ بې روزګاره ځوانان د قوم په نامه نه دي وېشل شوي. دوی تر خپله منځه دوستۍ او ملګرتياوې لري، زموږ نجونو او هلكانو يو له بله سره ودونه كړي او په زياترو سيمو كې ښه ګاونډيتوب پالي او د ولسونو تر منځ د اوبو تنظيم او داسې نور اړيكي لا هماغسې ټينګ دي.

د زړو اړيكو تر منځ نوي اړيكي هم منځته راغلي، چې صنفي بنسټونه لري. تنقيض شوي افسران، زندانيان، معذوران او مزدوران د يوې ګډې موخې په توګه سره يو ځای شوي دي او تر كومې اندازې چې دا اړيكي ټينګ وي تر هماغه بريده به د ملي دريځ ټينګتيا ته ډېره زمينه برابره وي. زموږ په ولس كې تر اوسه هم ديني او افغاني روحيه ژوندۍ ده. كه د ګرديز اوسېدونكی تخار او يا د بدخشان اوسېدونكی كونړ ته لاړ شي د يوه مسلمان او افغان په توګه يې خلك د زړه له كومي درناوی كوي او مېلمستيا وركوي.

## ۵- د قانون نشتوالی:

د قومي سیاست د پراخېدلو یو بنسټیز دلیل د قانون نشتوالی دی. نن ورځ زورور او کمزوري ته قانون په یوه سترګه نه ګوري. په رڼا ورځ د قانون پر وړاندې زور استعمالېږي، چې د ولس حقونه په کې تر پښو لاندې کېږي، زموږ مال، جایداد او حتیٰ ناموس د زورواکو له پنجې څخه خوندي نه دی او دولتي ځمکې په عادي ډول د مافیایي کړیو له خوا چور کېږي. هغه وړې شخړې، چې د جایداد پر سر رامنځته شوې په تېزۍ سره په قومي شخړو اوښتي او د دولت د چارواکو په مداخلې سره ترې ټولنیز ناسور جوړ شوی دی. د اسلام په مبین دین کې د دولتدارۍ لوی اصل عدالت دی او د ټولو خلکو حقوق په کې په مساوي ډول خوندي شوي دي، ظالم ته په علني ډول د ولس پر وړاندې سزا ورکول د قانون په پلي کولو کې همېشه ستر رول لوبولی دی.

د قانون د نشتوالي له کبله هرکس اړ کېږي، چې په ځانګړي ډول د خپل مال او سر د ساتلو لپاره د بې قانونیو پر وړاندې هڅې وکړي، خو دا چې دا هڅې نتیجه نه ورکوي، نو ځکه د بې عدالتۍ تر فشار لاندې خلک مجبوروي، چې د قومي، تنظیمي او سمتي اړیکو پر بنیاد ځان ته یوه حلقه پیدا کړي او په هغه وسیله یا خپلې ګټې بېرته تر لاسه کړي او یا یې خوندي کړي.

د دې نتیجه دا شي، هغه ملي احساس چې د قانون له حاکمیت څخه منځته راځي کمزوری شي او په دې ډول ملت او دولت دواړه په ستونزو کې ډوب شي.





## ۶- د سیاسي احزابو نشتوالی:

ډیموکراسي په منظمو سیاسي احزابو باندې چې پراخ ولسي بنسټ ولري استواره ده. له بده مرغه زموږ په هېواد کې هغو ګوندونو ته چې ولسي بنسټ ولري د پراختیا زمینه نامساعده او ناهمواره ده. د بن تر پروسې دمخه له سیاسي احزابو سره زموږ تجاربو درې شکلونه درلودل. لومړی شکل یې دا و، چې د اقتدار پر مهال سیاسي احزاب جوړېدل او د داود خان و ښاغلي میوندوال احزاب یې غوره مثالونه دي.

دویمه ډله هغه احزاب وو، چې د پټو تشکیلاتو پر اساس یې غوښتل دولتونه بدل کړي. اسلامي تنظیمونه او چپي احزاب یې ښې بېلګې دي.

دریمه ډله هغه جهادي تنظیمونه وو، چې د هجرت پر مهال په جلا وطنۍ کې په ګاونډیو هېوادونو کې رامنځته شول.

دا تنظیمونه د پیسو، وسلو او نورو ګڼو امکاناتو پر اساس په هېواد کې د ډېر او ستر نفوذ خاوندان شول، ځکه چې د دې تنظیمونو رسمیات او د دوی تر منځ د امکاناتو وېش په بهرنیو شبکو پورې تړلی و او سازماني کلتور یې ولس ته د حساب ورکولو په بنیاد نه و جوړ شوی، نو ځکه ونه توانېدل چې یو منسجم مرکزي دولت جوړ کړي. دوی چې د جګړې تیاری درلود په سیاسي حل لارو او د ولس پر ژبه نه پوهېدل، نو ډېر ژر یې وسلې ته لاس کړ، کابل یې وران او په وینو کې ډوب کړ.

او سمهال هم موږ د حزب جوړولو په ابتدايي مرحله کې یوو. په لسګونو سیاسي احزاب جوړ شوي، خو داسې یو پیاوړی بهیر نه دی جوړ شوی، چې پراخ ولسي ملاتړ او اساسي بنسټ ولري، چې په وسیله یې دوه یا درې ملي ګوندونه رامنځته شي



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د ګډوډۍ مخه ډب کړي. د نورو هېوادونو د تجربو پر بنسټ د ولسواکو سياسي احزابو تشکيل او موجوديت د ملي هويت د ساتنې او پراختيا لپاره لازمي عنصر ګڼل کېږي.

## ۷- بې روزګاره ځوانان:

فقر پر انسان باندې مجبوريتونه تحميلوي. په خاص ډول د بې روزګاره ځوانانو مجبوريتونه ډېر زيات وي، ځکه چې د ځوان احساسات د هغه د ځوانۍ طبيعي برخه وي او که چېرې يې احساسات وځپل شي، نو د دوی پر شخصيتونو باندې يې بدې اغېزې په ډېر دوامدار شکل پاتې کېږي.

د مثال په ډول، زه داسې اشخاص پېژنم چې اوس يې په نړيواله کچه امکانات تر لاسه کړي، خو د محصلۍ پر وخت ورته په پوهنتون او ليليه کې په خوار نظر کتل شوي و، لا تر اوسه يې هم هغه ترخه خاطره په ذهن لکه ستنې ګرځي او ښايي ځوروي يې. په لاشعوري ډول داسې اشخاص د هېواد حالاتو ته له هماغو سترګو ګوري چې په دوی باندې تېر شوي دي.

زموږ ځوانان په وار، وار ستونزو ته ګوتې نيسي او وايي چې دوی دې دولتي چارواکي خبر کړي، مګر په هغوی کې نه د اورېدو توان شته او نه د ستونزو د هوارولو. په کانکور ازموينه کې درغلۍ، واسطې او سفارشونه، د سکالرشيپونو ناروا وېش، په ادارو کې د ناوړو خلکو استخدام او د دولت ډېرې نورې داسې پرېکړې، چې د پردې شا ته کېږي هغه عوامل دي چې ځوانان راپاروي او د دوی دردونه زياتوي. تر ټولو خطرناکه خبره دا ده، چې دا ځوانان دا ټوله بې قانوني د قومي د سيسو





علت ګڼي او که دا يقين وده کوي، نو نتيجه يې دا ده، چې د ملي هويت د جوړولو پروسه په لغته وهي او له منځه يې وړي، ځکه د لوړو زده کړو په برخه کې نه سمه پانګونه شوې او نه په کې سم مديريت راغلی چې له امله يې د ځوان نسل د پرمختګ لارې بندې او يا له اغزيو ډکې دي.

په اوسنۍ نړۍ کې بشري پانګه تر نورو ټولو پانګو لوړه او مهمه ګڼل کېږي. د مثال په توګه، که په يوه هوټل باندې په ميليونونو ډالره پانګونه وشي، خو د اداري لپاره ښه منيجر، اشپز او نور کارکوونکي ونه لري، نشي کولی، بازار رامات کړي او که بازار ونه لري، نو بيا ميليونونه ډالر مالي پانګه بې ځايه ولاړه، يعنې د بشري پانګې په نه موجوديت کې مالي پانګه هېڅ معنی نه لري. د دې ادعا بل مثال د کابل ښار نوې جوړونه ده، چې په ميليونونو ډالر پرې ولګېدل خو په تعميراتي لحاظ يې کومه معياري ښه رامنځته نه کړه او خدای مه کړه همېشه د دې خطر دی چې ښايي يوه قوي زلزله يو ستر انساني ناورين رامنځته کړي.

که د يوه قوي دولت او يو موټي ملت جوړول مو هدف وي، نو په کار ده چې په ټولنه کې د ځوان حيثيت له دې حالت څخه يوه غوره حالت ته بدل شي. ځوانان بايد په دې ډاډه وي، چې په راتلونکي کې به د خپل زيار او زحمت په نتيجه کې وکولی شي چې د دغه ټاټوبي د هرې برخې مشري تر لاسه کړي او راتلونکي انجنيران، ډاکټران او د ولسواکو احزابو مشران به له دوی څخه ټاکل کېږي، نه دا چې د دوی په تقدير کې يې يوازې چپړاسيتوب، سکرتري او جواليتوب ليکلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ب- حل لارې:

### ۱. اسلام:

زموږ د یوه موټي کېدو تر ټولو ستر عنصر د اسلام مبارک دین دی. موږ داسې ټولنه یوو، چې ۹۹،۹۹٪ وګړي مو مسلمانان دي او په دې کې هېڅ شک نشته چې ټولنه مو مسلمانه وه، مسلمانه ده او تر ابده به مسلمانه وي، مګر په عامه توګه موږ له اسلامي احکامو څخه یا ناخبره یوو او یا ډېر لږ تري خبر یوو. که اوس هم غواړو، چې په پنځلسمه هجري قمري او یا یوویشتمه میلادي پېړۍ کې د اسلام د ځلانده تمدن په رڼا کې ژوند وکړو، نو لازمه ده چې زر کاله شا ته ولاړ شو او د غزني دربار ته وګورو.

د غزني دربار د ادبیاتو د تاریخ په برخه کې غوره نموني لري او په ځانګړي ډول د دري ژبې د شعر د تاریخ په اړه ډېر اثار لا اوس هم ژوندي پاتې دي.

د افغانستان معظم ملي لیکوال اروابښاد احمد علي کهزاد پخپل ډېر مهم کتاب (شاهنامه در افغانستان و افغانستان در شاهنامه) کې دا په ګوته کړې، چې د دې کتاب لویه برخه زموږ د هېواد له کیسو جوړه او زموږ په خاوره کې تمثیل شوې ده، خو د دې دورې عظمت یوازې د ادبیاتو په برخه کې نه دی، بلکې د ابوریحان البیروني غوندې ستر ریاضي دانان هم د دغه دربار محصول دي، چې له ۴۰۷-۴۲۷ (چې له ۱۳۵-۱۰۱۲ سره سمون خوري) په غزني کې اوسېدلو. ده په دغو کلونو کې د الجبریاتو په اړه د اوسنیو شل زرو چاپي پاڼو په اندازه پاڼو کې خپل لوړ علمي اثار خوندي کړل. د دې اثارو برکت و، چې د





هندوستان علوم لومړی بغداد او ورپسې اسلامي اسپانیا او د لوېدیځ نورو هېوادونو ته انتقال شول. د مخه مو وویل، چې ابوریحان البیروني تر اروپایانو شلور سوه کاله د مخه د ځمکې قطر په دقیقه توګه سنجولی و. د ده مشهور کتاب (الهند) د تمدنونو د پرتلې اساس کېښود او د ده څېړنې د مختلفو ادیانو په جنتري ګانو باندې تر اوسه هم د یوه عمده سند په ډول د نړۍ د علماو له خوا لوستل کېږي.

علاوه له غزني څخه، بلخ او هرات هم د اسلامي تمدن د ودې او پراختیا په لاره کې ستري کارنامې لري. دا چې بلخ د نړۍ ستر سوداګریز ښار و، نو صوفیانو او عارفانو یې بې ساری نړیوال شهرت درلود. هرات هم په پنځلسمه میلادي پېړۍ کې د فرانسې تر پاریس او د ایټالیې تر فلورانس لوی او شاندار و.

د مینیاتورۍ کوم مکتب چې په هرات کې د بهزاد له خوا رامنځته شو، لږ تر لږه درې سوه کاله یې اسلامي نړۍ تر درانه اغېز لاندې وه او استامبول چې د عثماني خلافت مرکز و د بهزاد د میناتورۍ له مکتب څخه متاثر و.

موږ خپلو اسلامي ویاړونو داسې نور ډېر مثالونه هم لرو، چې زموږ هېواد ته راپاتې دي، مګر اصلي موخه مو دا ده چې ووایو، د اسلام د سپېڅلي تمدن په ځلانده دور کې زموږ علما د نورو تمدنونو پر وړاندې واقعبین و او د دې پرځای چې تر وډار شي ور وړاندې شول او ځانونه یې پرې وپوهول.

اسلامي پوهانو د نورو تمدنونو اثار د دې لپاره ژباړل، چې د هغوی له احواله خبر شي او د هغوی هویت یې د ځان لپاره خطر نه ګڼلو. د همدې ذهنیت په نتیجه کې له شمالي افریقا نه نیولې تر اسلامي اسپانیا (اندلس)، بغداد، غزني، بلخ، هرات

(c) ketabton.com: The Digital Library



او وروسته بیا په ډیلي او لاهور کې د اسلامي پوهې ستر مرکزونه پرانیستل شول او داسې ځلانده تمدن چې پر خپل اسلامي هویت یې کلکه عقیده او باور درلود رامنځته شو. نن موږ ته لازمه ده، چې پر خپل اسلامي تمدن یو ځل بیا هغه باور پیدا کړو، چې زموږ د اسلافو یعنې د عباسي او غزنوي ځلانده دورانونو طریقه وه او د دې پر ځای چې د کرکې او ډار په نظر ورته وګورو، په کار ده چې ځان پرې وپوهوو.

د دې موخې د لاس ته راوړلو لپاره موږ اړ یوو، چې په اسلامي تاریخ او پوهې باندې لویه پانګونه وکړو او د ابوریحان البیروني په څېر شخصیتونه چې اوس یې په غزني کې مزار په سختۍ سره موندل کېږي یو ځل بیا خپل کړو او خپل نسلونه ورسره اشنا کړو.

له نېکه مرغه او سمهال د مصر په مشهور اسلامي پوهنتون الازهر او د نورو عربي ممالکو په اسلامي پوهنتونونو کې ځینو افغانانو د ډاکترۍ او ماسترۍ تر کچې زده کړې کړې دي، چې د دوی پوهه زموږ ستره کلتوري پانګه ده او کولی شو ډېره ګټه ترې واخلو، موږ د دیني زده کړو د تقویت په موخه اړ یوو، چې د عربي ژبې پر زده کړه هم خپله سرمایه ولګوو او د دې تر څنګ لکه څنګه، چې په پښتو او دري ژبو کې د قانون لیکل د عربي ژبې د قانوني اصطلاحاتو سره د نږدې پوهې څخه بغیر اسانه نه ده، نو د تقنین لپاره باید د قانون روح درک کړل شي او بیا په داسې تاریخي چوکاټ کې واچول شي، چې ولسونه وربانديې وپوهېږي. نو که چېرې عربي ژبه زموږ په هېواد کې عامه وي د قانون لیکلو په برخه کې به مو هم ستونزې کمې شي.

## ۲. اغېزمن دولت:

یو اغېزمن دولت د ستونزو د تغیر اصلي وسیله ده. د هرې





ستونزې تحلیل دا په ډاګه کړه، چې د دولت کمزوري، د قاطعیت نشتوالي او یا د مناسبې طرحې نه لرلو د ملت دردونه ډېر کړي دي. د دې ادعا ثبوت په تېرو اتو کلونو کې د ملت په روحیه کې د تغیر او بدلون راتګ دی.

په تېرو دوو لویو جرګو کې د ملت ټولو استازو په ملي یووالي ټینګار کاوه او راتلونکي ته هیله من وو، مګر نن هغې فضا تغیر کړی او پر ټول هېواد د بدبینۍ او نهیلۍ څپه خپره ده.

د ولس ستونزې لوړې کچې ته رسېدلي او د دې ستونزو د زېږولو عامل پخپله دولت بولي. دا چې ولس غواړي په اساسي ډول دا ستونزې حل شي، نو ځکه موږ د دې کتاب ډېره برخه د دولت په اساسي تغیراتو او هغو لارو چارو متمرکزه کړه، چې په نتیجه کې یې خلک وپوهېږي، چې اغېزمن دولت کوم او بې اغېزې کوم وي.

زموږ اساسي غوښتنه او وړاندیز دا دی، چې داسې یو ولسواک سیاست غوره کړو، چې په نتیجه کې یې زموږ ملي هویت پیاوړی شي، خو دا موخه هغه وخت عملي کېږي چې د دولت او ملت تر منځ ټینګ ټولنیز قرارداد موجود وي.

د محرومیت حس په قومي تعبیر بدل شوی، نو په کار ده چې د ملي هویت د جوړېدو لپاره د قومي هویت مدارج او مراحل په غور وڅېړل شي او بیا د عمل جامه ورواغوستل شي، ځکه نن ورځ زموږ اسمان د بې باورۍ ورېځو نیولی او د باور د ټینګېدو لپاره اړ یوو، چې ټول موارد تر جدي بحث لاندې ونیسو او د یوې ملي اجماع پر اساس خپلې ستونزې حل و فصل کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۳. د پوهنې بنسټيز کول:

موږ د نړۍ هغه يوازينی نامتجانس هېواد نه يوو، چې څو ژبې لرو، په نړۍ کې داسې هېوادونه ډېر دي چې ګڼې ژبې لري.

موږ د يوه هېواد په توګه د جغرافيايي او اقتصادي عواملو له نظره د پېړيو په اوږدو کې مختلفې تاريخي تجربې لاس ته راوړې دي. همدا ډول موږ يوازينی هېواد نه يوو، چې سختې جګړې مو تر شا پرې ايښې او ظلمونه مو تحمل کړي دي. د ازموينې لومړۍ پوښتنه مو دا ده، چې ايا د دې قوت لرو، چې د يوه پياوړي ملت په جوړولو باندې خپل فکر متمرکز کړو او يا دا چې څو راتلونکې لسيزې د څو تېرو لسيزو په تصفيه او حساب باندې تېرې کړو.

دا مو بايد په ياد وي، چې زموږ ځوان نسل چې د شوروي يرغل پر مهال او يا ترې وروسته زېږېدلی، زموږ د هېواد غوښ اکثريت جوړوي. دوی نړۍ ته د خپلو تجربو او ارمانونو له سترګيو ګوري او اساسي مشکل يې بې روزګاري ده او تر څو چې په هېواد کې يو اغېزناک دولت نه وي راغلی دا بې روزګاري له منځه نه شي تلی، خو که دولت غواړي چې دا مشکل حل کړي، نو مجبور دی چې د ولس په بشري پانګه کې د کميت او کيفيت له لحاظه مثبت او بنسټيز تغيرات راولي.

په تېرو پانو کې مو ليکلي، چې دا پانګه بايد هم فني وي او هم کلتوري. د فني پانګې معيار له نړيوالو معيارونو څخه عبارت دی، ځکه زموږ انجينير او ډاکټر تر هغه پورې ځان ته باکفايته نه شي ويلی چې خپله تخنيکي پوهه په نړيوالو منل شويو معيارونو ثابته نه کړي، مګر دا حتمي نه ده چې پر نړيوالو معيارونو د ثابتې تخنيکي پوهې خاوند به خامخا کلتوري





پوهه هم ولري، نو ځکه وايوو، چې په کلتوري پوهه باندې هم لازمې پانګونې ته اړتيا ده. د مخه مو وويل، چې کېدی شي يو څوک ښه انجينر وي، خو تر څنګ به يې ژبنی تعصب ولري او که داسې وي نو دا د ملت سازۍ په لاره کې ستر خنډ واقع کېدی شي.

که غواړو چې د ملت سازۍ پروسه پلې کړو، نو مجبور يوو چې په دې موضوع ډېر فکر او لازمه پانګونه وکړو، د مثال په ډول، د ژبې پر سر لانجې له مختلفو لارو څخه د حل کېدو وړ دي. په اوسنيو تخنيکي وسيلو دا کار ډېر ژر تر سره کېدی شي. که وغواړو چې لوړې، منځنۍ او لومړنۍ زده کړې په پښتو، دري او نورو ژبو په ويډيوګانو کې ثبت کړو، نو هر محصل ته چې کومه ژبه د عميق درک او پوهې وړ وي په هماغه ژبه به ويډيو وګوري، مګر په عامه توګه د دولت دنده ده، چې داسې امکانات برابر کړي چې پر وسيله يې د افهام او تفهيم لپاره د ژبو د زده کړې بهير پياوړی شي او د ټولو ژبو درناوی وشي، ځکه ټول ملت د متوازنې پراختيا او مساوي حقونو غوښتنه کوي او که دا غوښتنه پوره شوه، نو په حقيقت کې به زموږ نورې ډېرې ستونزې هم د حل اساسي لاره ومومي.

کله مو چې پر خپل ځان باور ټينګ شو، نو بيا کولی شو د خپل تاريخ په چوکاټ کې خپلو تاريخي اثارو ته هم پام وکړو، اسلام زموږ په ټولنه کې د اساسي نقش لرونکی دی، خو تر اسلام وړاندې تاريخي اثار هم زموږ د نړيوال شهرت لپاره حياتي ارزښت لري. د بودا ستره او پرتمينه مجسمه زموږ د تاريخ يادګاري څلی و، دا مجسمه زموږ د ولس هغه لرغونی ارزښت و، چې دوی ورته د کومې بهرنۍ پديدې په سترګه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتل، خو اوس له بده مرغه هغه ارزښت زموږ په خاوره کې نشته.

وايي چې يوه سترګه دې وځي پر بله لاس کېږده. معنى دا چې موږ بايد د جګړې له لمبو څخه را پاتې نور اثار خوندي کړو، دا اثار زموږ د هېواد په ګوټ-ګوټ کې پراته دي. د غور سيمه چې د پر له پسې وچکالۍ له کبله ترې خپل خلک تبنتبدلي داسې يو تاريخي منار لري، چې يو مهال ترې د ډيلي د قطب منار د جوړولو لپاره الهام اخيستل شوی و او تر څو چې د جام دا منار تحليل نه شي، نه شو پوهېدای چې د ډيلي د قطب منار څرنګه رامنځته شو.

په همدې ترتيب که غواړو، چې د لاهور د شاليمار مشهور تاريخي باغ په تاريخچې وپوهېږو، نو لومړی بايد د ننګرهار د مېملې باغ ته لاړ شوو. بابر د مېملې باغ هغه مهال جوړ کړ، چې د کابل حکمران و او کلونه وروسته بيا د ده کورنۍ د مېملې د باغ نقشه د هند په مختلفو ښارونو کې عملي کړه، چې د لرغوني هند د لاهور شاليمار باغ يې څرګنده بېلګه ده. موږ کولی شو خپل تاريخي شاليد ته په پام سره د نړۍ له نورو هېوادونو سره داسې تماس ونيسو، چې له يوې خوا مو يو له بل سره پېژندګلوي ډېره شي او له بل پلوه مو نوي اړيکي پيدا شي.

د مثال په ډول: موږ پخپل هېواد کې د يوناني سکندر ډېره اوږده تاريخچه لرو او د هغه له مړينې شاوخوا دوه سوه کاله وروسته هم موږ يو ډېر روښانه يوناني باختري تمدن ساتلی دی. همدارنګه زموږ د بودايي تمدن اثار له جاپان، هند او کوريا سره زموږ تودو اړيکو سبب کېدلای شي. په اوسنيو امنيتي شرايطو کې افغانستان د ټوريزم په اړه د يوې عمده عايداتي





منبع په توګه فکر نه شي کولی، خو که ثبات ټينګ شي نو په شته لرغونو اثارو هم کولی شو، چې له يوې خوا يې د نړۍ د تمدنونو د تفاهم مرکز وګرځوو او له بل پلوه په لکونو کسانو ته له دې لارې د ابرومندانه کار زمينه برابره کړو، ځکه هويت يوه فزيکي پديده نه، بلکې يوه کلتوري پديده ده او د يوې ټاکلې زماني مودې ستونزې په منځمهال او اوږد مهال کې نه پاتې کېږي.

موږ د زمان په يوه داسې مرحله کې يوو، چې که همدا اوس پر خپلو کلتوري ستونزو باندې په سړه سينه شننه وکړو، نو کولی شو د يوې سرتاسري ملي اجماع په چوکاټ کې يې د حل داسې اساسي لارې چارې پيدا کړو، چې په راتلونکي کې د هرافغان د وياړ او سرلوړۍ سبب وګرځي.

## ۴. اغېزمن نړيوال روابط:

نن ورځ چې اقتصاد نړيوال دی او خبري رسنۍ هم نړيوالې شوې دي، نو په داسې چوکاټ کې د نړيوالو عواملو په پام کې نيولو څخه په غيرملي ګټې نه شي تامينېدی. زموږ په ځانګړو شرايطو کې نړيوال اړيکي خپل خاص اغېز لري او دا لازمه کوي چې موږ د خپلو ملي ګټو د تامين په خاطر داسې يو سياست غوره کړو، چې نړيوال اړيکي راته اغېزناکې پايلې په لاس راکړي، چې په دې برخه کې لاندېني اصول اساسي نقش لري:

د قانون او ثبات راوستل، هغه باثباته افغانستان چې قانون په کې حاکم او ثبات په کې ټينګ وي هم د نړۍ او هم د افغان ولس په ګټه دی، خو د داسې ثبات د ټينګښت لپاره لومړنی اصل دا دی چې زموږ امنيتي بنسټونه په کې رښتيني ملي بڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوره کړي او په اغېزناکه توګه وکولی شي، چې د مشروع قوت انحصار ترلاسه کړي. د دې برخې د عملي کولو لپاره اړ یوو، چې یوه روښانه امنیتي پالیسي ولرو. زموږ پولیس، اردو او امنیت باید یوازې د شعار په بڼه نه، بلکې په رښتیني ډول ملي شي او د یوې واحدې پالیسۍ له مخې له نظم سره اشنا شي، چې کاري مداخلې له منځه یوسي او هر ارګان خپل مسؤلیتونه او صلاحیتونه وپېژني. د یوې واحدې پالیسۍ ایجاد د دې اهمیت زیاتوي، چې ولسمشر چې د اساسي قانون له مخې باید د ټولو لښکرو اعلی سر قوماندان وي خپله دا دنده هم په پوره شهامت اجرا کړي.

د دې تر څنګ باید د یوې سیاسي اجماع په ترڅ کې داسې ډاګیز اصول وضع شي، چې له لارې یې له وسله والو مخالفینو سره رښتیني مذاکرات شوني شي. په یوې سیاسي اجماع باندې عمل کول یوازې د یوه اداري او اقتصادي نظام په منځته راتګ عملي کېدی نه شي او په دې برخه کې د ثبات د ټینګښت لپاره بنیادي اصلاحات مهم شرطونه دي.

که موږ د ثبات او قانون د حاکمیت لپاره څرګنده طرحه ولرو، نو له نړۍ سره په درې اصولو ژر نتیجې ته رسېږو:

**الف-** د نړۍ د مرستو لړۍ باید زموږ د امنیتي بنسټونو د پیاوړي کولو لپاره ځانګړې شي. د مخه مو ذکر کړه، چې په مجاهدینو او روزل شویو افسرانو کې د دې ظرفیت وینو، چې په لنډ مهال کې ترې د امنیت په ټینګښت کې کار اخیستی شو، خو په منځمهال او اوږد مهال کې د نویو ځوانانو روزنه حتمي ده، ځکه چې د اصولو په لحاظ یو برید من په لسو کالو کې ډګروالۍ ته رسېدای شي او زموږ نوی نسل به هم وخت





وغواړي، چې په ملي روحیه سمبال شي.

**ب-** زموږ ملي عواید په راتلونکو لسو کلونو کې زموږ د ملي پولیسو، اردو او امنیت د برخې لګښتونه نه شي پوره کولی او د دې بنسټونو موجودیت کم له کمه لس تر شلو کالو پورې منظم امکانات غواړي، نو ځکه لازمه ده چې له خپلو نړیوالو مرستندویانو سره په دې اړه ټینګ توافق ته ورسېږو، چې لس تر شلو کالو زموږ د دې برخې لګښتونه پر غاړه واخلي چې موږ خپل دغه بنسټونه پر خپلو پښو ودروو.

**ج-** موږ باید له نړیوالو قواوو سره د تصمیم نیونې مشترکې لارې غوره کړو، چې د ګډ اعتماد په فضا کې د قوې استعمال داسې بڼه غوره کړي، چې د ولس د منلو وړ وي. خو دا مو خه هغه وخت عملي کېدی شي چې د ټولو نظامي قوتونو اعلی سر قوماندان یعنې ولسمشر فعال شي او د منظمو معاملاتو او قواعدو د عملي کولو پر بنیاد زموږ ملي امنیتي ستراتیژي ټولو بنسټونو او ولس ته څرګنده وي او په لومړي قدم کې د هغو تېروتنو مخنیوی وکړي، چې د ولس د شکایت باعث ګرځېدلای شي، ځکه یوه شورشي جګړه بې له منظمې اردو او قضایي او سیاسي قوې څخه نه شي ختمېدی. د ثبات تامین دا ایجابوي، چې موږ د هر ولایت او ولسوالۍ په ځانګړنو وپوهېږو او داسې تدابیر ونیسو چې د ثبات د ټینګولو لپاره ګټور وي.

که د داسې ستراتیژۍ په طرحه او پلي کولو باندې وتوانېږو، نو د تصمیم نیونې اصلي مرکز به په طبیعي توګه پر افغاني امنیتي بنسټونو باندې متمرکز شي او په تدریجي ډول به د نړیوالو قواوو اړتیا کمه شي، چې موږ به بیا د خپل استقلال او ملي ګټو د ساتلو اصلي ساتندویان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ډول مؤسسات رامنځته کړل نو، موخه يې په تخنيکي وسايلو د وروسته پاتې هېوادونو سمبالول و.

په اوسنيو نړيوالو شرايطو کې تخنيکي ظرفيت ډېر وده کړې ده، په اسانه او ارزانه طريقه له يوه پرمختيايي هېواد څخه بل ته ظرفيتونه انتقالېدای شي، چې ژوندی مثال يې د افغانانو د ظرفيت انتقال دی.

د ماين پاکولو په برخه کې افغان ماين پاکانو او مؤسساتو لوړ ظرفيت پيدا کړی دی او همدا دليل دی، چې نن په ډېرو ماين لرونکو هېوادونو کې افغانان په مشورتي کارونو بوخت دي.

بل مثال يې د نيپال د سولې په پروسه کې د افغان کارپوهانو فعاله ونډه ده، ځکه چې د نظامي قطعاتو په ترتيب کې افغان کارکوونکو د معلوماتو د سيستمونو په برخه کې ډېر لوړ ظرفيت ترلاسه کړ او کله چې په نيپال کې دې ته اړتيا پېښه شوه چې د ماوستانو د قواوو او دولت تر منځ د سولې پروسه ټينګه شي، نو هغه مهال په ذکر شوي هېواد کې د ملګرو ملتونو مسؤول يو افغان و او له افغانانو يې وغوښتل چې په دې پروسه کې ګډون وکړي. پايله دا شوه چې هغه کار چې اروپايي او نورکارپوهانو په شل چنده لوړه بيه کاوه افغان متخصصينو په شل چنده ټيټه بيه تر هغو په ډېر اغېزناک ډول تر سره کړ. دا چې زموږ او نيپال ډېر شرايط سره ورته والی لري، زموږ تر منځ ډېرې ملګرتياوې ټينګې شوې دي او دا ملګرتياوې د دې لامل کېدی شي، چې د نيپال له متخصصينو څخه د دواړه برق او ځنګلونو په احيا کولو کې ګټه واخلو، ځکه هغوی په دې برخه کې ډېره کاميابه تجربه لري.





## ۵. نړيوالې اقتصادي مرستې:

نن ورځ د افغانانو او نړيوالو مبصرينو تر منځ يوه اجماع موجوده ده او دواړه خواوې په دې باور دي، چې په افغانستان کې د نړيوالو مرستو اغېز محسوس نه دی. يو دليل يې دا دی چې د امريکا مرسته د يوه قراردادي نظام په چوکاټ کې عملي شوې، چې له ۲۰٪ څخه تر ۹۰٪ مرسته بېرته د همدغو شرکتونو جوال ته لوېدلې ده او زموږ خلک ترې بې برخې پاتې دي، ځکه يو قرارداد له پنځو تر شپږو لاسو تيرېږي او بيا د افغاني شرکت لاس ته راځي چې د لګښت بيه يې له اغېز څخه ډېره ټيټه وي او په نتيجه کې نه افغان او نه هم امريکايي چارواکي په دې پوهېږي، چې څوک څه کوي او کومه برخه د قراردادي په لاس کې ده؟

د ساري په توګه، د امريکا د تفتيش د نړيوالې اداري له خوا دا څرګنده شوه، چې له ۲۰۰۷ کال څخه تر ۲۰۰۸ کال پورې د امريکا د مرستو مجموعي رقم ۵،۵ ميليارده ډالرو، چې د ياد شوي هېواد د دفاع او بهرنيو چارو د وزارتونو او د نړيوالو مرستو د مستقلې ادارې USAID له خوا عملي کېدلې، خو دا مرستې له ۲۲ زرو څخه په ډېرو قراردادونو وېشل شوې وې او نږدې ۴۸ زره قرارداديان يې د عملي کولو ذمه وار وو، مګر په همدې حال کې داسې کوم معلوماتي پروګرام موجود نه و، چې په نتيجه کې د مرستو اغېز معلوم کړي. په همدې ترتيب څو ميليارده ډالر د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرامونو ته هم ورکړل شوي دي، چې مشخصې نتيجې يې څرګندې نه دي.

تر دويمې نړيوالې جګړې وروسته، چې کله ملګرو ملتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې ظرفيتونو په پرتله د ملګرو ملتونو په اداري ظرفيتونو کې ډېرې ستونزې شته. سره له دې چې د دوی له کار څخه په افغانستان کې ۷ کاله تېر شوي، خو دوی نه دي توانېدلي، چې افغان دولت او ولس او نړيوالې ټولنې ته د هغو پيسو حساب ورکړي چې، د دوی له خوا په مصرف رسېدلي دي. د دې مؤسسو اصلي موخه د دولتي بنسټونو پياوړي کول دي، خو دوی د دې پرعکس له دغو بنسټونو سره ناسالم رقابت کوي.

دغه مؤسسات ډېره لوړه بودجه لري، چې هغه هم له مرستندويه هېوادونو څخه ترلاسه کوي، خو دوی د دې پر ځای چې پراختيايي کارونه تمويل کړي زياته بودجه پر لوړو معاشونو او لوړو دفتري لګښتونو لګوي، چې په پايله کې د لوړو معاشونو په وسيله د دولت تکړه کارمندان خپلو ليکو ته جذبوي او په دې کار سره د دولتونو ملاوې ماتوي.

د افغانانو ترمنځ هم د دغو مؤسساتو د شفافيت په برخه کې پوره اندېښنې موجودې دي. ما يو وخت په ډېرو ملي او بين المللي مجالسو کې د افغانانو دا اندېښنې وړاندې کړې، خو دا خبره هغه وخت په ثبوت ورسېده، چې يوې نړيوالې محکمې د ملګرو ملتونو د يوه مشر کارکوونکي درغلي ثابته کړه.

ښاغلی ګيري هلسټيډ څو کاله په کابل کې د ملګرو ملتونو د UNOPS د څانګې مشر و. دی وتوانېده چې له ډېرو مرسته کوونکو سازمانونو څخه لوی قراردادونه ترلاسه کړي او بيا يې افغان او نړيوالو شرکتونو ته ورکړي، خو د محکمې د اسنادو له مخې په ده تور دی چې ډېر ډالر يې په بېړه وهلي او غلا کړي دي. د محکمې اسناد په ډاګه کوي چې نوموړي پر خپل هغه کور





باندې چې په کابل ښار کې و، ډېرې زياتې پيسې لګولې وې، ځکه له کوره يې يو مجهز مېلمستون جوړ کړی و او سبا بېګا به په کې مېلمستياوې روانې وې. ښاغلی هلسټيډ له دې څخه منکر دی، خو محکمې افغان او امريکايي دولتونو ته مشوره ورکړې، چې دی مجرم دی او بايد تر عدلي تعقيب لاندې ونيول شي.

د مرستو بله برخه انجوګانو ته تللې او زموږ ولس د دغو نادولتي سازمانونو د کارونو په هکله هم شکمن دی او پوښتنې لري. ځکه داسې چوکاټ چې په کې د ملګرو ملتونو، نادولتي سازمانونو او د دولت د ټولنيزو بنسټونو کارونه په مؤثر ډول پرتله شي وجود نه لري. ولس په دې عقيده دی چې نادولتي سازمانونه پخپلو کارونو کې شفافيت نه لري او نړيوالې مرستې په ډېر نامؤثر ډول لګېږي.

که د اغېزناکو دولتونو کارنامو ته پام وکړو راته جوتېږي، چې هغه دولتونه چې يوه روښانه پراختيايي موخه او قوي ټيم لري په برياليتوب سره يې د بهرنيو مرستو اختيار په لاس کې اخيستی دی او سمه استفاده يې ترې کړې ده.

جاپان او اروپايي هېوادونه تر دويمې نړيوالې جګړې وروسته وتوانېدل، چې په دې کار کې بريالي شي او د داسې اغېزمنو هېوادونو مثال وګرځي، ځکه که دا هېوادونه وران شوي هم وو، خو بشري پانګه يې پر ځای وه او له دې منجلابه راووتل.

سوېلي کوريا، سينګاپور او ماليزيا هغه بې وزله هېوادونه وو، چې د دويمې نړيوالې جګړې په ترڅ کې يې سخت زيانونه وليدل او کله يې چې خپلواکي هم ترلاسه کړه له اداري فساد

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره لاس او ګرېوان وو، مګر بيا هم د يوه پياوړي مشرتابه د لرلو په برکت وتوانېدل، چې کاري ټيمونه ايجاد او روښانه پراختيايي موخې رامنځته کړي، چې په ترڅ کې يې پر دولت د خلکو باور ټينګ شو. همداراز په اروپا کې ايرلنډ او اسپانيا هم ډېرې بدې ورځې ليدلي دي، مګر د شلمې پېړۍ په نيمايي کې دواړه هېوادونه وتوانېدل، چې په اساسي توګه د نظام جوړونې طريقې عملي کړي.

د دې نړيوالو تجربو پر بنسټ ما د ملي پروګرامونو طرحه وړاندې او د انتقالي ادارې پر مهال مې په ځينو سکټورونو کې عملي کړه. ملي پيوستون، ملي مخابرات او معلوماتي ټکنالوجي، ملي روغتيا او ملي اردو د دې پروګرامونو ښکاره نښې دي، چې د ملګرو ملتونو، نادولتي سازمانونو او قرارداديانو په پرتله دا پروګرامونه د نړيوالو مبصرينو له خوا برياليي ارزول کېږي.

د دې تر څنګ چې دا پروګرامونه يو لړ ستونزې هم لري، خو که چېرې يو پروګرام د واقعي ملي موخو د ترسره کولو لپاره جوړ شي او له افغان ظرفيتونو څخه په کې استفاده وشي، نو نتيجه يې ډېره ژر څرګندېږي.

هر ځل چې موږ يو ملي پروګرام مطرح او وړاندې کاوه، په لومړي سر کې به ورته مرستندويه سازمانونو او دولتونو د شک په نظر کتل، مګر کله به چې په عمل کې د پروګرامونو مؤثريت ثابت شو، نو دوی به هم خپلې مرستې په دغو چوکاټونو کې عيارکړې.

نتيجه ګېري مو بايد دا وي، چې که غواړو د بهرنيو مرستو انسجام تر لاس لاندې ونيسو، نو د دې توان هم بايد ولرو چې





ملي پروګرامونه وړاندې او عملي کړو. په تېرو بحثونو کې مو يو لړ ځانګړي پېشنهادونه وړاندې کړي دي، چې په وسيله يې کولی شو نړيوالې مرستې تنظيم کړو.

د يوه ملي ساختمان پياوړی سکتور زموږ حياتي اړتيا ده. هر هېواد چې له نړيوالو مرستو څخه ګټه اخيستې، يو دليل يې د يوه قوي ساختماني قراردادي سکټور درلودل دي، ځکه چې په نه موجوديت کې يې په تېرو ثلورو کلونو کې د افغانستان دولت بيا، بيا په دې ونه توانېده، چې ژمنه شوې پيسې ولګوي، خو دا خبره هم له پامه مه غورزوي چې د يوه قوي ملي ساختماني سکتور لپاره د تداركاتو د اصولو زده کړه او د مناقصو، حساب ورکونې او نورو لازمه قوانينو لوړ ظرفيت لرل حتمي شرط دی.

## ۲. بشري پانګه:

د کارپوهانو د تخمين له مخې په تېرو ۷ کلونو کې نږدې دوه ميلياردو ډالره نړيواله مرسته د بهرنيو متخصصينو او فني ماهرينو پر معاشاتو او نورو مصارفو لګول شوې ده، مګر له بده شامته تر اوسه د افغانستان هېڅ پوهنتون هم د سيمې او نړۍ پر کچه نه دی برابر شوی او زموږ د کاري ظرفيت مسئله لا تر اوسه هم جنجړه پاتې ده. که تر دې لس چنده زيات نړيوال سلاکاران او ماهرين هم راشي زموږ دولت، اقتصاد او ټولنه يوازې د هغوی په موجوديت نه شي رغېدلی، ځکه چې د بنسټيز بدلون عمده عامل بايد پخپله افغانان وي. د دې هدف د لاس ته راوړو لپاره موږ ته په کار ده، چې په عمومي ډول د پوهې پر ټولو بنسټونو او په ځانګړي ډول د لوړو زده کړو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مؤسساتو لویه پاملرنه وکړو.

د ملي منځمهاله او اوږد مهاله پلانونو له مخې باید د بشري پانګې د روزلو او پیاوړي کولو زمینه برابره کړو. که چېرې ذکر شوي دوه میلیارده ډالر د افغان پوهنتونونو او نورو زده کړو پر چارو لګېدلي وای، نه یوازې په لنډ مهال بلکې په منځمهال او اوږد مهال کې به هم زموږ د ډېرو دردونو دوا وای.

د اوسنیو تخنیکي وسایلو پر بنسټ یو اغېزناک دولت کولی شي، چې د پوهنې د کیفیت د لوړولو لپاره په ډېره ارزانه بیه اقدامات وکړي.

بعید درس چې د مخه مو تفصیلي بحث پرې کړی، د دغو تخنیکي وسیلو د کارونې یو ښه مثال دی. د دې لپاره چې نړۍ د لازمو مرستو ورکولو او اړیکو ټینګولو ته قانع کړو نو لازمه ده چې د خپلې بشري پانګې د لوړېتوب په برخه کې یوه داسې ملي اجماع ولرو، چې وروسته په یوه ستر ملي پروګرام بدله شي.

## ۷. مارکېټ جوړونه:

هېڅ داسې هېواد نشته چې یوازې دې د نړیوالو مرستو پر مټ د هوسا ژوند څښتن شوی وي. له کوریا څخه تر اسپانیا پورې د دوی په اقتصادي ژوند کې لوی بدلون هغه مهال رامنځته شو، چې دوی د مارکېټ جوړولو اساسي طرحې عملي کړې. زموږ په اوسنیو شرایطو کې په دې برخه کې څو اصله ځانګړې ارزښت لري:

**الف**- د کوکنارو د ورکاوي لپاره باید زموږ د بزګر د ژوند





سویه هغه حد ته ورسیږي، چې کوکنار ورته ارزښت وبایلي. د مخه مو ویلي چې زموږ د بزګر ورځنی عاید باید له پنځوسو افغانیو څخه ۲۰۰ افغانیو ته لوړ شي.

دا عاید برابرول نه یوازې د کرنې په فزیکي او بشري زېربنا باندې پانګونه کول غواړي، بلکې د منظمو بازارونو پیدا کول یې هم ستره اړتیا ده.

په دې وخت کې زموږ لومړنی ستر بازار د ناټو قوه ده او کوښښ په کار دی، چې پر دوی باندې د خپلې کرنې بازار وپېژنو. دویم بازار مو چین، هند، ایران او د خلیج هېوادونه دي، خو د کرنیزو توکو د بیې په اړه باید پوه شو، چې اصلي مسئله د کمیت نه بلکې د کیفیت ده او د کیفیت لوړول بیا هم په بشري پانګې پورې اړه پیدا کوي.

دریم بازار مو اروپا ده، خو دې بازار ته لاره پیدا کول ډېر زحمت غواړي، یو چانس دا دی چې اروپا د هیروینو د وارداتو ستر مرکز دی او که د کوکنارو د محوه کولو لپاره موږ کوم پلان ولرو او دوی یې راسره په شریکه عملي کړي، نو له یوه پلوه به مؤثر وي او له بله پلوه به هم زموږ په ګټه وي او هم به اروپا ته د هیروینو د قاچاق تود بهیر سوړ شي.

څلورم بازار مو امریکا او کاناډا دي، چې د ځانګړو نساجي او زرګري صنعتونو په وسیله دې بازار ته مخه کولی شو، ځکه زرګري او نساجي اموال د وزن له کبله سپک او د بیې له پلوه درانه دي، چې لازمه ګټه ترې اخیستلی شو، د دې تر څنګ د مخابراتي سکټور د ودې لپاره هم موږ کولی شو له هند، اروپا او امریکا سره نږدې اړیکې ټینګ کړو.

په هغه پیمانه د صادراتو ډېرول، چې زموږ اقتصادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونزې حل کړې د منظمو مالي بنسټونو په جوړښت پورې اړه لري. که موږ له نړيوالو فني امکاناتو څخه د خپلو مالي بنسټونو د جوړښت لپاره په مؤثره توګه کټه واخلو، نو تر ډېره به زموږ د خلکو په اقتصادي ژوند کې مثبت تغير راولي.

د خلکو د اقتصادي ژوند د ښېګڼې لپاره يو بل مهم عنصر د نړيوالې پانګونې جذبول دي. که چېرې نړيوالې پانګونه زموږ د خلکو لپاره د ابرومندانه کار وسيله وګرځېده، نو موږ به ستره ملي ګټه کړې وي. سينګاپور، ماليزيا، ايرلنډ او اسپانيا وتوانېدل، چې د نړيوالې پانګونې د جذب لپاره غوره اصول وټاکي او لازم شرايط برابر کړي. مګر زموږ ځانګړو امنيتي شرايطو ته په پام سره موږ ته ډېره ضروري ده، چې د نړيوالې پانګونې د جذب لپاره له دولتونو او مؤسساتو سره د ګرنټۍ د سيسټم په هکله اقدامات وکړو. په دې برخه کې موږ هغو حقوقي مشورو ته اړتيا لرو، چې زموږ د معدنونو د استخراج لپاره زموږ ملي ګټې خوندي کړي.

## ۸. سيمه ييزه همکاري:

جغرافيه د ژوند حقيقت دی، دا څرګنده ده چې زموږ هېواد په وچه کې پروت دی او زموږ ګاونډيان چين، پاکستان، ايران، ترکمنستان، ازبکستان او تاجکستان هم د دې خاورينې کرې پر سر له موږ څخه راتاو دي او هېڅ تغير نه کوي. هندوکش به همېشه د افغانستان د شمال او جنوب تر منځ لکه د يوال ولاړ وي، خو که چېرې جغرافيې ته د سياسي اقتصاد له نظره وګورو، دې نتيجې ته رسېږو چې د جغرافيايي شرايطو ځينې برخې د تغير او بدلون وړ دي او زموږ په هېواد کې يې د سالنګ





تونل يوه ښه نمونه ده، تر تونل وهلو مخکې سالنګ د پېچلې بڼې له کبله د قافلو پر وړاندې يو ستونزمن پېچومی و، خو کله يې چې سينه سورۍ شوه د اتصال په کړۍ بدل شو.

دا چې بحر ته لار نه لرو د ګاونډيو بحري بندرونو ته سوداګريزې لارې پيدا کول راته د وينو د رګونو حيثيت لري. څرنګه چې زموږ په شمالي ګاونډ کې امنيت ټينګ دی، نو لازمه ده چې په لومړي ګام کې ازبکستان او ترکمنستان ته د ريل ګاډي پټلۍ وغځوو او له تورغونډۍ څخه هرات، له هرات څخه اسلام قلعه ته د ريل پټلۍ ډېره مهمه ده چې د ايران له اوسپنيز خط سره وصل شي. همدا ډول له حيرتان او عاقينې څخه بايد دا پټلۍ تر مزار او شبرغان پورې ورسېږي، چې موږ په مستقيمه توګه له قزاقستان، يوکراين، اروپا او روسيې سره وصلولی شي او زموږ ډېر مهم او حياتي واردات لکه تيل، فولاد، لرګي او غنم له همدې هېوادونو څخه راځي. موږ به وکولی شو، چې پر همدغه اعتماد خپل راتلونکي پراختيايي پلانونه طرحه او عملي کړو. د دې تر څنګ د ايران درې عمده بحري بندرونه لکه ابادان، خرم شهر او چابهار هم زموږ لپاره ډېر ستر ارزښت لري. اوس وخت کې له ابادان څخه تر مشهد او اسلام قلعه پورې د ريل پټلۍ شته، خو که چېرې د افغانستان او ايران هغه شريکه پروژه چې دا پټلۍ به تر هراته پورې وغځوي مکمله شي، نو بې له شکه به په هرات او ګاونډيو ولايتونو کې ستره پراختيا رامنځته کړي. که څه هم چابهار لا تر اوسه ډېر امکانات نه لري، خو د فراه او نيمروز ولايتونو د ودې لپاره چې اوس د يوه حلقوي سرک په وسيله تړل شوي دي ډېره ګټه کولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاکستان د ګوادر او کراچۍ سمندر هډې دواړه زموږ لپاره ډېرې مهمې دي، ځکه ګوادر د کندهار او سوېلي ولايتونو او کراچۍ د ننګرهار او مشرقي ولايتونو خوست او پکتيا په وده کې ډېر مؤثر ثابتېږي، د کراچۍ د سمندري هډې د مديريت ستونزو، د لارې خراب امنيت او د پټليو د نظام ګډوډۍ موږ ته هم ستره خساره رسولې ده.

د دې ستونزو د هواري او د يوه منظم ټرانزيټي او ټرانسپورټي نظام د راوستلو لپاره بايد افغان دولت او نړيوالې مؤسسې ټرانزيټ ته لومړيتوب ورکړي. چين زموږ د معادنو په استخراج زموږ د توليداتو د پېرودلو او ودې په برخه کې د خاص اهميت وړ هېواد دی. د بدخشان لوی سړک بشپړېدل له چين سره د لارې د وصل کېدو لپاره غوره ګام دی. موږ بايد د انجمن کوتل له لارې بدخشان له کابل سره وتړو او د تاجکستان له لارې له چين سره خپل هېواد وصل کړو. په دويم قدم کې په خپل ټول قوت د يوې افغانستان شموله ريل پټلۍ انتظام ونيسو. زموږ د ټولو صادراتو وزن زيات دی او تر څو چې په يوه قوي او ارزانه ټرانسپورټي انتظام باوري نه شو، نو له کار او روزګاره به محروم پاتې يوو.

برېښنا داسې يوه حياتي اړتيا ده، چې زموږ او ټولې سيمې وده ورپورې تړلې ده. د برېښنا د توليد داسې نوې لارې شته، چې د سيندونو او بهېرته سيندونو ته غورځوي او برېښنا توليدوي. که چېرې موږ دا پروسه په پام کې ونيسو له خپلو ګاونډيانو سره په مشترکه توګه ګټور ګامونه اخيستی شو، چې په ځانګړي ډول شمالي ګاونډيان را سره د امو د سيند په برخه کې مرسته کولی شي.





په هره اندازه چې د نړۍ هوا تودېږي په هماغه اندازه د اوبو اهميت ډېرېږي او موږ د اوبو يوه داسې سرچينه يوو، چې ګاونډيانو ته مو هم پرېمانه اوبه روانې دي، ځکه موږ په ټولو لسيزو کې د کوم اغېزناک دولت څښتنان نه وو او له همدې کبله مو د اوبو په برخه کې حقوق هم نه دي خوندي شوي. د دې ملي طبيعي پانګې د خوندي کولو لپاره بايد موږ د نړيوالو اصولو پر بنياد له خپلو ګاونډيو سره يوې موافقې ته ورسېږو.

د سيمه ييزې همکارۍ لپاره ډېر پراخ امکانات شته، مګر څرنګه چې د اروپا تجربه په ګوته کوي، ستړې موخې بايد پر هغه بنسټ باندې کېښودل شي، چې په عيني واقعيتونو باندې استوارې وي. تر دويمې نړيوالې جګړې وروسته ځينې اروپايي مفکرين په دې فکر وو، چې اوس بايد د اروپا د متحدو ايالاتو يو ستر دولت جوړ شي او موجود هېوادونه يې د ولايتونو حيثيت ولري، مګر واقعبينو سياستوالو د نوي اروپا تهداب د ډبرو سکرو او فولادو د اتحاديې د جوړولو له مخې کېښود او په قدم، قدم له هغه ځايه تر ننني اروپايي اتحاديې پورې راورسېده.

په راتلونکو لسيزو کې به د سيمې او نړۍ پر کچه د ژوندانه په شرايطو کې تغير راشي او هيله ده چې سيمه ييز اړيکې ورځ په ورځ ټينګ او غښتلي شي، مګر په اوسنيو شرايطو کې موږ د ټرانسپورټ، ټرانزيټ، اوبو، برېښنا او پانګونې په برخه کې عملي ګامونه اخيستی شو، چې د اعتماد فضا را منځته کړي.

## ۹. د سيمه ييزې همکارۍ پېش شرط:

په افغانستان کې د سيمه ييزې همکارۍ پېش شرط د يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اغېزناک دولت، متحرک اقتصاد ، پیاوړي افغان هویت او اغېزناکې نړیوالې همکارۍ په منځته راتګ کې نغښتې دي. د دې کتاب د لیکلو ستر هدف دا دی، چې هر افغان له خپلې ژبې، سمت، جنس او نورو ټولو ټولنیزو خصوصیاتو سره د دې خاورې حقدار او کوربه وګڼل شي.

په دې کتاب کې زما نظریات او وړاندیزونه د یوې ټولګې په توګه وړاندې شوي، چې وطنوالو ته د بحث زمینه برابره کړي او هیله مې داده چې دا نظریات د یوه ملي سراسري بحث په ترڅ کې وده وکړي، تقویه شي او د یوې ملي اجماع لپاره د خلکو پر وړاندې رامخې ته شي، ځکه موږ هغه وخت کولی شو چې په خپل ژوند کې تغیر او بدلون راولو چې کله یوې ملي اجماع ته ورسېږو. امیدوار یم چې د خپلو راتلونکو نسلونو د هوسا ژوندانه د تامین لپاره سترې ملي موخې عملي کړو.

ومن الله التوفیق

سوکاله افغانستان او نېکمرغه ولس

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**